ربنتينى ايمان
اركان او غوبنتني ئې

پر الله تعالى ايمان
معنى،
دلائل
او غوښتنې ئې

بسم الله الرحمن الرحيم

د ناشر مقدمه

د الله تعالى د پېرزوينو ممنون يو چې موږ ته ئې د يوه بل ښکلي کتاب د خپرولو توفيق راکړ، دا کتاب د هغو درسونو د لړۍ يوه برخه ده چې ورور حکمتيار د اردوی سپاهيان رضاکار اسلام (اسرا) په تربيتي غونډو کې رضاکارانو ته درلودل او په 1369هـ ش کال کې د کتابونو په بڼه کې ترتيب او چاپ شول، د ځينو عربو ورونو په غوښتنه؛ په عربي ترجمه او په کافي شمېر کې چاپ شول، دا کتاب موږ ته ښيي چې ريښتينی ايمان کوم دئ او غوښتنې ئې څه دي؟ په څه څه به ايمان لرو؟ د ايمان حقيقي معنی څه ده او الله تعالى کوم ايمان او د چا ايمان قبلوي؟ د دې درسونو دا لړۍ د لاندې پنځو کتابونو په بڼې کې خپره شوې:

- پر الله تعالى ايمان، معنی، دلائل او غوښتنې ئې.
- پر آخرت ايمان، معنی، دلائل او غوښتنې ئې.
- پر پيغمبرانو ايمان، معنی، دلائل او غوښتنې ئې.
- پر کتابونو ايمان، معنی، دلائل او غوښتنې ئې.
- پر ملائکو او قضاء او قدر ايمان، معنی، دلائل او غوښتنې ئې.

د دغو اساسي مسائلو اهميت ته په پام سره مو دا غوره وګڼله چې يو ځل بيا ئې خپل خدای پال او په دين مين ولس ته وړاندې کړو، دا ځل ټول يو ځای او په يوه مجلد کې خپروو، دا بايد واضح کړو چې په نوې طبع کې ځينې ګټور او ضروري مطالب اضافه شوي، هغو باايمان ځوانانو ته چې د غربي استعمار د فکري يرغل په ضد ئې د مبارزې سنګر تود ساتلی او غواړي د ايمان په حقيقت پوه شي، نورو ته ئې وښيي، خپل فردي او اجتماعي ژوند د ايمان په رڼا

كي او د خپل رب د لارښوونو مطابق تنظيم کړي، او په آزاد او خپلواك افغانستان کي د اسلام پرتمين بيرغ رپانده وګوري، د دې کتاب د ژوري او دقيقي مطالعې بلنه ورکوو، دعاء کوو چې الله تعالى موږ په دنيا او آخرت کي د هغو توريالیو مبارزينو په صف کي محسوب کړي چې له الله تعالى پرته بل چا ته سر نه ټيټوي، له بل چا طمع او وېره نه لري، د خپل رب رضاء لټوي او دې سپېڅلي هدف ته د رسېدو په لار کي هري قربانۍ ته چمتو دي.

اللهم اهدنا الصراط المستقيم

بسم الله الرحمن الرحيم

سريزه

ايمان هغه جازم او راسخ اعتقاد ته وايي چې له علم او معرفت پيل کيږي او په کلك او پوخ باور بدليږي. يعني علم د ايمان پيل او ايمان د پوهي او معرفت پای دئ.

د ايمان خاوندان مکلف دي چې د مؤمن به شيانو (هغه شيان چې ايمان پرې لري) په اړه هومره علم او معرفت ولري چې همدا پوهه او معرفت ئې په يقين او ايمان بدل شي. مورږ مکلف يو ټول هغه شيان وپيژنو چې د ايمان دعوی پرې کوو. د دغو مؤمن به شيانو په اړه بايد زمورږ علم او بيا ايمان داسي کامل او راسخ وي چې هيڅ شی او هيڅ حالت ونشي توانېدی زمورږ په زړونو کي د شك باعث شي. لکه چې ويل شوي:

لَيْسَ الْإِيمَان بِالتَّمَنِّي وَلَا بِالتَّحَلِّي، وَلَكِنْ هو مَا وَقَرَ فِي الْقَلْب وَصَدَّقَهُ الْعَمَل

ايمان نه په هيلي او تمنا سره دئ او نه په تحلی (سينګار او خپله بڼه بدلولو) سره؛ بلکي (ايمان) هغه څه دئ چې په زړه کي تقرر مومي او عمل د هغه تصديق کوي.

قرآن عظيم الشأن د اهل کتابو د هغو کسانو په اړه چې امي او بې سواده ول، په ليك لوست نه پوهېدل، ګمان ئې کولو چې په الله تعالی او د ده پر کتاب ايمان لري، خو الله ته د دوی دا ايمان د منلو وړ نه وو، فرمايي: ﷻ

وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لَا يَعْلَمُونَ ٱلْكِتَٰبَ إِلَّآ أَمَانِيَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ٧٨ البقره:78

او د دوی ځينې اميان دي (ليك لوست نشي کولی) په کتاب نه پوهيږي مګر (څه) هيلي او نه دي دوی مګر دا چې ګمانونه کوي.

ګورئ چې هيلي او ګمانونه کفايت نه کوي، دلته علم او يقين ته ضرورت دئ، داسي علم چې په باور او يقين بدل شي او د زړه په تل او د دماغ په سلول،

سلول کي داسي ځای ونيسي چې د شك او شبهې لپاره هيڅ مجال پاته نشي.

زمونږ د ايمان څو مهمي او سترې برخې دي چې په کار ده لومړی د هرې برخې په مفهوم او معنی پوه شو، بيا د هغې په اړه هومره ژور او جامع دلائل ولرو چې دا پوهه او علم په کامل يقين او باور بدل شي او بيا د دې ايمان په غوښتنو او مقتضياتو پوه شو.

پر الله جل شأنه، د قيامت پر ورځې، د الله پر کتابونو، د ده پر پيغمبرانو، پر ملائکو او پر قضاء او قدر ايمان زمونږ د عقيدې تر ټولو سترې او مهمې برخې دي، په کار ده تر هر څه د مخه د ايمان په دغو اساساتو او ارکانو ځان پوه کړو. که زده کړه کوو او د علم په تحصيل لګيا کيږو، بايد له دې ځايه کار پيل کړو، که نورو ته څه ښيو او د دعوت په کار کې ځان مصروفوو بايد په همدغو اساساتو ترکيز وکړو. متأسفانه ځيني داسي دي چې دغو اساساتو ته د اعتناء او توجه په ځای په ضمني او ثانوي مسائلو کې هومره مصروف شوي چې دغو مسائلو ته ئې د توجه او پاملرني وخت نه دئ موندلی، هغوی په دې اړه بحث نشي کولی، چا ته قناعت نشي ورکولی، سؤالونو ته ځواب نشي ويلی او اساساً پدې اړه د ويلو لپاره څه نه لري. د قرآن د الفاظو او کلماتو په اړه صرفي او نحوي تحقيق کولی شي، د بلاغت په دقائقو او لطائفو پوهيږي، د يونان د فلسفې او منطق په اړه بحث او مجادله کولی شي. خو که ترې وغواړو چې دا ثابته کړي چې لـه مرګ وروسته ژوندون حق دئ، حساب او کتاب مکافات او مجازات حق دي، هيڅ نشي ويلی، په دې اړه د قرآن له سلګونو دلائلو يو هم نشي تشريح کولی. که د قضاء او قدر په اړه ترې وپوښتو وايي: (په دې باب له بحث او څېړنې ممانعت شوی!!) حال دا چې مونږ مکلف يو په قضاء او قدر ايمان ولرو، ايمان له معرفت پرته نشي کېدی، بايد د قضاء او قدر په مفهوم پوه شو، دا ښه خبره ده چې په دې اړه بحث خاص حد لري چې لـه هغه تېرېدل له دې کبله ممنوع شوي چې هلته انسان ته مخکې تګ ممکن نه دئ، په خپل حد بايد اکتفاء وکړي، لکه چې د الله تعالی په اړه بحث معين حد لري، د صفاتو او افعالو په اړه بحث او د ثبوت لپاره ئې دلائل لټول او وړاندې کول، نه يوازې مجاز بلکې ضروري دي او قرآن پدې اړه په سلګونو دقيق بحثونه کړي او ژور او مقنع دلائل ئې وړاندې کړي، خو د الله تعالی د ذات په اړه بحث او څېړنه د انسان له توان او فهم اوچته ده، دې ساحې ته لـه ننوتلو

ممانعت شوی.

ځيني نور بيا داسي دي چې د امريکا او روس په ارتباط او د بين المللي سياسي پېښو په اړه خو په غټو غټو الفاظو بحثونه کولی شي، لـه غرور ډکي ناستي پاستي ئې داسي معلومېږي چې ته به وايي لوی لوی کتابونه به ئې په سينه کي وي، خو چې لږ ئې ولټوې او د ايمان د اساساتو او مبادیو په اړه ئې د پوهې د اندازې معلومولو هڅه وکړې؛ نو ډېر ژر او په آسانۍ سره به درته معلومه شي چې هسي د غوښي پرېږي پرېږي مجسمې دي، همغسي لکه چې قرآن فرمايي:

... ﴿كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ﴾.... المنافقون:4

داسي دي لکه تکيه کړی شوي لرگي

د دغو اعتقادي اساساتو اهميت ته په پام سره به موږ هره برخه ببله ببله د قرآن د آيتونو په رڼا کي څېړو او إن شاء الله پر هغه به تفصيلي بحث کوو، امید دئ الله تعالی موږ د حق په لوري هدايت کړي او په حق د پوهېدو او په هغه د عمل توفيق راکړي.

الهم ارنا الحق حقاً و ارزقنا اتباعـــه
و ارنا الباطل باطلاً و ارزقنا اجتنابه

حکمتيار

بسم الله الرحمن الرحيم

پر الله تعالى ايمان

پر الله تعالى باندي د ايمان موضوع به تر دريو عنوانو لاندي څېړو:

- پر الله تعالى د ايمان معنى.
- د دې ايمان او باور د اثبات لپاره دلائل.
- او پر الله تعالى باندي د ايمان غوښتنې او مقتضيات.

پر الله تعالى ايمان:

پر الله باندي د ايمان معنى دا ده چې دا زمکه، آسمانونه او په هغه کې هر څه داسې پيدا کوونکى، پالونکى او ساتونکى لرې چې هر څه ئې پيدا کړي، د هر څه پالنه او ساتنه کوي، دا عالم د هغه ملك او هغه ئې خالق او رب دئ، پدې عالم کې د هغه اراده نافذه ده او هر څه د ده په اراده تر سره کېږي، په خپل ذات، صفاتو او افعالو کې د ټولو ښېګڼو او محامدو خاوند او د ټولو ستاينو وړ دئ او له هر عيب او نقص منزه او اوچت. نه د دې عالم په پيدايښت کې د چا مرستې ته اړ شوى او نه ئې په پالنه او ساتنه کې چا ته محتاج دئ، هر څه په خپل پيدايښت کې، په خپلې پالنې او روزنې کې او په خپلې بقاء او دوام کې ده ته اړ او محتاج دي.

داسې نه ده چې دنيا ئې پيدا کړې او بيا ئې خپلې مخې ته مهمل پرېښې وي او دلته حوادث او پېښې په خپل سر او تصادفي رامنځته کېږي، بلکې د دې عالم پيدا کوونکى ذات په خپل دې ملك کې د مالك الملك په توګه تصرف کوي، هر څه اداره کوي، د عالم هر جزء ته جهت ورکوي، هر څه د ده په اراده تر سره کېږي، پېښې او حوادث د ده لـه ارادې سره سم او د هغو سننو او ضوابطو مطابق تحقق مومي چې الله وضع کړي او هر څه طوعاً او کرهاً د دغو الهي

سننو په وړاندي مقهور او منقاد دي.

نفع او ضرر د ده په اختيار کي او عملونو ته په دنيا او آخرت کي دی بدلـه ورکوي، هر څه د ده په اراده او د ده لـه مشيت سره سم، د خاص مقصد لپاره پيدا کېږي، په خپل معين مسير او مدار کي خوځېږي او په پيدايښت او حرکت ئې خاص نتائج مرتب کېږی او د پېښو او حوادثو عواقب او نتائج هغه ټاکي.

الله تعالی به چېرې لټوو؟
او د دې عقيدې لپاره څه دلائل لرو؟

قرآن عظيم الشأن چي په کوم څه موږ ته د ايمان راوړلو او باور ساتلو امر کوي، د هغه د اثبات لپاره هومره ژور او جامع دلائل وړاندي کوي چي د هر ډول شك او شبهې مجال ختم کړي او د انسان د زړه سلول، سلول د هغه په حقانيت شهادت ورکړي، خو د دې په ځای چي مبهم او غامض فلسفي دلائل وړاندي او لـه دې لاري د يوې اعتقادي مسئلې د اثبات هڅه وشي، برعکس قرآن عظيم الشأن داسي څرګند، واضح، محسوس او مشهود دلائل وړاندي کوي چي په دې عالم کي خواره دي او هر چا ته د درك وړ.

قرآن عظيم الشأن چي په الله تعالی باندي د ايمان په ارتباط کوم دلائل وړاندي کړي؛ په دريو برخو کي خلاصه کېږي:

الف: په عالم کي د ربوبيت هغه آثار او مظاهر چي د دې عالم په پيداکوونکي، پالونکي او ساتونکي رب شهادت ورکوي او هر ليدونکی وربانديي متقاعد کوي.

ب: د رحمت او پېرزويني هغه خوري نښي چي په څرګنده توګه د رحمان رب په لور د انسان لارښوونه کوي.

ج: هغه سنن او ضوابط چي د دې عالم هر څه د هغه په وړاندي مطيع او منقاد دي او له هغه د سرغړاوي توان نه لري او په واضحه توګه دا په ګوته کوي چي دا عالم يو داسي مالك الملك الله اداره کوي چي دلته د ده اراده حاکمه او نافذه ده او د دې عالم د اداري واګي ئې په اختيار کي دي.

قرآن د خپل مخاطب عقل او فطرت ته خطاب کوي او پوښتي:

- دا د عالم هر څه چا پيدا کړي؟ د هغه ساتنه او پالنه څوك کوي؟ او هغه

څوك دئ چې د دې عالم په هر ګوټ او هر جزء کې د رب په توګه تصرف کوي؟ آيا په دې عالم کې د ښايست، نظم او ښېګڼو خوړې نښې، په دې شهادت نه ورکوي چې د دې کائناتو پيدا کوونکی، پالونکی او ساتونکی ذات هغه الله تعالی دئ چې د ټولو ستاينو وړ او د ټولو ښېګڼو خاوند دئ؟ د دې عالم بې انتهاء اجزاء چې هر يو ئې په خپل حد کې کامل دئ او په جوړښت کې ئې له بشپړ دقت کار اخيستل شوی او هر يو د يوه خاص هدف د تحقق لپاره په کار ګمارل شوی چې په منظمه او مستمره توګه او په ټول انهماك سره د هماغه معين هدف د تحقق لپاره په کار لګيا دئ، د هر جزء وجود په خپله هم په دې عالم کې يو خالي ځای ډکوي او يوه ضرورت ته ځواب وايي او په هغو نتائجو سره هم چې د دوی په مسلسل او منظم حرکت مرتب کېږی؛ خالي ځايونه ډکېږی او اړتياوو ته ځواب ويل کېږي. په دې عالم کې څوك کوم بې هدفه، عبث، خوشی، لـه ضرورت کم او يا له ضروري مقدار زيات شی نشي په ګوته کولی.

- هغه څوك دئ چې دا خور عالم ئې لـه دې ښايست، کمال او ښېګڼو سره پيدا کړی او په هغه کې ئې دا دقيق نظم وضع کړی، د عالم د ټولو اجزاوو ترمنځ ئې دا موزون او متناسب ارتباطات او اړيکي ټينګي کړې، د دې عالم پالنه او ساتنه کوي او د هري ذرې روزنه ئې کوي، رشد ورکوي، کمال ته ئې رسوي، په مستمر او منظم ډول ئې مخ په وړاندي خوځوي او پر خوځېدو او حرکت ئې لـه مخکې ټاکل شوي نتائج مرتب کوي؟

مور د دې عالم د پرلـه پسې، منظم او دقيق بدلون او تحول تر شا چې ټول لـه ثابتو سننو او ضوابطو سره سم تر سره کېږی، د يوه داسي پالونکي ذات نامرئي لاس په خپل عقل او شعور سره لمس کوو چې په پوره غور او دقت سره ټول امور سمبالوي، د هر څه پيدايښت له هيڅ پيلوي، له يوه حالت ئې بل ته بدلوي، له مخکې ټاکل شوي مراحل وربانديې پلي کوي، ورو ورو او د ثابتو سننو او ضوابطو سره سم د کمال طرف ته وده ورکوي، خاص نتائج وربانديې مرتب کوي، يوه اړتيا او ضرورت وربانديې پوره کوي، يوه خلأ او تش ځای وربانديې ډکوي او په پای کې ئې په زوال محکوموي، دور ئې پای ته رسوي او ځای ئې بل ته خوشي کوي.

د هر باشعور او باضميره څېړونکي د بصيرت سترګي په آسانۍ سره کولی

شي دا حقيقت درك كړي چي په دې خور او پراخ عالم كي دا دقيق، تنظيم شوي او با هدفه بدلونونه او تحولات حتماً د يوه داسي حكيم او عليم رب د تصرف آثار او نښي دي چي د كمال خاوند دئ او هر څه د ده په اراده تر سره كيږي.

د خيال په دنيا كي بې ځايه هڅه پريږده، لرې مه ځه، ستا په خپل نفس او ستا په ملموس ماحول كي او په هغه څه كي چي ته ئې عادي جريان ګڼې او د هغه په اړه ستا حساسيت په دې دليل ختم شوى چي ورسره عادي شوى يې، په هر قدم كي، هري خواته او په هر څه كي په سلګونو نښي د الله تعالى په لوري ستا د لاربښووني لپاره خورې دي او په الله باندي ايمان ته بلنه دركوي. لكه چي قرآن فرمايي:

سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلۡأٓفَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّۗ أَوَ لَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ٥٣ فصلت:53

دې ژر به خپل آيتونه په آفاق او د دوى په نفسونو كي وروښيو تر څو ورته څرګنده شي چي هغه حق دئ. آيا ستا د رب په اړه دا كافي نه ده چي هغه پر هر څه شاهد دئ؟!

همدا راز فرمايي:

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢ الفاتحه:1

ستاينې ټولې د عالمونو رب الله ته دي

يعني هغه ذات چي په دې عالم كي د رب په توګه تصرف كوي او د هر څه پالنه او روزنه كوي، همدا الله هغه ذات دئ چي ستاينې ټولې ده لره دي. يعني په دې عالم كي د پالنې او روزني مظاهر، په خپله د الله تعالى لوري ته زموږ لاربښوونه كوي او موږ ته دا ثابتوي چي الله تعالى د كمال خاوند، د ستاينو وړ او له هر عيب او نقص منزه دئ.

الله تعالى به په خپلو ذهني او خيالي تصوراتو كي نه بلكي د عالم په غيږ كي، د ربوبيت په مظاهرو او نښو كي لټوو، بايد د الله د اثبات لپاره او له هره عيبه د هغه تنزيه او په هري ستاينې سره ئې د ستاينې لپاره د دې عالم په ملموس، محسوس او مشهود ربوبيت استناد وكړو، نه دا چي د خارق العاده او فوق العاده پېښو په لټه كي وو او اعجازونو ته انتظار وكړو. قرآن عظيم الشأن د دې

خبري مدعي دئ چي هيڅوك نشي توانېدلى په دې پراخ عالم كي كومه خلأ او قصور په ګوته كړي، نشي توانېدى كوم اضافي شى، كم شى، كوم نقص، عدم توازن، عدم تعادل او د يووالي او تنسيق نشتوالى ومومي، هر څومره چي انسان په دې عالم كي د نقص، فطور او قصور د موندلو لپاره څېړنه او هڅه وكړي او له دېري پلټني او ځير كېدو ئې سترګي ستړې او ستومانه شي؛ هيڅكله به ونه توانېږي چي د الله په مخلوقاتوكي كوم نقص، خطا، خلأ او بې نظمي وېنيي، په دې اړه قرآن فرمايي:

ٱلَّذِي خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗاۖ مَّا تَرَىٰ فِي خَلۡقِ ٱلرَّحۡمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٖۖ فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن فُطُورٖ ٣ ثُمَّ ٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ كَرَّتَيۡنِ يَنقَلِبۡ إِلَيۡكَ ٱلۡبَصَرُ خَاسِئٗا وَهُوَ حَسِيرٞ ٤ الملك: 34

هغه ذات چي اوه پورې پورې آسمانونه ئې پيدا كړل، آيا د رحمان الله په پيدايښت (مخلوق) كي څه تفاوت او بېلوالى ګوري؟ نو سترګي وغړوه او وګوره آيا كوم فطور (سورى، خلأ او چاود) وينې؟ بيا سترګي په وار وار وغړوه (هومره چي) ستومانه او نامراده بېرته درته راوګرځي، حال دا چي حسرت وهلې به وي.

يعني كه هر څومره په دې عالم كي د نقص، قصور او فطور په طمع څېړنه وكړې مراد ته به ونه رسېږي، دا آرمان به دي پوره نشي او حاصل به دې د سترګو له ستړيا او نامرادۍ پرته بل څه نه وي.

د الإنفطار په سورې كي له هغه انسان چي د خپل رب په پېژندلو او موندلو كي ئې لار وركه كړې او غولېدلى په حيرانتيا سره پوښتي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ ٦ ٱلَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ٧ فِيٓ أَيِّ صُورَةٖ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ٨ الانفطار: 6-8

اې انسانه! د خپل كريم پالونكي رب په اړه څه شي غولولى يې، هغه چي پيدا ئې كړې، بيا ئې سم او برابر كړې، بيا ئې متعادل او متوازن جوړ كړې، چي په كوم صورت كي ئې غوښتل تركيب ئې كړې.

آيا ستا پيدايښت، سم او سالم وجود، موزون او متعادل جوړښت او غوره څېره او صورت د دې لپاره كافي دليل نه دئ چي ته په خپل كريم پالونكي او پيدا كوونكي رب ايمان ولرې؟

په بل ځای کې فرمايي:

سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ١ ٱلَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ٢ وَٱلَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ٣ وَٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ ٱلۡمَرۡعَىٰ ٤ فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحۡوَىٰ ٥ الاعلى: 1- 5

د خپل اعلى رب نوم په پاکۍ سره یاد کړه، هغه چې پیدا ئې کړل، بیا ئې سم کړل، او هغه چې اندازه او هدایت ئې کړل. او هغه چې دا بوټي ئې راوایستل. بیا ئې زرغونه او توربخن کړل.

د اشیاوو د پیدایښت لړۍ، د هغوی تعادل او توازن په خپل ذات کې او یووالی ئې له نورو سره، د هر یوه مقدار او اندازه ټاکل او په معین مسیر کې د مشخص هدف په لوري د هغوی لارښوونه او تر مشخصې نقطې پورې د هغوی وده او روزنه، هر باضمیر او باانصاف انسان دې ته اړ کوي چې په هغه پیدا کوونکي او پالونکي رب ایمان راوړي چې هر څه له هیڅ راپیدا کوي، له غوره جوړښت او تقویم سره، په سم اټکل او تقدیر او د لزوم او ضرورت په اندزه ئې راپیدا کوي او خپل مخلوق مهمل او بې اسري نه پرېږدي، هر یو په یوه خاص جهت کې د معیني نتیجې او غایې د تحقق لپاره ګماري، وده ورکوي او کمال ته ئې رسوي، له سپېرې زمکې تازه ګیاه راشنه کوي، چې د پخې دانې او مېوې له ورکړي وروسته ئې وچوي او وروستوي او خپل لومړني حالت ته ئې بېرته ګرځوي.

همدا راز قرآن عظیم الشأن د انسان د پیدایښت او د هغو مختلفو مراحلو په اړه چې په ده باندې راځي فرمايي:

هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ يُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلٗا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡ ثُمَّ لِتَكُونُواْ شُيُوخٗاۚ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ مِن قَبۡلُۖ وَلِتَبۡلُغُوٓاْ أَجَلٗا مُّسَمًّى وَلَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ٦٧ غافر:67

دی هغه ذات دئ چې تاسو ئې له خاوري پیدا کړئ، بیا ئې له نطفې، بیا ئې له علقې (چې ژوري ته ورته وي)، بیا تاسو د ماشوم په توګه راباسي، بیا (ستاسو روزنه کوي) تر څو خپل ټینګوالي او قوت ته ورسئ، (بیا تر څو زاړه شئ)، له تاسو ځینې مخکې له دې وفات کړی شي (ومري) او تر څو ټاکلي اجل ته ورسېږئ او ښایي تعقل وکړئ.

څوك له مړې خاوري دانه او مېوه راشنه کوي او له هغه انسان ته داسي غذا

جوړوي چې له مزاج سره ئې مطابقه او طبيعي اړتياوو ته ئې ځواب ويوونکي وي؟ بيا د انسان په خوراك کي د زمکي له همدې مړو اجزاوو د انسان نطفه جوړوي او همدا وړه نطفه چې په سترګو نه ليدل کيږي، يوازې د داسي سترو، سترو ميکروسکوبونو په ذريعه ليدل کېدی شي چې هر شی له خپل اصلي حجم په سلګونو ځله سترښيي، له مختلفو مراحلو له تېرېدو وروسته ئې د ماشوم په توګه دنيا ته راولي، روزنه ئې کوي، ټولي اړتياوي ئې لومړی د مور په تي کي او بيا د دې عالم په غېږ کي ورته تهيه کړي، وده ورکړي، د خپل قوت، ځوانۍ او کمال آخري حد ته ئې ورسوي، له هغه ځايه ئې زوال پيل شي، زړښت ته ورسېږي او په مرګ محکوم شي.

د چا په اراده دا ټول تحولات، تغييرات او بدلونونه رامنځته کيږي؟ په داسي حال کي چې انسان دا د ټولو مخلوقاتو اشرف، اکرم او اعلم په خپله په خپل پيدايښت، مرګ او ژوند، د کمال په لوري خوځښت، د زوال په لوري نزول او پرېوتو کي د داسي مقدراتو او ضوابطو په وړاندي مقهور او محکوم دئ چې له وړاندي وضع شوي او د ده پر طبيعت او پر ټول عالم حاکم او مسلط دي، د دغو حاکمو او قاهرو مقدراتو او مسلطو سننو تر شا د چا اراده حکومت کوي؟ قرآن فرمايي:

﴿قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ قُلِ ٱللَّهُۚ قُلۡ أَفَٱتَّخَذۡتُم مِّن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ لَا يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ نَفۡعٗا وَلَا ضَرّٗاۚ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُ أَمۡ هَلۡ تَسۡتَوِي ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُۗ أَمۡ جَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ خَلَقُواْ كَخَلۡقِهِۦ فَتَشَٰبَهَ ٱلۡخَلۡقُ عَلَيۡهِمۡۚ قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّٰرُ ١٦ الرعد: 16

ورته ووايه: د آسمانونو رب او پالونکی څوك دئ؟ ووايه: الله، ووايه: نو بيا له ده پرته مو داسي اولياء نيولی چې نه ځان ته د ګټې (رسولو) خاوند دي او نه د ضرر؟ ورته ووايه: آيا ړوند او سترګور سره برابر دي؟ آيا تياره او رڼا سره برابره ده؟ آيا الله ته ئې داسي شريکان (په خپل ذهن کي) جوړ کړي چې (څه ئې) پيدا کړی وي لکه الله چې پيدا کړي؟ نو (په دې ترتيب) پيدايښت په دوی مشتبه او شکمن شوی؟ ووايه: الله د هر څه خالق دئ او دی واحد قهار رب دئ.

آيا له الله تعالی پرته داسي څوك موندلی شئ چې د زمکي او آسمانونو په پيدايښت او پالنې کي څه برخه او ونډه ولري؟ هغه څوك چې له الله تعالی پرته

بل څه يا بل څوك مرستي ته وربلي او د ګټې طمعې يا د زيان او ضرر وېرې د دروغجنو معبودانو او اولياوو درشل ته ودرولی؛ په حقيقت کې هغه ړانده ته ورته دئ چې د خپل ماحول له پېژندو عاجز دئ، چې هر قدم اخلي پښه ئې له مانع او خنډ سره لګېږي او يا هغه چا ته چې په سختو تيارو کې وي، نه خپل موقعيت او تم ځای پېژني او نه د بل، هر څه ورته نا آشنا وي، مسلماً داسي څوك له هغه بصير او پوه انسان سره برابر نه دئ چې په رڼا کې وي او قضاوت ئې د هر څه په اړه او معامله ئې له هغه سره د پوهې په رڼا کې او له پېژندو وروسته وي، مشرك ړوند ته ورته دئ چې شرك د هر څه حقيقت ورته مغشوش کړی، په داسي حال کې چې په څرګنده ګوري په دې خور او پراخ عالم کې داسي يوه وړه بېلګه هم نشته چې له رب العالمين پرته بل چا پيدا کړې وي او بل څوك د هغې ساتنه او پالنه کوي، خو سره لدې له الله سره بل څه په الوهيت او ربوبيت کې شريکوي!!

همدا راز قرآن فرمايي:

ٱللَّهُ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ لِتَسۡكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشۡكُرُونَ ٦١ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ٦٢ غافر:61- 62

الله هغه ذات دئ چې شپه ئې ستاسو لپاره داسي ګرځولې چې په هغې کې هوسا شئ او ورځ ئې د ليدو وسيله، بېشکه چې الله په خلکو باندې د پېرزويني خاوند دئ خو ډېرى ئې شکر نه کوي، همدا ستاسو رب دئ (چې شپه او ورځ ئې پيدا کړي او په دې توګه ئې خپل ستر فضل ستاسو په برخه کړى) د هر څه خالق، نشته بل اله مګر دى، نو څنګه دوکه کېږئ؟

يعني د شپې او ورځې هدفمني او هغه نتائج چې په دوى مرتب کېږي، داسي چې شپه ستاسو د هوسايني او سکون لپاره ده، تر څو د ورځې له خوا د مسلسل کار په نتيجه کې ضائع شوې انرژي جبران او خپل قوت تجديد او اکمال کړئ او د سبا ورځې لپاره مستعد او تيار شئ او ورځ ئې ستاسو د معاش د تأمين وسيله ګرځولې، داسي چې هر څه د هغې په رڼا کې پېژندلى او کارولى شئ، په دې ترتيب رحمان رب خپل ستر فضل ستاسو په حال شامل کړى، چې ستاسو اړتياوو ته د دې طبيعت په غېږ کې او د هغه په تحولاتو او بدلونونو کې

ځواب وايي، شپه او ورځ په دې برسېره چې د الله د فضل او پېرزويني نښې او مظاهر دي د هغوی تګ راتګ د دې عالم له ګڼ شمېر موجوداتو لکه لمر، سپوږمۍ، زمکه، حتی ستورو، ستور لیکو، او هر څه چې په آسمانونو او زمکه کې دي عمیق ربط او تړاو لري، د دغو ټولو خاص تنظیم او په خپلو منځونو کې خاص تعلق، په دې منتج شي چې شپه او ورځ په خپل موجوده شکل کې یوه په بلې پسې راپیدا شي، د دې ټول عالم د بېلو بېلو اجرامو ترمنځ تناسق، یووالی او هم غږي او بیا د دوی او د انسان د طبیعت ترمنځ دا موزون او متناسب پیوند او تعلق په خپله ثابتوي چې د ټول عالم پیدا کوونکی او پالونکی رب یو دئ، هغه دا عالم اداره کوي، هر څه ته د خوځېدو خاص لوری او جهت ټاکي او د ټولو ترمنځ دا توافق او یووالی راپیدا کوي.

په بل ځای کې فرمايي:

أَمَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَنۢبَتْنَا بِهِۦ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ مَّا كَانَ لَكُمْ أَن تُنۢبِتُوا۟ شَجَرَهَآ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَعْدِلُونَ ٦٠ أَمَّن جَعَلَ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلَٰلَهَآ أَنْهَٰرًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِيَ وَجَعَلَ بَيْنَ ٱلْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ٦١ أَمَّن يُجِيبُ ٱلْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ ٱلْأَرْضِ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ٦٢ أَمَّن يَهْدِيكُمْ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ وَمَن يُرْسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِۦٓ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ تَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ٦٣ أَمَّن يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَمَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ قُلْ هَاتُوا۟ بُرْهَٰنَكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ٦٤ النمل:60- 64

هغه څوك دئ چې آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړل؟ او له آسمانه ئې تاسو ته اوبه راکوزي کړي، بیا مو په هغه سره سمسور باغونه را شنه کړل (هغه چې) تاسو ته (ممکنه) نه وه چې ونه ئې راشنه کړئ، آیا له الله سره بل معبود شته؟ بلکي دوی هغه خلك دي چې (له حق) انحراف کوي، هغه څوك دئ چې زمکه ئې تم ځای وګرځوله او د هغې په منځ کې ئې نهرونه جوړ کړل، او هغې ته ئې لنګرونه (غرونه) پیدا کړل، او د دوو سمندرونو (تریو او خوږ) ترمنځ ئې حجاب او پرده راپیدا کړه، آیا له الله سره بل معبود شته؟ بلکي د دوی اکثر نه پوهیږی. هغه څوك دئ چې د مضطر او بې وزلي (دعاء) مني کله چې ئې (مرستي ته) راوبلي، او ستونزي ختموي او تاسو د زمکي خلیفه ګرځوي، آیا له الله سره بل معبود شته؟ لږ پند اخلئ. هغه څوك دئ چې د وچې او لمدې (بیدیا

او سمندر) په تيارو کي تاسو ته لاربنيي او هغه چي بادونه تر خپل رحمت (باران) وړاندي د زېري په توګه رالېږي؟ آيا له الله سره بل معبود شته؟ الله له هغه څه لوړ دئ چي (له ده سره) ئې شريکوي، هغه څوك دئ چي پيدايښت شروع کوي بيا ئې اعاده کوي او هغه چي تاسو ته له آسمان او زمکي روزي درکوي؟ آيا له الله سره بل معبود شته؟ ورته ووايه: خپل برهان او دليل راوړئ که رښتيني ياست.

لکه چي په دغو آيتونو کي مو وليدل؛ د قرآن عظيم الشأن ټول دلائل همداسي مشهود او محسوس دلائل دي، د خپلي ادعاء د اثبات لپاره په عالم کي په خورو نښو او شواهدو باندي استناد کوي.

د الله تعالى په اړه د بحث په ارتباط قرآن عظيم الشأن نه د الله د ذات په اړه څه وايي، ځکه چي دا د انسان له فهم پورته او لوړه خبره ده او نه هم د الله تعالى د وجود د اثبات په اړه بحث کوي ځکه چي دا له بديهياتو څخه ده، بلکي د الله د يووالي او د ده د صفاتو په اړه څېړنه کوي او دلائل وړاندي کوي، مثلاً که غواړي دا ثابته کړي چي د دې زمکي او آسمانونو پيدا کوونکی او پالونکی رب يو دئ او د عالم په اداره کې او سمبالولو کي هيڅوك له هغه سره شريك نه دئ نو فرمايي:

لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ٢٢
الانبياء: 22

که چېري په دې دواړو (آسمانونو او زمکي) کي له الله پرته (نور) آلهه (معبودان) وی، حتماً به دواړه تباه شوي وو، نو د عرش رب الله له هغه څه پاك دئ چي دوی ئې بيانوي.

يعني په آسمانونو او زمکي کي د يوه الله حکم نافذ دئ او له يوې مرجع د ټولو ساتنه او پالنه کېږي، له همدې امله د عالم د دې بې حسابه اجسامو او اجرامو ترمنځ ټکر او تصادم نه راځي او هر څه په خپل مدار او مسير کي اداره کېږي، که چېري د دې خور او پراخ عالم اداره، حفاظت او ساتنه په مختلفو لاسونو کي وی، هرومرو به د ارادو اختلاف په ټکر او تصادم منتج کېدو او د دنيا نظم به متلاشي کېدو. د زمکي او آسمان ترمنځ يووالی او همجهتي دا ثابتوي چي د دواړو الله يو دئ، لکه چي قرآن فرمايي:

ٱللَّهُ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ قَرَارٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَصَوَّرَكُمۡ فَأَحۡسَنَ صُوَرَكُمۡ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡۖ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦٤ غافر 64

الله هغه ذات دئ چې زمکه ئې تاسو ته تم ځای وګرځوله او آسمان ئې چت؛ او تاسو ته ئې صورت درکړ، بیا ئې ستاسو صورت غوره او ښایسته کړ او له پاکیزه (رزق) ئې تاسو ته روزي درکړه، دا ستاسو پالونکی رب دئ، نو با برکته دئ د عالمونو رب الله.

یعني هغه ذات چې زمکه او آسمانونه ئې پیدا کړل، د دوی ترمنځ ئې داسي وحدت، تنسیق او یووالی راپیدا کړ چې یو ستا د اوسېدو لپاره تم ځای او مستقر وي او بل ئې چت او پدغه کور کي چې زمکه ئې فرش او آسمان ئې چت دئ؛ ته ئې له داسي جوړښت سره راپیدا کړې چې په دې کور کي اوسېدی شې، هغه ستا له طبیعت سره متوازن او متناسب دئ، فشار ئې، حرارت ئې، یخني ئې، سختوالی او نرم والی ئې او هر څه ئې ستا لپاره مناسب دي.

ستا د دې کور چت او فرش یو بل ته لاس ورکوي او په ګډه کار کوي، یو اوبه راوروي، بل دانه او مېوه راشنه کوي او په دې ترتیب ستا لپاره د داسي پاك رزق انتظام کوي چې ته ئې هم له رنګه، هم له خونده او هم له بویه لذت اخلې، ستا اړتیاوو ته ځواب وایي او ستا د ژوند او بقاء عوامل برابروي. هغه ذات چې د آسمان، زمکي او ستا ترمنځ ئې دا یووالی او تناسق راپیدا کړی هماغه ستاسو رب او د عالمونو رب دئ.

همدا راز که غواړي ثابته کړي چې الله تعالی بصیر دئ او ستا د عملونو څارونکی او بیا قضاوت کوونکی دئ نو فرمایي:

أَيَحۡسَبُ أَن لَّمۡ يَرَهُۥٓ أَحَدٞ ٧ أَلَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ عَيۡنَيۡنِ ٨ وَلِسَانٗا وَشَفَتَيۡنِ ٩ وَهَدَيۡنَٰهُ ٱلنَّجۡدَيۡنِ ١٠ البلد: 7 -10

آیا ګمان کوي چې هیڅوك ئې نه ویني، آیا ده لره مو دوه سترګي نه دي ګرځولې، ژبه او دوې شونډي او نه مو دي وربښودلې (د خیر او شر) دوې لاري؟

آیا انسان دا ګمان کوي چې الله تعالی د ده د عملونو څارنه نه کوي؟ او د کړو وړو او ښه او بد په اړه به ئې قضاوت نه کوي؟ پداسي حال کي چې انسان مخلوق دئ، سترګي لري، د ښو او بدو څارنه کوي، قضاوت کوي، ښه غوره

ګڼي او له بدو کرکه لري، مګر د ده رب چې دی ئې پیدا کړی، ده ته ئې دا صفات ورکړي، په ده کې ئې دا استعدادونه اېښي، ده ته ئې سترګي ورکړې، د ما فی الضمیر د اظهار لپاره ئې د تکلم وسائل، ژبه او شونډي ورکړي، په ده کې ئې د ښو او بدو د تفکیك استعداد اېښی، ده ته ئې ښه ښایسته کړی او بد کرغېړن کړی، آیا کېدی شي د دې انسان خالق او صانع د دغو صفاتو خاوند نه وي؟ دا خبره کوم عقل منلی شي چې په مخلوق او مصنوع کې دي داسي یو کمال وي چې د هغه په صانع او خالق کې دي همدا صفت او کمال په اتمه او اکمله بڼه کې نه وي؟!

د دې لپاره چې ثابته کړي، الله تعالی نه یوازي له هر عیب او نقص منزه دئ بلکي عزیز او حکیم دئ نو فرمایي:

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١ الحشر:1

څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکه کې دي الله ته تسبیح کوي او هغه باحکمته عزتمن دئ.

په دې مبارك آیت کې قرآن عظیم الشأن د آسمانونو او زمکې هر څه د دې مطلب د اثبات لپاره د ګواه او شاهد په توګه وړاندي کوي چې الله له هر عیب او نقص منزه، عزیز او حکیم دئ.

د تسبیح لفظ په قرآن کې په څو معنی وو راغلی:

1 - په پاکۍ اعتراف کول، له عیب او نقص منزه ګڼل او دا اعتراف او تنزیه او تزکیه د مخصوصو الفاظو په ذریعه څرګندول.

2 - د حال په ژبه د خپل صانع او پالونکي په پاکۍ او سپېڅلتیا شهادت ورکول او لیدونکي ته دا انتباه ورکول چې د دې توکي پیداکوونکی له عیب او نقص اوچت او لوړ دئ.

3 - لامبو وهل او په سرعت او عجلې سره د یوه کار د سرته رسولو هڅه کول.

د تسبیح دغو درې ګونو معانیو ته په پام سره د حشر سورې لومړی آیت دا مطالب افاده کوي:

1 - د آسمانونو او زمکې هر څه الله په پاکۍ یادوي، هغه له هر عیب او نقص

منزه ګڼي او ذکر ئې کوي.
2 - د دې کائناتو هر څه په کامل انقیاد سره د الله تعالی په عبادت او بندګۍ کې لګیا دي، په هماغه مسیر کې خوځیږي چې الله ورته ټاکلی او هماغه څه کوي چې الله تعالی ورباندې ګمارلی او هر یو د خپلې مشخصې دندې په سرته رسولو کې مصروف دئ.
3 - د زمکې او آسمانونو هر څه په دې شهادت ورکوي چې الله له هر عیب او نقص منزه دئ.

دا چې د الله تعالی په زمکې او آسمانونو کې بېهوده او بې هدفه شی نشې موندلی، هر څه سم، سالم او په خپل حد کې کامل پیدا شوی، هر څه د یوه معین هدف د تحقق لپاره پیدا شوی، د عالم ټول موجودات له خاصو ضوابطو او سننو سره سم د ټاکلې منهج مطابق د معین هدف په لورې په منظم او مستمر حرکت سره هغه تر سره کوي او خاص نتائج وړاندې کوي. دا نظم، تعادل، ښایست او هدفمني په خپله ثابتوي چې د دې عالم صانع، مدبر، پالونکی او ساتونکی له عیب او نقص منزه دئ، علیم او حکیم دئ او په هر کار کې ئې مصلحت او حکمت مضمر دئ. د دې خور، ستر او پراخ عالم اداره او د هر جزء حرکت سمبالول او د بې انتهاء اجزاوو د ټکر او تصادم مخنیوی په خپله ثابتوي چې د دې عالم پالونکی رب، عزیز او غالب دئ او په هر کار قادر او توانا.

الله تعالى د رحمت په آثارو کي

په تېر درس کي مو واورېدل چي يو له هغو دلائلو چي قرآن عظيم الشأن ئې د الله تعالى او د هغه د ټولو صفاتو د اثبات لپاره وړاندي کوي هغه په دې عالم کي د ربوبيت آثار او مظاهر دي، دا موجود حاکم نظم، د عالم د ټولو اجزاوو هدفمني او دا چي په ټول عالم کي څوك بېهوده او عبث شى نشي په ګوته کولى او نه هم کوم اضافي شى، يا کم شى، هر څه د يوه هدف لپاره پيدا شوى، او مور يو غيبي لاس ګورو چي د دې عالم پالنه او ساتنه کوي، دا د ربوبيت آثار او مظاهر مور دې لوري ته هدايتوي چي کوم چا دا عالم پيدا کړى او په هغه کي د رب او پالونکي په توګه تصرف کوي هغه الله تعالى دئ.

دوهم دليل چي مور ئې په دې باب لرو هغه په دې عالم کي د رحمت، پېرزويني او عاطفي مظاهر او آثار دي، که دا دنيا بې روح او بې شعوره اشياء او توکي وى او د هغوى ترمنځ ماشيني تعلقات وى، نو نه به يوه د بل په نسبت عاطفه او پېرزوينه درلوده او نه هم زړه سوى او ترحم؛ خو برعکس مور دلته ترحم، عاطفه، رحمت او پېرزوينه او د دې ترحم او عاطفې آثار او مظاهر ګورو، ګورو چي مور د خپل اولاد په نسبت مخصوصاً په هغه وخت کي چي اړ او محتاج وي، د چا پالني او روزني ته ضرورت لري، په همدومره پيمانه چي هغه دې ته اړ وي د مور په زړه کي ورته ترحم او عاطفه وي، ايثار او د قربانى جذبه وي، هومره چي د هغه لپاره هر راز ستونزي کړاوونه، زحمتونه او بې خوبي ګالي، هر څومره چي دا ماشوم بې نيازه کېږي، په خپل ځان متکي کېږي، له بل چا مستغني کېږي او په خپلو پښو ودرېږي همدومره دا رابطه هم تضعيف کېږي، شلېږي او قطع کېږي. تاسو مرغان ګورئ چي کله د هغه بچونې واړه وي او يوه مدافع، حامي، پالونکي او ساتونکي ته اړ وي؛ ګورو چي مور پلار ئې په همغه اندازه د هغه په نسبت عاطفه لري، مينه لري، ترحم

او زړه سوی لري، د هغه ساتنه کوي، د هغه د پالنې او ساتنې لپاره حتی ځان هم په خطر کي اچوي، کله چې د هغه ځالي ته څوك لاس وروړي ګورو چې ځان وربانديږي وژني، چيغاري وهي، له يوې څانګې بلې ته الوځي، داسي لالهانده چې نه پوهيږي څه وکړي تر څو خپل بچيان له خطره وژغوري، حيوانات هم همداسي دي، حال دا چې څه موده وروسته او هغه مهال چې بچي ئې په خپلو پښو ودرپږي، خپل ضرورت خپله رفع کولی شي، له مور او پلار بې نيازه او مستغني شي، بيا هغه پخوانی تعلق ختم شي، بيا هغه د ترحم او عاطفې تعلق نه وي او ورو ورو تغيير مومي او له منځه ځي. دغه عاطفه او ترحم چا راپيدا کړي؟ ولي د ضرورت په وخت کي وي او د اړتيا له ختمېدو سره سم پای ته ورسيږي؟ حال دا چې نه مور او نه پلار هغه ته اړتيا لري، او کوم ضرورت ئې رفع کوي، برعکس هر څومره چې اولاد د مورپلار پالنې ته اړ وي، نو دا مينه هم وي، او څومره چې هغوی د بل له مرستې بې نيازه کيږي دا رابطه هم تضعيف کيږي، يو وخت داسي راشي چې انسان ګمان نه کوي دا به همغه مور وي او دا به ئې همغه بچی چې د هغه په اړه ئې پرون د مور په زړه کي دومره کلکه مينه او داسي ژوره عاطفه او ترحم وو، ځيني خو مينه او عاطفه داسي توجيه کوي چې ګواکي مبنا او بنسټ ئې احتياج او اړتيا ده، خو دا په دې دليل غلطه خبره ده چې دا احتياج او اړتيا خو هغه مهال هم وي چې ماشوم ستر شي، خو هغه د پرون ورځي ترحم او عاطفه نه وي، د ماشوم له سترېدو سره خو دا رابطه بايد تقويه کېدلی، هر څومره چې هغه د دې جوګه کيږي چې د مور پلار مرسته وکړي او احتياج ته ئې د ځواب ويلو شي بايد دا رابطه د مور او پلار له خوا تقويه کېدی، څومره چې بچی او ماشوم لوييږي او په خپلو پښو ودرپږي او د دې جوګه کيږي چې د مور پلار احتياج رفع کړي، د همدې په تناسب بايد دا تعلق او رابطه مزيد ټينګېدلی، خو برعکس ګورو چې هغه تضعيف کيږي او يو وخت دې حد ته ورسيږي چې دا رابطه قطع شي.

مورِ دا د مينې، پېرزويني، رحمت او محبت آثار او مظاهر ګورو او دا نتيجه ترلاسه کوو چې د دې عالم پالونکی خدای رحمان دئ. لکه چې پيغمبر عليه السلام فرمايي:

په دنيا کي دا ټول رحمت او پېرزوينه چې د ټولو مخلوقاتو ترمنځ ليدل کيږي،

يو له بل سره مينه کوي، يو د بل په نسبت پېرزوينه او عاطفه لري، څاروي او ځناور له خپلو بچيانو سره مينه کوي، دا ټول د الله د رحمت د سلو برخو يوه برخه ده چې الله تعالى د خپل رحمت دغه وړه برخه د عالم پر ټولو مخلوقاتو وېشلې ده.

عَنْ سَلْمَانَ رضى الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم:"إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ خَلَقَ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ مِائَةَ رَحْمَةٍ، كُلُّ رَحْمَةٍ طِبَاقُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، فَجَعَلَ مِنْهَا في الأرض رَحمة، فبها تَعطِفُ الوَالِدةُ على وَلَدِها، والوَحْشُ والطيرُ بعضُها على بعض، فَإِذا كان يومُ القِيامَةِ أَكمَلَهَا بِهذهِ الرحمة.

رواه مسلم

له سلمان رضى الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: په کومه ورځ چې الله آسمانونه او زمکه پيدا کړل؛ سل داسي رحمتونه ئې پيدا کړل چې هر يو ئې داسي طبقه ده لکه د آسمان او زمکي ترمنځ واټن، له دې ئې يو په زمکي کي کېښود چې په همدې سره مور له خپل اولاد سره، ځناور او مرغان يو له بل سره مينه او عطوفت کوي، کله چې د قيامت ورځ شي نو په همدې سره به خپل رحمت بشپړ کړي.

د رحمت دا آثار او مظاهر چې مور ئې دلته ګورو؛ په دې باندي شهادت ورکوي چې دا دنيا يوه مهربان خالق پيدا کړې او هغه دا د پېرزويني، عاطفې او رحمت علاقه په خپلو مخلوقاتو کي اېښې، مور په دې عالم کي هري خوا ته د رحمت آثار ګورو، په ټولو تعلقاتو کي، په طبيعي حوادثو او پېښو کي، د خلکو ترمنځ، د حيواناتو ترمنځ او د مرغانو ترمنځ؛ دا مينه، محبت، پېرزوينه او عاطفه چې آثار او مظاهر ئې هر لوري ته ګورو، دا مور ته لارښوونه کوي چې دا عالم يوه ماشيني نړۍ نه ده، چې د توکو تر منځ ئې تعلقات د يوه بې احساسه ماشين د بېلو بېلو برخو ترمنځ وي، چې هلته نه عاطفه وي او نه ترحم، بلکي دا د رحمان خداى له لوري پيدا شوې دنيا ده او هغه دا د پېرزويني احساس او د رحمت او مينې علايق د مخلوقاتو تر منځ پيدا کړي. په رواياتو کي راځي چې: يوه ورځ يوه مور چې په تناره ئې ډوډۍ پخوله ناڅاپه ئې خپل ماشوم وليد چې د اور خوا ته نږدې کېږي، ورټوپ ئې کړل او هغه ئې په خپلې غېږ کي ونيولو، له همدې سره ئې دا فکر ذهن ته ورغى چې زما زړه نه غواړي زوى مي اور ته ولوېږي، الله تعالى څنګه په دې راضي کېږي چې

خپل بنده په اور کي واچوي؟ ډوډۍ او تنور همداسي پرېږدي، ماشوم په غېږ کي اخلي، پيغمبر عليه السلام ته ورځي او پوښتنه کوي چي: آيا ته د الله رسول يې؟ وئې فرمايل: هو، هغې وويل: آيا الله تر ټولو زيات مهربان نه دئ، وئې فرمايل هو! هغې وويل: مور پلار مي تر تا جار؛آيا الله پر خپلو بندګانو تر مور پر خپل اولاد زيات مهربان نه دئ؟ وئې فرمايل: هو؛ هغې وويل: مور خو نه غواړي چي ماشوم ئې اور ته ولوېږي، الله تعالى څنګه غواړي چي خپل بنده اور ته واچوي؟ د دې خبري په اوريدو سره د رسول الله صلى الله عليه و سلم له سترګو دومره اوښکي بهېږي چي مخ ئې په اوښکو لمدېږي او بيا سر رااوچتوي او فرمايي: يقيناً چي الله نه غواړي خپل بنده اور ته واچوي مګر هغه ډېر متمرد چي د لااله الا الله له ويلو انکار کوي.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلمفِى بَعْضِ غَزَوَاتِهِ فَمَرَّ بِقَوْمٍ فَقَالَ مَنِ الْقَوْمُ فَقَالُوا نَحْنُ الْمُسْلِمُونَ. وَامْرَأَةٌ تَحْصِبُ تَنُّورَهَا وَمَعَهَا ابْنٌ لَهَا فَإِذَا ارْتَفَعَ وَهَجُ التَّنُّورِ تَنَحَّتْ بِهِ فَأَتَتِ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَتْ أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ قَالَ « نَعَمْ ». قَالَتْ بِأَبِى أَنْتَ وَأُمِّى أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَرْحَمِ الرَّاحِمِينَ قَالَ « بَلَى ». قَالَتْ أَوَلَيْسَ اللَّهُ بِأَرْحَمَ بِعِبَادِهِ مِنَ الأُمِّ بِوَلَدِهَا قَالَ « بَلَى ». قَالَتْ فَإِنَّ الأُمَّ لاَ تُلْقِى وَلَدَهَا فِى النَّارِ. فَأَكَبَّ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلميَبْكِى ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَيْهَا فَقَالَ « إِنَّ اللَّهَ لاَ يُعَذِّبُ مِنْ عِبَادِهِ إِلاَّ الْمَارِدَ الْمُتَمَرِّدَ الَّذِى يَتَمَرَّدُ عَلَى اللَّهِ وَأَبَى أَنْ يَقُولَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ » سنن ابن ماجه

که څه هم د دې روايت په اسنادو کي څه ملاحظات شته؛ خو د مينې او پېرزويني په اړه دا مطلب په بل حديث کي په دې توګه راغلى چي رسول الله صلى الله عليه و سلم يوې ښځې ته چي ماشوم ئې کلك په غېږ کي نيولى او تى ورکوي، اشاره کوي او صحابه وو ته فرمايي: آيا دا مېرمن به خپل ماشوم په اور کي واچوي؟ صحابه وو وويل: نه په خداى قسم چي ترڅو توانېږي اور ته به ئې وانه چوي، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: يقيناً چي الله پر خپلو بندګانو تر دې مور پر خپل زوى ډېر مهربان دئ.

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضى الله عنه قَدِمَ عَلَى النَّبِىّ صلى الله عليه و سلم سَبْىٌ، فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنَ السَّبْىِ قَدْ تَحْلُبُ ثَدْيَهَا تَسْقِى، إِذَا وَجَدَتْ صَبِيًّا فِى السَّبْىِ أَخَذَتْهُ

فَأَلْصَقَتْهُ بِبَطْنِهَا وَأَرْضَعَتْهُ، فَقَالَ لَنَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم « أَتَرَوْنَ هَذِهِ طَارِحَةً وَلَدَهَا فِى النَّارِ ». قُلْنَا لاَ وَهْىَ تَقْدِرُ عَلَى أَنْ لاَ تَطْرَحَهُ. فَقَالَ « اللَّهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هَذِهِ بِوَلَدِهَا ».رواه البخاري

قرآن عظيم الشأن همدا د رحمت آثار او مظاهر د رحمن خداى د اثبات لپاره د دليل په توګه وړاندي کوي، لکه چې فرمايي:

فَٱنظُرۡ إِلَىٰٓ ءَاثَٰرِ رَحۡمَتِ ٱللَّهِ كَيۡفَ يُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٥٠ الروم:50

د الله د رحمت آثارو ته وګوره چې څنګه زمکه له مرګه ئې وروسته بياژوندۍ کوي؟ يقيناً همدغه الله دئ چې مړي به بياراژوندي کوي او هغه په هر کار قدير او توانا دئ.

زمکي ته وګورئ چې هر څه په هغې کي په مرګ محکوم شي، په سپېره ډاګ بدله شي، داسي چې څوك په هغې کي د ژوند آثار نه ګوري، خو الله تعالى په همغه زمکه باران ووروي او دا مړه زمکه را ژوندۍ کړي. دا د الله د رحمت د آثارو يو مظهر دئ، په مرګ محکومه شوې، انسان د هغې داني او مېوې ته اړ او محتاج دئ، له دې پرته د هغه ژوند امکان نه لري، د دې لپاره چې انسان او حيوان ژوندى پاته شي، د زمکي داني، مېوې او وښو ته اړ او محتاج دئ، له دې پرته ئې د زمکي پر سر ژوند امکان نه لري، ګورئ چې الله تعالى خپل وسيع رحمت د هغه په حال شامل کړي، دا مړه زمکه ژوندۍ کړي او د هغه لپاره د ژوند د اړتياوو او د رزق او روزي انتظام وکړي.

همدا راز فرمايي:

وَهُوَ ٱلَّذِي يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦٓۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَقَلَّتۡ سَحَابٗا ثِقَالٗا سُقۡنَٰهُ لِبَلَدٖ مَّيِّتٖ فَأَنزَلۡنَا بِهِ ٱلۡمَآءَ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِۚ كَذَٰلِكَ نُخۡرِجُ ٱلۡمَوۡتَىٰ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ٥٧ الاعراف:57

او دى هغه ذات دئ چې باد تر خپل رحمت (يعني باران) مخکي د زېرې په توګه لېږي، چې درنې وربځي اوچتي کړي، بيا ئې د مړې زمکي لورې ته خوځوو او بيا په همدې سره اوبه وروو، بيا په همدې (باران او اوبو) سره له زمکي هر نوع مېوې راشنې کوو. همدا راز به مړي راباسو تر څو پند واخلئ.

يعني مخكي له دې چي باران وورېږي سوړ او خوندور باد لګېږي او د دې زېرى ورکوي چي پدې پسي باران راځي، دا باران د رحمان خداى رحمت دئ، هغه ئې د رحمت په نامه یاد کړى، د دې رحمت د راتلو د مخه ګورئ چي الله تعالى بادونه راولېږي او هغه تاسو ته د باران د راتلو زېرى درکوي، او دا په داسي حال کي چي انسان، نبات، حیوان ټول اوبو ته اړ او محتاج وي، د باران ورېدو ته منتظر او سترګي په لار، الله تعالى د خپل رحمت له کبله د دوى د دې احتیاج، اړتیا او نیازمندۍ د رفع کولو انتظام کوي، ګورئ بادونه رالېږي، هغه د باران زېرى ورکوي، او بیا همدا بادونه دي چي هغه ورېځي چي د بحرونو د پاسه جوړي شوې په سر اخلي، په زرګونو میله لري ئې خوځوي، له ځان سره ئې وړي، بیا همدغه ورېځي دي چي باران ترې راورېږي او د همدې باران په ذریعه انسان ته د رزق او روزي انتظام کېږي او له زمکي دانه او مېوه را شنه کوي، دا د رحمان خداى هغه انتظام دئ چي د خپلو بندګانو په نسبت د پېرزویني او رحمت له کبله ئې تر سره کوي او د دوى لپاره مړه زمکه ژوندۍ کوي او د رزق او روزي چاره ئې کوي.

که ربنتیا په طبیعت کي همدا نظم نه وى، د بادونو په ذریعه د دې ورېځو خوځول نه وى او چېرې چي څوك ورته محتاج دئ، کومه زمکه چي ورته محتاجه ده، چېرې چي انسان حیوان او نبات اوبو ته اړ دئ او منتظر دئ چي په سر ئې باران وورېږي، هلته ئې نه رسولى، انسان ته به څومره ګرانه وه چي د دومره اوبو انتظام وکړي چي هره ورځ د دې زمکي ټول ژوي ورته اړ او محتاج دي، خو الله تعالى ئې مفت، ارزانه پرته لدې چي انسان پرې څه تکلیف ایستلى وي ورته مهیا کوي.

کله چي له اوبو بخارات راپورته شي، د لمر وړانګي له اوبو د بخاراتو د راپورته کېدو باعث شي، هغه تبخیر کړي او دا بخارات اوچت شي، په ورېځو بدل شي او بیا لرو لرو ځایونو ته د باد په ذریعه انتقال شي، زما او ستا په سر د باران په بڼې کي ورېږي، د غرونو په غېږ کي ئې الله تعالى د واورو په شکل کي ذخیره کړي، غرونو واورو لپاره خپله غېږ پرانیستې نیولې وي او د دې لپاره مستعد او آماده وي چي کافي مقدار، بڼه ډېره اندازه ئې په خپلي غېږ کي ذخیره کړي او بیا چي کله انسان ورته محتاج او اړ شي، کله چي د دوبي په تودوخي کي انسان اوبو ته محتاج شي، ورو ورو دا واوره ویلي کېږي او په

ویالو او نهرونو کي خوځېږي، زما او ستا د کور مخي ته بهېږي او د زمکي لاندي په کارېزو کي خوځېږي، که دا انتظام نه وی نو د زمکي پر سر ژوند ممکن نه وو، که همدغه د اوبو تبخیر، بیا په وریځو بدلېدل، بیا د باد په ذریعه تر لرو لرو منطقو پوري انتقالېدل او بیا د غرونو په غېږ کي د واورو په شکل ذخیره کېدل، بیا په دوبي کي هملته ورو ورو ویلي کېدل او رابهېدل؛ که دا نظام نه وی نو د زمکي پر سر ژوند ممکن نه وو.

په دې کي شك نشته هغه ذات چي دا ټول امور اداره کوي، دا نظم ئې په دې عالم کي اېښی او د عالم د مختلفو اجزاوو ترمنځ ئې دا همغږي او یووالی پیدا کړی، داسي چي هر څه ئې یو بل ته لاس ورکوي، په ګډه کار کوي او د خپل ګډ کار په نتیجه کي د خلکو اړتیاوي رفع کوي، د الله د مخلوقاتو د احتیاج او اړتیا د رفع کولو لپاره په مسلسله او منظمه توګه په کار لګیا دي، که دا نه وی د زمکي پر سر به هیڅ ژوندی مخلوق نه وو پاته شوی. دا ټول د هغه الله تعالی د اثبات لپاره واضح او صریح دلائل دي چي د انسان په نسبت پېرزوینه او رحمت لري.

د اوبو د تصفیې الهي نظام:

◆وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ طَهُورٗا ٤٨ لِّنُحۡيَۦ بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗا وَنُسۡقِيَهُۥ مِمَّا خَلَقۡنَآ أَنۡعَٰمٗا وَأَنَاسِيَّ كَثِيرٗا ٤٩ الفرقان:48-49

او دی هغه ذات دئ چي تر خپل رحمت وړاندي ئې بادونه د زېرې په توګه ولېږل (چي خلکو ته د باران د راتلو زېرې ورکړي) او له آسمانه مو پاکوونکې اوبه رانازلي کړې، چي د همدې اوبو په ذریعه مړ ښار (مړ ټاټوبی) را ژوندی کړو او په همدې سره ډېر هغه حیوانات او خلك خړوبه کړو چي مور پیدا کړي.

بادونه د باران د مخه رالېږي چي زېرې ورکړي او بیا له آسمان پاکي اوبه نازلوي، راشئ دغي موضوع ته چي له آسمانه پاکي اوبه (ماء طهورا) نازلوي، لږ دقیق شو، ګورو چي اوبه له هغه وروسته چي دلته استعمال شي او بیا د بحرونو لوري ته وخوځېږي، تروې، ترخې او تیزابي شي، نور نو له استفادې ولوېږي، له تصفیې پرته ترې استفاده نشو کولی، که د دغو اوبو د

بېرته تصفيې انتظام نه وی نو د دې طبيعت په غېږ کې او د دې زمکې پر سر ژوند ممکن نه وو، خو الله تعالی بېرته همدغه کثيفې او ناولې اوبه، تېزابي اوبه، تروې او ترخې اوبه، چې له کاره لوېدلې، د استفادې وړ نه دي، د همدې اوبو د تصفيې انتظام ئې کړی، په هغه د لمر وړانګې لګېږي، په دې سره تبخير شي، تصفيه شي، په ورېځو بدلې شي، بېرته مور ته پاکې، صافې اوبه د باران په بڼې کې راورېږي، د چينو په شکل، د ځاګانو په شکل، په کارېزونو او ويالو کې. دا د اوبو د تصفيې الهي انتظام دئ، که دا هستي د طبيعي او تصادفي حوادثو مجموعه وی او د لته يوه حکيم ذات په هغه کې تصرف نه کولی نو د زمکې په سر ژوند؛ په دې دليل هم امکان نه درلود چې يو ځل دا اوبه کثيفې شوې او له استفادې لوېدلې وی، نو انسان به د تل لپاره د ځښاك له صافو اوبو محروم وو، خو الله تعالی رحمان دئ او د خپلو بندګانو په نسبت د وسيع رحمت خاوند دئ، د همدې رحمت له کبله ده چې د باران د ورولو انتظام ئې کړی، همدا قضيه د رحمن خدای په وجود دلالت کوي، همدا تدارك او انتظام چې اوبه تصفيه کېږي، د هغه مړ ښار (چې هلته هر څه اوبو ته محتاج او نيازمند وي) د هغه په سر ئې وروي، په همدې حقيقت ګواهي ورکوي، کله کله حالت دې حد ته ورسېږي چې د بارانونو د نشتوالي له کبله ګڼ شمېر ناروغۍ خورې شي، فضاء او هوا ټوله کثيفه او ناپاکه شي، ګرمي له يوې خوا، د اوبو نشتوالی له بلې خوا، په فضاء کې د مکروبونو خورېدل له بله طرفه، خو الله تعالی نه يوازي هغه کثيفې تېزابي اوبه تصفيه کړي، په ورېځو ئې بدلي کړي، تبخير شي، ورېځې ترې جوړې شي، بادونو ته ئې د انتقال امر وکړي، خوځوي ئې، په زرګونو ميله لرې همغه ښار ته چې خلك ئې اوبو ته محتاج دي، مرضونه خواره شوي او هر څه دې ته منتظر چې سره هوا ولګېږي او باران وورېږي، الله تعالی ئې همغه منطقې ته رسوي، ګورو چې هلته باران وورېږي، هلته هوا تصفيه شي، مکروبونه ومري، د هوا کثافت ختم شي، حرارت له منځه لاړ شي او د همغې سيمې د خلکو احتياج ته ځواب وويلی شي، مړه زمکه بېرته را ژوندۍ شي او ډېرو محتاجو انسانانو او حيواناتو ته چې ژوند ئې په خطر کې لوېدلی وو، اوبه ورسوي.

هغه ملکونه چې د اوبو له ناحيې مشکلات لري، بحرونو ته څېرمه په ساحل کې پراته دي او غرونه نه لري، زيات بارانونه ورباندې نه وريږي، په غرونو

کي هغوی ته واوري نه ذخيره کېږي، چي ورو ورو ويلي شي او نهرونه او ويالې وبهوي، د هغو تر ټولو لويه ستونزه دا ده چي د ځښلو صافي اوبه نه لري او چي د يوه واړه ښار لپاره اوبه تصفيه کوي بې حسابه مصارف تري غواړي، د دې ملکونو خلك د نفتو په ځاګانو دومره نه خوشحاله کېږي لکه د اوبو په يوې چينې.

د عربو د ملکونو يوه حاکم ته چا يو په بل پسي خبر ورکړ چي په فلان فلان ځای کي د نفتو ځاګان وموندل شول، هغه وويل کور مو ودان شه، خو يو ځل مو هم خبر را نه کړ چي د خوږو او صافو اوبو ځاه وموندل شو!!، دا ځکه چي د هغوی لوی مشکل د صافو اوبو نشتوالی دئ.

د همدې الهي نظم له کبله چي زموږ مهربان رب ئې بندو بست کړی په دې عالم کي او د دې زمکي پر سر انسان ته د ژوند امکانات برابر شوي.

طبيعي لارښووني:

أَمَّن يَهۡدِيكُمۡ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَمَن يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦٓۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ تَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٣ النمل:63

هغه څوك دئ چي د وچي او سمندر په تيارو کي ستاسو لارښوونه کوي او څوك دئ چي بادونه تر خپل رحمت (باران) وړاندي د زېري په توګه لېږي؟ آيا له الله سره بل اله شته؟ (چي په دې کارونو کي څه برخه ولري او له الله تعالى سره په دې چارو کي شريك وي) لوړ او اوچت دئ الله له هغه څه چي دوی ئې ور سره شريکوي (هغه له شريك مستغني او بې نياز دئ).

يعني ستاسو لپاره ئې د هدايت او لارښووني انتظام کړی، په بحر کي هم، هلته چي د لوري د تشخيص لپاره هيڅ ډول علائم نشته، خو الله تعالى ستاسي لپاره د دې چاره کړې چي هلته لار بيا مومئ، يا د ستورو په ذريعه لار پيدا کوئ، يا د افق له رڼا او د لمر له طلوع او غروب پوهېږئ چي سمت مو کوم طرف ته دئ، او يا د داسي قطب نما او پرمخ تللو وسائلو بندو بست ئې کړی او داسي سنن ئې په طبيعت کي اېښي چي له هغوی په استفادې سره تاسو په دقيقه توګه خپله لار موندلى شئ. نو دا په وچه او لمده کي چي ستاسي د هدايت او لارښووني لپاره انتظامات شوي، دا چا کړي؟

همدا راز تاسو ته ئې سترګي درکړې، د داسي وسائلو انتظام ئې په دې عالم کي کړی چي په هغه سره تاسي په سيند، صحرا، فضاء، په ورځ او شپه کي خپله لاره ومومئ، په دې طبيعت کي ئې د دې انتظام کړی، په تياره کي د افق له رڼا خپله لار موندلی شئ، په ستورو سره لار پيدا کولی شئ، د دې انتظام چا کړی؟ که په وچه او لمده کي، هغه مهال چي تياره وي، هيڅ څه نه ترسترګو کيږي، ستاسو د لاربښووني او هدايت انتظام شوی، دا په خپله انسان ته ښيي چي دا عالم يوه رحمان ذات پيدا کړی.

آيا په رحمان خدای د باور او ايمان لپاره دا کافي نه ده چي هغه مهال په تا باندي باران وروي چي ته ئې ورېدو ته سترګي په لار او منتظر يې، تر بارانه مخکي سوړ باد ته د زېړي په سترګه ګوري، آيا له الله سره بل اله شته؟ په ټول عالم کي داسي څوک مومئ چي له الله تعالی سره په دې کارونو کي شريك وي؟ دا چي د وچي او لمدې په تيارو کي ستاسو د لاربښووني او هدايت انتظامات شوي آيا له الله تعالی پرته داسي څوک په نظر درځي چي په دې انتظام کي هغه څه ونډه او اغېز ولري او د څه کولو واك او اختيار ورسره وي؟ آيا د باران په ورېدو، د بادونو په ذريعه د ورېځو په خوځېدو، او د سوړ او ملايم باد په لاس د دې زېړي او پيغام په لېږلو کي چي باران راروان دئ، په دې کي له الله سره څوك شريك شته؟

همدا راز الله فرمايي:

َهُوَ ٱلَّذِي يُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ مِنۢ بَعۡدِ مَا قَنَطُواْ وَيَنشُرُ رَحۡمَتَهُۥۚ وَهُوَ ٱلۡوَلِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ٢٨
الشورى:28

او دی هغه ذات دئ چي باران وروي له هغه وروسته چي (خلك) مأيوس او ناهيلي شوي وي او خپل رحمت خوروي او هغه ستايل شوی مولا دئ.

هغه ذات چي باران وروي او دا هم هغه مهال چي خلك مأيوس شوي وي، داسي څه نه مومي چي د باران د ورولو هيله تري ولري، په ټول عالم کي له الله تعالی پرته داسي کوم شی نه ګوري چي خپل امید ورپوري وتړي، هغه ته انتظار ولري او پر هغه اعتماد او تکيه وکړي، داسي څوك نه ګوري چي د ده احتياج ته ځواب ووايي، مشکل ئې رفع کړي، مأيوس او ناهيلی دئ، خو ناڅاپه د همدې مأيوس او ناهيلي انسان غوښتنه منل کيږي، دعاء ئې اورېدل کيږي او

هيله ئې ترسره کېږي، دا څوك كوي؟ انسان خو په ټول عالم كي داسي څه نه گوري چي په دې اړه له هغه څه طمع ولري، په هغه پوري خپلي هيلي وتړي او له هغه د مرستي انتظار ولري، مأيوس دئ، په عالم كي داسي څه نه گوري چي د ده احتياج او اړتيا تر سره كړي، ناڅاپه ئې دا يأس او ناهيلي ختمېږي، اړتيا او احتياج ته ئې ځواب ويل كېږي، دا كار څوك كوي؟ دا څوك دئ چي انسان ته له هغه وروسته چي مأيوس شوى، له قحطۍ سره مخامخ دئ، سختي تودوخي وارخطا كړى، هري خوا ته مرضونه خواره شوي، نباتات ئې، حيوانات ئې او په خپله دى اوبو ته محتاج او اړ دئ، تر دې حده چي د يأس مرحلې ته رسېدلى، خو ناڅاپه د همدغه مأيوس انسان غوښتني ته ځواب ويل كېږي، دا ځواب څوك وايي؟ او د هغه دا احتياج څوك رفع كوي؟ څوك ئې ضرورت منتفي كوي؟ آيا له دې پرته بل ځواب لرو چي ووايو: دا د هغه ستايل شوي ذات كار دئ چي پر خپلو بندگانو مهربان، د دوى د اړتياوو او ستونزو د رفع كولو ذمه وار او د دوى مولا دئ.

د شپې او ورځي الهي نظام، ستره الهي پېرزوينه

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمُ ٱلَّيۡلَ سَرۡمَدًا إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَنۡ إِلَٰهٌ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَأۡتِيكُم بِضِيَآءٍۚ أَفَلَا تَسۡمَعُونَ ٧١ القصص:71

ووايه: آيا پوهېږئ چي كه الله پر تاسو باندي شپه د قيامت تر ورځي تلپاتې گرځولې وى، نو له الله پرته څوك داسي اله وو چي تاسو ته ئې رڼا راوړې وى؟ آيا نه اورئ.

يعني كه الله تعالى وغواړي چي دا شپه دي دائمي شي، هومره دي اوږده شي چي د قيامت تر ورځي پوري دوام وكړي، او پدې ترتيب دا د شپې او ورځي د تلو راتلو موجوده نظام چي الله تعالى ايجاد كړى ختم شي، هغه څوك دئ چي بيا تاسو ته رڼا راولي؟ په دې ټول عالم كي داسي څوك گورئ چي د ورځي او رڼا په راوستو قادر وي؟ آيا په ټول عالم كي داسي څوك گورئ چي د شپې د پاى ته رسولو توان ولري او هغه ورځ درته راولي چي تاسو ورته اړ او محتاج ياست؟

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمُ ٱلنَّهَارَ سَرۡمَدًا إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَنۡ إِلَٰهٌ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَأۡتِيكُم بِلَيۡلٖ تَسۡكُنُونَ فِيهِۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ٧٢ القصص:72

(ورته) ووايه! آيا پوهيږئ چي که الله پر تاسو باندي ورځ تل پاتي کړي، د قيامت تر ورځي پوري، آيا له الله پرته به کوم اله وي چي تاسو ته شپه راولي چي په هغې کي آرام وکړئ، آيا له بصيرته کار نه اخلئ؟

وَمِن رَّحْمَتِهِۦ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ لِتَسْكُنُواْ فِيهِ وَلِتَبْتَغُواْ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ٧٣ القصص:73

او دا د ده له پېرزوينو څخه ده چي تاسو ته ئې شپه او ورځ ګرځولې تر څو په هغې کي هوسا شئ او د دې لپاره چي د الله فضل ولټوئ او د دې لپاره چي ښايي شکر وکړئ.

الله تعالی شپه او ورځ په متوازن او متناسب شکل پيدا کړې چي يوه په بلي پسي راځي، تر هغو پاتې کيږي چي تاسو ورته اړ او محتاج يئ، نه لنډه او نه اوږده، بلکي هومره چي ورته ضرورت شته، تاسو شپې ته اړ او محتاج يئ تر څو په هغې کي هوسا او آرامه شئ، په ورځ کي تاسو کار کوئ، خپل معاش تأمينوئ او د الله تعالی فضل لټوئ او پدې ترتيب ګورئ چي الله تعالی د دې انتظام هم کړی چي تاسو آرام وکولی شئ، په شپه کي چي هري خوا ته تياره او چوپتيا وي، د خوب لپاره مناسب شرائط برابر شي، دا ځکه چي ته د خوب لپاره هم تيارې ته ضرورت لرې او هم چوپتيا ته، ګورئ چي شپه خپله تياره پرده هر لوري ته خوره کړي، هر څه چوپ شي، هر څه په خوب لاړ شي او ستا د خوب لپاره آرامه او مناسبه فضاء جوړه شي، په رڼا کي سم خوب نشې کولی، په شور او ځوږ کي سم خوب نشي کولی، ګورئ چي الله تعالی هر څه په خوب ويده کړي او تياره شي، په دې ترتيب ستا د آرام لپاره مناسبه فضاء جوړه شي؛ او بيا ته رڼا او ورځي ته ضرورت لرې چي په هغې کي هر څه وپېژنې، کار وکړې، خپل معاش تأمين کړې، د الله فضل ولټوې، تا ته ئې د دې انتظام هم کړی. يو معمولي تغيير د شپې او ورځي په دې موجوده تناسب کي، د زمکي په سر د ژوند امکانات ختموي، نو پدې متوازن شکل کي د شپې او ورځي انتظام چا کړی؟ تاسو ګورئ چي قرآن کريم په دې هم استدلال کوي، دا په متوازن شکل د شپې او ورځي يو په بل پسي راتګ، همغسي چي ته ورته اړ او محتاج يې، لکه څنګه چي ته ورته ضرورت لرې، دا د دې خبري د ثبوت دليل دئ چي دا د رحمن پالونکي خدای د تصرف آثار دي، د رحمن رب د ربوبيت آثار دي، هغه دا انتظام کړی، که الله تعالی په دې کي معمولي تغيير

راولي بيا داسي څوك نشته چي په دې کي تصرف و کړي، تاسي ته رښا راپيدا کړي او يا دي شپه راولي چي په هغې کي آرام وکړئ، که الله تعالى وغواړي چي شپه طولاني شي او تر قيامته پوري دوام وکړي، داسي څوك نشته چي تاته رښا راولي او که هغه وغواړي چي ورځ تر قيامته طولاني شي داسي څوك نشته چي شپه راولي. دا د الله پېرزوينه ده چي تاسو ته ئې د شپې او ورځې داسي انتظام کړى چي تاسي ورته اړ او محتاج يئ. همدا راز فرمايي:

وَٱلۡأَرۡضَ مَدَدۡنَٰهَا وَأَلۡقَيۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيۡءٖ مَّوۡزُونٖ ١٩

الحجر:19

او زمکه مو خوره کړه او په هغې کي مو غرونه واچول او په هغې کي مو هر څه په موزون شکل کي راشنه کړل.

وَجَعَلۡنَا لَكُمۡ فِيهَا مَعَٰيِشَ وَمَن لَّسۡتُمۡ لَهُۥ بِرَٰزِقِينَ ٢٠ الحجر:20

او تاسي ته مو په هغې کي د معيشت اسباب راپيدا کړل او هغه څه مو درته راپيدا کړل چي تاسي ورته روزي ورکوونکي نه يئ.

يعني الله تعالى په زمکي کي ټول هغه څه راپيدا کړل چي تاسو ورته اړ او محتاج ياست او په هغه سره ژوند کولى شئ، هغه څه ئې هم درته پيدا کړي چي تاسو ورته رزق او روزي نه ورکوئ بلکي الله تعالى ورته روزي ورکوي، دا مختلف حيوانات چي الله تعالى پيدا کړي دي او د رزق او روزي انتظام ئې هم الله ورته کړى.

وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٖ مَّعۡلُومٖ ٢١ الحجر:21

او هيڅ داسي شى نشته چي خزانې ئې له موږ سره نه وي او نه ئې نازلوو مگر په معلومه اندازه.

يعني هر شى ئې په يوه معلومه او معينه اندازه کي راپيدا کړى، څومره چي دلته ورته ضرورت وي، نه تر ضرورت زيات او نه کم، په همغه اندازه ئې پيدا کړى چي ورته ضرورت دئ.

وَأَرۡسَلۡنَا ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَسۡقَيۡنَٰكُمُوهُ وَمَآ أَنتُمۡ لَهُۥ بِخَٰزِنِينَ ٢٢

الحجر:22

او بادونه مو راولېږل چي القاح کوونکي دي (د بادونو په ذريعه د نباتاتو القاح

کېږي او د همدوی په واسطه وربځي جوړېږي او یو له بل سره یو ځای کېږي)، بیا مو له آسمان اوبه را نازلي کړې او په تاسو مو وڅښلې، او تاسو ئې ذخیره کوونکي نه یاست، (د ذخیره کولو انتظام ئې هم الله کوي)

دلته څو شیانو ته اشاره شوې ده: دا چې زمکه مو خوره او پراخه کړه، بیا مو په هغې کي غرونه واچول چې د هغې حرکت موزون شي، زمکه خوځېدله، د ژوند امکان په کي نه وو، الله تعالی په هغې باندي غرونه راپیدا کړل تر څو غیر متوازن حرکت ئې متوازن کړي، کنترول ئې کړي، بیا ئې په هغې کي هر نوع موزون نبات را شین کړ، کوم شي ته چې تاسي اړ او محتاج یئ، کوم شي ته چې ټول ژوي ضرورت لري، هغه ئې ټول راشنه کړل او په زمکه کي ئې ستاسو د معاش او د ژوند لپاره ټول اسباب او ذرائع تأمین کړل او هغه حیوانات ئې هم تاسو ته راپیدا کړل چې تاسو ورته اړ او محتاج یاست، د روزي انتظام ئې هم الله کوي، تاسي هغو ته روزي ورکوونکي نه یئ، هیڅ شی داسي نشته چې د الله په نزد کي د هغه خزانې نه وي، د هر شي خزانې له الله تعالی سره دي، په داسي حال کي چې له الله سره ئې خزاني دي خو هر څه ئې په خپله معینه اندازه پیدا کړي، نه له خپلي اندازې زیات او نه کم، بلکي په همغه اندازه چې انسان ورته ضرورت لري، که په دې اندازه کي معمولي تغییر راشي؛ مثلاً د باد حرکت لږ تېز او اضافه شي، له موجوده معمول او طبیعي سرعت ئې سرعت لږ اضافه شي، نو د زمکي په سر به هر څه سره ټکوي، هر څه به نسکوروي او د ژوندانه امکانات به ختموي، که باران لږ اضافه شي، که واوره لږه زیاته شي، که ورځ لږ اوږده او طولاني شي، که شپه لږه لنډه شي، که نور او حرارت لږ زیات شي او دا هر څه چې ګورئ، له معین حد زیات یا کم شي، د انسان ژوند تهدیدوي، خو الله تعالی هر څه په معینه اندازه کي راپیدا کړي، د هر شي لپاره یو معین قدر او اندازه ټاکل شوې، په همغه اندازه چې انسان ورته اړ او محتاج دئ پیدا شوي، هیڅ شی له خپلي اندازې اضافه نه دئ، هیڅ شی له خپل ضروري اندازې لږ نه دئ. الله تعالی له خپلي اندازې سره سم پیدا کړی. چې هر څه له خپلي اندازې لږ اضافه شي ګورئ چې بیا څنګه تري تنګ شو، باران، دا د ژوند تومنه او وسیله چې لږ له خپلي اندازې اضافه شي بیا دعاګاني کوو چې الله ئې متوقف کړي، واوره، بادونه، چې کله له خپلي طبیعي اندازې لږ اضافه شي ګورئ چې بیا تري تنګ

يو، سوکالي مو تهديد او ژوند راته ګران کړي.

او بادونه رالېږي چې ورېځې القاح کوي او د هر شي د القاح باعث ګرځي، بيا له آسمانه اوبه وروي او بيائې په تاسو څښي، او د اوبو د ذخيره کولو انتظام کوي، د غرونو په سر په ژمي کي واوره وروي، تر څو کافي مقدار هلته تاسو ته ذخيره کړي، د دې ذخيره کولو انتظام هم هغه کوي، دا ټول د رحمن رب د وسيع رحمت او پېرزوينو آثار دي.

د پيغمبرانو بعثت د رحمن رب بله پېرزوينه

د پيغمبرانو لېږنه د الله تعالى د رحمت يوه بله نښه ده. دا ځکه چې انسان تر هر څه د مخه او تر هر څه زيات دې ته محتاج او اړ دئ او دا ئې لومړۍ اړتيا ده چې په دې وسيع او پېچلي عالم کي چې اجزاء ئې بې انتهاء دي او په هغه کي د هر مفيد او مضر شي تشخيص د انسان له عقل اوچت او له امکان لرې دئ، د دې لپاره چې د انسان لارښوونه وشي او هغه په ناپوهۍ کي پاته نشي، مفيد او مضر تفکيک کړی شي او خپل دوست او دښمن سره ښه کړی شي، الله تعالى د دې لپاره پيغمبران را لېږلي، انسان په خپله او يوازي د عقل په مرسته د ځان او د بل حقوق نشي تثبيتولی، دوست او دښمن نشي پېژندلی، مفيد او مضر، حلال او حرام نشي ښلولی، دا کار نه په تجربو سره کولی شي او نه خپل عقل ته په پناه وړلو سره، که پيغمبران نه وی او د پيغمبرانو په ذريعه د انسان لارښوونه نه وی شوې، انسان به تل په تياره کي وو، هغه خپل ځان او دا وسيع عالم نشو پېژندلی، هغه خپل الله نشو موندلی او هغه د خپلو نړۍ دوستانو حقوق نه شوای تثبيتولی. د انسان لومړۍ اړتيا او تر ټولو لوی احتياج همدا دئ چې د هغه لارښوونه وشي، د ژوند لاري چاري وروښودی شي، رحمن خدای جل شأنه د همدې انتظام هم کړی، د هغه د هدايت او لارښووني لپاره ئې په هره زمانه کي او د تاريخ په هر پېراو کي چې کله انسان ورته اړ شوی پيغمبران رالېږلي. د پيغمبرانو رالېږل د انسان لپاره او د ټول عالم لپاره د الله ستره پېرزوينه ده، لکه چې قرآن فرمايي:

وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ١٠٧ الانبياء: 107

او ته مو نه يې لېږلی مګر د ټول عالم لپاره رحمت.

د ظالمانو مؤاخذه د الله د پېرزويني بله نښه:

دا چې تاسو مجرم عناصر ګورئ چې کله د هغوی بغي او طغيان انتهاء ته ورسيږي، داسي حد ته چې حرث او نسل او هر څه تهديدوي، د فساد باعث شي، د نورو ژوند په خطر کي واچوي، ګورو چې الله تعالی دا مجرم او ظالم عناصر مؤاخذه کړي، د ژوند او اقتدار ټغر ئې ورټول کړي او په دې ترتيب نه پرېږدي چې دا زمکه په فساد، ورانۍ او تباهۍ محکومه او د انسان ژوند له ګوابنونو سره مخامخ شي، د مجرمو عناصرو مؤاخذه، د هغوی د اقتدار ټغر ټولول او د هغوی تخت او تاج نسکورول دا هم د رحمن الله د رحمت د آثارو او علائمو څخه دي، لکه چې قرآن فرمايی:

فَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل رَّبُّكُمْ ذُو رَحْمَةٍ وَٰسِعَةٍ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُهُۥ عَنِ ٱلْقَوْمِ ٱلْمُجْرِمِينَ ١٤٧ الانعام:147

(اې پيغمبره!) که ستا تکذيب ئې وکړ، ورته ووايه چې ستاسو رب د وسيع رحمت خاوند دئ او د هغه جنګ له مجرمانو نشي رد کېدی.

يعني هيڅوك ئې د ردولو او مخنيوي توان نه لري، الله تعالی به حتماً د مجرمو عناصرو په خلاف جنګ پيلوي، داسي جنګ چې هيڅوك ئې د مخنيوي توان او وس نه لري. دا چې د تاريخ په اوږدو کي تل ليدل شوي چې هغه مجرم عناصر له زوال او ورکاوي او سپکاوي سره مخامخ کېږي چې زمکه او د انسان ژوند له ګوابنونو سره مخامخ کوي، الله تعالی سزا ورکوي او خلك د دوی له خطره ژغوري، دا موقع نه ورکوي چې په خپلو جرائمو او جناياتو سره زمکه له فساد او تباهۍ سره مخامخ کړي، الله تعالی دوی ته تر يوې ټاکلې نېټې او تر معينه حده مهلت ورکوي، خو کله چې د دوی طغيان له حد واوړي او د زمکي پر سر ژوندون په خطر کي واچوي او حرث او نسل د دوی له جرمونو او جناياتو صدمه ګوري، الله تعالی ئې نيسي، د هغوی په خلاف داسي جنګ اعلانوي چې هيڅوك ئې د ردولو او مخنيوي توان نه لري، بيا الله تعالی هغوی له شوم برخليك سره مخامخ کوي، دا د مجرمانو، ستمګرانو، طغاتو او باغيانو مؤاخذه او تر پايه پوري هغو ته موقع نه ورکول، له هغو سره حساب او کتاب کول، ظالمانو ته د خپلو ظلمونو او جناياتو سزا ورکول، دا په خپله د دې خبري دليل دئ چې رحمن خدای جل شأنه ستاسو په نسبت د وسيع رحمت

خاوند دئ او دا د ده د وسيع رحمت نښه ده چې مجرمان مؤاخذه کوي، طغيان ته ئې نه پرېږدي او د نورو د ختمولو موقع نه ورکوي.

همدا راز که تاسو ګورئ چې مظلوم انسانان، هغه چې حقوق ئې ترپښو لاندې شوي، د خپل حق لپاره پاڅېدلي، الله تعالى د هغوى مرسته کړې، له ظالمانو ئې ژغورلي، د دوى د ژغورنې انتظام ئې کړى، هغوى ته ئې پر ظالمانو او ستمګرانو بريا او فتح ورکړې، دا هم د رحمن خداى د رحمت له نښو او علائمو څخه دي، لکه چې قرآن فرمايي:

وَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا شُعَيۡبٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَأَخَذَتِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلصَّيۡحَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دِيَٰرِهِمۡ جَٰثِمِينَ ٩٤ هود:94

او کله چې زمونږ امر راورسېد، په خپل رحمت سره مو شعيب او هغه مؤمنان وژغورل چې له ده سره ول، او ظالمان يوې اوچتي چيغې ونيول، نو په خپلو کورونو کې پرمخې مړه پرېوتل.

يعني هغه مهال چې د الله تعالى د پرېکړې نېټه راورسېده شعيب عليه السلام او هغه مؤمنان ئې په خپل رحمت سره وژغورل چې له ده سره ول او ظالمان يوې هيبتناکي لوړې چيغې ونيول، په مرګ محکوم شول او پرمخې پرېوتل.

دا آيت ښيي چې شعيب عليه السلام او د ده مؤمنو ملګرو ته نجات ورکول، ظالمان مؤاخذه کول او د عالم له صفحې د دوى ټغر ټولول د الله د رحمت له آثارو او علائمو څخه دي، همدا چې تاسو ګورئ مظلومان چې د خپل حق لپاره د ظالمانو په ضد پاڅېږي فتح او برى تر لاسه کوي، حالت داسې برابرېږي چې بالآخره د ظالمانو سلطه پاى ته ورسي او د اقتدار کرسۍ ئې رانسکوره شي، دا په خپله د دې خبرې ثبوت وړاندې کوي چې دلته يو حکيم ذات د دې عالم په پښو او حوادثو کې تصرف کوي، هغه ذات چې د انسان په نسبت رحمت او پېرزوينه لري، که دا حوادث طبيعي حوادث وى او يوه حکيم رحمان رب د عالم د حالت په بدلېدو رابدلېدو کې تصرف نه کولى او د حوادثو په تلو راتلو کې ئې لاس نه درلودى، نو مظلوم به د تل لپاره مظلوم پاته واى او هيڅ کله به د ظالمانو د ختمېدو او نسکورېدو بندو بست نه واى شوى، بس په طبيعي ډول به ظالم تل ظالم او په اوضاع مسلط او مظلوم به تل مظلوم وو. خو دا چې الله تعالى حالات داسې برابروي چې ضعيف او مظلوم انسان، د ظالمانو او

باغيانو په مقابل کي فتح او بری تر لاسه کړي او د ظالمانو له منګولو ئې وژغوري، دا په خپله ثابتوي چي دلته رحمن الله د رب په حيث تصرف کوي، هغه د مظلوم ملګرتيا کوي او ظالم په مرګ محکوموي، دا راز حوادث دا حقيقت ثابتوي چي دلته يو داسي ذات شته چي د خپلو بندګانو په اړه رحمان او مهربان دئ او د همدې رحمن رب په اراده دا غيرطبيعي حوادث تر سره کيږي.

الله د دې ملك مالك دئ

پر الله تعالی باندي د ايمان د دلائلو په ضمن کي يو مهم او اساسي دليل دا دئ چي موږ په دې عالم کي هر څه داسي ګورو چي مقهور او محکوم دي او د داسي معينو ضوابطو په وړاندي کاملاً منقاد دي چي تغيير نه مومي، په خپل پيدايښت کي، په خپل حرکت کي، په خپلي ودي او رشد کي، په خپل مرګ او ژوند کي او په هغو نتائجو کي چي د هغوی په حرکت باندي مرتب کيږي، په خپل زوړوالي او کهولت کي او دا چي بالآخره په مرګ محکوميږي، په دې ټولو کي هغوی د معينو او ثابتو سننو او ضوابطو په وړاندي مقهور او محکوم دي، د عالم په هر جزء او په هره برخه کي ګورو چي دغه سنن او ضوابط حاکم دي او هر حرکت او هر تحول د همدغو سننو مطابق تر سره کيږي، دا حقيقت په خپله هر عاقل انسان ته ښيي چي دا عالم يو ټولواك مالك لري، يو داسي واکمن حاکم چي په هر ځای کي د ده اراده مسلطه او حکم حاکم دئ او د ټولو حوادثو تر شا د هغه اراده حکومت کوي، ګورو چي د همغه ذات د ارادې سره سم په عملونو نتائج مرتب کيږي، په همدې دنيا کي د مکافات او د مجازات سلسله ګورو، هغه غيبي لاس چي دا هستي اداره کوي او د عالم چاري سمبالوي او هر څه د هغه په اراده خوځيږي، هر څه د هغه په وړاندي محکوم او مقهور دي او همغه په عملونو باندي نتائج مرتب کوي او د عمل بدله ورکوي، د مالك په توګه او د يوه حاکم په څېر په عالم کي تصرف کوي او په عملونو نتائج مرتب کوي. همدغو حقائقو ته قرآن عظيم الشأن په متعددو آيتونو کي اشاره کوي او همدا خبره تري ثابتوي چي دا عالم يو مالك او ټولواك لري چي هر څه د هغه د ارادې په وړاندي مقهور دي، لکه چي فرمايي:

قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ أَمَّن يَمۡلِكُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَمَن يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ

مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُ ۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ٣١ يونس:31

(ورته) وايه! له آسمان او زمكي څوك تاسو ته رزق او روزي دركوي؟ او د دغو غوږونو او سترګو مالك څوك دئ؟ او څوك دئ چې ژوندی له مړي او مړی له ژوندي راپيدا كوي؟ او د كارونو تدبير څوك كوي؟ حتماً به وايي: الله، نو ووايه: آيا (له كفر او شرك) ځان ساتنه نه كوئ؟

دا د رزق او روزي انتظام څوك كوي؟ د چا په اراده دا آسمان او زمكه په ګډه كار كوي چې انسان ته د رزق او روزي انتظام وكړي؟ له آسمانه اوبه راورږي او له زمكي دانه او مېوه راټوكږي او په دې سره د انسان اړتياوو ته ځواب ويل كږي، دا كار د چا په اراده ترسره كږي؟ دا د كوم مدبر ذات دقيق تدبير دئ؟ دا غوږونه او سترګي چې ته پرې ليدل او اورېدل كوې؛ د دې اصلي مالك څوك دئ؟ د چا له لوري دركړی شوي؟ د چا په اراده ستا د ژوند يوه اساسي او مهمه برخه بشپړوي؟ كه دا غړي دي په واك كي نه وی له څومره ستونزو سره به مخامخ وې؟ آيا دې پوښتنو ته له دې پرته بل ځواب ويلی شې چې دا د مهربان پالونكي رب له لوري دركړی شوي؟ آيا له دې اعتراف پرته بله چاره لري؟ له دې څرګند حقيقت د انكار لپاره څه دليل لري؟ ووايه: ستا او ټولو ژوو لپاره د رزق او روزي انتظام څوك كوي؟ له آسمان او زمكي تاسو ته څوك رزق او روزي دركوي؟ دا د رزق او روزي وسائل چا پيدا كړي؟ باران څوك وروي؟ شپه او ورځ څوك راولي؟ لمر زمور زمكي ته د چا په اراده نور او تودوخه وركوي؟ د زمكي پر مخ د نور وړانګي د چا په اراده خورږي؟ دا له زمكي دانه او مېوه څوك راشنه كوي؟ دا زمور سترګي او غوږونه د چا په اراده كار كوي؟ د دې مالك څوك دئ؟ دا ژوندي له مړو او مړي له ژوندیو څوك راپيدا كوي؟ دا د عالم چاري څوك سمبالوي، د امورو تدبير ئې د چا په واك كي دئ او كارونه ئې د چا په اراده تر سره كږي؟ له دې پرته بله چاره نه لري، دوی په دې خبري اعتراف ته اړ او مجبور دي او بله چاره نه لري چې ووايي: دا هر څه الله تعالى كوي.

همدا راز فرمايی:

لَا ٱلشَّمْسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدْرِكَ ٱلْقَمَرَ وَلَا ٱلَّيْلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِ ۚ وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ

نه لمر ته ښايي چې سپوږمۍ بيامومي او نه شپه په ورځ باندې سبقت کوي بلکې هر يو په يوه معين مدار کې خوځيږي.

ګورئ چې لمر د سپوږمۍ د جذبولو، له خپل ځانګړي مداره د هغې د ايستلو فرصت نه ترلاسه کوي، يو د بل په مدار کې نه ننوځي، هر يو په خپل مسير کې خوځيږي، د دوی ترمنځ ټکر او تصادم نه راځي، په دې وسيع کائنات کې دا بې شمېره اجرام، هر يو په يوه معين مدار کې خوځيږي، يو بل نه مومي، چې له هغه سره ټکر وکړي او هغه جذب کړي، هر يو خپل حد پېژني، له هغه ټېرې او تجاوز نشي کولی، نه لمر له خپل مدار نه خوځېدلی شي او د سپوږمۍ په مدار کې داخلېدلی شي او نه هغه جذبولی شي، نه د دغو دواړو ترمنځ تصادم او ټکر راځي او نه هم شپه په ورځ باندې سبقت کولی شي، برعکس هره يوه په خپل وخت او نېټه راځي، دا د سپوږمۍ او لمر ليارې معين حدود چا وضع کړي چې له هغه د يوې ذرې په اندازه د تجاوز او ټېرې توان نه لري، دا څنګه او د چا د ارادې په وړاندې محکوم او مقهور دي؟

ګورئ چې لمر، زرګونه کاله په پرله پسې او منظمه توګه، هره ورځ له ټاکلي ځايه طلوع کوي او په ټاکلي ځای کې غروب کوي!! دغه معين مسير طوعاً او کرهاً پلی کوي او له هغه يوه خوا بله خوا د انحراف قدرت نه لري، دا څوك اداره کوي؟ دا په وسيع آسمان کې د ستورو ترمنځ ټکر او تصادم ولې نه راځي؟ ولې يو د بل مسير ته نه داخلېږي؟ دا هر يو په خپل مسير کې څوك اداره کوي؟ د دې تر شا د چا اراده ده؟ د چا د ارادې په وړاندې هغوی محکوم او مقهور دي؟ چې په داسې منظم ډول او په ټول انقياد سره په خپل معين مدار کې خوځيږي او له هغه يو انچ يوه طرف او بل طرف ته انحراف نشي کولی؟!

همدا راز شپه او ورځ خپل هغه حد پېژني چې ورته ټاکل شوی، له هغه ټېرې نشي کولی، نه اوږدېږي او نه هم لنډېږي، يوه له بلې سبقت نه کوي چې د شپې په ځای ورځ راشي يا د ورځې په ځای شپه راشي او يوه له بلې سبقت وکړي، بلکې هره يوه خپل حد پېژني او په خپل وخت کې راځي.

په دغې مقدمې سره دوو حقائقو ته اشاره شوې: لومړی دا چې د عالم ټول اشياء او اجزاء محکوم او مقهور دي او دا چې تحولات د معينو ضوابطو او

سننو سره سم تر سره کېږي، له خپلو حدودو نه تېرى نشي کولى، په خپل وخت کي راځي، په خپل ځاى کي راځي. او دوهم دا چې شپه او ورځ د طبيعت دوه حالته دي او لمر، سپوږمى د طبيعت دوه اجزاء، ګورئ چې دا دواړه مقهور او محکوم دي، خپل مدار طى کوي، يو د بل مدار ته نه داخليږي، يو له بل سره ټکر او تصادم نه کوي، مالك الملك الله هر يو په خپل مسير او مدارکي ساتي، د هغه ساتنه کوي او د دغو په حرکت باندي چې کوم نتائج مرتب کېږي، کوم تحولات چې په عالم کي راځي دا هم د معينو سننو او ضوابطو سره سم، يو په بل باندي سبقت نشي کولى، آيا دا دليل د دې خبري د ثبوت لپاره کفايت نه کوي چې دا هر څه يو مالك ټولواك اداره کوي، او هر څه د هغه مالك الله د ارادې په وړاندي محکوم او مقهور دي؟

ستا د مرګ پربکړه څوك کوي؟

فَلَوْلَآ إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ ٨٦ الواقعه:86

که تاسي د الله د ارادې په وړاندي محکوم نه ياست (هغه دين چې الله وضع کړى، هغه سنن او ضوابط چې الله جل جلاله په دې عالم کي وضع کړي که تاسي د هغه په وړاندي محکوم نه ياست) نو چې کله ستاسي روح ستوني ته ورسېږي ببرته ئې وګرځوئ که رښتيني ياست؟

ستاسي مرګ په دې دلالت کوي چې تاسي د يوه چا د ارادې په وړاندي محکوم ياست، نه غواړئ چې په مرګ محکوم شئ، انسان نه غواړي چې په زړښت دي محکوم شي، د هغه قوتونه او استعدادونه دي ختم شي او چې کله د خپل قوت هغه معراج ته ورسېږي، ببرته دي په زوال محکوم شي، دا نه غواړي، نه غواړي چې له مرګ سره دي مخامخ شي، خو څه چاره لري؟، دا چې کله ستا روح ستوني ته ورسېږي ببرته ئې له ګرځولو عاجز يې، دا ثابتوي چې ته د يوه چا د ارادې په وړاندي محکوم يې. که چېرې تاسو د الله د ارادې او د هغه دين چې ده وضع کړى، هغه ضوابط او قوانين او مقررات چې په دې عالم کي هغه وضع کړي، د دې په وړاندي محکوم، مقهور او منقاد نه ياست نو چې کله ستاسو روح ستوني ته ورسېږي هغه ببرته وګرځوئ که رښتيني يئ.

دا هر څه د چا ارادې ته تسليم دي؟

قرآن د عالم د ټولو اشياوو په اړه فرمايي چې هر څه د الله په وړاندي منقاد دي.

أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ٨٣ آل عمران:83

آيا (کافران) د الله له دين پرته بل دين لټوي؟ حال دا چې ده ته د آسمانونو او زمکي هر څه طوعاً او کرهاً منقاد دي او په پای کي د هغه طرف ته بېرته ګرځول کېږي.

تاسو د عالم هر څه ګورئ چې د دې عالم د مالك او ټولواك د احکامو او ضابطو په وړاندي منقاد دي، يو شی به هم په دنيا کي داسي ونه ګورئ چې هغه دې کاملاً آزاد وي او خپلي مخي او خپل سرته دي پرېښودل شوی وي. د اوبو قطره چې له ورېځي پر زمکه راپرېوځي، د يوې معيني قاعدې او ضابطې سره سم راپرېوځي، نن علم حتی د همدې قطرې د پرېوتو فورمولونه کشف کړي، نن علم دا معلومه کړې چې د کوم فورمول مطابق او په کوم معين سرعت سره هغه په زمکه راپرېوځي؟ کومه تيږه چې پورته ئې اچوئ او بېرته پر زمکه راپرېوځي د يوې معيني ضابطې او قاعدې محکومه ده، تاسي په دنيا کي هيڅ داسي څه نشئ موندلی چې هغه دي خپلي مخي ته آزاد وي او د هغو معينو سننو په وړاندي دي محکوم او مقهور نه وي چې الله تعالی ورته ټاکلي. نن انسان د علم په رڼا کي په دې پوهېږي چې د عالم هر حرکت د قوانينو مطابق ترسره کېږي، ساينس د دې لپاره فورمولونه وضع کړي، دا فورمولونه همغه سنن دي چې الله وضع کړي، نن د حرکت، سرعت، شتاب، ويشتلو، ارتقاء او سقوط لپاره په فزيك کي داسي معين فورمولونه وضع شوي چې ثابت دي او تغيير نه مومي. آيا دا کافران د الله له دين پرته بل دين لټوي؟ حال دا چې د آسمانونو او زمکي هر څه، طوعاً او کرهاً، خوښ او ناخوښ، که زړه ئې غواړي او که نه غواړي د هغه په وړاندي منقاد او تسليم دي.

همدا راز قرآن فرمايي:

لِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا فِيهِنَّ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ١٢٠ المائده:120

د آسمانونو او زمکي او څه چې په هغوی کي دي د ټولو پاچايي الله لره ده ا و

هغه په هر څه قدير او توانا دئ.

دا زمکه او آسمانونه د الله تعالى ملك او هغه ئې مالك دئ، دلته دى د مالك په حيث په هر څه كي تصرف كوي، د دې عالم په هره گوښه كي د ده اراده نافذه او حاكمه ده، هغه مالك الملك دئ. د الفرقان د سورې په 2 آيت كي فرمايي:

ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖ فَقَدَّرَهُۥ تَقۡدِيرٗا ٢ الفرقان: 2

هغه ذات چې د آسمانونو او زمكي پاچايي د ده ده (دلته د هغه اراده حاكمه او نافذه ده او هغه د دې عالم مالك دئ) نه ئې زوى ځان ته نيولى او نه پدې پاچايي كي څوك له هغه سره شريك دئ، هر څه ئې پيدا كړي او د هغه لپاره ئې معينه اندازه ټاكلې(په يوه معينه اندازه ئې هر څه پيدا كړي).

يعني الله تعالى د آسمانونو او زمكي ټولواك او حاكم دئ، د هغه حكم په هر ځاى كي نافذ دئ، هغه مالك دئ او دا زمكه او آسمانونه د هغه ملك دئ چې د حاكم او مالك په توگه په كي تصرف كوي، هر څه د هغه په وړاندي محكوم دي او هغه نه زوى لري، زوى ئې هم نه دئ نيولى چې د هغه ځاى ناستى شي او نه هم د دې عالم په اداره، كنټرول او ساتنه كي څوك له هغه سره شريك دئ، هر څه هغه پيدا كړي او د هر څه لپاره ئې معين حد او اندازه ټاكلې.

يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۚ وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمۡلِكُونَ مِن قِطۡمِيرٍ ١٣ فاطر:13

شپه په ورځ كي ننباسي او ورځ په شپه كي ننباسي (خو له معيني قاعدې سره سم) او لمر او سپوږمۍ ئې مسخر كړي، (هر يوه ته ئې معين مدار ټاكلى چې دغه معين مدار په معين وخت كي پلى كوي) هر يو د ټاكلي اجل او نېټې لپاره خوځېزي، همدغه الله ستاسو رب دئ چې پاچايي او ټولواكي د ده ده او څوك چې له هغه پرته بل څوك مرستي ته بلي او د هغه عبادت كوي حتى د خرما د زړي د پوستكي خاوند هم نه دئ.

گورئ چې هره ورځ څو شېبې په هغه كي تفاوت راځي، شپه په ورځ كي داخله شي او ورځ په شپه كي، ورځ د شپې ځاى ونيسي اوشپه د ورځي، په خپل ماحول كي گورو چې كله شپه وي او كله ورځ، اوس دلته ورځ ده خو دا

ده ورو ورو شپه را روانه ده او د ورځي ځای شپې ته خالي کېږي. یا شپه کله اوږده شي او ورځ را لنډه شي، کله ګورو چې ورځ اوږده شي، شپه لنډه شي. دا د شپې او ورځي یو په بل کي داخلېدل، د الله تعالی کار دئ، دا الله تعالی دئ چې شپه په ورځ کي داخلوي. دا څوك دئ چې دا کارونه کوي؟ شپه په ورځ کي داخلوي؟ ورځ په شپه کي داخلوي، لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړي او هر یو په خپل مدار کي له معیني نېټې سره سم خوځېږي او د هغه اراده په هر څه کي او هر ځای حاکمه او نافذه ده؟ یعني هغه ذات چې دا کارونه د هغه په اراده تر سره کېږي او مور ګورو چې دا د هغه د سلطنت، سیطرې او تسلط مظاهر دي، همغه ستاسو رب دئ. او له هغه پرته چې څوك مرستي ته دربلئ او د هغه عبادت کوئ حتی د خرما د زړي د پوستکي خاوند هم نه دئ. دومره لږ څه هم د دوی په واك کي نه دي، هیڅ شی هغوی ته نه دئ سپارل شوی، د هیڅ شي واك او اختیار نه لري، کوم څه چې له الله تعالی پرته تاسو مرستي ته دربلئ او د هغه عبادت او لمانځنه کوئ، په دې عالم کي هیڅ واك او اختیار هغوی ته نه دئ ورکړی شوی، وښیئ د کوم څه مالك دي، چېرې د هغوی اراده حاکمه ده او څه کولی شي؟

فَسُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٨٣ یس:83

نو سپېڅلتیا هغه ذات ته ده چې د هر څه ټولواکي د هغه په لاس کي ده او د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ.

هغه ذات چې د هر څه واګي د ده په واك کي دي، واکمني، سلطنت او سیطره هغه لره ده، د ټولو شیانو ساتنه او پالنه کوي، د ټولو امورو تدبیر ئې په لاس کي دئ، هغه لره پاکي ده، هغه له هره عیب منزه او له هرنقص او ضعف لوړ دئ. یعني هر څه د هغه په اختیار کي او د هغه د ارادې په وړاندي مقهور دي، په پای کي د خپل رب په لوري درومي، تاسو هم د نورو شیانو په ځېر د خپل ژوند په پای کي د خپل رب خوا ته درومئ.

همدا راز فرمایي:

لَّهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ٥ الحدید:5

دآسمانونو او زمکي پاچایي د ده ده، او ټول کارونه الله ته محول کېږي.

د الله تعالی لوري ته د کارونو د ارجاع معنی دا ده چې د هر کار پرېکړه د ده

له لوري کېږي، د هر کار نتائج او پايلي د ده له لوري ټاکل کېږي، لکه څنګه چې الله تعالى ټولواك دئ او حکم ئې په هر ځاى کې نافذ او حاکم، همداسې د ټولو امورو پايلي د ده له لوري ټاکل کېږي، لله الملك، لله الحكم و لله عاقبة الامور.

الله تعالى همغه ذات دئ چې چا ته وغواړي اقتدار ورکوي، له چا چې وغواړي اقتدار ېبرته اخلي، چا ته عزت ورکوي او څوك له ذلت او سپکاوي سره مخامخ کوي، لکه چې قرآن فرمايي:

قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ تُؤۡتِي ٱلۡمُلۡكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلۡمُلۡكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُۖ بِيَدِكَ ٱلۡخَيۡرُۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٦ آل عمران:26

ووايه! اې بارئ ربه! د ملك مالكه! ته يې چې چا ته وغواړې پاچايي او واکمني ورکوې او له چا چې وغواړې اقتدار ېبرته اخلې، چا ته چې وغواړې عزت ورکوې او څوك چې وغواړې سپکوې ئې، ښېګڼه ټوله ستا په لاس کې ده، بې شکه چې ته په هر څه قادر يې.

يعني دا هستي ستا ملك او ته ئې مالك او ټولواك يې، دلته ستا اراده حاکمه او نافذه ده، دلته هر څه ستا د مشيت مطابق ترسره کېږي. دې ته مو بايد پام وي چې د ا لله مشيت په حق او عدل ولاړ او د تغيير نه منونکو ضوابطو او سننو مطابق دئ، الله تعالى همغه ضوابط مورِ ته توضيح کړي چې له مخي ئې چا ته د اقتدار سپارلو پرېکړه کوي، همغه ثابت سنن او ضوابط ئې هم توضيح کړي چې له مخي ئې له چا واکمني او اقتدار اخلي، دا تصادفي پېښي نه دي چې په خپل سر، له کومي قاعدې پرته، تصادفي او آناً فآناً ترسره شي، بلکي دا د معينو، ثابتو الهي ضوابطو او سننو مطابق ترسره کېږي، الله تعالى دا مورِ ته توضيح کوي: همغه چا ته اقتدار ورکوي چې ايمان لري ا و عمل ئې صالح وي او په اجتماع کې تر ټولو اصلح وي، لکه چې فرمايي:

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٥٥ النور:55

له تاسو چې چا ايمان راوړى او عملونه ئې صالح دي، له هغوى سره الله

وعده کړې چې د زمکې خلافت به داسې دوی ته سپارې لکه چې تر دوی مخکنیو ته ئې خلافت سپارلی وو، هغه دین ته به تمکین او اقتدار ورکوي چې د دوی لپاره ئې غوره کړی، د دوی خوف به په امن بدلوي، (داسې حالت به راولم چې) زما عبادت به کوي او هیڅ څه به له ما سره نه شریکوي.

دا وعده له چا سره شوې؟ له هغه چا سره چې ایمان لري او عمل ئې صالح وي، هغه څوك چې اصلح او تر ټولو غوره وي. خو د دې په مقابل کې هغه کسان هم موږ ته معرفي کوي چې الله تعالی ئې په ذلت محکوموي، په دې اړه الهي سنن او ضوابط هم موږ ته بنیيي، چا ته چې اقتدار وسپارل شو او هغه فساد وکړ او صلۀ رحم ئې قطع کړ، الله به ئې ړندوي، اقتدار به بېرته ترې اخلي او په ذلت به ئې محکوموي.

قرآن کریم د بني اسرائیلو په قصې کې دا موضوع توضیح کوي او موږ ته رابنیيي چې پدې قوم کې کوم صفات راپیدا شول چې الله تعالی د هغه له کبله د زمکې خلافت ورکړ؟ او بیا کوم صفات په کې راپیدا شول چې دا ئې بېرته ترې واخیست، په ذلت ئې محکوم کړل او له فقر او مسکنت سره ئې مخامخ کړل؟ قرآن عظیم الشأن هغه الهي مشیت او هغه ضوابط او سنن موږ ته بنیيي چې د هغه له مخې الله تعالی چا ته ملك او اقتدار ورکوي او یا ئې بېرته ترې اخلي او د اقتدار تخت ئې نسکوروي. ځینې کسان داسې ګمان کوي چې ګواکې دا هسې د چانس او تصادف له مخې ترسره کېږي، حتی دا هڅه کوي چې ثابته کړي پدې اړه څه خاص ضوابط او سنن نه مراعات کېږي، بس د الله تعالی چې چا ته خوښه شوه پاچایي او اقتدار ورکوي او له چا ئې چې وغوښتل بېرته ئې ترې اخلي. خبره نه یوازې داسې نه ده؛ بلکې پدې اړه ثابت الهي سنن وضع شوي، قرآن عظیم الشأن موږ ته هغه الهي مشیت او هغه خاص سنن او ضوابط توضیح کړي او دائې را بنودلې چې دا کار د خاصو سننو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي، ځنګه او چا ته ا لله اقتدار ورکوي او له چا ئې بېرته اخلي، لکه چې فرمایي:

﴿قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ تُؤۡتِي ٱلۡمُلۡكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلۡمُلۡكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُۖ بِيَدِكَ ٱلۡخَيۡرُۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٦ آل عمران:26

ووایه اې بارئ ربه! د ملك مالکه! ته چې چا ته وغواړې پاچایي ورکوې (ملك

او اقتدار ورسپاړي) او له چا چې وغواړي اقتدار ېرته اخلي، چې چا ته وغواړي عزت ورکوي او چې څوك وغواړي سپکوي ئې (له ذلت سره ئې مخامخ کوي)، ښېګڼه ټوله ستا په لاس کي ده (خير ټول ستا په اختيار کي دئ، ته چې هره فيصله وکړي په هغه کي خير دئ، که چا ته اقتدار سپاړي په هغه کي خير دئ، که له چا ئې ېرته اخلي په هغه کي خير دئ، که عزت ورکوي خير په همدې کي دئ، که څوك په ذلت محکوموي خير په همدې کي دئ، ښېګڼه او خير ټول ستا په اختيار کي دي، ستا په هره فيصله کي خير دئ) او ته په هر څه قادر او توانا يې.

چا ته عزت ورکول او يا ئې له سپکاوي سره مخامخ کول، د معينو سننو او ضوابطو مطابق تر سره کېږي، چې کله معين مواصفات په يوه فرد يا ټولني او اجتماع کي راپيدا شول؛ الله تعالى عزت ورکوي او چې بيا څه مشخص مواصفات په هغه کي راپيدا شول ېرته ئې په ذلت محکوموي، سپکوي ئې او عزت ېرته تري اخلي. يعني په دې باب الهي مشيت د خاصو سننو او ضوابطو مطابق دئ چې تغيير نه مومي، تل ثابت او تغيير نه منونکی دئ.

تُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَتُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِۖ وَتُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَتُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّۖ وَتَرۡزُقُ مَن تَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٢٧ آل عمران: 27

ته يې چې شپه په ورځ کي داخلوې او ورځ په شپه کي داخلوې، ژوندی له مړي راپيدا کوې او مړی له ژوندي راپيدا کوې، او چې چا ته وغواړې بې حسابه رزق ورکوې.

دا هم د الله د ملك او واکمنۍ مظاهر دي، دا د شپې او ورځي تګ راتګ، د مرګ او ژوند فيصله، د رزق او روزي اعطاء، د عزت او ذلت فيصله، چا ته اقتدار ورکول او له چا ئې ېرته اخيستل، دا ټول د همغه الله په اراده کېږي چې دا ملك اداره کوي او د ټولو امورو تدبير د هغه په واك کي دئ.

فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡحَقُّۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡكَرِيمِ ١١٦ المؤمنون: 116

نو هغه حقيقي ټولواك لوړ دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، او هغه د پرتمين عرش رب دئ.

يعني الله تعالى حقيقي مالك دئ، له ده پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه ټولواك دئ، د عالم هر څه د ده د واکمنۍ تر عرش لاندي دي، هر څه د ده تر

سيطرې او سلطې لاندې دي، له کوم عرش چې د دې ملك او عالم اداره ترسره کېږي، هغه د ده عرش دئ، او دا هستي ټوله د هغه د سيطرې او سلطې تر تخت او عرش لاندې ده، يعني دلته هغه هم مالك دئ او هم حاكم. په ټوله هستي کي د ده اراده نافذه ده، هغه د عرش مالك دئ، څوك چې د الله په ملك کي ژوند کوي، نو هغه به د همغو ضوابطو او سننو سره سم چې الله وضع کړي د خپلو عملونو اجر، بدله او نتائج ويني، څوك به تعذيبوي او چا ته به مغفرت او بخښنه کوي، خو د خاصو سننو مطابق، چا ته چې بخښنه کوي د هغه په باب الله تعالى خپل مشيت توضيح کړى، دا بخښنه د خاصو سننو مطابق ده، همدا وجه ده چې ځيني کسان د الله له مغفرت محروم دي، که څوك تعذيبوي د هغه په اړه هم الله تعالى خاص سنن وضع کړي.

عملونو ته بدله څوك وركوي؟

أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٤٠ المائده:40

آيا نه پوهيږې چې د آسمانونو او زمكي پاچايي د الله ده، څوك چې وغواړي تعذيبوي ئې او چا ته چې وغواړي مغفرت او بخښنه ورته كوي او الله په هر څه قدير او توانا دئ.

دلته په دې عالم كي د بدلې، مكافات او مجازات سلسله جاري ده، چې كله انسان په گناه لاس پوري كوي له همغه لحظې د هغه تعذيب پيل كيږي، عذاب د گناه سره متصل دئ، خو د مجرم او گنهگار د مجازات مكمله فيصله به د قيامت په ورځ كيږي، په دنيا كي د خپل عمل نسبي بدله تر لاسه كوي. د جرم او مجازات د توأميت يوه بنه بېلگه دا ده چې گورو هر تاواني توكى انسان ته حرام شوى، الله جل جلاله هغه شيان انسان ته حرام كړي او له هغوى ئې د ډډي كولو امر كړى چې انسان ته زيان رسوي، خو كه څوك حرام شيان خوري، الله ورته سزا وركوي، له كومې لحظې چې انسان حرامو توكو ته لاس اوږدوي له همغې شېبې د ده د تعذيب لړى هم پيل كيږي. د دې خبرې بنه مثال دا دئ چې كه څوك په مخدره موادو لاس پوري كوي، د مثال په توگه چرس څكوي، يا كوم بل داسي حرام توكي ته لاس اوږدوي چې اسلام حرام كړى، له همغې لحظې چې څوك دا گناه كوي، مجازات ئې پيل كيږي، د مخدره موادو

منفي اثرات ئې ورو ورو متأثره کوي، تر هغه چې لږونتوب ته ورسيږي، همدا راز که څوك شراب څښي، د دې حرام څيز له منفي اثراتو خوندي نه پاته کيږي، انسان چې هره ګناه کوي عذاب ئې له ګناه سره متصل پيل کيږي، خو کامله سزا به د قيامت په ورځ ګوري، هغه مهال چې د انسان ټول اعمال او د هغه اثرات له نن تر پايه پوري را جمع شي او د عملونو اثرات ئې تکميل شي، ځکه هر عمل خاص اثرات لري، د عمل د اثراتو دائره ورو ورو پراخيږي، بيا به د قيامت په ورځ دغو اثراتو ته په پام سره د مکمل اجر او د مکافات او مجازات فيصله کيږي.

مور په دې عالم کي دا د مکافات او مجازات سلسله ګورو، هغه ذات چې په عملونو نتائج مرتب کوي او عملونو ته مجازات او مکافات ورکوي، همغه الله دئ چې په دې عالم کي د هغه اراده نافذه ده او دا ټوله هستي د هغه ملك دئ. آيا نه ګورئ چې الله تعالى ظالمان مؤ اخذه کوي، وئې نيسي او د عذاب متروکه ناڅاپي د هغوى په سر راپرېوځي؟ دا په داسي حال کي چې ټول شرائط د دوى په ګټه وي، د اجتماع حالت او په هغه کي هر څه د دوى په ګټه او د دوى په خدمت کي وي، پر اوضاع حاکم وي، هر څه د دوى په اختيار کي وي، د بقاء لپاره ئې ټول شرائط برابر وي، ټول امکانات او وسائل د دوى په لاس کي وي، د دوى د بقاء او دوام لپاره ټول شرائط مساعد وي، خو ګورو چې ناڅاپي د الله تعالى د عذاب او مؤاخذې متروکه د دوى پر سر راپرېوځي او د اقتدار تخت او تاج ئې نسکور شي، لکه چې قرآن فرمايي:

أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ٦ إِرَمَ ذَاتِ ٱلۡعِمَادِ ٧ ٱلَّتِي لَمۡ يُخۡلَقۡ مِثۡلُهَا فِي ٱلۡبِلَٰدِ ٨ وَثَمُودَ ٱلَّذِينَ جَابُواْ ٱلصَّخۡرَ بِٱلۡوَادِ ٩ وَفِرۡعَوۡنَ ذِي ٱلۡأَوۡتَادِ ١٠ ٱلَّذِينَ طَغَوۡاْ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ١١ فَأَكۡثَرُواْ فِيهَا ٱلۡفَسَادَ ١٢ فَصَبَّ عَلَيۡهِمۡ رَبُّكَ سَوۡطَ عَذَابٍ ١٣ إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلۡمِرۡصَادِ ١٤ الفجر:6 -14

آيا ودي نه ليدل چې ستا رب له عاديانو سره څه معامله وکړه؟ هغه د ارم عاد، (په ارم کي اوسېدونکي عاديان)، د دنګو دنګو قدونو خاوندان، هغه چې په ښارونو کي د دوى په څېر بل څوك نه وو پيدا شوى، او له هغو ثموديانو سره چې په (ګڼ شمېر) درو او ناوونو کي ئې تيږي وتراشلې (د څلو او قصرونو جوړولو لپاره)، او د مېخونو خاوند فرعون سره، (چې ډېر فوځونه ئې درلودل، خپل مخالفين ئې په مېخونو تعذيبول او د هغوى په لاس پښو ئې

مېخونه ټك وهل) هغه چې په ښارونو کې ئې طغيان وکړ او په هغوی کې د ډېر فساد مرتکب شول، نو ستا رب ناڅاپه په دوی باندې د عذاب متروکه راپرېښوده، يقيناً چې ستا رب هرومرو په کمين کې دئ.

يعنې دا پېښې او د دغو قومونو تعذيب ښيي چې الله تعالى په کمين کې دئ، هر چا ته تر يوه وخته پورې مهلت ورکوي، د دې مهلت په پاى کې يو مرصاد دئ، په مرصاد کې ورته کمين نيول شوى، په خپل وخت او ځاى کې ئې ناڅاپي او کلك نيسي.

دلته د هغو قومونو د تعذيب يادونه شوې چې ځواکمن او مسلط ول، شرائط د دوى په ګټه ول، اقتدار د دوى په لاس کې وو، وسائل او امکانات ټول د دوى په اختيار کې وو، هغه چې د افرادي قوت له ناحيې تر ټولو قومونو مخکې وو، د دوى په څېر بل قوم چېرې نه تر سترګو کېدو، الله تعالى دنګې دنګې جثې او قد او قامت ورکړى وو، له دې پلوه ئې د نړۍ پر ټولو قومونو فضيلت په برخه شوى وو، خو چې کله ئې طغيان او سرکشي و کړه؛ وګورئ چې الله تعالى له هغوى سره څه وکړل؟!

د ثمود له قوم سره چې د مدنيت آثار ئې تر اوسه پورې پاتې دي، ځان ته د قصرونو جوړولو لپاره ئې تيږې په غرونو او سردرو کې تراشلې، په تمدن کې تر ټولو ولسونو مخکې ول، خو وګورئ له هغوى سره څه معامله وشوه؟!

فرعون وګورئ چې د مضبوط سياسي اقتدار خاوند وو، د الوهيت دعوى کوي، ځان اعلى رب ګڼي، خپل مخالفين په مېخونو تعذيبوي، لښکري ئې په خدمت کې، خو چې کله ئې طغيان او سرکشي انتهاء ته ورسېده، وګورئ چې الله تعالى له ده او د ده له لښکرو سره څه معامله وکړه، دغو ظالمانو ته ئې تر يوه وخته پورې مهلت ورکړ، خو بيا ئې ناڅاپي مؤاخذه کړل، بيا د عذاب متروکه د دوى پر سر راپرېوته، دا ښيي چې يقيناً ستا رب په کمين کې دئ. همدا چې ظالمان مؤاخذه کېږي، هغوى ته صرف تر يوې خاصې نېټې مهلت ورکول کېږي، خو په داسي حال کې چې د دوى د بقاء لپاره ټول لازمي شرائط برابر وي، هر څه د دوى په اختيار کې وي، ناڅاپي مؤاخذه کېږي، آيا دا په خپله نه ثابتوي چې دلته د مکافات او مجازات سلسله جاري ده؟ نه ګورئ چې څوك طغيان وکړي مؤاخذه کېږي، له هغوى سره محاسبه کېږي، ترپايه خپلې

مخي ته نه پرېښودل کېږي، د جرم او ظلم سزا ورکول کېږي؟

همدا راز فرمايي چې تاسو په زمکه کي وګرځئ او وګورئ چې د مجرمينو عاقبت څنګه وو؟

قُلْ سِيرُواْ فِي ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ ٦٩ النمل:69

ورته ووايه: په زمکه کي وګرځئ (تاريخ ته رجوع وکړئ، د تاريخ پاڼي واړوئ) بيا وګورئ چې د مجرمينو عاقبت څنګه وو.

دا چې هر مجرم قوم ته ځې په پای کي سزا ورکړې، هغه ځې نيولی، هغه ځې له خپل شوم پای او بدمرغه برخليك سره مخامخ کړی، آيا دا نه ثابتوي چې دا عالم يو داسي ټولواك حاکم لري چې دلته ځې اراده نافذه ده او هغه عملونو ته بدله ورکوي؟ دا د بدلې او اجر ورکړه په دې دلالت کوي چې دا (ملك) ځانته (مالك) لري.

همدا راز دا چې ګورو ځيني د ايمان په خط کي نېك اجر تر لاسه کوي، په مستمر او انقطاع نه منونکې توګه د خپلو عملونو نېك اجر تر لاسه کوي، د زمکي وارث شي، الله تعالی د زمکي خلافت ورته ورکړي، الله تعالی ځې له ناتوانی، ضعف، اضطراب، پرېشانی، ذلت او بې وزلی وژغوري، قوت او عزت ته ځې ورسوي، د هغوی د وېرې او خوف هغه حالت ختم کړي چې په ټولنه ځې حاکم وو او امن، امان او اطمئنان ور په برخه کړي. او د دې په مقابل کي بله ډله د فساد، ظلم او د جرم له کبله په اسفل السافلين کي پرې باسي، او تر ټولو بد حالت سره ځې مخامخ کړي، دا موږ په خپلو سترګو ګورو، آيا دا چې ځيني کسان د ايمان له خط د انحراف په نتيجه کي له دې زيان او خسران سره مخامخ شوي، آيا دا په خپله د دې لپاره دليل نه دئ چې دلته يو احکم الحاکمين، مالك الملك الله دا هستي اداره کوي، او دلته د هغه اراده حاکمه ده او هغه عملونو ته اجر ورکوي؟ د قرآن دې آيتونو ته ځير شئ:

أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ أَهْلَكْنَٰهُمْ إِنَّهُمْ كَانُواْ مُجْرِمِينَ ٣٧ الدخان:37

آيا دوی غوره دي که د تبع قوم او هغه چې تر دوی د مخه ول، موږ هلاك کړل، يقينا دوی مجرمان ول.

د تبع قوم هغه چې له قريشو مخکي تېر شوي، په عربو ځې حکومت کړی، فساد او طغيان ځې وکړ، الله مؤاخذه او هلاك کړل، له قصې ځې د عربو هر

ماشوم خبر وو، او ټول هغه مجرم قومونه چې تر دوی د مخه تېر شوي او د خپل جرم له کبله نیول شوي او د الله تعالی په شدید عذاب اخته شوي، کافي نه دي چې قریش دې ته ورته برخلیك ته منتظر وي، الهي محاسبه او مجازات تکذیب نه کړي؟! دا چې ته په تاریخ کي ګورې چې الله تعالی مجرم قومونه هلاکوي، د طغیان په سبب ئې نیسي او سخته سزا ورکوي، آیا دا په خپله د دې دلیل نه دئ چې دلته یو ذات شته چې دا عالم اداره کوي، د عالم د امورو تدبیر د هغه په لاس کي دئ، په عملونو مکافات او مجازات مرتب کوي، او د مجرمینو د مجازات په ښه کي د هغه د قدرت، سیطرې او حاکمیت آثار او مظاهر په خپلو سترګو ګورو، دغه مظاهر د مالك الملك الله د شته والي څرګنده ښښه ده.

پر الله تعالى د ايمان مقتضيات او غوښتنې

نن پر الله تعالى د ايمان د مقتضياتو په اړه بحث کوو، د دې بحث په ترڅ کې به دا موضوع روښانه کوو چې په الله تعالى باندې د ايمان غوښتنې کومې دي؟ که وغواړو د الله او د بنده ترمنځ د رابطې او تعلق څرنګوالى صرف په څو مختصرو الفاظو کې خلاصه کړو نو ويلى شو چې د بنده او د الله ترمنځ تعلق د عبادت او د استعانت تعلق دئ، يعنې دا چې يوازې د الله تعالى عبادت وشي او صرف له هغه مرسته او استعانت وغوښتلى شي.

د (عبادت) اصل له (عبد) دئ، عبد مريې او غلام ته وايي، څوك چې مور د مريې او غلام په توګه پېژنو د هغه څو مهم خصوصيات او ځانګړتياوې وي: لومړي ئې دا چې هغه د خپل ځان مالك نه وي، هغه په خپل ژوند کې هيڅ څه داسې نه لري چې دى ئې مالك خاوند او صاحب وي، د هغه هر څه د ده د آقا او مالك وي، هغه په ټولو هغو شيانو کې چې د ده په اختيار کې دي د يوه امين په توګه تصرف کوي، دا د هغه په لاس کې امانتونه دي، د ده خپل شخصي ملکيت نه وي، ځنګه چې د ده آقا او مالك غواړي او د هغه خوښه وي په همغه شان په دې امانتونو کې تصرف کوي، قرآن عظيم الشأن د مؤمنانو په باب فرمايي:

إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلۡجَنَّةَۚ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقۡتُلُونَ وَيُقۡتَلُونَۖ ... التوبه: 111

يقيناً چې الله له مؤمنانو د دوى نفسونه او مالونه اخيستي؛ د دې په بدل کې چې جنت به د دوى وي، د الله په لار کې جنګيږي، وژني او وژل کيږي....

لکه چې مريې پېرل کيږي دغسې الله تعالى مؤمنان د جنت په بيع اخيستي دي، د دې معاملې له مخې نور دوى د خپل نفس او مال خاوندان نه دي، د دوى

نفس او مال په حقيقت کي لدوی سره د الله امانتونه دي.

د مريي او غلام دوهم خصوصيت دا دئ چي هغه په خپلو ټولو هڅو، هلو ځلو او تصرفاتو کي د خپل آقا رضاء لټوي، همدا د هغه هدف وي، هغه خپل حرکات او سکنات، خوی او عادت، کړه وړه او خپلي اړيکي او تعلقات داسي عياروي چي د هغه آقا او مالك تر ې راضي شي، هر هغه څه چي دی ئې د خپل آقا او مالك د رضاء خلاف کوي هغه ته بغی ويل کيږي، او پدې صورت کي هغه باغي ګڼل کيږي، قرآن عظيم الشأن د مؤمنانو په اړه فرمايي:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِي نَفۡسَهُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ ٢٠٧ البقره: 207

له خلکو ځيني هغه دي چي خپل نفس د الله د رضاء په لټه کي پلوري او الله په دغو بندګانو رؤف او مهربان دئ. (الله تعالی په هغه بنده رؤ ف او مهربان دئ چي خپل نفس د الله د رضاء په لټه کي خرڅوي، د دې لپاره چي خپل رب راضي کړي خپل هر څه وقف کوي).

د عبد او مريي درېيم خصوصيت دا دئ چي هغه په خپل ټول ژوند کي د خپل آقا د فرمان مطيع وي، هغه له خپله طرفه د هيڅ کار په اړه فيصله نه کوي، هغه ته چي د څه کولو کوم دستور او هدايت ورکول کيږي همغه کوي، کوم اقدام چي د خپل آقا او مالك له اذن پرته وکړي بغاوت ګڼل کيږي، دا د غلامی او مرييتوب له حده تجاوز ګڼل کيږي، هغه د ژوند په هيڅ برخه کي په خپله تصميم نه نيسي، هره خبره چي کوي او هر تصميم چي نيسي نو هغه به د خپل آقا د امر او هدايت سره سم نيسي، قرآن عظيم الشأن د مؤمنانو په اړه فرمايي:

وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمۡرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ مِنۡ أَمۡرِهِمۡۗ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلٗا مُّبِينٗا ٣٦ الاحزاب:36

او هيڅ با ايمانه نارينه او ښځي ته دا نه ښايي چي کله الله او د هغه پيغمبر د کوم کار فيصله وکړي بيا دي دوی لره په خپل کار کي څه اختيار وي، او څوك چي له الله او د هغه له پيغمبر سرغړاوی وکړي يقيناً چي په څرګنده توګه بې لاري شوی.

يعني د کوم کار په اړه د الله تعالی او د ده د پيغمبر له پرېکړي وروسته له هر

مؤمن بنده دا ا ختيار سلب کړي چې له خپله لوري بله پرېکړه وکړي، له دې وروسته هغه په بشپړ اطاعت مکلف دئ، د بلې پرېکړي او فيصلې حق نه لري، څوك چې سرغړاوی وکړي د هغه په بې لاريتوب او ضلالت کي هيڅ شك نشته.

د عبد او مريي څلورم خصوصيت دا دئ چې هغه به خپل دوست او دښمن د خپلو تمايلاتو په بنسټ او د هوی او هوس له مخي نه ټاکي، په دې اړه هم له ده اختيار سلب شوی او هغه د خپل آقا او مالك د پرېکړي او حکم محکوم دئ، که کوم غلام او مريی د خپل آقا دښمن په دوستۍ ونيسي هغه بغاوت کړی، او که هغه د خپل آقا دوست دښمن وګڼي بيا ئې هم بغاوت کړی. قرآن عظيم الشأن د مؤمنانو په اړه همدغسي فرمايي:

لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأٓخِرِ يُوَآدُّونَ مَنْ حَآدَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَوْ كَانُوٓاْ ءَابَآءَهُمْ أَوْ أَبْنَآءَهُمْ أَوْ إِخْوَٰنَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُوْلَٰٓئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلْإِيمَٰنَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُواْ عَنْهُ أُوْلَٰٓئِكَ حِزْبُ ٱللَّهِ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ٢٢ المجادله:22

هغه قوم چې پر الله او پر آخرت ئې ايمان وي؛ هيڅکله به ئې داسي ونه مومې چې له هغه چا سره دوستي وکړي چې له الله او د هغه له پيغمبر سره ئې دښمني کړې وي، که څه هم دوی ئې پلرونه وي، زامن ئې وي، وروڼه ئې وي او خپلوان ئې وي، همدغه کسان دي چې الله د دوی په زړونو کي ايمان ثبت کړی او په خپله روح (غيبي فيض) سره ئې د هغوی مرسته کړې، هغوی به داسي جنتونو ته داخل کړي چې ترې لاندي ويالې بهيږي، په هغه کي تلپاتي، الله له هغوی راضي شوی، دوی له الله راضي شوي، همدا د الله حزب دئ، (دغه کسان د الله د حزب غړي دي) يقيناً چې د الله حزب بريالی دئ.

همدا راز قرآن عظيم الشأن فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُوٓاْ ءَابَآءَكُمْ وَإِخْوَٰنَكُمْ أَوْلِيَآءَ إِنِ ٱسْتَحَبُّواْ ٱلْكُفْرَ عَلَى ٱلْإِيمَٰنِ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٢٣ التوبه:23

اې مؤمنانو! که ستاسو پلرونه او وروڼه کفر ته پر ايمان ترجيح ورکړي نو خپل دوستان ئې مه نيسئ، او ستاسو هرڅوك چې له دوی سره دوستي وکړي

هغوی ظالمان دي.

له دغو مبارکو آیتونو په څرګنده توګه معلومیږي چې د عبادت په اړه هغه تعبیر صحیح نه دئ چې ځینې خلك ئې ترې لري او په ځینو خاصو مواردو کې ئې راخلاصه کوي، بلکې د عبادت مفهوم ډیر وسیع، جامع او شامل دئ، د انسان ټول ژوند احتوی کوي، که څه هم د علماوو ترمنځ پدې اړه اختلاف شته چې کوم څه ته مونږ عبادت ویلی شو، کوم څه عبادات دي او کوم څه معاملات؟ آیا عبادت داسي جامع او شامل لفظ دئ چې د ژوند ټول ابعاد احتوی کوي او که نه محدود دئ او څو مشخصو افعالو ته ویل کیږي؟

په حقیقت کې عبادت د انسان ټول ژوند ته شامل دئ، نه څه معینو لحظو او څه مشخصو افعالو ته. اسلام له دې تفکیك او بېلوالي سره موافق نه دئ، دا ځکه چې الله تعالی انسان د عبادت لپاره پیدا کړی، د ده د ټول ژوند مقصد باید عبادت وي، هغه په ټول ژوند کې باید د یو عبد او مریي په شان عمل وکړي، او د مریي او عبد خصوصیات هماغه دي چې مونږ بیان کړل.

څوك چې له الله سره د دې تعهد وکړي چې صرف د هغه عبادت به کوي، هغه له بلي هري بندګۍ آزاد شي، لکه چې یوسف علیه السلام د خپل زندان ملګرو ته فرمایي: آیا متعدد اربابان غوره دي که یو واحد رب چې هغه د سلطې او سیطري خاوند دئ؟

يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ٣٩ یوسف:39

آیا دا متفرق اربابان غوره دي او که یو قهار رب؟

یعني یا به انسان د واحد الله عبادت او بندګي کوي او یا به د متعددو اربابانو په وړاندي د عبادت او بندګۍ سر ټیټوي او دا ذلت به مني. د قرآن متعد د آیتونه همدا مطلب رابنیي.

یوازي له الله استعانت:

مونږ په دې عالم کي ګورو چې دلته هر څه د هغه مالك الملك الله مخلوق او مملوك دي چې هغوی ئې پیدا کړي او د هغوی ساتنه، پالنه او روزنه کوي، کوم چې د رحمت آثار ئې په ټول عالم کي خواره دي، د سلطې او سیطرې آثار او مظاهر ئې ګورو، مونږ په عالم کي بل داسي څوك نه ګورو چې د عبادت وړ

وي، په دې عالم کي مو يوازي الله تعالى داسي وموند چې د عبادت او لمانځني وړ دئ، لکه څنګه چې يوازي الله تعالى د عبادت او لمانځني وړ دئ او موږ صرف د ده عبادت او بندګي کوو، همدا راز صرف له هغه استعانت غواړو. دا په الله باندي د ايمان ستره تقاضا ده، يوازي د يوه الله عبادت او بندګي او صرف له هغه استعانت او مرسته. موږ په دې ټول عالم کي بل داسي څوك ونه موند چې هغه زموږ ارتياوو ته ځواب ووايي او هغه زموږ د غوښتنو په ترسره کولو قادر وي، يوازي يو الله مو دغسي وموند چې هغه زموږ د مشکلاتو حل کوونکى دئ، له دې کبله موږ يوازي له همغه الله چې د دې عالم مالك دئ او د هر څه ساتنه او پالنه کوي، د همغه عبادت کوو او فقط له هغه استعانت او مرسته غواړو، هغه الله چې د ستاينې وړ دئ، حميد دئ، د ټول عالم رب دئ، رحمت ئې انتهاء او پاى نه لري او د دې عالم هر جزء ته شامل دئ او هغه په هر څه باندي په خپل قاهره قدرت غلبه کړې او هر څه ئې احاطه کړي، هغه چې په خپل ملك کي د مالك الملك په توګه تصرف کوي او په دې کي هيڅوك له هغه سره شريك نه دئ او عملونو ته اجر ورکوي، صرف له همدغه الله مرسته غواړو.

د قرآن عظيم الشأن په متعددو آيتونو کي عبادت او استعانت له يوه بل سره مترادف او يو د بل په ځاى ذکر شوى، لکه چې فرمايي:

وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِي سَيَدۡخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ٦٠ غافر:60

او ستاسو رب وويل: ما ته دعاء وکړئ چې درته وئې منم، يقيناً هغه کسان چې زما له عبادته لويي (او سرغړاوى) کوي حتماً به جهنم ته ذليل او سپك داخل شي. (يعني ما ته دعاء وکړئ چې ستاسو دعاء قبوله کړم، څوك چې تکبر او لويي وکړي، ځان تر دې لوړ وګڼي چې خپل رب ته د دعاء لاسونه اوچت کړي، دا غرور او لويي به ئې له ذلت سره مخامخ کړي او په دوزخ کي لوېدو ته به ئې چمتو کړي).

په دې مبارك آيت کي د عبادت او دعاء په ارتباط څو مهم مطالب ذکر شوي:

- لومړى دا چې الله جل شأنه موږ په دعاء کولو مکلف کړي يو (وَ قَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونى: ستاسو رب ويلي: ماته دعاء وکړئ)، او د دې وعده ئې راسره کړې

چي ستاسو دعاء به منم (أَستَجِب لَكم)

- دوهم مطلب دا چي د لويي احساس، تکبر او غرور د دې باعث شي چي انسان له الله تعالى د مرستي او استعانت له غوښتلو ډډه او د هغه له عبادت سرغړاوی وکړي، (إِنَّ الَّذِينَ يَستَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتى سيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ)، تکبر، د لويي احساس او غرور د دې باعث شي چي انسان د الله تعالى له عبادت او بيا د هغه له استعانت ډډه وکړي، همدا استغناء ده چي انسان طغيان ته رسوي، او په پای کي ئې له ذلت او رسوايی سره مخامخ کوي.

دا مطلب د رسول الله صلى الله عليه و سلم په يوه حديث کي داسي راغلى: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم « مَنْ لَمْ يَسْأَلِ اللَّهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ ». الترمذى

له ابوهريره رضى الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: چا چي الله ته سؤال ونه کړ؛ پرې غصه کيږي.

يعني څوك چي الله تعالى ته دعاء ونه کړي او له هغه مرسته ونه غواړي، الله تعالى پرې غصه کيږي، هر څومره چي الله تعالى ته زياته دعاء وکړې او زياته مرسته ترې وغواړې همدومره راضي کيږي. داسي نه ده چي يوازي د لويو لويو شيانو دعاء به کوې، بلکي له واړه تر ستر شي، حتى که مو په کور کي مالګه نه وه، دا هم له الله تعالى وغواړئ، حتى که د څپلۍ بند مو وشلېدو؛ دا هم له الله تعالى وغواړئ، دا د رسول الله صلى الله عليه و سلم وينا او لارښوونه ده.

- درېيم مطلب چي په دې آيت کي ذکر شوى هغه دا دئ چي عبادت ئې د دعاء په ځای راوستى، تاسو د آيت په سر کي دا الفاظ گورئ: وَ قَالَ رَبُّكمُ ادْعُونى: ستاسو رب وويل: ماته دعاء وکړئ، خو د آيت په وروستۍ برخي کي ويل شوي: إِنَّ الَّذِينَ يَستَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتى سيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ: يقيناً هغه چا چي زما له عبادت ئې لويي وکړه، ځان ئې له دې ستر وګانو چي ما ته دعاء وکړي، گورئ چي د آيت په وروستۍ برخي کي د دعاء په ځای عبادت راغلى، دا په خپله ښيي چي استمداد، استغاثه او دعاء له عبادت سره مترادف ده.

وَعَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ: إنَّ الدُّعَاءَ هُوَ الْعِبَادَةُ. رَوَاهُ الْأَرْبَعَةُ، وَصَحَّحَهُ التِّرْمِذِيُّ

له نعمان بن بشير رضى الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: دعاء په خپله عبادت دئ.
عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « الدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ »*
رواه الترمذي
له انس بن مالك رضى الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: دعاء د عبادت مغز دئ.
همدا راز فرمايي:
عَنْ عَلِيّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: الدُّعَاءُ سِلاحُ الْمُؤْمِنِ، وَعِمَادُ الدِّينِ، وَنُورُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ * المستدرك
له علي رضى الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: دعاء د مؤمن وسله، د دين ستنه او د آسمانونو او زمكي نور دئ.
كله چې انسان الله تعالى ته دعاء كوي؛ د ده دعاء د دې مظهر دئ چې هغه د الله جل شأنه په وړاندي ځان اړ او محتاج ګڼي، د اړتيا او احتياج دغه احساس د دې باعث شي چې د الله جل شأنه په وړاندي دعاء وكړي او مرسته تري وغواړي، همدغه احساس ئې د الله تعالى عبادت او بندګۍ ته رابلي، عدم دعاء او عدم استعانت ئې په دې دلالت كوي چې هغه له الله جل شانه ځان مستغني ګڼي، دا د ده د استغناء او بې نيازۍ نښه ده. قرآن عظيم الشأن په دې ارتباط فرمايي:
كَلَّآ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَيَطْغَىٰٓ ٦ أَن رَّءَاهُ ٱسْتَغْنَىٰٓ ٧ العلق: 6-7
داسي نه ده، يقيناً چې انسان هغه مهال حتماً طغيان كوي چې ځان مستغني وګڼي.
دا د انسان طبيعت دئ چې كله ځان بې نياز او مستغني وګڼي طغيان كوي.
د دعاء په اړه په بل آيت كې داسي لولو:
وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُواْ لِي وَلْيُؤْمِنُواْ بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ١٨٦ البقرة: 186
كه زما بندګان زما په اړه له تا پوښتنه وكړي (نو ورته ووايه:) يقيناً چې زه نږدې يم، كله چې كوم دعاء كوونكي راته دعاء وكړي دعاء ئې منم، نو هغوى دي زما حكم ومني، او په ما دي ايمان راوړي، تر څو رشد او كمال ته ورسيږي.

په دې مبارك آيت كي د دعاء په اړه مورږ ته دا لارښوونې شوې: الله تعالى خپلو بندګانو ته نږدې دئ، د دوى دعاګاني مني، د الله تعالى بندګانو ته په كار ده چې د خپل رب هداياتو ته تسليم وي، په هغه ئې ايمان وي، د دغو دريو مهمو كارونو، دعاء، اطاعت او ايمان له كبله به ئې رشد او كمال په برخه شي.

كله چې انسان له مشكلاتو، ستونزو او كړاوونو سره مخامخ شي، بل ته اړ او محتاج شي او كله چې د هغه اميد له هر څه قطع شي، په خپل ماحول كي داسي څوك ونه ګوري چې د ده مشكل حل كړى شي، د هغه نارې واوري، د هغه احتياج او اړتياوي منتفي كړي، او داسي يو شى په خپل ماحول كي نه ګوري چې په هغه حساب وكړي، په هغه بروسه او اعتماد وكړي، ټول هغه وسائل او ذرائع چې په اختيار كي ئې دي هغه بې نتيجې پاتې شي، او ونشي توانېدى چې د ده غوښتنو او اړتياوو ته ځواب ووايي او د هغه اضطراب او پرېشاني رفع كړي، په دې حالت كي الله تعالى ته پناه وړي، له هغه مدد او مرسته غواړي او په اخلاص سره د بندګۍ تعهد كوي، خو چې كله ځان بې نيازه وګڼي، له وفرت او كثرت سره مخامخ شي، نو بيا الله هېر كړي او خپل مؤكد تعهدات شا ته وغورځوي، او د الله تعالى په نسبت د شرك مرتكب شي، لكه چې قرآن عظيم الشأن فرمايي:

فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلْفُلْكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ٦٥ العنكبوت:65

كله چې په كشتۍ كي سپاره شي نو په داسي حال كي الله مرستي ته وربلي چې ده ته د خپل ديانت خالصوونكي دي، (د دې تعهد كوي چې له الله تعالى پرته به د بل چا عبادت او بندګي نه كوي) خو كله چې هغوى د وچي لوري ته وژغوري ناڅاپه بيا شرك كوي.

دلته په بېړۍ كي د سپرېدو يادونه د دې لپاره شوې چې په بېړۍ كي د انسان رابطه له ډېرو هغو شيانو سره قطع شي چې په واك كي ئې وو، ټول هغه وسائل، ذرائع او امكانات چې په اختيار كي ئې وو، د ده مرسته ئې كوله، ده پرې اعتماد كولو، اوس ئې ارتباط ورسره شلېدلى، په هغوى حساب نشي كولى، په هغوى تكيه او اعتماد نشي كولى، د ده مرسته نشي كولى، كله چې وګوري په كشتۍ كي له سپرېدو سره سم ئې له ټولو دغو وسائلو لاس قطع

شوی، د سمندر له څپو سره مخامخ دئ خو داسي څه ورسره نشته چې له خطره ئې وژغوري، نو په دې وخت کي الله تعالی ته مخه کړي، مرسته تري غواړي، اوږدې اوږدې دعاګاني ورته کوي، د خطر په زیاتېدو سره نه یوازي د ده دعاګاني اوږدې او پرله پسې شي بلکي له الله تعالی سره ژمنه کوي چې که له خطره ئې وژغوري په اخلاص او صداقت سره به د ده بندګي کوي، خو کله چې څپې تم شي، خطر پای ته ورسېږي، الله تعالی ئې روغ رمټ ساحل ته ورسوي، بیا نو په دې ژغورني او نجات کي له الله تعالی سره بل څه او بل څوك شریکوی، خپلي مخکنۍ ژمني هېري کړي، مخکني حالت ته وګرځي، طمع ئې له الله تعالی پرته له نورو او اعتماد ئې له الله تعالی پرته پر نورو شي!!

دې آیت نه یوازي د خطرونو او ګوابنونو په وخت کي د انسان حالت او له الله تعالی سره د ده د تعلق څرنګوالی په دقیقه توګه انځور کړی بلکي په دین کي د اخلاص حقیقت ئې هم مورِ ته واضح کړی. په دین کي د اخلاص معنی دا ده چې انسان له الله تعالی پرته په بل چا اعتماد ونه لري، له بل چا طمع ونه لري، په بل څه باندي توکل او تکیه ونه کړي، طمع ئې یوازي له الله وي، او د دعاء لاسونه ئې یوازي د الله تعالی په وړاندي لوړ کړي وي، داسي وګڼي چې په دې عالم کي له الله تعالی پرته داسي څه نشته چې د ده مشکل حل کړی شي، د ده اړتیاوو ته ځواب وویلی شي او د ده مرسته وکړی شي، نو ځکه ئې هم طمع له الله تعالی وي او هم ئې اعتماد پر الله تعالی، دې حالت ته په دین کي اخلاص وایي.

ته چې هر څومره د الله تر څنګ په بل څه حساب کوې، په هغه اعتماد او بروسه کوې، هغه ته امید ساتې او له هغه طمع کوې، دې حالت ته د شرك حالت وایي، خو کله چې ستا حالت هغه چا ته ورته شي چې په بېړۍ کي سپور دئ او د طوفان څپو احاطه کړی، هري خوا ته چې سترګي اړوي داسي څه په نظر نه ورځي چې د ده مرسته وکړی شي، نو الله تعالی ته مخه کړي او له هغه مرسته غواړي، خپل دین د هر راز شرك له شوائبو پاکوي، په اخلاص سره د الله تعالی د بندګۍ تعهد کوي، له الله تعالی سره ژمنه کوي چې یوازي د ده عبادت به کوي، له ده سره به په عبادت او بندګۍ کي بل څه او بل څوك نه شریکوي، ستا دا حالت په دین کي د اخلاص او سوچه والي په معنی دئ، او که

ستا حالت د هغه چا په څېر شو چې د طوفان له څپو ژغورل شوی، ساحل ته روغ رمټ رسېدلی، خو په دې ژغورنې کې له الله تعالی پرته د بل چا د مرستې او عنایت په اغېز باور لري، او خپل نجات د نورو عواملو مرهون ګڼي، له الله تعالی سره خپلې ژمنې هېروي او د مخکښو شېبو اخلاص له لاسه ورکوي، نو تا د الله تعالی په نسبت شرك کړی.

همدا مطلب قرآن عظیم الشأن، د روم د سورې په (33) آیت کې داسې توضیح کوي:

وَإِذَا مَسَّ ٱلنَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْاْ رَبَّهُم مُّنِيبِينَ إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَآ أَذَاقَهُم مِّنْهُ رَحْمَةً إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ٣٣ الروم: 33

کله چې خلکو ته څه تکلیف او سختي ورسېږي، (له ستونزو او کړاوونو سره مخامخ شي) خپل رب په داسې حال کې مرستې ته وربلي چې د هغه لورې ته رجوع کوونکي وي (په پوره انابت سره الله تعالی ته دعاء کوي او مرسته ترې غواړي) خو کله چې (الله تعالی) له خپل لورې کومه پېرزوینه وروځکي (د کوم رحمت او پېرزویني خوند وروځکي او له خپل رحمت ځې برخمن کړي) ناڅاپه د دوی یوه ډله د الله په نسبت شرك کوي.

یعني د مصیبتونو، ستونزو او کړاوونو په وخت کې په ټول انابت سره الله ته رجوع کوي، خو چې کله الله تعالی خپله پېرزوینه او رحمت د دوی په حال شامل کړي، بیا د الله په نسبت د شرك مرتکب شي.

همدا راز فرمایي:

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱلْفُلْكَ تَجْرِي فِي ٱلْبَحْرِ بِنِعْمَتِ ٱللَّهِ لِيُرِيَكُم مِّنْ ءَايَٰتِهِۦٓ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ٣١ وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوْجٌ كَٱلظُّلَلِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ فَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمَا يَجْحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُورٍ ٣٢ لقمان:31-32

آیا نه ګورې چې دا بېړۍ د الله له فضل سره په بحرونو کې خوځي، تر څو ځینې خپل آیتونه دروښیي، یقیناً چې په دې کې هر صبر کوونکي شکور (بنده) ته څرګندي نښې دي، او کله چې ئې څپې د چتر په څېر وپوښي، (څپې ئې احاطه کړي، نو هغه مهال) الله پداسې حال کې مرستې ته رابلي چې په دین کې ورته مخلص وي، خو چې کله ئې د وچې په لورې وژغوري (په نتیجه کې به

ئې ګوري چې يوازې) د دوی ځينې مقتصد او منځ لاړي وي، او زمونږ له آيتونو انکار نه کوي مګر هر ناشکر عهد ماتوونکی.

- نه ګورئ چې الله تعالی تاسو ته داسې کشتۍ پيدا کړې چې په سمندر کې درومي او ستاسو ضروري تجارتي اموال له يوې سيمې بلې ته انتقالوي، په دې کې د الله تعالی د قدرت ګڼ شمېر څرګند مظاهر زمونږ په وړاندې ځليږي. څوک چې د الله د نعمتونو قدر کوي، له ستونزو او کړاوونو سره د مخامخېدو پر مهال د صبر لار غوره کوي، هغوی ته په دې وينا کې ډېرې نښې او لارښوونې دي، دا بحرونه الله تعالی درته مسخر کړي، په دې عالم کې ئې داسې ضوابط او سنن وضع کړي چې ته له هغوی په استفادې سره کشتۍ جوړه کړی شې، څوک چې د نعمتونو قدر پېژني او د منعم شکر په ځای کوي؛ هغوی ته په دې مقدمه کې يقينا ډېرې ځلاندې نښې دي. او دا چې ګورئ کله کشتۍ په بحر کې له طوفانونو سره مخامخ او د بحر له څپو سره ټکر شي، خو الله جل شأنه ئې له خطره وژغوري او د نجات ساحل ته ئې ورسوي، په دې کې صبر کوونکو لره دا لارښوونه ده چې که دوی هم له داسې ستونزو او کړاوونو سره مخامخ شي او صبر وکړي نو کشتۍ به ئې له څپو روغه تېرېږي او ساحل ته به رسېږي، خو تر ساحله پورې تر رسېدو له طوفانونو سره مخامخېدل شته او له موجونو او څپو سره ټکرونه په مخکې دي، پدې کې هر شاکر او صابر بنده ته ډېرې نښې دي.

د دې په مقابل کې د عجول، ناسپاس او بې عهده انسان وضع داسې وي چې له ستونزو او کړاوونو سره د مخامخېدو په وخت کې الله تعالی ته پناه وړي، هغه ته دعا کوي، مرسته ترې غواړي، د اخلاص او مخلصانه بندګۍ ژمنه کوي، خو څو شېبې وروسته او کله چې د مصيبتونو او کړاوونو څپې تېرې شي، له خطرونو وژغورل شي، ساحل ته ورسېږي، بيا نو خپلې ټولې ژمنې هېرې کړي، د الله تعالی د پېرزوينو ناشکري کوي!! د هر ناسپاس او بدعهد انسان حال او کار داسې وي.

همدا راز فرمايي:

وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةٗ مِّنۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُمۡ إِذَا لَهُم مَّكۡرٞ فِيٓ ءَايَاتِنَاۚ قُلِ ٱللَّهُ أَسۡرَعُ مَكۡرًاۚ إِنَّ رُسُلَنَا يَكۡتُبُونَ مَا تَمۡكُرُونَ ٢١ هُوَ ٱلَّذِي يُسَيِّرُكُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۖ

حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ وَجَرَيۡنَ بِهِم بِرِيحٖ طَيِّبَةٖ وَفَرِحُواْ بِهَا جَآءَتۡهَا رِيحٌ عَاصِفٞ وَجَآءَهُمُ ٱلۡمَوۡجُ مِن كُلِّ مَكَانٖ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ أُحِيطَ بِهِمۡ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ لَئِنۡ أَنجَيۡتَنَا مِنۡ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ٢٢ فَلَمَّآ أَنجَىٰهُمۡ إِذَا هُمۡ يَبۡغُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۗ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَا بَغۡيُكُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۡۖ مَّتَٰعَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ ثُمَّ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُكُمۡ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٢٣ يونس:21-23

او کله چې خلکو ته له هغه وروسته چې کړاو وررسېدلی د کومې پېرزويني (خوند) وروځکو (ګوري به چې) ناڅاپه به ئې زمونږ په آيتونو کې د پټ تدبير (اراده) وي، ووايه: الله په پټ تدبير کې تر ټولو ډېر چابك دئ. يقيناً چې زمونږ استازي ستاسو پټ تدبيرونه ليکي. الله هغه ذات دئ چې تاسي په وچه او اوبو کې بيايي، تردې چې تاسي په بېړۍکې وئ او بېړۍ له سورو سره يوځای له ملايم او خوندور نسيم سره وخوځي او پدې سره خوشحاله شي، خو ناڅاپه تېز باد او طوفان وربانديږي راشي او له هر لوري څپې وربانديږي راتاو شي او ګمان وکړي چې محاصره شول، (پدې وخت کې) الله ته پداسي حال کې دعاء کوي" او مرسته ترې غواړي" چې په خپل ديانت کې ورته مخلص شوي وي او وايي: که دي لدې وژغورلو نو حتماً به شکر کوونکي بندګان وو، خو کله چې نجات ورکړو بيا د خپل تعهد خلاف په ناحقه په زمکي کې سرکشي او بغاوت کوي. اې خلکو! په يقين سره چې ستاسي سرکشي او بغاوت ستاسي په ضرر ده " دا درکړی شوی فرصت " د دنيوی ژوند يوه متاع ده، بيا مو زمونږ لوري ته راتګ دئ او په هغه څه به مو خبر کړو چې تاسو کول.

دلته هم د عجول او وعده خلاف انسان حالت بيان شوی، کله چې الله تعالی له کړاو نه وروسته د کومې پېرزويني خوند وروځکي نو د دې پر ځای چې ايمان راوړي او شاکر بنده شي په عکس د دې به ګورې چې له دې فرصت نه په استفادې سره د الله د دين په ضد توطئې کوي، په خپلو پټو تدبيرونو سره غواړي د دين د غلبې مخه ونيسي، خو دوی په دې نه پوهېږي چې دا تدبيرونه ئې د هغه ذات د قطعي پرېکړو په خلاف دي چې په تدبير کې تر هر چا سريع او چابك دئ او څوك ئې د مقابلې توان نه لري او د ده فرشتو د دوی ټول پټ تدبيرونه تر نظر لاندې نيولي او ليکي ئې.

په دې مبارکو آيتونو کې د عجول انسان د حالت او وضعيت څرنګوالی د کړاو او له کړاو نه د ژغورنې پر مهال په ډېر کښلي او عبرتناك اسلوب،

خوندورو الفاظو سره او په دېره دقيقه توګه انځور شوی: فرمايي: دا انسان داسي دئ چي کله په بېړۍ کي سپور شي، د بېړۍ په خوځېدو او د نرم باد په لګېدو سره خوشحاله شي، خو کله چي توند او تېز بادونه د دوی لوري ته مخه کړي او د طوفان څپې ئې احاطه کړي، حالت ورته داسي وبرېښي چي د نجات ټولي لاري ټرل شوې، د نجات هيڅ لاره په نظر نه ورځي، داسي څه په لاس کي نه لري چي اعتماد پرې وکړي او طمع ترې ولري، داسي څوك او څه په خپل ماحول کي نه ګوري چي مرستي ته ئې راوبلي، نو الله جل شأنه ته مخه کړي، هغه ته د دعاء لاسونه اوچت کړي، په داسي حال کي چي په خپل ديانت کي د اخلاص ژمنه کوي، وايي: که موږ ته له دې مشکل او مصيبت نه نجات راکړې نو حتماً به ستا له شاکرو بندګانو څخه وو، ځان به ستا د دې او ټولو نورو نعمتونو مرهون او پوروړي ګڼو، خو کله چي هغوی له کړاوه وژغوري ناڅاپه به ګورې چي د خپلو مخکنيو تعهداتو په خلاف به هغوی په زمکه کي په ناحقه تېری او بغاوت کوي، هغه ژمني به تري هېري وي چي ويل ئې: که مو وژغورې نو بيا به ستا مخلص بندګان وو!! بيا به د خپلي ژمني خلاف په ناحقه په زمکي کي سرکشي او بغاوت کوي. الله تعالی دوی ته فرمايي: اې خلکو! په يقين سره چي ستاسي سرکشي او بغاوت ستاسي په ضرر ده، دا درکړی شوی فرصت خو د دنيوی ژوند يوه متاع ده، بيا مو زمونږ لوري ته راتګ دئ او په هغه څه به مو خبر کړم چي تاسو کول.

په دې مبارك آيت کي (په دين کي اخلاص) په ډېر وضاحت سره بنودل شوی او هغه دا چي کله انسان خپل رب ته په داسي حالت کي دعاء کوي چي له ده پرته ئې هيڅا ته طمع نه وي، بل داسي څوك نه مومي چي په وړاندي ئې د دعاء لاسونه لوړ کړي او مرسته ترې وغواړي، په ټول عالم کي داسي ځواك په نظر نه ورځي چي سترګي ئې ورواوړي او له کړاوونو نه د ده د ايستلو واك او توان ولري، حالت ئې هغه چا ته ورته وي چي په طوفاني بېړۍ کي سپور دئ، له يوې خوا سيلۍ او له بلي خوا د اوبو هيبتناکي څپې، له الله تعالی پرته نه کوم حامي مومي او نه کوم مرستندوی، په دين کي د اخلاص معنی همدا ده.

همدا راز فرمايي:

وَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ٱلضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۢبِهِۦٓ أَوۡ قَاعِدًا أَوۡ قَآئِمٗا فَلَمَّا كَشَفۡنَا عَنۡهُ ضُرَّهُۥ مَرَّ كَأَن لَّمۡ يَدۡعُنَآ إِلَىٰ ضُرّٖ مَّسَّهُۥۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلۡمُسۡرِفِينَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٢ يونس:12
او کله چې انسان ته څه تکلیف ورسېږي نو په داسي حال کې موږ مرستې ته بلي چې په اړخ به پرېوتی وي، یا به ناست وي، یا به ولاړ وي، خو کله چې ده ته هغه رسېدلی مصیبت لرې کړو بیا به داسي درومي لکه چې موږ ئې له هغه تکلیف ځني خلاصون ته نه وو وربللي، مسرفینو ته خپل عملونه داسي ښایسته او مزین کړی شوي.

په دې مبارك آیت کې څو مهمو مهمو مطالبو ته اشاره شوې:

- د آیت د لومړۍ فقرې د (ضر) له کلمې معلومېږي چې په مخکني آیت کې د (شر) مراد همدا ضر یعني کړاو او تکلیف دئ.
- هغه عجول انسان ته چې په تلوار سره د شر راتلو غوښتنه کوي ویل شوي: کله چې ورته راشي نو داسي به ئې ګوری چې په هر حالت کې به مسلسل الله تعالی ته دعاء کوي او مرسته به ترې غواړي، که په اړخ پروت وي، یا ناست وي یا ولاړ او روان وي دعاګاني به کوي.
- خو چې له تکلیفونو وژغورل شي بیا به داسي درومي لکه چې الله تعالی ته ئې هیڅ دعاء نه وه کړې او په هغه مشکل وخت کې ئې هیڅ مرسته نه وه ترې غوښتې، هم به الله تعالی هېر کړي او هم له الله تعالی سره خپل ټول تعهدات او ژمنې.

په دې ټولو آیتونو کې ګورو چې له الله تعالی سره د انسان د تعلق څرنګوالی او عبادت ئې په دې پورې مربوط دئ چې هغه له الله د استعانت په اړه څه تصور لري، په کومو لحظاتو کې چې هغه د اړتیا او احتیاج احساس وکړي، ګورو چې دعاء کوي، عبادت کوي، تعهد کوي او الله تعالی مرستې ته وربلي، خو چې کله هغه ته د بې نیازۍ او استغناء تصور پیدا شي بیا ګورو چې عصیان او سرکشي کوي، بغي او طغیان کوي. په دې ترتیب معلومېږي چې هر څو مره انسان د الله تعالی په نسبت پراخ او زیات معرفت ولري، د الله د ربوبیت او د هغه د رحمت د آثارو په اړه او دا چې په دې عالم کې د امورو تدبیر د هغه په اختیار کې دئ، هر څومره چې په دې باب وسیع معلومات ولري، همدومره به د الله تعالی عبادت کوي او له هغه به مرسته غواړي.

استعانت څو صورتونه لري:

- يو صورت ئې دا دی چې ته له چا د هغه په غياب کې مرسته وغواړې، په دې ګمان چې هغه له لري تا ګوري او ستا غږ اوري، داسې استعانت له الله تعالی پرته له بل هيچا جائز نه دئ.
- بل صورت ئې دا دئ چې ته په ورځنې عادي معاملاتو کې له چا مرسته غواړې، په هغه عادي معاملاتو کې چې خلك عادتاً او معمولاً يو له بل مرسته غواړي، مثلاً د اوبو ګيلاس راکړه! دروازه در سره بنده کړه! قلم دي راکړه او هغه کتابچه راکړه، پدې عادي شيانو کې مرسته غوښتنه جائز ده خو استغناء غوره ده. خو سؤال کول، له چا څه غوښتل او ګدايي حرام ده، اسلام د دې ممانعت کوي، څوك چې په دنيا کې سؤال کوی د قيامت په ورځ به هغه د الله په وړاندي داسې ودريږي چې پر مخ به ئې غوښه نه وي، سپك او ذليل به وي، سؤال حرام دئ، په عادي معاملاتو کې غوښتنه او مطالبه جائز ده، خو صحابه وو له دې هم ډډه کوله، د هغوی په شان کې راځي چې څوك به په آس سپور وو، متروکه به ئې په زمکه ترې ولوېدله، د دې په ځای چې چا ته ووايي: مرسته را سره وکړه او دا راکړه، له دې ئې هم استغنا کوله، په خپله به له آس کوزېدو او هغه به ئې رااخيستله، هغوی غوښتل چې په ځان بسيا وي، چا ته ئې لاس اوږد نشي، له چا مرسته ونه غواړي، د بل مرسته وکړي، خو له هيچا څه ونه غواړي، که څه هم دا جائز ده خو د کمال تقاضا دا ده چې انسان له دې هم ډډه وکړي.

خو د چا په غياب کې له هغه مرسته غوښتل دا له الله تعالی پرته له بل هيچا جائز نه ده، دا چې څوك ګمان وکړي؛ بل په غياب کې د هغه په حال واقف دئ، د هغه غږ اورېدلی شي او مشکل ئې رفع کولی شي، دا هيله او طمع له الله تعالی پرته له بل هيچا جائزه نه ده. همدا وجه ده چې موږ مکرر وايو: إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ خاص ستا عبادت کوو او يوازې له تا مرسته غواړو، نه له ملائکو، پيغمبرانو، اولياءالله، پيرانو، شيخانو، قبرونو او زيارتونو او نه له الله تعالی پرته له بل چا او بل څه، هر څه او هر څوك چې وي، له هغه مرسته غوښتل حرام، ناجائز او شرك دئ، يوازې الله تعالی عالم بالغيب دئ، او هغه د دعاګانو اورېدونکی او منونکی دئ. موږ هره ورځ په وار وار، لږترلږه دوه دېرش ځله په لمانځه کې له الله تعالی سره مکرر تعهد کوو چې يوازې ستا

عبادت کوو او یوازي له تا مرسته غواړو (إياك نستعين)، لکه چې یوازي ستا عبادت کوو همدا راز یوازي له تا مرسته غواړو.

خو تداوي کول، د جنګ لپاره زره اغوستل او له وسائلو کار اخیستل، نه یوازي دا چې له الله تعالی د استعانت او مرستي غوښتلو سره منافي نه دي، بلکي مونږ دین په دي مکلف کړي یو چې مریض شو تداوي وکړو، د ځان حفاظت وکړو، تداوی او د ځان حفاظت، شرعي واجب او فرض دئ، خو په دې عقیده به یو چې په تداوي او تدبیر باندي الله تعالی اثرات او نتائج مرتب کوي، الله د هر مرض لپاره دوا پیدا کړې، خو دا په خپله او مستقل بالذات نتیجه نه ورکوي، الله تعالی په دې باندي نتائج مرتب کوي، مونږ په کارونو کي تدبیرونه کوو، جنګ ته ځو؛ زره اغوندو، خندقونه کینو، صفوف منظم کوو، د صف په مقدمه او په آخر کي د احتیاط لپاره خاص افراد موظف کوو، پیره داران ټاکو، دا ټول کارونه نه یوازي جائز دي، بلکي شرعي او ديني مکلفیتونه او وجائب دي، په دې ټولو کي زمونږ عقیده دا ده چې په دې باندي نتائج الله تعالی مرتب کوي او عاقبت د الله په واك کي دئ.

دا مطلب چې رجاء، طمع او هیله به صرف له یوه الله وي، او یوازي له همغه یوه الله به مرسته غواړو، د قرآن عظیم الشأن په ګڼ شمېر آیتونو کي راغلی، لکه چې فرمایي:

وَلَا تُفْسِدُواْ فِي ٱلْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَٰحِهَا وَٱدْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًاۚ إِنَّ رَحْمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ٥٦ الاعراف:56

په زمکه کي د هغې له اصلاح وروسته فساد مه کوئ، او الله په وېره او طمع سره مرستي ته دربلئ، (په داسي حال کي چې هم له هغه وېرېږئ او هم طمع او هیله تري لرئ، دعاء ورته کوئ، په دې حالت کي ئې مرستي ته دربلئ او له هغه استعانت غواړئ) یقیناً چې د الله رحمت نېکانو ته نږدې دئ. (څوك چې نېك وي، الله به د خپل رحمت او پېرزویني سیوری پرې غوړوي، هغوی به د الله تعالی رحمت ځان ته نږدې وومومي).

همدا راز فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَٱسْتَمِعُواْ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخْلُقُواْ ذُبَابًا وَلَوِ ٱجْتَمَعُواْ لَهُۥۖ وَإِن يَسْلُبْهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُۚ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ

وَٱلۡمَطۡلُوبُ ٧٣ الحج:73
اې خلکو! يو مثال راوړل کېږي، ورته غوږ شئ: بېشکه څوك چې تاسي له الله پرته خپلې مرستې ته دربلئ، يو مچ هم نشي پيدا کولی، که څه هم ټول ورته راغونډ شي، او که دا مچ څه تري وتښتوي نه ئې شي تري ژغورلی، طالب او مطلوب دواړه بې وسه شول، د الله تعالی قدر ئې لکه څنګه چې له ده سره بنايی ندئ پېژندلی، بې شکه چې الله زورور عزتمن دئ.

يعني له الله تعالی پرته چې تاسي له بل هر څه او هرکس مرسته وغواړئ، که دا په آسمان کي وي او که په زمکه کي، انسان وي که فرشته، ژوندی وي که مړ، يو هم نشي کولی يوه وړه او حقيره حشره پيدا کړي او که دا حشره څه تري وتښتوي نو د هغه د ژغورني توان هم نه لري، نه څه شی پيدا کولی شي او نه ئې ژغورلی شي، په دې معامله کي طالب او مطلوب دواړه کمزوري او بې وسه دي، مطلوب کمزوری او بې وسه دئ ځکه چې نه د کوم څيز د خلقت او پيدا کولو توان لري او نه پر نورو د حکمرانۍ او واکمنۍ قدرت ورسره شته او طالب ځکه کمزوری او ضعيف دئ چې پداسي يوې بې وسه او کمزوري متکاء ئې تکيه وکړه او مرسته ئې تري وغوښتله چې د هيڅ څه واك او توان نه لري. وَ إِن يَسلُبهُمُ الذُّبَاب شيْئاً لا يَستَنقِذُوهُ مِنْهُ: که چېرې دا مچ له دوی څه وتښتوي له هغه ئې ژغورلی نشي، ضعُف الطالِب وَ الْمَطلُوب: طالب او مطلوب دواړه ضعيف او ناتوانه شول، هم دا مطلوب ضعيف او ناتوانه دئ، دومره چې يوه حقيره حشره هم نشي پيدا کولی، نه يوازي پيدا کولی ئې نشي بلکي که هغه تري څه وتښتوي تري خلاصولی ئې هم نشي، نه په پيدايښت کي څه اثر لري او نه په ژغورنه او نجات کي څه اغېز، لکه څرنګه چې په خلقت او پيدايښت کي هيڅ ونډه نه لري، د امورو په تدبير کي هم دومره بې وسه او ناتوانه دئ چې د مچ په شان له حقيري حشرې څه نشي ژغورلی، او هم (طالب)؛ هغه څوك چې له بل مرسته غواړي، هغه هم ضعيف شو، دا ځکه چې چا په ناتوان او ضعيف شي تکيه او بروسه وکړه هغه هم ضعيف شو.

موسی عليه السلام خپل قوم ته وايي:
قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱللَّهِ وَٱصۡبِرُوٓاْۖ إِنَّ ٱلۡأَرۡضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلۡمُتَّقِينَ ١٢٨ الاعراف:128

موسی خپل قوم ته وویل: له الله مرسته وغواړئ او صبر وکړئ، یقیناً چې زمکه د الله ده، له خپلو بنده ګانو چې چا ته وغواړي په میراث ئې ورکوي، او نېکمرغه پایله او عاقبت د پرهېزګارانو دئ.

ګورئ چې موسی علیه السلام خپل قوم ته څو توصیې کوي: یوازې له الله تعالی مرسته وغواړئ، د مشکلاتو او ستونزو په وړاندې صبر وکړئ او په دې خبرې باور ولرئ چې د زمکې ټولواك الله تعالی دئ، دا پرېکړه هغه کوي چې چا ته ئې په میراث ورکړي، خپل قوم ته د موسی علیه السلام وینا په دغو اساسي خبرو کې راخلاصه کوي: یوازې له یوه الله استعانت، د ستونزو او کړاوونو په وړاندې صبر او په دې خبرې یقین درلودل چې د زمکې مالك الله دئ او د دې فیصله به الله کوي چې له خپلو بندګانو ئې چا ته په میراث ورکړي، له بل چا د دې طمع مه لرئ چې هغه د زمکې وراثت تاسو ته وسپاري، او په دې خبرې باور درلودل چې د پرهېزګارانو عاقبت نېك دئ او وروستۍ فتح او بریا د دوی ده.

باید وګورو چې دلته له پرهېزګارانو مراد څوك دي؟ کومو پرهېزګارانو ته به الله تعالی زمکه په میراث ورکوي؟ د آیت لومړۍ برخه ئې مونږ ته رامعرفي کوي، دا پرهېزګاران هغه دي چې له الله تعالی پرته له بل چا استعانت نه غواړي، له دې ځان ساتي چې له الله تعالی پرته بل چا ته لاس اوږد کړي، هغه چې د مشکلاتو په وخت کې نه بې صبره کېږي، له بې حوصلګۍ او بې صبرۍ ځان ساتي او له دې هم ځان ساتي چې تصور وکړي له ا لله تعالی پرته بل څوك هم کولی شي چا ته اقتدار ورکړي او چا ته د زمکې وراثت وسپاري، څوك چې له دغو خبرو ځان ساتي د همدغو پرهېزګارانو عاقبت غوره دئ او وروستۍ فتح او بریا به د دوی په برخه کېږي.

لکه څنګه چې د فاتحې په سورې کې دغه آیت د سورې په منځنۍ برخې کې راغلی، درې آیتونه تر دې مخکې او درې تر دې وروسته او په منځ کې (**إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ**: خاص ستا عبادت کوو او خاص له تا مرسته غواړو)، لکه چې دا آیت د دې سورې لپاره محور دئ، همدا آیت او همدا مطلب د ټول قرآن لپاره هم محور دئ، یعني قرآن عظیم الشأن ټول په همدغه محور څرخېږي، د پیغمبرانو د دعوت خلاصه همدا ده، د قرآن عظیم الشأن د بلنې او د دعوت تر

ټولو ستر او محوري مطلب همدغه دئ (**إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ**) **او** همدا له الله سره د انسان د تعلق او رابطې څرنګوالی ښيي، او په الله تعالی باندي د ایمان ستره تقاضا همدا ده.

له الله تعالی سره کلکه مینه

نن په الله تعالی باندي د ایمان له غوښتنو یوه بله اساسي غوښتنه چي هغه له الله سره مینه او محبت ده توضیح کوو.

انسان یا له دې کبله له یوه شي سره مینه ساتي چي د هغه ذات، د هغه ښایست او د هغه جمال او کمال د دې باعث او مشوق وي چي انسان له هغه سره مینه وساتي او یا له دې کبله چي هغه د ده په ژوند کي څه اثر لري، د هغه د انعام او پېرزویني مرهون وي. مور هم له دې کبله باید له الله سره مینه ولرو چي هغه زمور پیدا کوونکی دئ، زمور پالونکی او ساتونکی دئ، مور ته رزق او روزي راکوي، هغه زمور منعم دئ، او له دې کبله هم چي هغه د ټولو ستاینو وړ دئ، د ټولومحامدو او ښېګڼو خاوند دئ او د کمال خاوند دئ. مور له الله تعالی سره له دې کبله هم مینه لرو چي هغه د کمال خاوند دئ، او له دې کبله هم چي هغه زمور منعم دئ، مور د هغه د پېرزوینو مرهون یو.

له الله سره باید انسان هومره مینه ولري چي دا مینه په بلي هري مینې غالبه وي او په دغه مینه کي انسان هیڅ شی له الله سره برابر نه کړي، دا شدیده مینه په الله باندي د ایمان بله غوښتنه او تقاضا ده، لکه چي قرآن فرمایي:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ ٱللَّهِ ۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ ۗ وَلَوْ يَرَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ إِذْ يَرَوْنَ ٱلْعَذَابَ أَنَّ ٱلْقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا وَأَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعَذَابِ ١٦٥ إِذْ تَبَرَّأَ ٱلَّذِينَ ٱتُّبِعُواْ مِنَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُواْ وَرَأَوُاْ ٱلْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ ٱلْأَسْبَابُ ١٦٦ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُواْ لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُواْ مِنَّا ۗ كَذَٰلِكَ يُرِيهِمُ ٱللَّهُ أَعْمَٰلَهُمْ حَسَرَٰتٍ عَلَيْهِمْ ۖ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنَ ٱلنَّارِ ١٦٧ البقره:165-167

او له خلکو ځیني له الله پرته داسي سیالان نیسي چي له الله سره د مینې په څېر ورسره مینه کوي او هغه خلك چي ایمان ئې راوړی؛ د الله په مینې کي تر ټولو شدید دي. او کاش ظالمان په هغه څه پوه شي چي د عذاب د لیدو په وخت کي

ئې په خپلو سترګو ګوري چې یقیناً ځواك ټول الله لره دئ او الله سخت عذاب ورکوونکی دئ. هغه وخت چې متبوعان (پیشوایان) به له خپلو تابعانو (پلویانو) بې زاره وي او عذاب به وګوري او ټولې اړیکي به ئې وشلیږي. او هغه چې متابعت ئې کولو وبه وایي: کاش (دنیا ته) بېرته ګرځېدل مو (په برخه شوی) وی، ترڅو له دوی داسي بې زاره شو لکه چې دوی له موږ بې زاره شوي، همداسي به الله دوی ته خپل عملونه په خپل ځان د حسرتونو په بڼه کي وښیي او له اور به وتونکي نه وي.

ځینې په محبت کي شرك کوي، په محبت کي الله لره سیالان نیسي، د الله په څېر او احیاناً تر هغه زیات ورسره مینه کوي، خو واقعي مؤمنان له الله سره تر هر څه زیاته او کلکه مینه لري، له الله سره مینه د ایمان تقاضا او د مؤمن نښه ګڼل شوې، انسان یا په دې خاطر له یوه شي سره مینه کوي چې ده ته ئې کومه ګټه رسولې، له ده سره ئې کوم احسان کړی او داسي کوم څه ئې له هغه ترلاسه کړي چې دی ورته اړ وو او یا په دې خاطر چې په هغه شي کي ئې د ښکلا، حسن او کمال داسي څه لیدلي وي چې د ده په ذهن او زړه ئې اغېز کړی او جذبات او احساسات ئې راپارولي، له الله تعالی سره د شدیدي مینې وجه هم دا ده چې پر موږ باندې د ده احسان او پېرزوینه تر هر چا زیاته ده، موږ ته ئې ټول هغه څه راکړي او ټول هغه څه ئې راته پیدا کړي چې موږ ورته اړ وو، هغه ژوند راکړی، هغه رزق او روزي راکوي، هغه مو ساتي او هغه مو پالي او په دې خاطر هم ورسره مینه لرو چې په عالم کي د ښکلا او ښایست بې شمېره مظاهر او آثار د هغوی له خالق سره زموږ مینه راپاروي، چې هري خوا ته سترګي واړوو نو زړه وړونکې ښکلا مو تر سترګو شي، په ګلانو، بوټو، مرغانو، غرونو، درو، دښتو کي، د آسمان په ستورو کي او د زمکي او آسمان په هر څه کي ښایست ګورو، دغه ښایست چې زموږ په زړونو کي کومه مینه راپاروي، همدا مینه له الله سره په مینې بدله شي. لکه څنګه چې ځینې په مینه کي د شرك مرتکب کېږي، همداراز ځینې نور په وېره کي د شرك مرتکب شي، له الله پرته له نورو هومره وېرېږي چې داسي وېره یوازي له الله ښایي، انسان له هغه څه وېرېږي چې ده ته ګټه یا تاوان رسولی شي، د ده په ژوند کي او ده ته د رزق او روزي په ورکړي کي ئې څه اغېز او ونډه وي، موږ ته ژوند الله راکړی او رزق روزي هغه راکوي، نو ځکه باید

يوازي له هغه ووپرپږو. هغه کسان چې په دنيا کې ئې د ظالمو او مفسدو سياسي او مذهبي مشرانو قيادت منلی، يا ئې د دې لپاره د ظالمانو ملاتړ کړی چې له دوی ئې طمع وه او يا د دوی له مؤاخذې او نيوني وپرېدل او يا د جهل او ناپوهۍ او کوم بل غرض او مرض په وجه، نو د قيامت په ورځ او هغه وخت چې الهي عذاب او له دوی د خپلو مشرانو بې زاري په خپلو سترګو وګوري، په خپلې غلطۍ به پوه شي چې ولي ئې د الله عذاب هېر کړی وو او د ظالمو واکمنانو له ځواك او عذاب د وېرې له کبله ئې د الله د دښمنانو ملګرتيا کړې وه، وبه ګوري چې د ځواك اصلي خاوند الله دئ او دا په ظاهر کي ځواکمن مشران د ده په وړاندې څومره ناتوانه او ضعيف دي، له چا چې دوی د مرستې طمع کوله په خپله د الله په عذابونو اخته دي، نه يوازې د دوی مرسته نشي کولی بلکي له دوی بې زاره دي، دا طمع به کوي چې کاش ببرته دنيا ته وګرځي او هلته له دوی خپله بې زاري اعلان کړي.

همدا راز قرآن عظيم الشأن فرمايي:

قُلۡ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ وَإِخۡوَٰنُكُمۡ وَأَزۡوَٰجُكُمۡ وَعَشِيرَتُكُمۡ وَأَمۡوَٰلٌ ٱقۡتَرَفۡتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٞ تَخۡشَوۡنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرۡضَوۡنَهَآ أَحَبَّ إِلَيۡكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٖ فِي سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ ٱللَّهُ بِأَمۡرِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٢٤ التوبه: 24

ورته ووايه: که مو پلرونه، زامن، ورونه، مېرمني، خپلوان، راغونډ کړي مالونه مو، هغه تجارت چې د بازار له سوړوالي ئې وېرېږئ او هغه کورونه مو چې خوښوئ ئې، تاسو ته تر الله، د هغه تر پيغمبر او د ده په لاري کي تر جهاد زيات محبوب وي، نو د الله پرېکړي ته انتظار وکړئ چې الله داسي فاسق قوم نه هدايتوي.

په دې آيت کي د دنيا هر هغه څه راخلاصه شوي چې انسان ورسره مينه ساتي؛ که تعلقات دي، دوستان او خپلوان دي، که شتمني، مال، دولت، تجارت او بنګلي دي، هر څه چې دي دا ټول يوې خوا ته او الله، د هغه پيغمبر او د الله په لار کي جهاد بلي خوا ته، که د چا مينه او محبت له هغو سره وي او هغوی ورته تر الله، د هغه تر پيغمبر او د الله تعالی په لار کي تر جهاد غوره وي، نو دا کسان فاسقان دي او د الهي هدايت دروازې د هغوی پرمخ ټرل شوې دي، الله ئې نه هدايتوي او له الهی هدايت محروم دي.

دا د انسان د ایمان د تللو لپاره ستر او دقیق معیار او ملاك دئ، په دې سره هره لحظه انسان خپل ایمان سنجولی شي، هره لحظه د دې سؤال راپیدا کیږي چې آیا ته ایمان ته ترجیح ورکوې، الله ته، د هغه پیغمبر ته، او د الله په لار کې جهاد ته او که پلار، زامنو، وروڼو، خپلوانو، ښځې، مال، تجارت او بنګلو ته ترجیح ورکوې؟ انسان هره شېبه د خپل ایمان په اړه د همدغه معیار او ملاك او تلې په اساس قضاوت کولی شي، د چا چې تر الله، پیغمبر او جهاد له دې شیانو سره محبت زیات وي، هغوی فاسقان دي، د الله له هدایت محروم دي، د هغوی پرمخ د هدایت دروازې تړل شوې دي.

له دې آیت په څرګنده توګه معلومېږي چې هغه څوك باید د لارښود په توګه غوره نه کړو او د فتوی لپاره هغه ته رجوع ونه کړو چې د الله تعالی په لار کې ځې جهاد نه وي کړی، جهاد ځې تر هر څه غوره نه وي ګڼلی، د الله په لار کې ځې قرباني نه وي ورکړې او له کافرانو سره ځې د خپلوۍ او دوستۍ اړیکي نه وي شلولې. دا آیت تا ته وایي: پام کوه هغه څوك د امام، پیر، مرشد، لارښود، مشر او مفتي په توګه مه نیسه چې الله تعالی، د هغه پیغمبراو د الله په لار کې جهاد د خپل ژوند تر هر څه غوره نه ګڼي او قرباني کولو ته ځې چمتو نه وي. چا چې جهاد نه دئ کړی هغه نه یوازې عالم او مرشد نه دئ بلکې د هدایت دروازې ځې پر مخ تړل شوې، که دې کس ته څوك عالم وایي قضاوت ځې د قرآن له قضاوت سره مغایرت لري او د قرآن خلاف خبره ځې کړې.

همدا راز فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَن يَرۡتَدَّ مِنكُمۡ عَن دِينِهِۦ فَسَوۡفَ يَأۡتِي ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ يُحِبُّهُمۡ وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ يُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوۡمَةَ لَآئِمٖۚ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ٥٤ المائده:54

اې مؤمنانو! که له تاسو څوك له خپل دین ځنې په شا شو نو الله به ډېر ژر داسې قوم راپیدا کړي چې دوی پر ده ګران وي او دی پر دوی ګران وي، پر مؤمنانو تواضع کوونکي او پر کافرانو ځان برګنوونکي، د الله په لار کې به جهاد کوي او د هیڅ ملامتوونکي له ملامتولو به نه وېرېږي، دا د الله فضل دئ، هغه چا ته ځې ورپه برخه کوي چې دئ ځې غواړي او الله پوه د وسعت خاوند دئ.

دلته مؤمنانو ته دا ډاډ ورکړی شوی چې د منافقینو په ښلېدو او له کافرانو

سره د دوی په ملګرتیا مه غمجن کېږئ، که څوك مسلمانان کمزوري وګڼي، د دوی له ملګرتیا لاس واخلي، مرتد شي، کافران ورته ځواکمن معلوم شي، هغوی ته د ذلت سر ټیټ کړي، نو الله تعالی به د دوی په عوض کي داسي مؤمنان راپیدا کړي چي دا صفات به لري:

- پر الله تعالی به ګران وي.
- دوی به له الله تعالی سره مینه لري.
- تر مؤمنانو به ځان لوړ نه ګڼي، هغوی ته به د حقارت په سترګه نه ګوري، کمزوري او ضعیف به ئې نه شمېري، هر یو به تر ځان لوړ او تر ځان زیات د عزت خاوند بولي.
- تر کافرانو به ځان لوړ ګڼي، د هغوی په وړاندي به سر نه ټیټوي، هغوی ته به د عزت او درناوي په سترګه نه ګوري.
- د الله تعالی په لار کي به جهاد کوي.
- د هیڅا له ملامتولو به وېره نه لري، نه به د چا د تبلیغاتو پروا کوي او نه ئې د سپکو سپورو خبرو.
- دا د الله تعالی فضل دئ، هغه چا ته ئې ورپه برخه کوي چي الله تعالی ئې د دې وړ وموميِ.
- الله تعالی د پراخ فضل خاوند دئ او پوهېږي چي څوك د ده د فضل وړ او مستحق دئ.
- ګورئ چي په دې مبارك آیت کي نه یوازي له الله تعالی سره مینه د ایمان تقاضا ښودل شوې بلکي د مؤمنانو درناوی هم د ایمان نښه ګڼل شوې، واقعي مؤمنان هغه دي چي د مؤمنانو په نسبت د لویي او لوړوالي احساس نه کوي، ځان تر دوی لوړ، ستر، او اوچت نه ګڼي، بلکي مؤمنان تر ځان لوړ او ځان تر دوی ټیټ ګڼي، دا ځکه چي هغه د ایمان په رڼا کي قضاوت کوي، له الله سره ئې مینه وي، همدا مینه او محبت په دې منتهي کېږي چي د ایمان خاوندان با عزته وګڼي او سپك او حقیر ئې ونه شمېري، او د کافرانو په نسبت د عزت، لوړوالي او غوره والي احساس کوي.

الله تعالی هم واسع دئ او هم علیم او ښه پوه، پېرزوینه ئې ډېره زیاته او پراخه ده، دا ځکه چي هغه واسع دئ، او په دې پوهېږي چي چا ته څه

ورکړي، خپل فضل د چا په حال شامل کړي، څوك د دې مستحق او وړ دئ، دا ځکه چې هغه علیم دئ، پوهیږي چې څوك د ده د پراخ او وسیع فضل مستحق دئ، څوك د دې وړ دئ چې خپل فضل ورپه برخه کړي او له هغې ډلې څخه ئې وګرځوي چې الله ورسره مینه لري او دوی له الله سره مینه لري، د مؤمنانو په نسبت د ټیټوالي او انکسار او د کافرانو په نسبت د عزت او لوړوالي احساس کوي، د الله په لار کې جهاد کوي او د ملامتوونکي له ملامتولو نه وېرېږي، الله پوهیږي چې څوك د دې وړ دئ چې په همدغه ډله کې ئې شامل کړي او د هغو کسانو په ځای ئې غوره کړي چې د الله له دین او له مؤمنانو په شا تللي او مرتد شوي.

یوازې له الله وېره

لکه څنګه چې تاسو ولیدل چې انسان به له الله تعالی سره هومره مینه ساتي چې دا مینه به په بلې هرې مینې او محبت غالبه وي، هیڅ مینه به دې حد ته نه رسیږي او انسان به په خپلې مینې کې هم له الله تعالی سره ند، شریك او سیال نه نیسي، همدا راز به انسان یوازې له یوه الله وېره لري، له الله تعالی وېره، په الله تعالی باندې د ایمان بله تقاضا ده.

دا مطلب هم د قرآن عظیم الشأن د ګڼ شمېر آیتونو په ترڅ کې توضیح شوی، لکه چې د انفال د سورې په دوهم آیت کې راځي:

إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتْهُمْ إِيمَٰنًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ٢ الانفال: 2

مؤمنان خو هغه دي چې کله د الله یادونه وشي زړونه ئې وربرېږي او چې د ده آیتونه پرې ولوستل شی ایمان ئې ورزیات کړي او په خپل رب توکل کوي.

دا مبارك آیت د مؤمنانو څو ځانګړتیاوې بیانوي:

- کله چې د الله یادونه وشي زړونه ئې پورېږی.
- کله چې د ده آیتونه وربانديي ولوستل شی ایمان ئې ورزیات کړي.
- او په خپل رب توکل کوي.

یعني کله چې د دوی په وړاندې د الله تعالی نوم واخیستل شي، یا په خپله ورپه یاد شي، له وېرې او مینې ئې زړه په دربېدا شي، د خپلو ګناهونو او

قصور او د بخښونکي رحمان خدای جل شأنه د وسیع پیرزوینو او پراخ رحمت په رایادولو سره ئې زړه رېږدي او له سترګو ئې اوښکي بهېږي، دا پر الله تعالی د ایمان تقاضا ده او همدا د الله تعالی د ښه پېژندو لپاره یو دقیق معیار، هغه څوك دي په خپل ایمان ډاډه وي چې د الله تعالی د نامه په رایادولو سره ئې زړه وپورېږي او له سترګو ئې اوښکي وبهېږي، خو که د الله تعالی د نوم په اورېدو سره ئې نه د زړه کیفیت بدل شو او نه ئې د څېرې، باید خپل ایمان ته بیاکتنه وکړي.

آیا په کوم لمانځه کي، پدې خاطر ستا زړه لړزېدلی او له وېرې او هیبته ستا وېښتان زیږه شوي چې فکر دي کړی د رب العالمین، قهار او جبار خدای جل شأنه په وړاندي ولاړ یې؟ که داسي نه وي شوي نو تا نه په حقیقي معنی خدای یاد کړی او نه دي واقعي لمونځ کړی.

د قرآن د آیتونو په اورېدو سره چې د چا ایمان مزید مضبوط شو، آیتونو د ده ایمان ته ځلا او قوت ورپه برخه کړ، باید په خپل ایمان مطمئن وي او که داسي ونه شول باید په خپل ایمان کي تجدید نظر وکړي. که د سخت اضطراب او پرېشانۍ په حالت کي، تا د قرآن داسي څو آیتونه واورېدل چې درته وایي: صبر وکړه، الله د مؤمنانو مل دئ، مرګ په خپل وخت راځي، د مرګ پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، په همدې سره ستا ټوله پرېشاني رفع شوه او شدید اضطراب دي په سخت ډاډمن سکون او اطمئنان بدل شو، نو پوه شه چې مؤمن یې او که داسي ونه شول او د قرآن د آیتونو په اورېدو سره نه ستا پریشاني له منځه ولاړه او نه دي زړه ډاډه او مطمئن شو، نو پوه شه چې په تا کي د ایمان یوه ځانګړتیا او نښه نشته.

ستا د ایمان یوه بله څرګنده نښه دا ده چې په خپل رب توکل ولري، الله تعالی خپل وکیل وګڼې، ځان هغه ته وسپاری، له زړه په هغه اعتماد ولرې او په هري پرېکړي ئې راضي وې او که داسي نه وي نو ایمان دي پیکه دئ او له یوې مهمي ځانګړتیا او تقاضا محروم.

د دې آیت ارتباط له مخکني سره دا دئ چې په مخکني کي ویل شوي له الله تعالی ووېرېږئ، خپلمنځي اړیکي مو روغي وساتئ، د الله تعالی او د هغه د رسول اطاعت وکړئ، دلته د همدغو دریو خبرو مزید وضاحت شوی، د تقوی

په شرح کي ويل شوي د الله تعالى د نامه په يادولو سره د مؤمنانو زړونه رپږدي، د خپلمنځي اړيکو د اصلاح په شرح کي ويل شوي چي د آيتونو په اورېدو سره ئې ايمان مضبوطېږي، او د الله او پيغمبر د اطاعت په شرح کي ويل شوي چي ځان الله ته حواله کوي او پر هغه توکل کوي.

واقعي مؤمنان هغه دي چي د الله تعالى د نامه په اورېدو سره ئې زړونه رپږدي، د خداى د نوم له هيبته او له هغه د وېرې او خوف له کبله د دوى زړونه پرېږي، کله چي د الله نوم ياد شي، نو په دوى وېره او هيبت مسلط شي. دا هم د مؤمن د پېژندو لپاره ملاك دئ، په دې سره ته مؤمن انسان پېژندلى شې، څوك چي د الله تعالى د نامه په وړاندي بې اعتناء او بې تفاوته وي، که د ده په وړاندي د الله نوم هم واخيستل شي، په ده کي هيڅ تبديلي رانشي او زړه ئې له خوف او وېرې ونه پرېږى، او کله چي د الله آيتونه واورې ايمان ئې لازيات مضبوط نشي او پر خپل رب توکل او اعتماد نه لري، هغه دي په خپل ايمان ووپرېږي، لکه چي دلته قرآن په همدې صيغه فرمايي: وَ إِذَا تُلِيَت عَلَيهِمْ ءَايَتُهُ زَادَتهُمْ إِيمَناً وَ عَلى رَبِّهِمْ يَتَوَكلُونَ: او کله چي د الله آيتونه پرې ولوستى شي د دوى ايمان تقويه کړي، د آيتونو په اورېدو سره ئې د الله تعالى په نسبت اعتماد او توکل زيات شي، يقين ئې پوخ شي، الله تعالى ته ئې اميد اضافه شي او په خپل رب توکل او اعتماد کوي.

د احد له جګړې وروسته د دښمن ځيني مبلغين راتلل او په مدينه کي ئې دا تبليغات کول چي قريشو لوى لښکر تعبيه کړى او پر مدينې د لويي حملې اراده لري، ستاسو د ختمولو لپاره ئې پوره تيارى نيولى، له دې ووپرېږئ، خو په ځاى د دې چي د دښمن دا تبليغات او راغونډ شوي فوځونه د واقعي مؤمنانو په زړونو کي وېره او خوف راپيدا کړي، برعکس دا خبره د هغوى د ايمان د تقويي باعث شوه، قرآن په دې اړه فرمايي:

ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدْ جَمَعُواْ لَكُمْ فَٱخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَٰنًا وَقَالُواْ حَسْبُنَا ٱللَّهُ وَنِعْمَ ٱلْوَكِيلُ ١٧٣ آل عمران: 173

هغه چي خلکو ورته وويل: (د دښمنانو) ډېر خلك درته راغونډ شوي، له دوى بايد ووپرېږئ، نو دې خبري د دوى ايمان لازيات کړ او ويل به ئې: الله تعالى مونږ ته کافي دئ، څومره غوره وکيل.

خو د همدغه کس په اړه چې د مؤمنانو په صفوفو کې ئې دا تبليغات کول، هغوی ئې وېرول او په هغوی کې ئې خوف او وېره راپيدا کوله، قرآن داسي فرمايي:

إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ يُخَوِّفُ أَوۡلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمۡ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٧٥
آل عمران:175

دا خو فقط شيطان وو چې خپل دوستان ئې وېرول، نو له هغوی مه وېرېږئ، له ما ووېرېږئ که مؤمنان ياست.

قرآن کريم همدې کس ته چې له کافرانو مؤمنان وېروي؛ د شيطان لقب انتخاب کړی. دا يقيناً شيطان دئ چې خپل اولياء وېروي، د چا چې د شيطان سره څه تعلق او رابطه وي او له هغه سره ئې دوستي قائمه کړې وي هغه به د شيطان د تبليغاتو تر تأثير لاندي راځي او په دې ترتيب به شيطان د هغه په زړه کې وېره او خوف راپيدا کوي، شيطان خپل اولياء وېروي يا شيطان د خپلو اولياوو او دوستانو څخه خلك وېروي.

▫♦✍ ②◻❖♦🔔▫➔❑🙰☠⬀ ❒◆❀♦🔔▫➔❑◻ ✓×♦⓾ ✌🗷⬈🗨☪⬊↓⬈☹ ✌ ⓿⓿ ❍⬊☪ ⬊✓×♦: نو له دوی مه وېرېږئ، له ما ووېرېږئ که ايمان لرئ. که تاسو په ربښتيا پر الله تعالی ايمان لرئ نو يوازي له ده وېرېږئ، د دښمن له فوځونو او لښکرو به وېره نه لرئ، کوم تبليغات چې د دښمن په ګټه ستاسو په صفوفو کې د دې لپاره روان دي چې په تاسو کې وېره او خوف راپيدا کړي، له دې تبليغاتو به نه متأثره کېږئ، له دښمن به وېره نه لرئ، که تاسو ربښتيا پر الله تعالی ايمان لرئ نو يوازي له ده به وېرېږئ.

همدا راز قرآن عظيم الشأن د مؤمنانو په شان کې فرمايي:

تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمۡ عَنِ ٱلۡمَضَاجِعِ يَدۡعُونَ رَبَّهُمۡ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ١٦
السجده:16

اړخونه ئې د خوب له ځای کناره شي، خپل رب له وېرې او طمعې سره بلي او له هغه څه انفاق کوي چې موږ ورروزي کړي.

دلته د مؤمنانو حال بيانوي او فرمايي چې: د شپې له خوا ئې اړخونه له مضجع او د پرېوتو له ځای لرې او کناره کېږي، خوب او آرام بستر پرېږدي،

د شپې په خلوت کي د آرام له بستر د هغوی اړخونه کناره شي، د عبادت لپاره خلوت شي، خپل رب ته دعاء کوي، د شپې په خلوت کي له بستر اوچت شي، خوب او آرام پرېږدي، خپل رب ته په دعاء او د هغه په عبادت کي مصروف شي، (خوفاً و طمعاً: له وېرې او هيلې سره)، له يوې خوا له الله جل جلاله او د هغه له عذاب وېرېږي او په همدې خاطر د شپې په زړه کي د الله په عبادت لګيا شي، خوب پرېږدي او له آرام بستر کناره شي او له بلي خوا الله جل جلاله ته طمع او هيله لري چي د همدې طمعې او هيلې په وجه بستر پرېږدي، د الله تعالى په وړاندي ودرېږي او د هغه عبادت کوي.

همدا راز فرمايي:

أَلَمۡ يَأۡنِ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن تَخۡشَعَ قُلُوبُهُمۡ لِذِكۡرِ ٱللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ ٱلۡحَقِّ وَلَا يَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلُ فَطَالَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَمَدُ فَقَسَتۡ قُلُوبُهُمۡۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ١٦ الحديد:16

آيا مؤمنانو ته هغه وخت نه دئ را رسېدلی چي د الله تعالى په ذکر او د حق وينا په نزول سره د دوی زړونه خشوع وکړي؟ (آيا مؤمنان هغي مرحلې ته نه دي رسېدلي چي اوس د الله تعالى د نوم او د قرآن د آيتونو په اورېدو سره د دوی په زړونو کي وېره راولاړه شي، اوس خو بايد هغي مرحلې ته رسېدلي وي چي د الله تعالى د نامه او د قرآن د حق وينا په اورېدو سره د دوی په زړونو کي خشوع او وېره راپيدا شي)، او د هغو کسانو په څېر نه وي چي تر دوی وړاندي کتاب ورکړی شوی نو چي زمانه پرې اوږده شوه زړونه ئې سخت شول او اکثر د دوی فاسقان دي.

دوی بايد د اهل کتابو په څېر نشي چي د زمانې په تېرېدو او د مبارزې په اوږدېدو سره ئې د زړونو لومړنی خشوع ختمه شوه، په زړونو کي ئې سختي راپيدا شوه، په ځای د دې چي د زمانې طولاني کېدل د هغوی د مزيدي تربيې او د رشد او کمال باعث شي، له الله تعالى سره ئې رابطه مزيد ټينګه شي او د الله تعالى په ذکر سره ئې په زړونو کي خشوع راپيدا شي او هر څومره چي الهي آيتونه په دوی تلاوت کېږي، د دوی په زړونو کي خشوع او وېره اضافه شي، برعکس د زمانې په تېرېدو او د سفر په اوږدېدو سره د هغوی د زړونو سخت والی اضافه شوی. دوی ګمان کاوو چي دا لنډ سفر دئ، ډېر ژر به منزل

ته رسېږي، ښايي په طولاني سفر امتحان نشي، د اوږده سفر په پلي کولو ونه آزمويل شي، مبارزه ئې اوږده نشي او له لوړو ژورو او کږلېچونو سره مخامخ نشي، ګمان ئې کاوه چې سفر لنډدئ، ډېر ژر به مقصد ته رسېږو او بيا به فتح او بری وي، له دې کبله په اخلاص او صداقت او په شور، شوق او نشاط سره لاړل په صفوفو کي ودرېدل، خو چې لږ مبارزه اوږده شوه، سفر اوږد شو او ژر مقصد ته ونه رسېدل، د دې په وجه د هغوی زړونه سخت شول. په کار خو دا وه چې هر څومره په دې مسير کي زيات درومي، همدومره د دوی رابطه او تعلق له الله تعالی سره ټينګېدلی، همدومره په معنوي لحاظ لوړ تللی، د هغوی زياته تربيه کېدی، ولې برعکس د زماني د طولاني کېدو له کبله هغوی خپل ابتدائي او د لومړيو شپو او ورځو اخلاص له لاسه ورکړ او د دوی په زړونو کي چې کومه خشوع وه هغه هم ختمه شوه.

زه ډېر داسي کسان ګورم چې د دې آيت مصداق دي، په ابتداء کي ډېر په اخلاص سره راوړاندي شول، خو متأسفانه ورو ورو، د دې په ځای چې له فکري، اخلاقي او عملي پلوه ئې ارتقاء په برخه شي او لوړ ولاړ شي، برعکس په شا ولاړل، زړونه ئې سخت شول، سقوط ئې وکړ او د همدې آيت مصداق شول (فقست قلوبهم)... په ابتداء کي ښه په اخلاص سره لګيا ول، خو څومره چې مبارزه طولاني کېده، د دوی اخلاص کمېدو، هغوی دومره اخلاص او قوي ايمان نه درلود چې په دې طولاني موده کي په خپل حال پاتي شي او په فتنو کي صدمه ونه ګوري، بلکي اخلاص ئې دومره وو چې د څو شپو ورځو لپاره مقاومت وکولی شي، په دې فکر کي ول چې ښايي په کومي کودتا سره به انقلاب کامياب شي او دوی ته به رياستونه او وزارتونه په لاس ورشي، سفر ئې لنډ ګڼلو او ګمان ئې نه کاوو چې دا مبارزه به دومره اوږده او طولاني شي، له دې کبله ئې د همغه لومړيو شپو ورځو اخلاص له لاسه ورکړ او د هغو کسانو په څېر شول چې تر دوی وړاندي کتاب ورکړی شوی وو، چې زمانه پرې طولاني شوه، زړونه ئې سخت شول، نه يوازي زړونه ئې سخت شول؛ بلکي د دوی اکثر د فسق مرتکب شول، له حدودو ئې تېری وکړ او د الله تعالی له اوامرو ئې بغي او سرغړاوی وکړ.

د المائدې د سورې په 44 آيت کي هم دا مطلب توضيح شوی، هلته فرمايي:

إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلۡأَحۡبَارُ بِمَا ٱسۡتُحۡفِظُواْ مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ عَلَيۡهِ شُهَدَآءَۚ فَلَا تَخۡشَوُاْ ٱلنَّاسَ وَٱخۡشَوۡنِ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗاۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ٤٤

یقیناً چې دا تورات مو نازل کړ چې په هغه کې لارښوونه او رڼا ده، په دې سره هم هغو پیغمبرانو یهودانو ته پرېکړي اورولې چې مسلمانان ول او هم خدای پالونکو او علماوو په هغه څه چې د الله له کتابه ئې په حفاظت ګمارل شوي وو او پرې شاهدان ول، نو له خلکو مه وېرېږئ او له ما ووېرېږئ او زما پر آیتونو ناڅیزه بیع مه پیرئ او چا چې په ماانزل الله حکم ونکړ نو همدا دوی کافران دي. په دې مبارکو آیتونو کې لاندې لارښوني موږ ته شوې:

تورات یو لارښود الهي کتاب وو چې خلك ئې له تیارو ایستل او د نجات او سعادت روښانه

- لار ئې وربنوده.
- خدای او د ده دین ته منقاد انبیاوو د یهودو تر منځ د دغه کتاب مطابق پرېکړي کولې. د یهودو خدای پالو علماوو او مذهبي شخصیتونو هم د دوی ترمنځ د دغه کتاب احکام پلي کول، په خپله هم د دې کتاب ساتونکي او د پلي کولو ئې عملي بېلګي ول، عملاً ورته منقاد ول او د دوی په عملي ژوند باندې دې کتاب داسي سیوری غورولی وو چې د هر چا تر سترګو کېدو.
- تاسو هم باید د مخکنیو انبیاوو او خدای پالو علماوو په څېر عمل وکړئ، د خلکو له وېرې او د دنیایي ګټې په طمع الهي احکام شا ته مه غورځوئ.
- څوك چې د الله تعالی له لوري د لېږل شوي کتاب مطابق حکم ونه کړي، کافر دئ، د الله تعالی په نزد ئې د ایمان ادعاء هیڅ اعتبار او وزن نه لري.

همدا راز د التوبه د سورې په 13 آیت او ورپسې په 18آیت کې هم دې مطلب ته اشاره شوې، هلته چې فرمایي:

أَلَا تُقَٰتِلُونَ قَوۡمٗا نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ وَهَمُّواْ بِإِخۡرَاجِ ٱلرَّسُولِ وَهُم بَدَءُوكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٍۚ أَتَخۡشَوۡنَهُمۡۚ فَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخۡشَوۡهُ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٣ التوبه: 13

آیا له هغو خلکو سره نه جنګېږئ چې خپلې ژمنې ئې ماتې کړې، د پیغمبر د ایستلو هوډ ئې وکړ او د لومړي ځل لپاره ئې له تاسو سره جګړه پیل کړه، آیا

له دوی وپرپږئ، نو الله خو د دې زیات وړ دئ چې تري ووپرپږئ که ایمان لرئ.

همدا راز فرمایي:

إِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَلَمۡ يَخۡشَ إِلَّا ٱللَّهَۖ فَعَسَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ ۱۸ التوبه: 18

یقیناً چې د الله جوماتونه هغه څوك آبادوي چې په الله او د آخرت په ورځ ئې ایمان راوړی، لمونځ ئې وکړ او زکات ئې ورکړ او له الله تعالی پرته له بل چا ونه وپرېدل، هیله ده دا کسان له مهتدینو څخه وي.

یعني له معنوي پلوه د جوماتونو او مساجدو د اعمار کار هغه خلك کولی شي چې صفات ئې په دې آیت کي ښودل شوي، د جوماتونو ظاهري آبادي او اعمار ېبل کار دئ او د هدایت له پلوه ئې رغول او اعمار ېبل. لکه چې په یوه روایت کي راغلي چې په آخره زمانه کي به جوماتونه په ظاهر کي ښه آباد، مزین او ښایسته وي خو د هدایت له پلوه به خراب او وران وي.

جوماتونه د هدایت له ناحیې هغه څوك آبادولی شي او هغه داعي د الله د دین خدمت کولی شي چې د مخکنیو صفاتو ترڅنګ دا صفت هم ولري چې له الله تعالی پرته له بل چا ونه وپرېږي. د آیت په پای کي دا وینا چې هیله ده دغه کسان هدایت موندونکي وي؛ ښیي چې له دغو صفاتو علاوه هم داسي څه شته چې د هدایت لپاره ضروري دي، یوازي دغه صفات کفایت نه کوي، پر دغو صفاتو سربېره ځیني داسي پراوونه شته چې له هغوی د تېرېدو په صورت کي دا ثابتېږي چې آیا دوی له هغو کسانو څخه دي چې لار ئې موندلې که نه؟ یوازي دا څو خبري کافي نه دي، بلکي مزید څه ته ضرورت شته، چې هغه په ورپسې آیت کي توضیح کېږي، عملي جهاد به دا ثابتوي چې د چا په زړه کي له الله تعالی وېره ده او څوك په ربښتیا هدایت شوی دئ او ایمان لري، په جهاد کي دا معلومېږي، جهاد هغه ملاك او معیار دئ چې د هغه په ترڅ کي د چا د ایمان حقانیت او حقیقت څرګندېږي، د جهاد په دوران کي به دا معلومېږي چې څوك په خپل ایمان کي ربښتینی دئ او څوك دروغجن، څوك مخلص مؤمن دئ او څوك منافق؟ په همدې خاطر د دغو صفاتو له بیانولو وروسته ویل کېږي چې:

همدا راز فرمايي:

ٱلَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَٰلَٰتِ ٱللَّهِ وَيَخۡشَوۡنَهُۥ وَلَا يَخۡشَوۡنَ أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا ٣٩ الاحزاب: 39

هغه (انبياء) چې الهي رسالتونه رسوي او تري وېرېږي او له الله پرته له هيڅا نه وېرېږي او الله د حساب کوونکي په توګه کافي دئ.

د النساء د سورې په 77 آيت کې هم دا مطلب په دې الفاظو توضيح شوی:

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمۡ كُفُّوٓاْ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقِتَالُ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ يَخۡشَوۡنَ ٱلنَّاسَ كَخَشۡيَةِ ٱللَّهِ أَوۡ أَشَدَّ خَشۡيَةٗۚ وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبۡتَ عَلَيۡنَا ٱلۡقِتَالَ لَوۡلَآ أَخَّرۡتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖۗ قُلۡ مَتَٰعُ ٱلدُّنۡيَا قَلِيلٞ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظۡلَمُونَ فَتِيلًا ٧٧ النساء:77

هغو ته دي ونه کتل چې ورته وويل شو: لاسونه مو راتم کړئ، لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ، خو کله چې پر دوی جهاد فرض کړی شو نو يوه ډله ئې له خلکو داسي وېرېده لکه له الله او يا تر دې هم سخته وېره او ويل ئې: اې زمونږ ربه! ولي دي پر مونږ جنګېدل فرض کړل؟ ولي دي تر يوې نږدې نېټې ونه ځنډولو؟ ورته ووايه: د دنيا متاع خو وړوکی شی دئ او آخرت غوره دئ، د هغه لپاره چې تقوی ئې غوره کړه او د بڅرکي په اندازه به پر تاسو تېری ونشي.

دا مبارك آيت وايي:

ځيني خلك داسي وي چې له دښمن سره د جګړو د وخت له رارسېدو مخکي په جګړې ټينګار کوي، او وايي: بايد له دښمن سره د يوې پرېکندې نښتي له لاري خبره پای ته ورسوو او ستونزه د تل لپاره حل کړو، خو دا ټينګار ئې له قوی ايمان او د الله په لار کي د قربانۍ له جذبې نه وي راولاړ شوی، بلکي له بيمار زړه راخوټېدلی وي، په دې بې وخته ټينګار سره غواړي چې ځان مخلص او انقلابي وښيي او په خپلو غلطو عملونو او غلطو ويناوو پرده واچوي او خلکو ته وښيي چې که اوس او د سختي ورځې له رارسېدو مخکي هغوی څه قصور لري او په عمل کي تر نورو شاته پاتي دي او د خپلو ديني او مذهبي دندو په اداء کولو کي لټي کوي، کله چې په دې اړه ورباندي اعتراض وشي نو وايي: که له دښمن سره د نښتي او له دين د دفاع وخت راورسېدو نو مونږ به

ترټولو مخلص ومومئ، زمونږ په اخلاص او صداقت به هلته پوه شئ چې په لومړي خط کي مو توره په لاس او متې بروهلي وګورئ!! وبه ګورئ چې تر هر چا مخکي یو او په لومړي خط کي د دښمن مقابله کوو!! خو کله چې د جګړې اصلي وخت راورسېږي او په دې اړه صریح او واضح فیصله وشي او د قرآن صریح او واضح حکم د هغه غوښتنه وکړي نو دا کسان به داسي ومومئ چې سخته وېره به ئې په څېرو کي څرګنده وي، خړي سترګي؛ د هغه چا په څېر چې د مرګ له وېرې او هیبته بې هوشه شوی، له خلکو به داسي وېرېږي لکه له الله او حتی له خلکو به ئې وېره هومره وي چې له الله به دومره نه وېرېږي!!

- بیا به وایي: اوس خو د جګړې مناسب وخت نه دئ، ضروري وسائل نه دي برابر شوي، څه نور وخت ته ضرورت لرو، باید جګړه وځنډېږي!!
- دوی جګړه او له دښمن سره مخامخ کېدل داسي ګڼي لکه د مرګ په لوري چې خوځول کېږي، لکه مرګ چې تیار دوی ته خپل کومی پرانیستی وي او د مرګ نېټه ئې رارسېدلې وي!! وایي به: خدای ولي مونږ ته د څه نوري مودې لپاره د ژوندي پاتي کېدو موقع رانکړه او داسي ژر ئې له جګړو سره مخامخ کړو!!
- دې خلکو ته فقط یو ځواب په کار دئ او هغه دا چې: له دنیا سره افراطي مینه مو له مرګه وېروي، آخرت مو هېر کړی، دنیا ته په آخرت ترجیح ورکوئ، د همدې لپاره له مرګه وېرېږئ او له جنګه ډډه کوئ. د الله په عدالت باور نلرئ، ګمان کوئ چې الله به د مسلمانانو هلي ځلي او قربانۍ ضائع کړي، حال دا چې الله د وړې ذرې په اندازه هم په خپلو بندګانو ظلم نه کوي.
- په دې پوه شئ چې په کور کي ناستي سره او کلکو مورچلو او دنګو کلاګانو ته په پناه وړلو سره هم له مرګه نه شئ خلاصېدی، په هر صورت به د مرګ داعي ته لبیك وایئ.

ګورئ چې دلته د هغو کسانو حالت انځور شوی چې ورته ویل شوي وو: خپل لاسونه راتم کړئ، په دې مرحله کي یوازي دا کار وکړئ چې خپل لاسونه له تېري وساتئ، د بل پر حقوقو تېری او تجاوز مه کوئ، یا تړې مقصد دا دئ چې له جنګ ځان وساتئ، مطالبه ئې مه کوئ، مه وایاست چې ولي د جنګ

احکام نه نازلیږي، ترڅو د کافرانو په خلاف وجنګیږو، یعني د بل چا پر حقوقو له تېري او تجاوز ځان وژغورئ او له جنګ ډډه وکړئ. ښایي دا خطاب هغو کسانو ته متوجه وي چې د قتال د حکم له نازلېدو د مخه ئې په لجاجت او اصرار سره ویل: ولي دا فرصتونه له لاسه ورکوو؟ ولي باید دښمن ته یو قاطع ګوزار ورنه کړو؟ ولي وسله وانه خلو؟ ولي یو انقلابي اقدام ونه کړو؟ د جګړې د مناسب فرصت له رارسېدو د مخه ئې د هغې د پیل کولو مطالبه کوله، په دې ئې اصرار کولو، د دې لپاره ئې تبلیغات کول او ویل ئې: ولې یو انقلابي، قاطع او جدي اقدام نه کېږي؟ تر څو به د مسلح جهاد د پیل کېدو د مخکنۍ مرحلې مشکلات او ستونزي ګالو؟ باید په یوه قاطع اقدام سره دا مشکلات حل کړو.

یا ئې مقصد دا دئ چې په دې مرحله کې د فرد فرد وظیفه دا ده چې د جګړې په ځای باید په لمانځه او زکات سره د ځان روزنې او تربیې ته توجه وکړي، خو کله چې قتال پرې فرض کړی شو ناڅاپه د دوی یوه ډله له خلکو داسې وېرېده لکه له الله تعالی، د جنګ د حکم له نازلېدو وروسته د دوی حالت داسې شو چې له دښمن ئې هومره وېره او خوف وو لکه له الله، او تر دې هم زیاته وېره، له الله تعالی ئې دومره وېره نه وه لکه له خلکو، او ویل ئې: ای زمونږ ربه! ولې دي جنګ راباندې فرض کړ؟ ولې دي مزید مهلت او فرصت رانه کړ، چې تعداد مو زیات شوی وی، کافي وسائل مو برابر کړي وی، تر اوسه لا مونږ هغې مرحلې ته نه یو رسېدلي چې وسلې ته لاس کړو او جنګ شروع کړو!

زمونږ روان جهاد هم له دې مرحلې تېر شوی، د جهاد په شروع کې زمونږ له ملګرو هم ځینو کسانو همداسې تبلیغات کول، ښه مو په یاد دي چې مونږ ته ئې ښه ډېر مشکلات راولاړ کړي وو، همدغه الفاظ ئې ویل: لَوْ لا أَخَّرْتَنَا إِلى أَجَلٍ قَرِيبٍ: ولې دي مونږ تر یوې نږدې نېټې ونه ځنډولو، ولې مونږ ته څه مهلت او فرصت رانه کړی شو، تر څو مو ځان برابر کړی وی، پوره تیاری مو نیولی وی، وسائل مو تهیه کړي وی، دومره ژر مو له کمونستانو سره تصادم او ټکر نه وی راغلی، د سردار داؤد په خلاف مو باید وسله نه وی اوچته کړې، باید څه موده نور مو تربیتي، فکري او فرهنګي کار ته ادامه ورکړې وی، دا په مونږ باندې جنګ ولې ژر تحمیل کړی شو. له دې خبرو ئې یا مقصد دا وو چې

جنګ تر خپل مناسب وخت وړاندي پيل شو، لا موږ کافي فرصت ته ضرورت لرو تر څو د روزني او تربيې کار تکميل شي، بيا وسلې ته لاس کړو، او يائې مقصد دا وو چې جنګ ئې له مرګ او استيصال سره مترادف ګڼلو او ګمان ئې کولو چې د جنګ له شروع کېدو سره سم به زموږ استيصال کېږي او له منځه به ځو، جنګ د مرګ سره مترادف ګڼي، نو ځکه وايي: الهي! کاشکي يو څه موده نور دي موږ ته وخت راکړی وی، په دې جنګ سره خو زموږ بنياد ختمېږي او د تحريك جړې قطع کېږي. الله تعالی د دغو خلکو په ځواب کي فرمايي: قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيلٌ وَ الآخِرَةُ خَيرٌ لِّمَنِ اتَّقَى وَ لا تُظلَمُونَ فَتِيلاً: ورته ووايه: د دنيا متاع قليله او ناڅيزه ده او آخرت د هغه چا لپاره غوره دئ چې تقوی ئې وکړه، او د بڅرکي او تار په اندازه به هم په تاسو ظلم ونه شي. يعني له دنيايي ژوند او مال و متاع سره ئې مينې په تاسو کي دا وېره راپيدا کړې، له جنګ ډډه کوئ او د مزيد فرصت او مهلت غوښتنه کوئ، ګمان کوئ چې بنايي وسلې ته د لاس کولو له کبله به له هر څه محروم شئ او مخکنۍ هلي ځلي به مو ضائع شي، د دوی د دغه غلط تصور او انګېرنې په ځواب کي ويل شوي چې الله تعالی دا ظلم نه کوي چې ستاسو مخکنۍ هڅې او عملونه ضائع کړي او هيڅ نتيجه پرې مرتب نه کړي، ستاسو دا ګمان بې ځايه دئ چې د جګړې په نتيجه کي به ستاسو ټولې مخکنۍ هلي ځلي هدر شي، دا د اصلاح په لور د دعوت او بلنې کوم کار چې تر ننه مو تر سره کړی ټول به ضائع شي! الله تعالی د دوی په ځواب کي فرمايي: نه؛ د يوه بڅرکي په اندازه به هم پر تاسو باندي ظلم ونه شي، تاسو به د خپلو عملونو اجر په مکمل ډول تر لاسه کوئ، په دنيا کي هم او په آخرت کي هم، ډېر کسان له دې وېرې له دښمن سره د روغې جوړې لار غوره کوي چې ګمان کوي د عدم مداهنت او د نه روغې جوړې په صورت کي به د دوی هلي ځلي او قربانۍ ضائع او حبط شي، ډېر کار ئې کړی داسي نه چې ټول ضائع شي، خو الله تعالی فرمايي: وَ لا تُظلَمُونَ فَتِيلاً، الله تعالی انسان ته د ده د عملونو بدله او اجر په دنيا او آخرت کي ورکوي، هر څوك به د خپل عمل مکمل اجر تر لاسه کوي، الله تعالی د هيڅا اجر په هيڅ صورت کي نه ضائع کوي.

دا مطلب د قرآن عظيم الشأن په ګڼ شمېر نورو آيتونو کي هم راغلی چې مؤمن بنده به يوازي له الله تعالی څخه وېرېږي، لکه چې فرمايي:

... يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِيٓ أُوفِ بِعَهۡدِكُمۡ وَإِيَّيَ فَٱرۡهَبُونِ ٤٠ البقره: 40
او خاص له ما ووېرېږئ.
... وَإِيَّيَ فَٱتَّقُونِ ٤١ البقره:41
او خاص له ما وېره ولرئ.

دا مطلب د يوه روايت په ترڅ کي څومره ښکلی انځور شوی: څوك چي له الله څخه وېرېږي، هر څه به له هغه وېره ساتي، (الله تعالی به هغه ته هومره هيبت او وقار ورکړي چي د دنيا هر څه به له هغه وېره ساتي) او څوك چي له الله تعالی نه وېرېږي له هر څه به وېرېږي، (له هر څه به ئې وېره وي، پر زړه به ئې خوف مسلط وي)، خو چي د الله تعالی وېره ئې په زړه کي ځای ونيو، بيا الله تعالی ورته هومره وقار او هيبت ورکړي چي هر څه له ده وېره ساتي، په دې اړه پيغمبر عليه السلام فرمايي: ما ته په داسي رعب نصرت راکړی شوی چي د يوې مياشتي په فاصلې لري ئې اغيز رسي، هلته هم د دښمن په زړه کي وېره او خوف راپيدا کېږي، څوك چي له الله وېره لري، الله دغسي وقار او هيبت ورکړي چي په دومره لري فاصله کي هم د دښمن په زړه کي د هغه وېره او خوف مسلط وي خو چي له الله تعالی نه وېرېږي بيا ئې حالت داسي وي لکه چي قرآن فرمايي:
وَإِذَا رَأَيۡتَهُمۡ تُعۡجِبُكَ أَجۡسَامُهُمۡۖ وَإِن يَقُولُواْ تَسۡمَعۡ لِقَوۡلِهِمۡۖ كَأَنَّهُمۡ خُشُبٞ مُّسَنَّدَةٞۖ يَحۡسَبُونَ كُلَّ صَيۡحَةٍ عَلَيۡهِمۡۚ هُمُ ٱلۡعَدُوُّ فَٱحۡذَرۡهُمۡۚ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٤ المنافقون:4
هر جگ غږ د ځان په خلاف ګڼي.
يعني له هر جگ غږ وېرېږی او د ځان په خلاف ئې ګڼي.

ولي به يوازي له الله تعالی وېرېږو؟

انسان يا په خپل مرګ ژوند له بل وېرېږي، يا په خپل رزق او روزي او يا په خپل عزت، له هغه چا به وېره لري چي ګمان وکړي د ده په مرګ، ژوند او رزق، روزي کي څه اثر لري او کېدی شي له هغه د ده عزت ته صدمه ورسېږي او يا د هغه په څنګ کي عزت تر لاسه کړي، يعني په خپل عزت له

هغه وېره لري. موږ له دې کبله يوازي له الله وېره لرو چې زموږ مرګ او ژوند د هغه په اختيار کي دئ، هغه دئ چې موږ ته رزق او روزي راکوي او د عزت او د ذلت فيصله هم د هغه په اختيار کي ده. لکه چې قرآن، د ابراهيم عليه السلام په قصې کي دا مطلب په دې توګه زموږ مخي ته ږدي: کله چې د ابراهيم عليه السلام قوم د ده په اړه دا فيصله وکړه چې بايد وئې وژني او په اور کي ئې وسوزوي، ټول قوم په دې خبره متفق شوی، د هغه د سوزولو لپاره لوی اور بل شوی، منجنيق تيار شوی، د هغه د مرګ، وژلو او سوزولو پرېکړه شوې، موقتاً زندان ته تللی، تر څو په همغه معينه ورځ چې ټول خلك به راغونډېږي، په منجنيق کي ئې کښېنوي او په دې لوی اور کي ئې واچوي. قرآن عظيم الشأن دا حالت داسي انځوروي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱدۡخُلُواْ فِي ٱلسِّلۡمِ كَآفَّةٗ وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ٢٠٨ البقره: 258

هغه څوك دي ونه ليد چې له ابراهيم سره ئې په دې خاطر شخړه کوله چې الله ورته پاچايي ورکړې وه، کله چې ابراهيم وويل: زما رب همغه دئ چې ژوندي کول او مړول کوي، وئې ويل: زه يم چې د ژوند مرګ فيصله کوم!! ابراهيم وويل: الله خو لمر له مشرقه راخېژوي ته ئې له مغربه راوله، نو هغه چې کافر شوی وو مبهوت او حيران شو (څه ئې د ويلو لپاره نه موندل) او الله ظالمان نه هدايت کوي.

گورئ چې په دې مبارك آيت کي دوه څېرې د مخاطب په وړاندي انځور شوې: يوه د هغه چا چې اقتدار مغرور کړی، له الله تعالی منکر، د خلکو د مرګ او ژوند اختيار ځان ته ورکوي، له يوه موحد او خدای پال انسان سره د دښمنۍ او مخالفت په مورچل کي، او بله ئې د هغه چا چې د همدې مغرور واکمن دربار ته بېول شوی، د مرګ او په اور کي د سوزېدو پرېکړه ئې شوې، خو هغه ډاډه او مطمئن دئ او په همدې حالت کي وايي چې د چا د مرګ او ژوند پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، دا خبره په داسي حال کي کوي چې ټول خلك د ده په وژلو سلا شوي، د دې لپاره راغونډ شوي چې په اور کي د ده د غورځولو صحنه په خپلو سترګو وګوري، په دغسي يوه هيبتناك حالت کي نمرود ته وايي: زما رب هغه ذات دئ چې د مرګ ژوند فيصله د هغه په اختيار کي ده، نه ستا په لاس کي، دا د دې خبري په اړه د ابراهيم عليه السلام د بشپړ

او کامل اطمئنان او یقین ښوونه کوي چې د خپل مرګ او ژوند په اړه له الله پرته له بل چا وېره نه لري. کله چې نمرود هغه ته وایي: أَنَا أُحْيِ وَ أُمِيت: دا زه یم چې د مرګ او ژوند پرېکړه کوم. په روایاتو کې راځي چې نمرود دوه کسان را غواړي، یو د مرګ مستحق دئ هغه ته عفو کوي او بل بې ګناه دئ د هغه د مرګ فیصله کوي، په دې ترتیب ابراهیم علیه السلام ته ښیي چې دا ده وګوره چې د مرګ او ژوند پرېکړه زما په واك کي ده، ابراهیم علیه السلام د ده د ادعاء د تردید او د دې خبري د اثبات لپاره چې د مرګ ژوند فیصله د الله په اختیار کې ده هغه ته وایي:... فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِى بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشرِقِ فَأْتِ بهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِت الَّذِى كَفَرَ وَ اللَّهُ لا يهْدِى الْقَوْمَ الظلِمِينَ*: دا دئ زما رب خو لمر له مشرق راپورته کوي؛ ته ئې له مغربه را اوچت کړه که رښتینی یې، نو هغه چې کافر شوی وو حیران شو او الله ظالمان نه هدایت کوي.

ابراهیم علیه السلام په دې استدلال سره دا خبره ثابتول غواړي چې لکه د لمر په راختو او لوېدو او طلوع او غروب کې چې له الله پرته بل هیڅوك هیڅ نوع اغېز نه لري، لکه چې د ورځې او شپې په تلو راتلو کې له الله تعالی پرته هیڅوك داسي نشته چې د هغه اراده څه اثر ولري، همدا راز د مرګ او ژوند فیصله هم صرف یو الله کوي، که چا ته ژوند وربخښي هغه ئې وربخښي او که د چا د مرګ فیصله کوي هغه ئې کوي.

قرآن عظیم الشأن په همدې اړه فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَقَالُواْ لِإِخْوَٰنِهِمْ إِذَا ضَرَبُواْ فِي ٱلْأَرْضِ أَوْ كَانُواْ غُزًّى لَّوْ كَانُواْ عِندَنَا مَا مَاتُواْ وَمَا قُتِلُواْ لِيَجْعَلَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ حَسْرَةً فِي قُلُوبِهِمْۗ وَٱللَّهُ يُحْيِۦ وَيُمِيتُۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ١٥٦ آل عمران:156

اې مؤمنانو! د هغو په څېر مه کېږئ چې کافران شول او د خپلو وروڼو په اړه ئې چې په سفر تللي وو او یا ئې غزا کوله (او هلته یا مړه یا وژل شوي وو) وویل: که زمونږ په خوا کي وی نه به مړه شوي وو او نه به وژل شوي وو!! تر څو الله دا خبره د دوی په زړونو کي د حسرت لامل وګرځوي، حال دا چې د ژوند، مرګ پرېکړه الله کوي او الله د هغه څه ښه لیدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ.

د دې آیت اساسي مطالب دا دي:

- مسلمانان د مرګ او ژوند په اړه له کافرانه تصور او انګېرنې منع شوي.
- که چا مړينه او وژنه سفر يا غزا ته منسوب کړه او د وژل شوي او مړ شوي خپلوان په اړه ئې وويل: که زمونږ په څنګ کې وی، په غزا کې ئې برخه نه وی اخيستې او په سفر نه وی تللی له مړيني او وژني به خوندي پاته شوی وو، د ده دا تصور او اعتقاد کافرانه دئ.
- د ژوند مرګ پرېکړه يوازې الله کوي.
- دا کافرانه تصور له دې پرته بل څه نه دئ چې په زړونو کې د حسرت باعث شي، په دې حسرت سره الله تعالی کافران تعذيبوي.
- د انسان کوم کړه وړه چې له همدې کافرانه اعتقاد څخه وبېري، که هغه له مرګ وېره وي، که په جهاد کې برخه نه اخيستل وي او که سنګر ته د خپلوانو له لېږلو ډډه کول وي، الله په ټولو خبر دئ او ستاسو د ټولو عملونو شاهد او ناظر دئ.

همدا راز قرآن عظيم الشأن فرمايي:

إِنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۚ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ١١٦ التوبه:116

يقيناً چې د آسمانونو او زمکې واکمنې د الله ده، ژوندي کول کوي او مړول کوي (د ژوند او مرګ پرېکړه د ده له لوري کېږي) او تاسو ته له الله پرته نه کوم ولي شته او نه نصير، (له الله تعالی پرته بل داسي څوك نشته چې ستاسو مرسته او حمايت وکولی شي).

همدا راز فرمايي:

وَهُوَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُ وَلَهُ ٱخۡتِلَٰفُ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٨٠ المؤمنون:80

او دی هغه ذات دئ چې د مرګ ژوند پرېکړه کوي، د شپې او ورځې يوه په بلې پسې راتګ هم د ده له لوري دئ، (دا کار هم د ده په اختيار کې دئ)، نو آيا تعقل نه کوئ؟!

لکه چې د شپې او ورځې تګ راتګ د ده په اراده ترسره کېږي، همدا راز د مرګ ژوند پرېکړه هم د ده له لوري کېږي، لکه چې د شپې او ورځې په تلو راتلو کې له الله پرته د بل هيڅا اراده هيڅ ډول اثر او اغېز نه لري، يوه شېبه ئې نه مخکې کولی شي او نه ئې وروسته کولی شي، همدا راز د مرګ او ژوند

فيصله هم الله تعالى صادروي او پدې کار کي هم له الله تعالى پرته بل هيڅ شى هيڅ ډول وندې او اغيز نه لري.

هيڅ نفس نه مري مګر د الله په حکم او اذن سره، او له يوې ټاکل شوې نېټې سره سم. دا نېټه مخکې له مخکې ټاکل شوې او ليکل شوې، هر ژوى په همدغه معينه نېټه د مرګ داعي ته لبيك وايي، خو د الله تعالى په اذن او حکم سره، لکه چې قرآن فرمايي:

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ كِتَٰبًا مُّؤَجَّلًا ۗ وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا نُؤْتِهِۦ مِنْهَا وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ ٱلْءَاخِرَةِ نُؤْتِهِۦ مِنْهَا ۚ وَسَنَجْزِي ٱلشَّٰكِرِينَ ١٤٥ آل عمران:145

او هيڅ نفس ته نه ښايي چې ومري مګر د الله په اذن سره په ليکل شوې ټاکلې نېټې، او څوك چې د دنيا اجر غواړي له همدې ئې برخه ورکوو او څوك چې د آخرت اجر غواړي له هغه ئې برخه ورکوو او ډېر ژر به شکر کوونکو ته غوره بدله ورکړو.

په دې مبارك آيت کي د لاندې سترو سترو خبرو لارښوونه شوې:

- د هرچا د مړيني لپاره معينه نېټه ټاکل شوې.
- دا خاصه نېټه په خاص کتاب کي ليکل شوې. په داسي کتاب کي چې په هغه کي هيڅ تبديلي نه شي راتلى.
- مرګ په همدې ټاکل شوې او ليکلې نېټې راځي خو د الله له اذن او اجازې وروسته راځي.
- څوك چې د خپلو عملونو دنيايي بدله غواړي نو الله له هغه څه ورکړي او څوك چې د اخروي بدلې په لټه کي وي نو الله ئې له هغه ورکړي.
- د الله شاکر بندګان به ډېر ژر خپل اجر ترلاسه کړي، نه د دوى دنيايي اجر ضائع کېږي او نه اخروي.
- د دې آيت له مخې شاکر بنده هغه دئ چې مرګ ژوند د الله له لورې ګڼي او د خپلو عملونو د اخروي بدلې په لټه کي وي.

دا مبارك آيت مونږ ته لارښوونه کوي چې د هر ژوي لپاره د مرګ ثابته نېټه ټاکل شوې، او ليکل شوې او بيا په همدغه معينه نېټه کي هم د الله په امر او حکم د انسان مرګ تحقق مومي.

همدا راز قرآن عظيم الشأن فرمايي:

ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ ثُمَّ رَزَقَكُمۡ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيكُمۡۖ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَفۡعَلُ مِن ذَٰلِكُم مِّن شَيۡءٖۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٤٠ الروم:40

الله هغه ذات دئ چي تاسي ئې پيدا کړئ، بيا ئې تاسي ته روزي درکړه، بيا تاسي مړه کوي، بيا مو بېرته راژوندي کوي، آيا ستاسي له شريکانو داسي څوک شته چي له دې کارونو کوم يو وکړی شي؟! سپېځلتيا الله ته ده او هغه لوړ دئ له هغه څه چي دوی ئې ورسره شريك ګرځوي.

يعني ستاسي په پيدايښت کي، ستاسي په رزق او روزي کي او ستاسو په مرګ او ژوند کي هيڅوك له خدای سره شريك نه دئ، الله تعالى له دې عيب پاك او له دې لوړ دئ چي په دې کارونوکي څوك د ځان شريك ونيسي.

په دې مبارك آيت کي ويل شوي چي په دغو څلورو کارونو کي هيڅوك او هيڅ څه له الله تعالى سره شريك نه دي، مشرکانو ته ويل شوي چي آيا په خپلو دروغجنو معبودانو کي داسي څوك مومئ چي له دغو کارونو کوم يو وکړی شي، ستاسو په پيدايښت کي، ستاسو په رزق او روزي کي، ستاسو د مرګ په فيصله کې او ستاسو په بياژوندون کي له الله سره شريك وي؟! سبْحانَهُ وَ تَعَالى عَمَّا يُشرِكُونَ: پاکي ده الله ته او اوچت دئ له دې چي له هغه سره څوك په الوهيت او ربوبيت کي شريك وي.

په خپل رزق يوازي له الله وېره:

لکه چي زمونږ د ژوند او د مرګ فيصله يوازي د الله تعالى له لوري کېږي، واك ئې يوازي له ده سره دئ، او په همدې خاطر مونږ په خپل ژوند له هغه پرته له بل چا وېره نه لرو او په دې باور يو چي په دې مسئله کي له الله پرته د بل چا اراده څه اثر نه لري، په دې خبري مو کلك يقين دئ، هر مسلمان بايد په دې باور وي، په دې کي به شك نه کوي او په هيڅ حالت کي به د هغه په زړه کي د دې خبري په اړه څه شك او شبهه نه راپيدا کېږي، همدا راز مونږ په دې باور لرو چي زمونږ د رزق او روزي ضامن او ذمه وال الله تعالى دئ او زمونږ د رزق او د روزي انتظام د ده له لوري کېږي، باران د ده په اراده ورېږي او دانه او مېوه د ده په اراده راپيدا کېږي، د همدې لپاره مونږ په خپل رزق او روزي هم له يوه الله پرته له بل چا نه وېرېږو، دا ځکه چي د رزق او روزي پيدا کولو انتظام صرف د الله تعالى په اختيار کي دئ، لکه چي قرآن

فرمايي:
وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ وَحَمَلۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ كَثِيرٖ مِّمَّنۡ خَلَقۡنَا تَفۡضِيلٗا ٧٠ الاسراء: 70
او يقيناً چې موږ د آدم اولادې ته کرامت ورکړ او په وچه (زمکه) او بحر کې مو حمل کړ (د حمل وسائل مو ورته پيدا کړل)، پاکيزه رزق مو ورکړ او دوی ته مو په ډيرو هغو شيانو فضيلت ورکړ چې موږ پيدا کړي.

دا آيت موږ ته لاربښوونه کوي چې الله تعالی انسانانو ته عزت او کرامت ورپه برخه کړ، د دوی لپاره ئې د حمل وسائل پيدا کړل، په وچه کې د آس او اوښ په څېر حيوانات، او د موټرو ګاډو په څېر وسائل، په بحرکې کشتی، لکه څنګه چې په بحر کې کشتی تر ې مراد دي، همدغسي په وچه کې دا د حمل ټول وسائل تر ې مراد دي، د دغو وسائلو اړوند مواد، ضوابط، سنن او قواعد هم الله تعالی پيدا کړي، کوم مواد چې له هغوی په استفادې سره انسان موټري، طيارې او کشتی جوړوي، ټول الله تعالی پيدا کړي او په انسان کې له دغو امکاناتو د استفادې استعداد هم د الله تعالی پېرزوينه ده، الله تعالی د دوی لپاره د رزق او روزي انتظام هم کړی، په دنيا کې دغه پاکيزه رزق چې تاسو ئې ګورئ، دغه مېوې چې الله ئې د زمکې له مړو اجزاوو، له خټې او خاورې راپيدا کوي، په دومره پاکيزګی سره، له ظرافت، لطافت او نظافت سره، ښايسته او خوندوري، داسي چې ته ئې له خوند لذت اخلې، له بوی او رنګ ئې خوند اخلې، هغې ته ئې پوستکی وراغوستی او د دې انتظام ئې کړی چې پاک او ستره وي، الله تعالی د دوی لپاره د داسی پاک رزق او روزي انتظام وکړ، دوی ته ئې پر ډيرو هغو مخلوقاتو فضيلت ورکړی چې الله تعالی پيدا کړي، له هره پلوه ئې دوی ته فضيلت ورکړ: د صورت له پلوه، د عقل او پوهې له پلوه، د ګڼ شمېر استعدادونو له ناحيې، دا چې هغه ئې په زمکه کې خپل خليفه وګرځولو، د دنيا هر څه ئې هغه ته مسخر کړل، د زمکې او آسمانونو هر څه د هغه په خدمت کې دي او الله تعالی ده ته رام او مسخر کړي او په دې ترتيب ئې د ټولو مخلوقاتو په نسبت دوی ته فضيلت او لوړوالی ورکړی.

همدا راز الله تعالی فرمايي:
أَمَّنۡ هَٰذَا ٱلَّذِي يَرۡزُقُكُمۡ إِنۡ أَمۡسَكَ رِزۡقَهُۥۚ بَل لَّجُّواْ فِي عُتُوّٖ وَنُفُورٍ ٢١ الملك: 21

هغه به څوك وي چې روزي درکړي، که دی خپله روزي وسپموي؟! بلکي دوی ټپنګار کوي په سرکښۍ کي او (له حق) په تېښتي کي.

يعني که الله تعالی خپل رزق له تاسو وسپموي هغه به څوك وي چې تاسو ته رزق درکړي؟ که الله تعالی خپل رزق بندکړي، باران ونه وروي، لمر راونه خېژوي چې زمکي ته رڼا او تودوخه ورکړي، له زمکي دانه او مېوه راشنه نه کړي، دا بادونه چې د نباتاتو د القاح وسيله ده ونه خوځوي او دا د رزق او د روزي ټول وسائل چې تاسو ئې په دې عالم کي ګورئ، که الله تعالی دا ټول ختم کړي يا ئې کار متوقف کړي، هغه څوك دئ چې بيا تاسو ته رزق او روزي درکړي؟ د سرغړاوي او له حقيقت د کرکي او تېښتي له کبله هغوی له دغو حقائقو مخ اړوي، که داسي نه وي نو دوی دي ووايي چې که الله تعالی خپل رزق او روزي متوقف کړي؛ هغه څوك دئ چې له ده پرته تاسو ته رزق او روزي درکړی شي؟

همدا راز فرمايي:

وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٖ لَّا تَحۡمِلُ رِزۡقَهَا ٱللَّهُ يَرۡزُقُهَا وَإِيَّاكُمۡۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٦٠
العنكبوت:60

او څومره ډېر خوځېدونکي چې خپل رزق په شا نه وړي، خدای ورته رزق ورکوي او تاسو ته هم، او هغه اورېدونکی پوه ذات دئ.

د زمکي پر سر څومره حيوانات داسي دي چې د خپل رزق او روزي پېټی په اوږو نه وړي، باغ او پټی نه لري، ګودام او ذخيره نه لري، د سبا لپاره څه نه ذخيره کوي، د خپل رزق او د روزي پېټی په اوږو نه وړي، الله ورته رزق ورکوي، همداسي ئې تاسو ته هم درکوي، دا ځکه چې الله تعالی اورېدونکی او عليم دئ، د بنده دعاء د حال او قال په ژبه اوري، په اړتياوو ئې پوه دئ.

په دنيا کي دومره ژوي شته چې که ټول په شلو برخو ووېشو نولس19 برخي ئې په اوبو کي دي او يوه برخه ئې په وچه کي، او د دې يوې برخي يو وړوکی جزء انسانان دي، انسانان د دې شلمي برخي يوه وړه برخه ده، له دې تاسو د ژوو شمېر معلومولی شئ، دغو ټولو ژوو ته رزاق خدای رزق او روزي ورکوي. داسي حيوانات هم شته چې هر يو ئې هره ورځ د يوه کلي په اندازه رزق ته ضرورت لري، په بحرونو او ځنګلونو کي داسي ستر ستر حيوانات

شته چې هر يو د يوه کلي په اندازه روزي ته، په يوه وخت کي ضرورت لري، خو نه تجارت کوي، نه پټي کري، نه د خپل رزق او روزي پټې په اوږو وړي او نه د سبا لپاره څه ذخيره کوي، الله تعالى ورته رزق ورکوي او تاسو ته هم. او الله تعالى د دعاګانو اورېدونکى او د انسان په احتياجاتو او اړتياوو پوه دئ، په دې هم پوهيږي چې څنګه هغه ته رزق او روزي ورکړي او د رزق او روزي انتظام ئې څنګه وکړي.

پيغمبر عليه السلام په دې اړه فرمايي:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: « ثَلاَثَةٌ كُلُّهُمْ حَقٌّ عَلَى اللَّهِ عَوْنُهُ الْمُجَاهِدُ فِى سَبِيلِ اللَّهِ وَالنَّاكِحُ يُرِيدُ الْعَفَافَ وَالْمُكَاتَبُ يُرِيدُ الأَدَاءَ ». سنن البيهقي

له ابوهريره رضى الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: الله تعالى له دريو کسانو سره مرسته په خپله ذمه اخيستې:

- د الله د لارې مجاهد.
- هغه ځوان چې د عفاف لپاره د نکاح اراده کوي.
- هغه مريى چې د آزادۍ لپاره له خپل آقا سره مکاتبه کوي او د اداء کولو اراده کوي.

پيغمبر عليه السلام فرمايي: که تاسو له الله تعالى داسي ووېرېږئ لکه چې له هغه سره بنايي، نو تاسو ته به داسي رزق او روزي درکړي لکه مرغانو ته چې ئې ورکوي، سهار تش نس له خپلو کورونو وځي او ماښام ډك نس خپلو کورونو ته ببرته راستنيږي.

قرآن فرمايي:

... وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ٢ وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسۡبُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَٰلِغُ أَمۡرِهِۦۚ قَدۡ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَيۡءٖ قَدۡرٗا ٣ الطلاق:2-3

څوك چې له الله وېرېږي او د تقوى لار غوره کوي، له ستونزو او کړاوونو د وتلو لار به ورته پرانيزي او له هغه لاري به رزق او روزي ورکړي چې ګمان ئې هم نه کوي (په خيال کي ئې هم نه ګرځي او تصور ئې هم نشي کولى) او څوك چې پر الله توکل وکړي نو هغه ورته کافي دئ، يقيناً چې الله

خپل کار ته رسېدونکی دئ، بې شکه چې الله د هر کار لپاره حد او نېټه ټاکلې ده.

همدا راز فرمايي:

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ٦١ العنكبوت:61

که ئې وپوښتې چې آسمانونه او زمکه چا پیدا کړي او لمر سپوږمۍ چا مسخر کړي، حتماً به وايي: الله، نو څنګه دوکه کېږي؟!

يعني د رزق او روزي اصلي اسباب خو آسمان دئ چې اوبه تري راوړي او زمکه ده چې دانه او مېوه تري راشنه کېږي، که له دوی پوښتنه وکړې چې دا زمکه او آسمانونه چا پیدا کړي؟ دا لمر او سپوږمۍ چا مسخر کړي؟ شپه او ورځ چې د رزق او روزي د پیدا کېدو باعث ګرځي د چا په اراده ځي راځي؟ لمر د ورځې علامه او سپوږمۍ د شپې علامه ده، دا دواړه د رزق په پیدا کېدو کې اساسي ونډه لري، که دا نه وی نو نه به په زمکه کې بوټی وو، نه ونه، نه حیوان او نه انسان، د دوی ځواب به څه وي؟ حتماً به وايي چې دا هر څه د الله تعالی په اراده ترسره کېږي، له دې پرته بل ځواب نه لري، نو څنګه او له کومه ځایه دوکه کېږي؟! د دوی د دوکه کېدو او بې لارې کېدو عامل څه دئ؟)

همدا راز وروسته فرمايي:

ٱللَّهُ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ لَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ٦٢ العنكبوت:62

دا الله دئ چې له خپلو بندګانو هر چا ته چې وغواړي په رزق او روزي کې ورته وسعت، بسط او پراخوالی ورکوي او چا ته ئې چې خوښه وي ورته تنګوي ئې، (رزق ئې ورته محدود کړي) یقیناً چې الله په هر څه ښه پوه دئ، (په دې ښه پوهیږي چې د انسان خیر او مصلحت په څه کې دئ، دا پرېکړه د الهي علم له مخې کېږي، که چا ته پراخ رزق ورکوي، علیم الله په دې پوهیږي چې خیر په همدې کې دئ او که په چا ئې محدودوي او د رزق له محدودیت او تنګوالي سره ئې مخامخ کوي؛ دا هم د علیم الله فیصله ده، حتماً په دې کې یو مصلحت مضمر دئ.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ مِنۢ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۚ

قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ٦٣ العنكبوت:63
كه هغوی وپوښتې چې له آسمانه اوبه چا نازلي کړې چې زمکه له خپلې مړينې وروسته بيا پرې راژوندۍ کوي؟ حتماً به ووايي چې الله، ووايه چې ستاينې ټولې الله ته دي خو د دوی ډېرى نه پوهيږي.

آيا څوك دې پوښتنې ته له دې پرته بل ځواب موندلى شي چې دا كار الله تعالى كوي، له آسمانه اوبه نازلوي او مړه زمكه پرې ژوندۍ كوي؟!! پرته له دې چې پر دې حقيقت اعتراف وكړي بل څه ځواب لري؟

عزت او ذلت د الله په اختيار كي دئ:

لكه چې زمونږ د مرگ او ژوند پرېكړه د الله تعالى له لوري كېږي او په همدې خاطر بايد په خپل مرگ او ژوند يوازي له الله تعالى ووېرېږو او لكه څنگه چې زمونږ د رزق او روزي اختيار د الله تعالى په لاس كي دئ او په همدې خاطر بايد په خپل رزق او روزي يوازي له الله تعالى ووېرېږو، همدا راز د انسان د عزت او ذلت پرېكړه هم يوازي د الله تعالى له لوري كېږي، د همدې لپاره بايد عزت د ده په خوا كي وليټوو او په خپل عزت هم صرف له الله تعالى ووېرېږو.

قرآن په دې اړه فرمايي:

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسۡجُدُۥ لَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ وَٱلۡجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ وَٱلدَّوَآبُّ وَكَثِيرٞ مِّنَ ٱلنَّاسِۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيۡهِ ٱلۡعَذَابُۗ وَمَن يُهِنِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّكۡرِمٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يَشَآءُ۩ ١٨ الحج: **18**
نه ګورې چې الله ته ټول هغه څه سجده كوي چې په آسمانونو او زمكي كي دي، لمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونه، وني، حيوانات او له خلكو ډېر ئې، او په ډېرو ئې عذاب محقق شوى، او الله چې د چا سپكاوى او اهانت وكړي نو هغه هيڅ عزت وركوونكى نه لري، (هيڅوك اكرام او عزت نشي وركولى)، يقيناً چې الله څه وغواړي هغه كوي.

هو؛ د زمكي او آسمانونو هر څه الله تعالى ته منقاد دي، هر څه به د هغه چا ملاتړ كوي چې خپل رب ته مطيع وي، هر څه به ئې درناوى كوي، او كه هغه له خپل رب مخ واړوي، الله تعالى به ئې سپك او ذليل كړي، داسي څوك به ونه

مومي چي ده ته عزت ورکړي؟ په خپلو سترګو ګورو چي ډېر ځله يوه معمولي خبره د يوه داسي انسان چي په قوم کي ډېر منلی، مخور او با عزته وي داسي سپك کړي او عزت ئې داسي ختم کړي چي هر څوك ورته په سپکه سترګه ګوري، هيڅوك د ده په څنګ کي ودرېدو ته تيار نه وي، يقيناً الله تعالی چي څوك سپك او ذليل کړي؛ په دنيا کي به داسي څوك پيدا نه کړي چي هغه ته عزت ورکړي، په ټول عالم کي به داسي څوك او څه ونه مومي چي له سپکاوي ئې وژغوري او عزت ورپه برخه کړي.

قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ تُؤۡتِي ٱلۡمُلۡكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلۡمُلۡكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُۖ بِيَدِكَ ٱلۡخَيۡرُۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٦ آل عمران:26

ووايه: اې بارئ ربه! د واکمنۍ واکداره! دا ته يې چي چا ته وغواړې واکمني ورکوې او له چا چي وغواړې د واکمنۍ (جامه) ټپرته باسې، چي چا ته وغواړې عزت ورکوې او چي څوك وغواړې سپکوې ئې، ښېګڼه ټوله ستا په لاس کي ده، بې شکه چي ته په هر څه قادر يې.

ته د ملك مالك يې، دلته ستا حکم نافذ دئ، هر څه ستا په اراده ترسره کېږي، دا ته يې چي چا ته وغواړې اقتدار ورکوې، چي څوك وغواړې د اقتدار تخت او تاج ئې نسکوروې، له سپکاوي او ذلت سره ئې مخامخ کوې، چي چا ته وغواړې عزت ورکوې، چي څوك وغواړې سپکوې ئې، ښېګڼې ټولي ستا په لاس کي دي، ستا په هري پرېکړي کي خير مضمر دئ، ته په هر کار قدير او توانا يې.

د منافقانو په باب چي له الله تعالی پرته د بل چا په څنګ کي عزت لټوي او ځي د کافرانو په څنګ کي ودرېږي په دې طمع چي هلته به عزت تر لاسه کړي، فرمايي:

ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۚ أَيَبۡتَغُونَ عِندَهُمُ ٱلۡعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلۡعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعٗا ١٣٩ النساء:139

همغو ته چي له مؤمنانو پرته کافران په دوستۍ نيسي، آيا د دوی خوا ته عزت لټوي؟ نو عزت خو ټول له الله سره دئ.

دا منافقين له کافرانو سره دوستي کوي، ګمان او انتظار ئې دا دئ چي د کافرانو تر څنګ به عزت تر لاسه کړي، په دې نه پوهېږي چي په منافقت او

دښمن ته په تسليمېدو سره خپل موجود عزت او اعتبار هم له لاسه ورکوي، په دې نه پوهېږي چې د عزت پرېکړه الله تعالى کوي، عزت له ايمان پرته له بلې لارې نه شي ترلاسه کېدى، يوازې د الله مؤمن او صالح بنده د واقعي عزت خاوند دئ، منافق د هر چا له نظره سپك، ذليل او بې اعتباره وي، هرڅوك ئې يوه بې اعتباره وسله ګڼي، هيڅوك د يوه مطمئن دوست په سترګه ورته نه ګوري.

له دې آيت معلومېږي چې له کافرانو سره دوستي او ملګرتيا د نفاق نښه ده، منافق د عزت په طمع دا کار کوي او هغه وخت ئې کوي چې دښمن ورته قوي او مسلمانان ورته ضعيف معلوم شي. هسې دا منافقين غولېدلي چې د کافرانو په ملګرتيا کې عزت لټوي، د هغوى ځنګ ته درومي، له هغوى سره معاهدې کوي، هغوى د اولياوو او دوستانو په توګه نيسي، په دې طمع چې د هغوى په ځنګ کې به عزت تر لاسه کړي، خو يقيناً چې عزت صرف له الله تعالى سره دئ.

همدا راز فرمايي:

مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ جَمِيعًاۚ إِلَيۡهِ يَصۡعَدُ ٱلۡكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ وَٱلۡعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ يَرۡفَعُهُۥۚ وَٱلَّذِينَ يَمۡكُرُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۖ وَمَكۡرُ أُوْلَٰٓئِكَ هُوَ يَبُورُ ١٠

فاطر:10

څوك چې عزت غواړي نو (پوه دي شي چې) عزت ټول له الله سره دئ، د ده لوري ته پاکه وينا بر درومي او نېك عمل ته لوړوالى ورکوي، او هغه چې بدي کړني د تدبير په توګه کاروي سخت عذاب ئې په برخه دئ، او د دوى مکر شنډېدونکى دئ.

په دې مبارك آيت کې ويل شوي: څوك چې عزت غواړي بايد متوجه وي چې عزت يوازې د الله تعالى په خوا کې موندلى شي، په بل ځاى کې عزت نشي ترلاسه کولى، د عزت ورکړه د ده له لوري وي، دا ځکه چې عزت په بشپړه توګه له الله تعالى سره دئ. د عزت اصلي اسباب دوه دي: پاکه وينا او صالح عمل، يوازې په دې سره انسان کولى شي د عزت لوړو څوکو ته ورسېږي، دا ځکه چې پاکه وينا د الله تعالى په لوري لوړه درومي او نېك عمل ته لوړوالى ورکوي، نو رفعت، لوړوالى او عزت يوازې له دغې لارې ترلاسه

کېدی شي، څوك چي غواړي له نورو لارو عزت ترلاسه کړي، بدي کړني او ناروا تګلاري د تدبیر په توګه کاروي چي له دې لاري عزت ته ورسېږي هغه دي پوه وي چي د عزت پر ځای به ئې شدید الهي عذاب په برخه شي او تدبیرونه به ئې شنډ او بې حاصله شي. دلته د (والعملُ الصالحُ یرفعُه) دوه د اعتناء وړ ژباړي کېدی شي: 1- الله تعالی صالح عمل ته لوړوالی ورکوي او 2- صالح عمل مؤمن بنده ته رفعت او لوړوالی ورکوي. په دې دواړو کي لومړۍ ژباړه مناسبه برېښي.

په دې سره هغو وګړو ته لارښوونه شوې چي د عزت په لټه کي په غلطو لارو درومي، دوی ته ویل شوي: تاسو عزت ته د رسېدو په موخه داسي لاري غوره کړې چي هیڅکله په عزت نه منتهي کېږي، څه چي تاسو له الله تعالی لري کوي له عزت او سرلوړۍ مو هم محروموي، د الله تعالی په لوري تلو سره په حقیقت کي د عزت او شرف په لوري درومئ. یعني له الله تعالی د بخښني په غوښتلو او د الله په لوري رجوع سره به نه یوازي د آسمان او زمکي د برکتونو دروازې ستاسو پر مخ پرانیستی شي، الله تعالی به ستاسو اموال او اولاد درزیات کړي او ستاسو ممد به ئې وګرځوي، بلکي عزت او سر لوړۍ ته به ورسېږئ. نو تاسو ولي د هغه عزت او وقار هیله نه کوئ چي اصلي مالك ئې الله تعالی دئ او پرېکړه ئې د ده له لوري کېږي؟!! ولي له غیر الهي لارو عزت ته د رسېدو هیله کوئ؟ !

په دې توګه تاسو ولیدل چي قرآن خپل مخاطب ته بلنه ورکوي چي یوازي له الله تعالی وېره ولري، هم په خپل مرګ او ژوند، هم په خپل رزق او روزي او هم په خپل عزت او درناوي، دا هغه شیان دي چي انسان ته تر هر څه زیات ارزښت لري، پرې وېرېږي، ډېر ځله ئې وېره له هغه چا وي چي نه ئې ورکولی شي او نه ئې تري اخیستلی شي، د دې پر ځای چي په دې اړه ئې وېره یوازي د دغو شیانو له حقیقي مالك او هغه ذات څخه وي چي په ده ئې پېرزو کړي، برعکس له هغه څه پرې وېرېږي چي نه ئې ده ته ورکړي او نه ئې له ده اخیستی شي، په دې توګه ئې د ماسوی الله وېره او خوف زړه ته لار پیدا کړي، خو تا د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کي ولیدل چي درته وایي: له خپل هغه رب ووېرېږه چي د آسمانونو او د زمکي پالونکی او ساتونکی دئ، رحمت ئې بې انتهاء او بې پایه دئ، هغه د دې عالم مالك او حاکم دئ، دلته د هغه اراده

نافذه ده، هر څه د هغه په وړاندي محکوم دي، له دې کبله به ته نه په خپل مرګ او ژوند له الله تعالی پرته له بل چا وېره لرې، نه په خپل رزق او روزي او نه په خپل عزت او کرامت.

پر الله توکل

په الله باندي د ایمان بله غوښتنه دا ده چي انسان به په الله توکل کوي، خو باید پوه شو چي د توکل معنی څه ده؟ په الله تعالی باندي توکل یعني څه؟ آیا د توکل دا تعبیر سم دئ چي له کار نه لاس واخلو، په کارونو کي تدبیر او احتیاط پرېږدو او هر څه الله تعالی ته حواله کړو؟ متأسفانه ځینې خلك توکل په همدې معنی نیسي، هغه د تدبیر او احتیاط منافي ګڼي، ځینې لټي، بې احتیاطي، بې تدبیري، بې اعتنائي، تساهل، د مسئولیت عدم احساس او خپلو وجائبو او مسئولیتونو ته اهتمام نه کول د توکل په نامه یادوي، په داسي حال کي چي دا د توکل ډېر ناسم او غلط تعبیر دئ.

که تاسو قرآن ته مراجعه وکړئ دې ته به متوجه شئ چي د قرآن له نظره توکل د عمل کوونکو صفت دئ، قرآن توکل د یوه مؤمن عامل او با ایمان عمل کوونکي انسان خصوصیت او صفت ګڼي، توکل دې ته وایي چي ته د احکامو او وجائبو د تعمیل لپاره اوچت شې او د دې لپاره ملا وتړې چي خپل مسئولیتونه تر سره کړې، خو د نتائجو په اړه ډاډه او مطمئن وې، د دې پروا نه لرې چي په دې باندي به څه نتائج مرتب کېږي، له دې ناحیې ډاډه او مطمئن یې چي الله تعالی ستا هلي ځلي نه ضائع کوي، د خپلو کړو وړو نتائج الله تعالی ته حواله کوې، الله تعالی د وکیل په توګه نیسې او له نتائجو له دې کبله مطمئن او ډاډه یې چي الله ستا وکیل دئ، هغه د هیڅ بنده اجر نه ضائع کوي، دې ته توکل وایي.

دا توکل نه دئ چي ته تدبیر، احتیاط او دقت پرېږدي او ووایي چي ما پر الله توکل کړی!! پیغمبر علیه السلام تر ټولو ستر متوکل وو، خو هغه په جنګ کي زره اغوسته، چي کله به جنګ ستر او شدید وو نو دوه زغري به ئې اغوستي، پهره دار ئې درلود، هغه به په جنګ کي ټول امنیتي تدابیر نیول، صفوف به ئې منظم کول، هر چا ته به ئې خپله موضع بنودله، له کوم لوري به چي د دښمن د حملې احتمال وو هلته به ئې فوځ ځای په ځای کولو، ټول امنیتي تدابیر به ئې

نیول، له دې وروسته به ئې پر الله تعالی توکل او بروسه کوله. توکل دې ته وایي چې ته خپله وجیبه او مسئولیت ترسره کوې، له نتائجو ډاډه او مطمئن یې، هغه الله تعالی ته حواله کوې او الله تعالی د وکیل په توګه نیسي. لکه چې قرآن فرمایي:

... نِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ٥٨ ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٥٩ العنكبوت: 58-59

د عمل کوونکو اجر ډېر غوره دئ، هغه عمل کوونکي چې صبر ئې وکړ او په خپل رب توکل کوي.

دا نېك اجر او غوره بدله به هغه څوك تر لاسه کوي چې په نیمایي لاره کي بې حوصلې او بې صبره نشي، شکوه او شکایت ونه کړي، کله چې له ستونزو او کړاوونو سره مخامخ شي نادم او پښېمانه نشي، جزع فزع ونه کړي، بلکي صبر کوي، او هغه چې له نتائجو هم ډاډه او مطمئن وي، نتائج الله ته حواله کوي او په الله توکل کوي. ګورئ چې توکل د عامل صفت دئ، د بې عمله صفت نه دئ، خو ځیني متوکل هغه بې عمله کس ګڼي چې عمل نه کوي، خپل مسئولیت نه ترسره کوي، خپل وجائب نه اداء کوي او صرف په خوله وایي چې پر الله مي توکل دئ.

توکل داسي وګڼئ: الله تعالی مسلمانان په دې مکلف کړي چې که د دښمن شمېر تر دوی دوه ځله زیات وي، مقابله به ئې کوي، دښمن ته به شا نه اړوي او له میدانه به نه تښتي، که ته د دغه الهي حکم مطابق د یوه داسي ځواکمن دښمن مخي ته ودرېږې او مقابلې ته ئې ملاتړې چې ستا دوه برابره دئ، د نښتي د پایلو په اړه هیڅ اندېښنه نه لرې، نتائج خپل رب ته حواله کوې او په ډاډه او مطمئن زړه د دښمن مقابله کوې، دې ته توکل وایي. ته ځکه د داسي دښمن مقابلې ته ملا تړې چې د الله تعالی په دې وینا دي باور دئ چې فرمایي: که څه هم د کافرانو شمېر ستاسو په پرتله لس برابره وي تاسو به غالب یاست، ته په دې باور لرې، د لس چنده لښکر سره مخامخ یې، د هغه مقابله کوې او له خپلې بریا او فتحې ډاډه او مطمئن یې، د توکل حقیقي معنی همدا ده. یعني توکل د بې عملو صفت نه دئ؛ بلکي د عمل کوونکو صفت دئ.

د احد په جنګ کي ځینو کسانو غوښتل چې بې زړه توب وکړي، په هغو کي جبن، وېره او بې همتي راپیدا شوه، د پیغمبر علیه السلام او د مسلمانانو لښکر

ئې يوازې پرېښود او ښېرته په شا وګرځېدل، په ځينو نورو کې د دوی په شا تګ تشويش راپيدا کړ، غوښتل ئې هغوی هم بې زړه توب وکړي، قرآن په دې اړه فرمايي:

إِذْ هَمَّت طَّآئِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا وَٱللَّهُ وَلِيُّهُمَا ۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ١٢٢
آل عمران:122

کله چې ستاسو دوو قبيلو د بې زړه توب قصد وکړ، په داسي حال کې چې الله ئې ولي او مرستندوی وو او مؤمنان خو بايد پر الله توکل وکړي.

دا د بنو حارثه او بنو سلمه همغه دوه قبيلې دي چې د ابی بن سلول او د ده د ملګرو له ستنېدو وروسته نږدې وه بې همتي وکړي او له جګړې په شا شي. د دوی په اړه ويل شوي چې بې همتي ورته مناسبه نه وه، د چا چې الله مولا او مل وي؛ ولي به بې همتي کوي، له مؤمنانو سره خو دا ښايي چې تل او په هر حالت کې ئې پر خپل خدای توکل او بروسه وي او د دښمن له زور ځواک ونه وېرېږي.

ګورئ چې دلته هم په ډېر تأکيد او پرېکنده توګه ويل شوي چې د ايمان يوه تقاضا دا ده چې مؤمن به پر خپل رب توکل کوي، د ايمان له هر مدعي د ايمان غوښتنه دا ده چې پر الله به توکل او بروسه کوي.

همدا راز فرمايي:

قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَىٰنَا ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ٥١
التوبه: 51

(ورته) ووايه: له هغه څه پرته چې الله راته ليکلي هيڅ مصيبت نه رارسي، هغه مو مولا دئ، او مؤمنان بايد پر الله توکل وکړي.

يعني د کافرانو د ګواښونو په وړاندي به ستا ځواب دا وي: **لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا**: له هغه څه پرته چې الله تعالى راته ليکلي او لا له و ړاندي ئې راته مقدر کړي، بل هيڅ مصيبت نه رارسېږي، دا ستا د عقيدې او ايمان يوه برخه ده چې باور وکړې هيڅ مصيبت نه دررسېږي؛ مګر هغه چې الله تعالى تا ته له مخکې مقدر کړي. دوهمه برخه ئې دا ده چې ته به پدې خبري باور لرې چې الله ستا مولا دئ، هغه به تا يوازې نه پرېږدي، هغه به ستا هلي ځلي نه ضائع کوي، تا به د دښمن په وړاندي په ميدان کې يوازې نه پرېږدي. او درېيمه خبره

دا ده چې مؤمنان بايد پر الله توکل وکړي. **وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ.**

زمونږ بروسه او اعتماد په الله دئ، دا ځکه چې مونږ ايمان لرو او د ايمان تقاضا دا ده چې انسان به په الله بروسه کوي.

د دې مبارک آيت مهمي لارښووني دا دي:

- د الله تعالى له اذن پرته هيڅا ته کوم مصيبت نه رسيږي.
- انسان ته يوازي هغه مصيبت وررسيږي چې له مخکې هغه ته مقدر او د ده په تقدير پاڼي کې ليکل شوی.
- دا مقدرات نه بدليږي.
- او دا چې الله زمونږ مولا او چاره ګر دئ، مونږ به يوازي نه پريږدي، په هره پريکړه او فيصله کې ئې زمونږ ليارې خير مضمر دئ، دا ځکه چې الله زمونږ مولا دئ او هر څه د هغه په اراده کيږي، که په موقتي توګه له ماتي سره مخامخ کيږو، زمونږ خير په همدې کې مضمر دئ او که فتح او غلبه را په برخه کړي خير په همدې کې دئ، دا ځکه چې الله زمونږ مولا دئ.
- او دا چې د ايمان خاوندان بايد پر الله تعالى باندې توکل وکړي، له نتائجو مطمئن وي، کار به الله ته حواله کوي او له دې به ډاډه وي چې الله تعالى به په هغه باندې نېک نتائج مرتب کوي.

د المائدې په سوره کې دې مطلب ته داسې اشاره شوې:

قَالَ رَجُلَانِ مِنَ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمَا ٱدۡخُلُواْ عَلَيۡهِمُ ٱلۡبَابَ فَإِذَا دَخَلۡتُمُوهُ فَإِنَّكُمۡ غَٰلِبُونَ وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٢٣ المائده: 23

له هغو چې وېرېدل دوو سړيو ئې چې الله پرې پېرزوينه کړې وه، وويل: له دروازې پرې ورننوځئ، نو کله هم چې ورننوتئ تاسو به بريالي وئ او که مؤمنان وئ نو پر الله بايد توکل وکړئ.

موسى عليه السلام څه کسان يوه ښار ته د معلومات راغونډولو لپاره لېږلي وو چې وګوري هلته د دښمن حالت څنګه دئ، هغوى ئې پوه کړي وو چې که کوم احوال تر لاسه کړئ نو خلکو ته به ئې نه واياست، خاص ما ته به ئې رارسوئ. کله چې دوى راوګرځېدل ځينو ئې په قوم کې وېره او خوف راپيدا کاوو او ويل ئې چې دښمن قوي دئ او مقابله ئې ممکنه نه ده، خو د دوى له ډلې دوو کسانو قوم ته ډاډ ورکاوو او حملې ته ئې هڅول. له دغه وګړو چې له

دښمن ئې وېره درلوده، دوو ئې چې الله تعالی پرې پېرزوينه کړې وه او د وېرې په ځای ئې زړونه له ډاډ او اطمئنان ډك وو، قوم ته ويل: په دښمن له دروازو داخل شئ، ستاسو له ننوتلو سره سم به دښمن ماته خوري او تاسو به غالب او فاتح وئ، دوی د بريا، فتحې او د ډاډ او اطمئنان خبره وکړه او وئې ويل: ❑◆⬉◆✍■❼ ✄✍★ ▫⬧☝⬧❑◆✍⅄⬛➔❑☑✄☎ ☽⬀♌
✍➚✡☝⬅⚐ ✌⓾⬧⬃✌⚭☪⚭✓✗◆: که په رښتيا تاسو ايمان لرئ نو پر الله توکل وکړئ؛ که د ايمان په دعوی کې رښتيني يئ نو ځان الله ته وسپارئ، په الله توکل وکړئ، په دښمن بريد وکړئ او له نتائجو ئې مطمئن او ډاډه اوسئ، گورئ چې د ايمان خاوندان همدا خبره کوي چې بايد مؤمن انسان پر الله بروسه او اعتماد وکړي.

همدا راز فرمايي:

وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰقَوۡمِ إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ فَعَلَيۡهِ تَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّسۡلِمِينَ ٨٤
يونس:84

او موسی وويل: اې زما قومه! که تاسو پر الله ايمان راوړی وي نو پر هغه توکل وکړئ که رښتيا د الله اوامرو ته منقاد ياست (که مسلم ياست او ايمان لرئ نو په الله توکل وکړی).

گورئ چې دلته هم قرآن عظيم الشأن فرمايي چې په الله باندې توکل د ايمان غوښتنه او تقاضا ده.

ډاډه او مطمئن زړه

پر الله باندې د ايمان يوه بله تقاضا او غوښتنه دا ده چې د الله ذکر او د هغه يادونه بايد د انسان د اطمئنان باعث شي او اضطراب او پرېشاني ئې ختمه شي، په ډېر سخت حالت کې هم کله چې د الله نوم اخيستل کېږي بايد همدا د انسان د ډاډ او اطمئنان باعث شي او د هغه تشويش او پريشاني رفع شي.

قرآن عظيم الشأن موږ ته همدا ښيي چې څوك په الله ايمان لري همدا ايمان به په سختو حالاتو کې د دې باعث شي چې هغه ډاډه او مطمئن وي، برعکس هغه چې په الله ايمان نه لري تل به مضطرب او پرېشانه وي، حيران به وي او وېرې او خوف به نيولی وي. په دې باب گڼ شمېر آيتونه راغلي، لکه چې

فرمايي:

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ٢٨ الرعد:28

هغه چې ايمان ئې راوړی او د الله په ذکر سره ئې زړونه مطمئن کيږي، پام چې د الله په ذکر او يادولو سره زړونه مطمئن کيږي

يعني هغه چې ايمان لري د الله د نوم په اخيستلو سره، د الله په ذکر سره او چې کله الله ور په ياد شي، په دې سره ئې زړونه مطمئن شي. دا ځکه چې کله شيطان درته وسوسې تلقين کړي او خوف دي په زړه کې راپيدا کړي، خو چې کله ته دې خبري ته متوجه شې چې ستا مرګ ژوند د الله په اختيار کي دئ او دلته هر څه د الله په اراده ترسره کيږي، هغه لکه چې ستا پيدا کوونکی دئ همدا راز ستا پالونکی او ساتونکی هم دئ، د هغه رحمت او پېرزوينه بې انتهاء ده او هغه د دې ملك مالك دئ، په دې زمکه کي د هغه اراده حاکمه او نافذه ده او هر څه د ده ارادې ته منقاد دي، دا اعتقاد او دا ايمان پخپله د دې باعث شي چې ته ډاډه او مطمئن وې او متيقن وې چې له تصادفي حوادثو او پېښو سره نه مخامخ کيږې، بلکي دلته چې هر څه کيږي د يوه مالك الملك الله په اراده کيږي، له دې کبله ته مطمئن او ډاډه وې.

د الفتح په سورې کې راغلي:

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لِيَزۡدَادُوٓاْ إِيمَٰنٗا مَّعَ إِيمَٰنِهِمۡۗ وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ٤ الفتح:4

دى هغه ذات دئ چې د مؤمنانو په زړونو کي ئې سکينه نازله کړه، چې ايمان ئې په نور ايمان ورزيات کړي او د آسمانونو او زمکې ټولې لښکري د الله دي او الله باحکمته پوه ذات دئ.

په دې مبارك آيت کي د هغه حالت په اړه بحث شوی چې پيغمبر عليه السلام له څوارلس سوه ملګرو سره د عمرې او طواف په نيت له مدينې خوځيږي، دښمن د هغه مخه نيسي، په سخت خطرناك سفر وتلی، بی له وسلې او بې له جنګي تياري د دښمن تر تسلط او سيطرې لاندي منطقې ته ننوتی، دښمن د مقابلې اراده لري، په همدغه خطرناك سفر کي دی او ياران ئې ډاډه او مطمئن ول، دا هغه ډاډ او اطمئنان وو چې الله تعالی د دوی په برخه کړی وو، په دې توګه ئې د دوی ايمان ته قوت او ځلا ورکړې وه، هغوی مطمئن او ډاډه وو او

په الله تعالی ئې بروسه او اعتماد وو.

گورئ چې څوك ایمان لري نو الله تعالی په داسي سخت حالت کي د هغه په زړه کي اطمئنان او ډاډ راپیدا کوي او د هغه اضطراب او پرېشاني ختموي.

همدا مطلب د التوبه سورې په 26 آیت کي داسي بیان شوی:

ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ ٢٦ التوبة: 26

بیا الله په خپل پیغمبر او مؤمنانو باندي سکینه نازله کړه او هغه لښکري ئې راولېږلې چې تاسي نه لیدې او کافران ئې تعذیب کړل او دا د کافرانو سزا ده.

د حنین په جګړه کي چې د مسلمانانو شمېر هومره وو چې دوی ئې په تعجب او حیرت کي غورځولي وو، خو ناڅاپي د حنین په منطقه کي د خپل شمېر په نسبت له تقریباً درېیمي برخي دښمن سره مخامخ کېږي، د دوی شمېر تر دولس زره اضافه وو او د دښمن فوځ تقریباً څلور زره کسان وو، خو د دوی له ناڅاپي حملې دومره پرېشانه شول چې پیغمبر علیه السلام ئې په میدان کي یوازي پرېښود، زمکي ځای نه ورکولو، قرآن عظیم الشأن د دوی د پرېشانۍ په اړه فرمایي: زمکه له خپلي پراخۍ سره سره په تاسو تنګه شوه، دا د الله تعالی پراخه زمکه په تاسو تنګه شوه، د ټېکي او د پناه ځای مو نه موندلو او پیغمبر علیه السلام مو په میدان کي یوازي پرېښود. خو له دې وروسته قرآن عظیم الشأن فرمایي چې بیا مو پر پیغمبر علیه السلام او پر مؤمنانو باندي سکینه نازله کړه. په لومړیو شېبو کي مضطرب او پرېشان ول، زمکه پرې تنګه شوې، د ټېکي او د امن پناه ځای نه مومي، خو په دې پسي متصل د دوی په زړونو کي سکون، ډاډ او اطمئنان راپیدا کېږي. دا هم د ایمان یوه علامه ده، الله په سختو حالاتو کي د ایمان له کبله د انسان په زړه کي ډاډ، اطمئنان او سکون راپیدا کوي.

همدا مطلب په څلوېښتم آیت کي په دې الفاظو راغلی:

إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ ٱللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ثَانِيَ ٱثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي ٱلْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحْزَنْ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَا ۖ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلسُّفْلَىٰ ۗ وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ هِيَ ٱلْعُلْيَا ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ٤٠

که تاسو د پیغمبر مرسته ونه کړئ، یقینا الله د هغه مرسته وکړه، کله چې

کافرانو هغه په داسي حال کي (له خپل ملك) اخراج کړ چې هغه یو له دوو کسانو څخه وو، کله چې دواړه په هغه غارکي ول، هغه مهال چې خپل ملګري ته ئې مکرر ویل: مه غمجن کیږه، یقیناً چې الله له موږ سره دئ، نو الله خپله سکینه پرې نازله کړه او په هغو لښکرو ئې د ده مرسته وکړه چې نه مو لیدل، د کافرانو شعار ئې ټیټ کړ، او الهي کلمه خو لوړه ده، او الله باحکمته عزتمن دئ.

دې مبارك آیت د ضعف او کمزورۍ هغه حالت انځور کړی چې د مکې کفارو پیغمبر علیه السلام له خپله ملکه وتلو ته اړ کړ، په داسي حال کي ووتلو چې د دوو کسانو دوهم کس وو، مجبور وو یوه غار ته پناه یوسي، ټول قوم د ده د نیولو او وژلو لپاره وتلی، توري ئې له تېکو ایستلي، ابوجهل د دې اعلان کړی چې که هر چا پیغمبر علیه السلام ونیولو یا ئې ووژلو سل اوښان به هغه ته انعام ورکوي، د مکې مکرمې ټولي لاري نیول شوې. دا خو څه کوئ چې دوی دوه کسان وو، ټول قوم ئې په خلاف وتلی او هغه ئې له خپل ملك اخراج کړی او دې ته مجبور شوی چې غار ته پناه یوسي، بلکي په همدې حالت کي هم د ده دا دوهم ملګری د دې په ځای چې د ده د ډاډ او اطمئنان باعث شي، برعکس ده ورته اطمئنان ورکاوو، یعني هغه هم پریشانه او مشوش دئ. که د سنګر ملګری مطمئن او ډاډه وي دا د انسان د اطمئنان باعث کیږي، خو ګورئ چې حالت داسي دئ چې ملګری ئې د ده ډاډېیني او اطمئنان ته ضرورت لري، هغه ته وایي: لا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ معنا: مه غمجن کیږه، الله له موږ سره دئ، ګورئ چې په دغسي سخت حالت کي پیغمبر علیه السلام مطمئن او ډاډه دئ او په دې کامل یقین لري چې الله له هغه سره دئ. د همدې اطمئنان او ډاډ له اظهار وروسته الله تعالی مزید سکینه پرې نازله کړه او په غیبي لښکرو سره ئې د ده مرسته وکړه: فَأَنزَلَ اللَّهُ سكِينَتَهُ عَلَيْهِ یعني کله چې ده اطمئنان وښود او په دې خبري ئې خپل ډاډ څرګند کړ چې الله له ده سره دئ او خپل ملګري ته ئې هم اطمئنان ورکړ، د دې اطمئنان او ډاډ څرګندولو له کبله الله تعالی خپله سکینه پرې نازله کړه، الفاظ داسي دي چې ښیي دا سکینه او اطمئنان د هغي مخکنۍ وینا نتیجه وه، چې خپل ملګري ته ئې وویل: لا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ معنا: مه غمجن کیږه یقیناً چې الله له موږ سره دئ او د همدې وینا په سبب الله تعالی په داسي لښکرو سره تأیید کړ او د هغه مرسته ئې وکړه چې تاسو نه لیدل، دا فتح او

غلبه او د ملائکو راتګ د دې خبري نتيجه وه چې پيغمبر عليه السلام خپل ملګري ته وويل: مطمئن او سپېره چې الله له موږ سره دئ. وَ جَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السفْلى: او د کافرانو کلمه ئې نسکوره او راټيټه کړه وَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا: او د الله کلمه همدا اوچته ده، وَ اللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ: او الله عزيز حکيم ذات دئ. الله غالب او با حکمته دئ، هغه په دې قادر او توانا دئ چې مؤمنانو ته فتح او غلبه ورکړي،د کافرانو مکر شنډ کړي، توطئې ئې خنثی کړي او پرې نږدي چې هغوی خپل هدف ته ورسېږي، او هغه حکيم دئ، په دې ښه پوهېږي چې په څه ترتيب او له کومي لارې پيغمبر عليه السلام او مؤمنانو ته فتح او غلبه ورکړي او کافران له ماتي او هزيمت سره مخامخ کړي، هم غالب دئ او هم حکيم، عزيز دئ تاسو ته پر هر ځواکمن دښمن برى درکولى شي، حکيم دئ پوهېږي چې څنګه دښمن په خپلو هڅو کي ناکام کړي او پرې نږدي چې خپل هدف ته ورسېږي.

د آل عمران د سورې په 173 آيت کي هم دې مطلب ته داسي اشاره شوې:

ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدۡ جَمَعُواْ لَكُمۡ فَٱخۡشَوۡهُمۡ فَزَادَهُمۡ إِيمَٰنٗا وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ ١٧٣ آل عمران: 173

هغه (مؤمنان) چې خلکو ورته وويل: يقيناً چې ډېر خلك (ستاسو دښمنان) درته راغونډ شوي (لښکري ئې ستاسو په خلاف راغونډي کړې دي) نو له دوى ووېرېږئ! نو (دې خبري) د دوى ايمان لازيات کړ، او وئې ويل: الله موږ ته کافي دئ او هغه غوره وکيل دئ.

ګورئ چې د دښمن د مبلغينو دا تبليغات چې ويل ئې د مسلمانانو په خلاف فوځونه او لښکري راغونډ شوي، د دې پر ځاى چې د مؤمنانو په زړونو کي وېره او خوف راولاړ کړي برعکس دا د دوى د ايمان د مزيد تقويې باعث ګرځي او وايي: حَسبُنَا اللَّهُ وَ نِعْمَ الْوَكيلُ: الله موږ ته کافي دئ او هغه غوره وکيل دئ. هغوى مطمئن او ډاډه دي، د دښمن له فوځونو او لښکرو وېره نه لري، د دې په ځاى چې د فوځونو راغونډېدل د دوى په زړونو کي وېره او خوف راپيدا کړي برعکس د هغوى ايمان تقويه کېږي، په الله ئې اعتماد اضافه کېږي، الله ته ئې هيلي زياتېږي، په سختو حالاتو کي د هغوى اړيکي له خپل رب سره مزيد مضبوطي شي، او همدا د دوى د ايمان د تقويې باعث شي.

همدا مطلب د آل عمران سورې په بل آیت کې داسې راځي:

ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّنۢ بَعْدِ ٱلْغَمِّ أَمَنَةً نُّعَاسًا يَغْشَىٰ طَآئِفَةً مِّنكُمْ ۖ وَطَآئِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنفُسُهُمْ يَظُنُّونَ بِٱللَّهِ غَيْرَ ٱلْحَقِّ ظَنَّ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ ۖ يَقُولُونَ هَل لَّنَا مِنَ ٱلْأَمْرِ مِن شَيْءٍ ۗ قُلْ إِنَّ ٱلْأَمْرَ كُلَّهُۥ لِلَّهِ ۗ يُخْفُونَ فِىٓ أَنفُسِهِم مَّا لَا يُبْدُونَ لَكَ ۖ يَقُولُونَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ ٱلْأَمْرِ شَيْءٌ مَّا قُتِلْنَا هَٰهُنَا ۗ قُل لَّوْ كُنتُمْ فِى بُيُوتِكُمْ لَبَرَزَ ٱلَّذِينَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقَتْلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمْ ۖ وَلِيَبْتَلِىَ ٱللَّهُ مَا فِى صُدُورِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِى قُلُوبِكُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ١٥٤ آل عمران:154

بیا ئې له دې غمونو وروسته پرتاسو د پرکالې په ښه کې هغه ډاډېنه نازله کړه چې ستاسو پر یوې ډلې به غوړېدله او بله ډله بیا داسې وه چې خپلو ځانونو په اندېښنه کې غورځولې وو، د الله په اړه ئې د جاهلیت د دور ناروا ګمانونه کول، ویل ئې: د دې کار څه زمور په برخه دي؟ ورته ووایه: کار خو ټول د الله (په واک کې) دئ، دوی په خپلو زړونو کې هغه څه پټوي چې تا ته ئې نه څرګندوي، وایي: که د دې کار څه زمور په برخه وی نو دلته به نه وژل کېدو، ورته ووایه: که په خپلو کورونو کې هم وئ نو هغه کسان به هرومرو د خپلې مړینې ځای ته راوتلي وو چې وژنه ئې مقرره شوې وه او چې ستاسو د سینو خبرې وآزمویي او ستاسو د زړونو شته عیار کړي او الله د زړونو په شته وو ښه پوه دئ.

په دې مبارك آیت کې څو مهمي لاربنووني زمور مخې ته اېښودل شوې:

- د جګړې په هغه سخت او له اضطرابه ډك حالت کې د ځینو مجاهدینو وضعیت داسې وو چې په وار وار وربانديې پرکالې راتله، د خوب دا حالت په هغه چا راځي چې هیڅ وېره ئې نه وي، ممکنه نه ده چې د وېرې په حالت کې په انسان خوب راشي، په دوی باندې د پرکالې راتګ ښیي چې دوی هیڅ وېره نه درلوده، زړونه ئې ډاډه وو او الله تعالی خپله سکینه او ډاډېنه پرې نازله کړې وه.
- د دوی په مقابل کې بله ډله داسې وه چې له ځان پرته د بل هیڅ څه په فکر کې نه وو، ټول هم او غم ئې دا وو چې څنګه ځان وژغوري، نه ئې د دې پروا کوله چې پر پیغمبر علیه السلام او نورو مسلمانانو به څه راځي او نه د دې چې د اسلام او د مدینې راتلونکې به څنګه وي، د الله تعالی په اړه ئې عقیده بدله

شوې وه او داسي ګمانونه ئې په ذهن او زړه کي ګرځېدل چې د جاهليت د دور باورونو او ګمانونو ته ورته وو، له الله ناهيلي شوي وو او د الهي نصرت وعدو ته ئې د شك په سترګه کتل.

- ځينو به ويل: له دې جګړو به څه ترلاسه کړو، که څه ګټه په کي وی نو دلته به نه وژل کېدو، ځينو نورو به ئې ويل: که د دې جګړې قيادت او قومنده زمونږ په لاس کي وی او زمونږ مشورو ته اعتناء شوې وی نو له دې حالت سره به نه مخامخ کېدو، قومنده سمه نه وه، د جنګ پلان صحيح نه وو، لازم ترتيبات نه وو نيول شوي، د ماتي او تلفاتو مسئوليت د هغه چا په غاړه دئ چې دا جګړه ئې اداره کوله.
- د دوی لپاره تر ټولو غوره ځواب دا دئ: کارونه ټول د الله په واك کي دي، هر څه د ده په اراده ترسره کېږي، د کارونو پايله او نتيجه د ده له لوري ټاکل کېږي.
- دوی په خوله يو څه وايي خو په زړه کي ئې بل څه دي، د زړونو پټه خبره ئې دا ده چې وايي: که د جنګ قومنده زمونږ په لاس کي وی نو له دومره مرګ ژوبلي سره به نه مخامخ کېدو.
- دوی په اصل کي په دې باور نه لري چې مرګ په خپل وخت راځي، نه ئې ځای بدلېږي او نه ئې وخت. دوی ته ووايه: که ستاسو رأيه منل شوې وی، جنګ ته نه وی راوتلي، بيا به هم هغه کسان په خپلو پښو هغه ځای ته تلل چې د دوی د وژل کېدو لپاره له مخکي ټاکل شوی وو، داسي خو نه ده چې په بې غيرتۍ سره خلك له مرګه ژغورل کېږي، د جګړو له ميدان بهر هم خلك مري، بې غيرتان هم مري، هغه بې همته قومونه چې د دښمن له مقابلې ئې ډډه کړې او دښمن ته تسليم شوي او دښمن له کوم خندۍ او مقاومت پرته د دوی په کور کلي مسلط شوی، د دوی مړي په هيڅ صورت کي تر هغو کم نه وو چې په مېړانه ئې د دښمن مقابله کړې ده. بدايه و نهايه ليکلي: د بغداد په سقوط کي د هلاکو د برید په ترڅ کي دولس لکه کسان ووژل شول، په داسي حال کي چې دوی د يرغل په وړاندي هيڅ مقاومت نه وو کړی، که ئې مقاومت کړی وی نو يقيناً چې تر دې شمېر لږو شهيدانو سره به ئې د هلاکو برید په شا تمبولی وو.
- دا آزموينه د دې لپاره وه چې له يوې خوا د منافقينو د سينو اسرار رابرسېره کړي او له بلي خوا د مؤمنانو د زړه اخلاص او صداقت لا پسي

مضبوط او پیاوړی کړي او د دوی پوخ ایمان ته مزید پوخوالی او ځلا ورکړي.

ګورئ چې دلته دوه داسي ډلي سره مقایسه شوې چې له ورته خطر سره مخامخ دي، د جګړې سخت حالت او د دښمن له لوري د لوی برید وېره، خو یوه ډله دومره ډاډه او مطمئنه ده چې پرمښکی پرې راځي، تر خوب وړاندي چې کوم حالت پر انسان راځي پر دوی همدا حالت راتلو، او دا همغه امن، سکون او ډاډېینه وه چې الله تعالی پر دوی نازلوله، خو د دوی په مقابل کي بله ډله داسي وه چې دې غم او اندېښنې مصروف کړي وو چې له دې خطره به ځنګه ځان ژغوري، څه چاره به کوي، پرېشان او مضطرب وو، دا هغه مهال وو چې د احد د جګړې په دوران کي د مسلمانانو د لښکر په لیکو کي د سخت اضطراب او پرېشانۍ حالت راپیدا شو، د دښمن د برلاسي او د مجاهدینو د ماتي آثار او نښي راڅرګندي شوې، په دې وخت کي مسلمانان په څو ډلو ووېشل شول، قرآن عظیم الشأن د ځینو حالت داسي بیانوي چې د ډېر ډاډ او اطمئنان له کبله د خوب حالت ورباندي راځي، تاسو پوهېږئ چې انسان ته یوازي هغه وخت خوب ورځي چې په بشپړه توګه ډاډه او مطمئن وي، یو معمولي تشویش د دې باعث شي چې خوب وتښتي، هغه مهال خوب پرې راځي چې ټول تشویشونه ئې رفع شي او کاملاً ډاډه او مطمئن شي، د جنګ په دوران کي چې په چا خوب راځي د دې معنی دا ده چې له هغه سره په همدې حالت کي هیڅ تشویش او اندېښنه نشته.

که الله تعالی په سخت حالت کي د واقعي مؤمنانو زړونه په ډاډ او اطمئنان خړوبوي، آن تر دې حده چې په دوی باندي پرمښکی راځي، په مقابل کي ئې بله ډله د ایمان د ضعف له کبله په سخت حالت کي په داسي وېرې او تشویش اخته وي چې د خپلو نفسونو غم او اندېښنې مصروف کړي وي او د الله تعالی او د هغه د وعدو په اړه د جاهلیت د دورګمانونه کوي، له خپل انتخاب او له مسلمانانو سره له ملګرتیا پښېمانه وي او وایي: هَل لَّنَا مِنَ الأَمْرِ مِن شَيْءٍ چې له دې خبرې د دوی مراد یا دا وي چې آیا له دې کاره موږ ته کومه ګټه متصوره ده؟ آیا له داسي کارونو څه نتیجه تر لاسه کولی شو؟ موږ ته به څه په لاس راشي؟ دا خو یو بې نتیجې کار دئ!! او یا ئې مراد دا دئ چې د دې کار د اداري او لارښوونې په اړه موږ څه اختیار او واك نه لرو، مسئولیت ئې د هغه

چا په غاړه دئ چې د جنګ سوق او اداره ئې په لاس کې ده، دا کار زمونږ په مشوره ونشو، زمونږ معقولو وړاندیزونو ته اعتناء ونه شوه، نو ځکه له دې ماتې سره مخامخ شوو، که قیادت او مشري زمونږ په لاس کې وی، که زمونږ رأیه منل شوې وی، نو له دې ماتې سره به نه مخامخ کېدو!!

هو؛ دا منافقین دي چې له ماتي وروسته د خپلو نفسونو فکر حیران کړي وي او په دې اندېښنه کي وي چې څنګه ځان وژغوري، څه وکړي چې هغوی ته صدمه ونه رسېږي او څنګه له خطر خوندي پاته شي، د الله تعالی او د ده د وعدو په اړه ډول ډول ناسم جاهلانه ګمانونه کوي، قرآن مونږ ته لارښوونه کوي چې د منافقینو د دغو تبلیغاتو په ځواب کې باید ووایو: إِنَّ الأَمْرَ كُلَّهُ للَّهِ: یقیناً چې ټول کارونه د الله تعالی په اختیار کې دي، فیصلې دی صادروي، په کارونو باندي نتائج دی مرتب کوي، اختیارات له ده سره دي، د چارو پایلي دی ټاکي او هر کار د ده په اراده ترسره کېږي. قرآن فرمایي چې د منافقینو دا خبري له هغو افکارو او عزائمو نشأت کوي چې دوی ئې په خپلو سینو کې پټ ساتي او له ځرګندولو ئې ډډه کوي: يُخْفُونَ فی أَنفُسِهِم مَّا لا يُبْدُونَ لَكَ: په خپلو سینو کې هغه څه پټوي چې نه غواړي تا ته ئې ځرګند کړي، که څه هم خبري په دې انداز کوي چې ګواکي د نتائجو په اړه تشویش لري او وایي آیا په دې کار مو څه نتیجه مرتب کېدی شي؟ مونږ هم په دې کې څه برخه لرو؟ خو د دوی په سینو کې ډېري خبري داسي دي چې ځرګندول ئې نه غواړي، يَقُولُونَ لَوْ كانَ لَنَا مِنَ الأَمْرِ شَیْءٌ مَّا قُتِلْنَا هَهُنَا: وایي: که له دې کار مونږ ته څه برخه وی نو دلته به نه وژل کېدو، که رښتیا دا وعدې حق وی چې الله تعالی به زمونږ مرسته کوي، مونږ به فاتح او غالب یو او دښمن به ماته خوري، نو ولي به مونږ دلته له ماتې سره مخامخ کېدو او ولي به وژل کېدو، که چېرې د دې کار اداره زمونږ په لاس کې وی او قیادت او مشري زمونږ په اختیار کې وی، دلته به زمونږ کسان نه وژل کېدل!!

ډېر کسان داسي وي چې د ماتي او هزیمتونو پر مهال د قیادت په خلاف همدا راز تبلیغات کوي، هغه جاه طلب عناصر چې د قیادت لاس ته راوړلو لپاره مترصد وي او غواړي له هر فرصت په استفادې سره موجود قیادت وټکوي او په صف کې د هغه اعتبار تضعیف کړي، د ماتو په دوران کې همدا تبلیغات کوي: که کار زمونږ په لاس کې وی، که زمونږ رأیه منل شوې وی، که مونږ ته

موقع راکړ شوې وی، که قیادت او زعامت زمونږ په لاس کې وی، نقشه او پلان مونږ وضع کړي وی، نو دلته به له ماتې سره نه مخامخ کېدو!! تل د هزیمتونو په دوران کې ځینې کسان دغسې منافقانه مواقف غوره کوي. ښایي له دې مشکل سره د هرې جبهې هر قوماندان مخامخ شوی وي چې د ده د جبهې هغه غرضي او جاه طلب کسان چې غواړي د ده ځای ونیسي، دې ناروا مقصد ته رسېدو لپاره هغه موقع تر ټولو غوره فرصت ګڼي چې جبهه په موقتي ډول له ماتې او کړاوونو سره مخامخ شوې او تلفات ئې لیدلي وي، دلته ده چې دغه منافق عناصر او د قیادت وړی چې غواړي ثابته کړي دا جنګونه په روان شکل کې بې فایدې دي، تر څو چې د قواوو ترمنځ توازن نه وي راغلی، د عسکري او فوځي وسائلو له ناحیې مو پر خپل دښمن برلاسي او تفوق نه وي حاصل کړی، باید له دښمن سره د ټکر او تصادم لاره غوره نه کړو، دوی له دغو ماتو د موجود مجاهد قیادت په ضد استفاده کوي او دا تبلیغات کوي چې که قیادت زمونږ په لاس کې وی، زمونږ رأیه منل شوې وی، زمونږ مشورو ته مو غوږ اېښی وی، او قیادت د دغو موجود کسانو په اختیار کې نه وې نو دلته به زمونږ کسان نه وژل کېدل، قرآن د دوی په ځواب کې فرمایي: قُل لَّوْ كُنتُمْ فی بُيُوتِكُمْ لَبرَزَ الَّذِينَ كُتِب عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ إلی مَضاجِعِهِمْ: ورته ووایه! که څه هم تاسو په خپلو کورونو کې وی (یعني ستاسو رأیه منل شوې وی، جنګ نه وی شوی او تاسو له خپلې رأیې سره سم په خپلو کورونو کې پاتې شوي وی) حتماً به هغه کسان چې د دوی په اړه د مرګ فیصله شوې خپل مضجع او مقتل ته وتلي وو، د چا په اړه چې د مرګ فیصله شوې وه، هغه به خامخا په خپلو قدمونو هغه ځای ته تلل په کوم کې چې باید په اړخ پرېوتي وی او د روح امانت ئې الله ته تسلیم کړی وی. وروسته فرمایي: دا حالت خو الله تعالی د دې لپاره راولي چې: وَ لِيَبْتَلَىَ اللَّهُ مَا فی صدُورِكمْ وَ لِيُمَحِّص مَا فی قُلُوبِكُمْ وَ اللَّهُ عَلِيمُ بِذَاتِ الصدُورِ: تر څو الله هغه څه وآزمویي چې ستاسو په سینو کې دي او هغه څه ښه عیار کړي چې ستاسو په زړونو کې دي او الله په هغه څه چې په سینو کې دي ښه پوه دئ.

یعني تاسو چې د دې ادعاء کوئ چې ایمان لرو، اخلاص لرو، په الله مو توکل او اعتماد دئ، الله تعالی به دا خبري د جنګ په میدان کې وآزمویي، دا به معلومه کړي چې آیا په ربنتیا تاسو په الله توکل او اعتماد لرئ، او په دې خبري

باور لرئ چې د مرګ او ژوند پربکړه د الله تعالى له لورې کېږي؟ دا پټ اسرار لدې پرته په بل صورت کې نه معلومېږي چې د جنګ داسې صحنې رانشي چې د دښمن شمېر تر تا زیات وي، د هغه مواضع په ظاهر کې ستا تر سنګر مستحکمي او ټینګي برېښیي، تر څو چې داسې حالت رامنځته نشي د دې خبرو حقیقت نه معلومېږي.

دې ته به مو باید حتماً پام وي چې دلته په یوه مورد کې (سینې) ته او په بل مورد کې (زړه) ته اشاره شوې او ویل شوي: هغه څه وآزمویي چې ستاسو په سینو کې دي او هغه څه چې په زړونو کې دي هغه عیار کړي او رشد ورکړي، باید وګورو د دې وینا مراد څه دئ، په زړونو کې څه دي او په سینو کې څه؟

د منافق افکار، تصورات او عقائد تل له شك او شبهې سره توأم وي او د زړه تل ته له نفوذ او ننوتلو عاجز، په سینه کې پټ وي، خو زړه ته لار نشي موندلى، دا ایمان دئ چې د زړه سلول سلول ته نفوذ کوي او انسان ته ډاډ او اطمئنان وربخښي، د الله تعالى په اړه د منافقینو ناسالم اعتقاد او د دوی غلط تصورات د دې موجب شي چې هغوی د جګړې په دوران کې مذبذب او متردد وي او عدم اطمئنان، وېرې او اضطراب احاطه کړي وي، خو د مؤمنانو په زړونو کې چې کوم اخلاص دئ، په الله کلك اعتقاد او ایمان دئ، د جهاد په نتیجه کې به الله دې ته وده ورکوي، دا به کاملاً عیاروي او کمال ته به ئې رسوي. ګورئ چې جنګ له یوې خوا د دې باعث شي چې د منافقینو حقیقت بربنډ شي، له بلې خوا د مؤمنانو د ایمان د تقویې او د هغوی د مزیدي تربیې او رشد باعث شي. همدا د جنګ صحنې او د ماتې او هزیمت حالت دئ چې له یوه پلوه د هغه چا ایمان ته قوت او ځلا وربخښي او له الله تعالى سره ئې تعلق او رابطه ټینګوي چې په زړه کې ئې ایمان وي، خو له بله پلوه د منافقینو حقیقت څرګندوي، په دغسې حالت کې د دوی نفاق بربنډ او هر چا ته واضح او څرګند شي، هغه څه چې دوی په خپلو سینو کې پټ ساتلى هغه بربنډ شي. د دې آزموینې او امتحان معنى دا نه ده چې الله تعالى غواړي د دوی په حقیقت پوه شي؛ بلکې غواړي چې خلکو ته ئې څرګند او بربنډ کړي، الله تعالى علیم دئ، څه چې خلك په خپلو سینو کې پټ ساتي هغه پرې پوه دئ، وَ اللَّهُ عَلِيمُ بِذَاتِ الصدُورِ.

د احزاب په سوره کې دا مطلب په دې الفاظو توضیح شوی:

وَلَمَّا رَءَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْأَحْزَابَ قَالُواْ هَٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَصَدَقَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّآ إِيمَٰنًا وَتَسْلِيمًا ٢٢ الاحزاب:22

او کله چې مؤمنانو هغه ډلې ډلې (لښکري) ولیدلې وئې ویل: دا همغه څه دي چې الله او پیغمبر ئې له مورِ سره ژمنه کړې وه، او الله او د هغه پیغمبر رښتیا ویلي، او زیات ئې نه کړ مګر د دوی ایمان او انقیاد.

په دې مبارك آیت کې د احزابو جنګ ته اشاره شوې، هغه مهال ته چې د مسلمانانو په خلاف ټول دښمنان راغونډ شوي وو، مدینه محاصره وه، تر دې وړاندي د عربو په تاریخ کې هیڅکله دومره ستر لښکر د چا په خلاف نه وو وتلی، مسلمانانو د دې ستر لښکر د مخامخ مقابلې توان نه درلود، مجبور شوي وو چې د مدینې منورې شا و خوا خندق وکیني، خو کله چې مؤمنان ګوري چې د دوی په خلاف ټول دښمنان په مدینې باندې د پرېکنده ستر برید لپاره راغونډ شوي، راشئ وګورو چې د دې حالت په لیدو او له دغه ستر لښکر سره د مخامخېدو په دوران کې د دوی حالت څنګه او وینا ئې څه وه؟ قرآن مورِ ته د دوی حالت داسې انځور کړی: د لښکر په لیدو سره هغوی وویل: دا همغه څه دي چې الله تعالی ئې له مورِ سره وعده کړې وه، دا وعده چې پر دوی به فتح او غلبه راکوي، ډاډه او مطمئن دي چې د الله تعالی دا وعده رښتینې ده، د دې په ځای چې د ستر لښکر راغونډېدل په دوی کې وېره او خوف راولاړ کړي، د دوی په زړونو کې شك او ریب راپیدا کړي، د دوی د اضطراب او پرېشانۍ باعث شي، برعکس مطمئن دي چې الله او د هغه پیغمبر په خپلو وعدو کې رښتینې دي، دا همغه د الله تعالی رښتینې وعده ده چې له مورِ سره ئې کړې ده، حتماً به مورِ ته په دوی باندې فتح او غلبه راکوي، که د دښمنانو راغونډېدا په دوی کې څه زیات کړی وي نو هغه د دوی ایمان او پوخ باور په الله تعالی او د ده په وعدو وو نه بل څه: وَ مَا زَادَهُمْ إِلا إِيمَاناً وَ تَسلِيماً : په دوی کې ئې بل څه زیات نه کړ مګر ایمان او د الله تعالی په وړاندي انقیاد، یعني دغه حالت باعث شو چې پر الله جل شأنه د دوی اعتماد او باور مزید مضبوط او اړیکي ئې له خپل رب سره لازیاتې ټینګې شي، او د الله تعالی د اوامرو په وړاندي ئې انقیاد او تسلیمي لازیاته شي، ګورئ چې په سختو حالاتو کې، د اضطراب او پرېشانۍ په وخت کې، د دې په ځای چې د مؤمنانو په زړونو کې خوف، وېره،

جبن او پريښاني راپيدا شي، برعكس د هغوى ايمان تقويه كيږي، داسي حالات په دوى كي نه راپيدا كوي مگر د ايمان ټينگوالى او د انقياد زياتوالى. دا دئ گورئ چي په دغسي سختو حالاتو كي به د ايمان په وجه د انسان په زړه كي اطمئنان او ډاډ راپيدا كيږي او د عدم ايمان له كبله به انسان مضطرب او پريشان وي.

اطاعت

په الله باندي د ايمان بله تقاضا دا ده چي انسان به د خپل رب اوامرو ته غاړه ږدي، د الله تعالى دين ته به منقاد وي، اطاعت او مننه به كوي. په عملي توگه د الهي احكامو اطاعت او مننه د ايمان تقاضا ده، قرآن هغه څوك د هوس او شيطان بنده بولي چي د خپل نفس غوښتنو او د شيطان هڅونو ته مطيع وي، كه څه هم په خوله وايي چي زه د الله بنده يم! د قرآن دې آيت ته لږ ځير شئ:

أَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا ٤٣ الفرقان: 43

آيا هغه ته دي پام كړى چي خپله هوى او هوس ئې ځان ته اله (معبود) گرځولى، نو آيا ته پرې وكيل يې؟

دا مبارك آيت كه له يوې خوا مورږ ته وايي چي له حق او حقپالو سره د ځينو د مخالفت وجه دا وي چي هغوى د خپل هوس بندگان وي، د نفس او هوس بندگي ئې دې ته نه پريږدي چي حق ومني، د حقپالو په لار روان شي او د هغوى ملگرتيا وكړي، له بلي خوا د (اله) او معبود حقيقي معنى رابنيي، دلته د نفس بندگي او خپل هوس ته تسليمېدا داسي گڼل شوې لكه چي هوس معبود وي او انسان ئې بنده، د دې معنى دا ده چي كه څوك له الله تعالى پرته د بل چا يا د خپل هوس له قيد او شرط پرته اطاعت وكړي او پريكړو ته ئې سر ټيټ كړي نو د الله تعالى پر ځاى ئې همدغه مطاع خپل معبود نيولى. څوك چي الله تعالى خپل اله گڼي دا ادعاء ئې په هغه صورت كي رښتيني ده چي د هغه اوامرو ته تسليم وي او په لارښوونو ئې عمل وكړي، له دې پرته ئې ادعاء بې بنسټه او دروغجنه ده. نو د لا اله الا الله معنى دا ده چي له الله تعالى پرته داسي څوك نشته چي د هغه حكم ته تسليم وو او سپارښتنې ئې عملي كړو. نو د دې مبارك آيت معنى دا ده: چا چي د خپل نفس او هوى او هوس متابعت وكړ په حقيقت كي ئې خپل نفس (اله او معبود) گرځولى.

قرآن وايي: څوك چې د شيطان متابعت كوي په حقيقت كي هغه همدا شيطان خپل (اله او معبود) ګرځولی، ځكه معبود هغه چا ته ويل كيږي چې انسان د هغه عبادت او بندګي كوي، قرآن په دې اړه فرمايي:

أَلَمۡ أَعۡهَدۡ إِلَيۡكُمۡ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعۡبُدُواْ ٱلشَّيۡطَٰنَۖ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ٦٠ وَأَنِ ٱعۡبُدُونِيۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ٦١

اې د آدم بچيانو! آيا فرمان مي نه وو درلېږلی چې د شيطان بندګي مه كوئ؛ يقيناً چې هغه ستاسو څرګند دښمن دئ؟ او زما عبادت وكړئ، همدا مستقيمه لار ده؟

دا دئ ګورئ چې قرآن د شيطان اطاعت د هغه له لمانځني او عبادت سره مترادف ګڼي او وايي چې د قيامت په ورځ به الله تعالى انسانانو ته په خپل خطاب كي وفرمايي: اې د آدم بچيانو! آيا فرمان مي نه وو درلېږلی چې د شيطان بندګي مه كوئ؛ يقيناً چې هغه ستاسو څرګند دښمن دئ؟ آيا تاسو ته مي نه وو ويلي چې يوازي زما عبادت وكړئ چې همدا يوازينۍ مستقيمه لار ده؟ آيا نه مي وو درته ويلي چې شيطان ستاسو ډېر نسلونه بې لاري كړل؟ ولي مو په دې اړه تعقل نه كولو؟

د دې آيتونو معنى دا ده چې انسان به يا د خپل نفس بنده وي، يا د شيطان او يا د الله تعالى، دا دې حالتونه سره يو ځای كېدی نشي، د الله عبادت يعني دا چې انسان به يوازي د الله تعالى د حكم په وړاندي منقاد وي او كله چې كوم حكم واوري او په دې پوه شي چې دا د الله حكم دئ بيا به له څه ځنډ او تأخير پرته، فوري اقدام كوي او د حكم د عملي كولو لپاره به ملاتړي، ټوله هڅه به ئې دا وي چې د حكم مطابق عمل وكړي.

دا مطلب د قرآن عظيم الشأن په متعددو آيتونو كي بيان شوی، د النساء په سوره كي په دې اړه داسي لولو:

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا ٦٥ النساء:65

نو نه؛ ستا په رب قسم چې تر هغه ئې ايمان نه دئ راوړی چې تا په خپلمنځيو شخړو كي حكم ونه ګرځوي، بيا ستا د پرېكړي په اړه په خپلو زړونو كي تنګوالی ونه مومي او په بشپړه توګه تسليم نشي.

دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: ترهغه چي تا په خپلو شخړو کي حکم ونه نيسي او بيا ستا په پرېکړي راضي نشي او په خپلو زړونو کي هيڅ حرج احساس نه کړي او عملاً انقياد ونکړي، مؤمنان نشي بلل کېدی او د ايمان ادعاء ئې نشي قبلېدی. له دې آيته په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي د ايمان د قبلېدو لاندي شرائط دي:

- شخړي او منازعات شريعت ته محول کول.
- د اسلام په هري پرېکړي رضايت.
- او هر حکم ته ئې عملاً غاړه اېښودل.

دا آيت مورِ ته وايي: تر هغه د چا ايمان اعتبار نه لري چي په خپلو شخړو او مشاجرو کي پيغمبر عليه السلام او هغه دين چي د ده په لاس لېږل شوی د حکم په توګه ونه مني، د خپلو مشاجرو د حل و فصل لپاره هغه ته رجوع ونه کړي، پيغمبر عليه السلام د حکم او قاضي په حيث ونه مني، په فيصلې او پرېکړي راضي او قانع نه وي، د پرېکړي په اړه په خپل زړه کي څه حرج او تنګوالی احساس نه کړي، او تر څو چي عملاً غاړه ورته کښېنږدي او عمل پرې ونه کړي.

د انسان ايمان هغه مهال اعتبار لري چي دا درې شرائط تأمين شي: په ټولو شخړو، مشاجراتو او منازعاتو کي هغه دين د حَکَم په توګه منل او هغه ته رجوع کول چي پيغمبر عليه السلام راوړی، د دين په فيصلې رضايت او قناعت، د دين له هيڅ پرېکړي به په خپل زړه کي څه حرج او تنګي نه احساسوي، که دين دا فيصله کړې وه چي د هغه لاس قطع شي، په دې فيصله به راضي وي، که د ده د رجم فيصله ئې کړې وه، په دې به قانع او راضي وي، او درېيم دا چي هغه به عملاً منقاد وي، د دين پرېکړو ته به تسليم وي او دا فيصلې به مني، يعني دين ته د حکميت لپاره رجوع، په فيصلې باندي رضايت او قناعت او هغه ته عملاً انقياد، دا هغه درې شرطونه دي چي له دې پرته د چا د ايمان دعوی نه منل کېږي.

د دې آيت الفاظ ډېر پرېکنده، قاطع او واضح دي، الله تعالی په ټول تأکيد سره فرمايي: اې پيغمبره! ستا په رب دي قسم وي چي تر هغه ئې ايمان نه دئ راوړی، ايمان ئې مقبول نه دئ او الله تعالی د دوی ايمان ته اعتبار نه ورکوي،

تر هغه چې همدا دري شرطونه تأمين نه شي.

همدا راز فرمايي:

وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمۡرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ مِنۡ أَمۡرِهِمۡۗ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلٗا مُّبِينٗا ٣٦ الاحزاب: 36

او هيڅ مؤمن او مؤمني ته نه ښايي چې کله الله او د ده رسول د کوم کار پرېکړه وکړي (بيا دي) دوی ته په خپل کار کې څه اختيار وي، او څوك چې له الله او د هغه له رسول سرغړاوی وکړي يقيناً چې په څرګند لارورکتوب سره لارورکی شو.

دا مبارك آيت د ايمان يوه ستره او اساسي تقاضا زمونږ مخي ته ږدي او وايي: له هيڅ مؤمن او مؤمني سره دا نه ښايي چې کله الله تعالی او د ده رسول د کوم کار پرېکړه وکړي بيا دي دوی په خپل کار کې کوم اختيار ولري او د خپلې خوښې پرېکړه دي وکړي، د الله تعالی او د هغه د رسول د پرېکړې په وړاندې د دوی اختيار په بشپړه توګه سلبږي او له دې پرته چې پرېکړې ته غاړه کېږدي او له کوم بدلون او ځنډ پرته ئې عملي کړي د بل څه کولو حق نه لري، له دې پرته بل څه کول سرغړاوی دئ او څوك چې له الله تعالی او د هغه له رسول سرغړاوی وکړي يقيناً چې لارورکی شوی او سمه لار تري ورکه شوې.

هر مؤمن انسان د خپل رب عبد او مريی دئ، دا د عبد او مريي يوه اساسي ځانګړتيا او خصوصيت وي چې په خپل ټول ژوند کې د خپل آقا د فرمان مطيع وي، هغه له خپل لوري او په خپل سر د هيڅ کار په اړه فيصله نه کوي، هغه ته چې د څه کولو کوم دستور او هدايت ورکول کېږي همغه کوي، کوم اقدام چې د خپل آقا او مالك د اذن او حکم پرته ترسره کړي دا اقدام ئې بغاوت ګڼل کېږي، دا د غلامۍ او مرييتوب له حده تجاوز ګڼل کېږي، هغه د ژوند په هيڅ برخې کې په خپله تصميم نه نيسي، هره خبره چې کوي او هر تصميم چې نيسي نو هغه به د خپل آقا له امر او هدايت سره سم نيسي، د کوم کار په اړه د الله تعالی او د ده د رسول له پرېکړې وروسته له هر مؤمن بنده دا اختيار سلبږي چې له خپل لوري بله پرېکړه وکړي، له دې وروسته هغه په بشپړ اطاعت مکلف دئ، د بلې پرېکړې او فيصلې حق نه لري، څوك چې له دې پرته

بل څه وکړي او د سرغړاوي لار غوره کړي د هغه په بې لاريتوب او ضلالت کي هيڅ شك نشته، همدا د هغه په ضلالت شهادت ورکوي.

دا مطلب د الحجرات په سوره کي په دې الفاظو راغلی:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ

١ الحجرات:1

اې د ايمان خاوندانو! د الله او د هغه د پيغمبر په وړاندي مخکي مخکي مه کېږئ او له الله ووېرېږئ، يقيناً چي الله ښه پوه اورېدونکی دئ.

بايد وګورو چي د الله تعالی او د ده د پيغمبر په وړاندي د مخکي مخکي کېدلو معنی څه ده؟ او په دې سره مور له څه کولو منع شوي يو؟ د دې معنی دا ده چي که ته د کومي قضيې او کار په اړه مخکي له دې چي د الله او د هغه د پيغمبر حکم ځان ته معلوم کړې، مخکي له دې چي درته معلومه شي په دې اړه الهي حکم څه دئ، قضاوت يا تبصره کوې يا کوم عملي اقدام کوې، دا د الله او د هغه د رسول په وړاندي تقدم او مخکي مخکي کېدل دي. ستا د ايمان غوښتنه دا ده چي لومړی به ځان پوهوې چي په دې اړه د الله تعالی او د ده د پيغمبر امر څه دئ او دين څه هدايت درکوي، تر دې وروسته به اقدام کوې، بيا به د څه ويلو او کولو او تحليل او تبصرې اراده کوې، ته به د يوه مطيع بنده په څېر عمل کوې، هغه چي اقتداء کوي او له ځان مقتدا او امام نه جوړوي، مخکي مخکي نه ځي، بلکي د يوه مطيع او منقاد بنده په توګه اطاعت کوي او د پيغمبر په پل درومي. که تا د کوم کار په اړه مخکي له دې چي وپوهېږې د الله او د هغه د پيغمبر حکم او فيصله په دې اړه څه ده، کومه تبصره وکړه، يا دي کوم اقدام وکړ، تا تقدم کړی، دا تقدم هم په خبرو کي دئ او هم په عمل کي، ځکه د آيت په پای کي راغلي چي الله تعالی اورېدونکی عليم ذات دئ. ستاسو په هغو خبرو هم پوهېږي او اوري ئې چي په هغو کي مو د الله او پيغمبر په وړاندي تقدم کړی او ستاسو په هغو کارونو هم پوه دئ چي هغه مو د الله او د هغه د پيغمبر په امر نه؛ بلکي له خپله طرفه، په خپله خوښه او د خپل تصميم په بنا تر سره کړي، مخکي له دې چي وګورئ د الله او د پيغمبر حکم ئې په دې اړه څه دئ؟

همدا راز راځي چي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبۡطِلُوٓاْ أَعۡمَٰلَكُمۡ ٣٣ محمد:33
اې هغو چې ايمان ئې راوړی! د الله اطاعت وکړئ او د پيغمبر اطاعت وکړئ، او خپل عملونه مه باطلوئ.

د دې آيت معنی دا ده چې کوم عمل د الله او د هغه د پيغمبر د اطاعت له مخې نه وي هغه عمل د الله په وړاندي باطل دئ، هر څه چې کوې بايد په دې اساس او له دې احساس سره ئې وکړې چې په دې سره د الله او د الله د پيغمبر اطاعت کوې، يعني کوم عمل چې د الله او د پيغمبر د اطاعت له مخې نه وي هغه باطل دئ او د الله تعالی په وړاندي هيڅ ارزښت او اعتبار نه لري.

دې مطلب ته د النور په سوره کې په دې الفاظو سره اشاره شوې:
إِنَّمَا كَانَ قَوۡلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ أَن يَقُولُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٥١ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَخۡشَ ٱللَّهَ وَيَتَّقۡهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ٥٢ النور: 51-52
يقيناً کله چې مؤمنان د الله او د ده د رسول لوري ته د دې لپاره وبلل شي چې د دوی تر منځ پريکړه وکړي، نو د دوی وينا له دې پرته بل څه نه وي چې وايي: وامو وريده او اطاعت مو وکړ، او همدا ډله بختور دي. او چا چې د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت وکړ او له الله ووېرېدو او (د هغه) له (مخالفت) ځني ئې ځان ساتنه وکړه، نو همدغه کسان بريالي دي.

يعني د واقعي مؤمنانو قول او وينا په هغه وخت کې چې د الله او پيغمبر لوري ته د دې لپاره وبلل شي چې د دوی په منازعاتو او مشاجراتو کې حکم وکړي؛ داسي وي: سمعنا وَ أَطعْنَا، يوازي دغه خلك به فلاح او بريا ترلاسه کوي. د فلاح او بريا عوامل دا دي چې څوك د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت وکړي، له الله تعالی ووېرېږي او له هغه څه ځان وساتي چې الله تعالی پرې ناراضه کېږي.

دوستي او دښمني د الله لپاره

په الله باندي د ايمان بله تقاضا دا ده چې د انسان مينه او دوستي به هم د الله لپاره وي او دښمني، کرکه او بغض به ئې هم د الله لپاره وي. يعني الحب في الله و البغض في الله: محبت د الله تعالی لپاره او د الله په لار کې او دښمني،

بغض، کرکه او عداوت د الله په لار کي او د الله لپاره، دا مطلب هم د قرآن عظیم الشأن د ګڼ شمېر آیتونو په ترڅ کي د ایمان د غوښتنې او تقاضا په توګه معرفي شوی، لکه چې راځي:

لَّا تَجِدُ قَوۡمٗا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ يُوَآدُّونَ مَنۡ حَآدَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَوۡ كَانُوٓاْ ءَابَآءَهُمۡ أَوۡ أَبۡنَآءَهُمۡ أَوۡ إِخۡوَٰنَهُمۡ أَوۡ عَشِيرَتَهُمۡۚ أُوْلَٰٓئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡإِيمَٰنَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٖ مِّنۡهُۖ وَيُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ أُوْلَٰٓئِكَ حِزۡبُ ٱللَّهِۚ أَلَآ إِنَّ حِزۡبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٢٢ المجادله: 22

هغه قوم چې پر الله او پر آخرت ئې ایمان وي هیڅکله به ئې داسي ونه مومې چې له هغه چا سره دوستي وکړي چې له الله او د هغه له پیغمبر سره ئې دښمني کړې وي، که څه هم دا د دوی پلرونه وي، زامن ئې وي، وروڼه ئې وي او خپلوان ئې وي، همدغه کسان دي چې الله د دوی په زړونو کي ایمان ثبت کړی او په خپله روح (غیبي فیض) سره ئې د دوی مرسته کړې، هغوی به داسي جنتونو ته داخل کړي چې (تر ونو او بنګلو) لاندي ئې نهرونه بهیږي، په هغه کي تلپاتي، الله له دوی راضي شوی او دوی له الله راضي شوي، همدغه کسان د الله حزب دئ، (د الله د حزب غړي دي) یقیناً د الله حزب بریالی دئ

دلته د الله د حزب د غړو خصوصیات او مواصفات ښودل شوي چې دا دي: له هغه چا سره دوستي نه کوي چې د الله او د هغه له پیغمبر سره ئې دښمني کړې وي که څه هم هغه د دوی پلرونه وي، زامن ئې وي، وروڼه ئې وي او خپلوان ئې وي.

د المائدې په سوره کي راځي چې:

وَمَن يَتَوَلَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَإِنَّ حِزۡبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ٥٦ المائده: 56

او څوك چې له الله او د ده له پیغمبر او مؤمنانو سره دوستي کوي نو بې شکه چې همدا د الله حزب غالب دئ.

دلته د الله تعالی مؤمنو بندګانو ته د حزب الله نوم ورکړی شوی او ویل شوي: د الله تعالی حزب له هغو کسانو جوړ شوی چې دوستي ئې یوازي له الله تعالی، د ده له پیغمبر او مؤمنانو سره وي، دا حزب فاتح او غالب دئ او الله تعالی ئې

د غلبې ذمه وار.

د التوبة په سوره کې همدا مطلب په دې الفاظو راغلی:

وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ ٱللَّهُۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ٧١ التوبه: 71

باايمانه نارينه او باايمانه ښځې؛ ځينې ئې د ځينو نورو دوستان دي، په معروف امر کوي، له منکر ممانعت کوي، لمونځ قائموي، زکات ورکوي او د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت کوي، همدا کسان دي چې ډېر ژر به الله پر دوی رحم وکړي، يقيناً چې الله باحکمته عزتمن دئ.

دلته د منافقينو د خصلتونو او د نفاق د دنيايي او اخروي پايلو له څېړلو وروسته د مؤمنانو مواصفات او ځانګړتياوي ښودل شوې چې په دې سره نه يوازې مخلص او واقعي مؤمنان پېژندی شو بلکې د دوی او منافقينو تر منځ ژور توپيرونه هم پېژندی شو، د باايمانه نارينه او باايمانه ښځې ځانګړتياوي دا دي:

- ځينې ئې د ځينو نورو دوستان دي، د مؤمنانو ترمنځ تل د دوستۍ او ولايت، يو له بل دفاع او حمايت او يو د بل مرستې ته د راوړاندې کېدو اړيکي وي.
- په معروف امر کوي، له منکر ممانعت کوي، لمونځ قائموي، زکات ورکوي، او د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت کوي، دوی د الله تعالی د پېرزوينو وړ دي، ډېر ژر به الله تعالی پر دوی رحم وکړي، يقيناً چې الله باحکمته عزتمن دئ، په خپل حکيمانه تدبير سره به مسلمانانو ته عزت او غلبه ورکوي.
- قرآن فرمايي چې هره انساني ډله د خاصو اخلاقي او فکري مواصفاتو پر بنسټ جوړېږي، لکه څنګه چې د مؤمنانو ترمنځ به د دوستۍ او مينې اړيکي وي، همدا راز به د منافقينو د ټولګي ترمنځ خاص روابط وي، منافقين به يو د بل په څنګ کې، مفسدين به يو د بل خوا ته، کافران به يو د بل خوا خوږي او مؤمنان به د يوه حزب غړي او يو د بل دوست او ولي وومئ.

ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتُ بَعْضُهُم مِّنۢ بَعْضٍۘ يَأْمُرُونَ بِٱلْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمَعْرُوفِ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْۚ نَسُواْ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمْۚ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ٦٧ التوبه: 67

نارينه منافقين او ښځي منافقيني ځينې د ځينو نورو له ډلې څخه دي، د منکر سپارښتنه کوي، له ښېګڼو مخنيوی کوي، خپل لاسونه (د خير له کار او د مال له انفاق) بندوي، دوی خدای هېر کړی او خدای دوی هېر کړي، يقيناً چې منافقين فاسقان دي.

دلته د منافقينو څو ستر ستر خصلتونه په ګوته شوي:

- منافقين (نارينه او ښځي) ځينې د ځينو نورو له ډلې دي، د مسلمانانو په ليکو کې ځانګړې ډله جوړوي او يو د بل خوا ته ودرېږي، خو الفاظ داسې دي چې ښيي هسې ډله ئې يوه ده، نه ئې ترمنځ خواخوږي شته، نه يو د بل مرسته کوي، نه يو له بل سره مينه لري. د دوی په مقابل کې کله چې د مؤمنانو يادونه کېږي نو الله تعالی فرمايي چې دوی يو د بل دوستان دي، د دوی ترمنځ مينه او موالات وي.
- د منکر سپارښتنه کوي، د داسې کارونو سپارښتنه او ملاتړ کوي چې بدوالی ئې څرګند وي او هر د سالم طبيعت خاوند تري کرکه لري.
- له ښېګڼو مخنيوی کوي، په خپلو تبليغاتو سره هم، په خپلو کړو وړو سره هم او له خپلو امکاناتو په استفادې سره هم.
- د خير له کار او د مال له انفاق ډډه کوي، د خير لوري ته لاس نه غزوي، د خير په کار کې له انفاق خپل لاسونه راتموي.
- دوی خدای هېر کړی، نه به ئې په وينا کې د خدای نوم واورئ، نه په خپلو تبصرو او تحليلونو کې د قدير خدای د وعدو يادونه، نه به ئې عمل داسې ومومئ چې ښيي خدای ئې په ياد دئ نو ځکه ئې دا عمل وکړ.
- خدای دوی هېر کړي، نه ئې دعاء او عبادت ته اعتناء کوي او نه ئې له کړاوونو او ستونزو د وتلو په لار کې مرسته کوي.
- دوی فاسقان دي، د ژوند په ډېرو برخو کې به وګورئ چې دوی د الله تعالی له اوامرو سرغړاوی کوي.

ګورئ چې د منافقينو تر منځ د دوستۍ اړيکي نشته، هسې د يوې ډلې غړي دي، نفاق او منافقت سره يوځای کړي دي، د دوی ترمنځ د ولايت هغه رابطه نشته چې د مؤمنانو ترمنځ وي، دا ځکه چې منافق يو غرضي انسان وي، هغه له هيڅا سره داسې اړيکي نه ساتي چې په اخلاص او صداقت ولاړي وي، د

خپل ملګري مرسته وکړي، حمایت ته ئې راوړاندي شي او د ده په خاطر کوم خطر ومني، که څه هم هغوی د یوه صف او ټولګي غړي دي خود هغوی ترمنځ د ولایت او دوستۍ رابطه نه وي.

همدا راز کافران هم ځینې د ځینو نورو اولیاء دي:

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍۚ ٧٣ الانفال:73

او کافران ځینې د ځینو نورو اولیاء دي.

همداراز قرآن فرمایي چې ظالمان هم ځینې د ځینو نورو دوستان دي او د هغوی مرسته کوي، یوازې د منافقینو ترمنځ د دوستۍ او و لایت رابطه نشته، یو د بل په ځنګ کې وي، د یوه صف او د یوې ډلې غړي وي خو د هغوی ترمنځ دوستي نشته او یو د بل اولیاء نه دي.

قرآن عظیم الشأن فرمایي:

أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تُتۡرَكُواْ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَلَمۡ يَتَّخِذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَا رَسُولِهِۦ وَلَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَلِيجَةٗۚ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١٦ التوبه:16

آیا ګمان مو کړی چې همداسي به پرېښودل شئ، حال دا چې تراوسه الله ستاسو هغه کسان نه دي معلوم کړي چې جهاد ئې کړی او له الله او د ده له رسول او مؤمنانو نه پرته ئې د اسرارو بل محرم ځانته نه دئ غوره کړی. او الله ستاسو له کړو وړو ښه خبر دئ.

په دې مبارك آیت کي د مخلص مجاهد او غیر مخلص مؤمن د پېژندو لپاره دوه نښي په ګوته شوې:

- د الله تعالی په لار کي جهاد او
- له الله تعالی، د هغه له پیغمبر او له مؤمنانو پرته بل څوك خپل نږدې دوست او د خپلو اسرارو محرم نه نیول.
- او ویل شوي چې الله تعالی به حتماً داسي حالت راولي چې مؤمنان له کافرانو سره نښتو ته اړ شي، د دوی تر منځ جګړه پیل شي، مسلمانان تر بریده لاندي راشي، هر څوك له دښمن سره د مقابلې ضرورت احساس کړي، او د الله تعالی له لوري جهاد فرض شي، تر څو واقعي مؤمن له هغه چا ببل شي چې په درواغو د ایمان دعوی کوي، چا چې په دې مرحلې کي جهاد ته ملا وتړله، له کافرانو سره ئې خپلي ټولي څرګندي او پټي اړیکي وشلولې، له الله تعالی، د

هغه له پيغمبر او له مؤمنانو پرته ئې بل څوك خپل نږدې دوست او د خپلو اسرارو محرم ونه نيولو؛ نو هغه په امتحان كي بريالی شوی او د ربښتينو مؤمنانو له ډلي دئ او چا چي دا كار ونه كړ؛ د دوی له ډلي وتلی دئ. له دې مبارك آيت او د قرآن له ګڼ شمېر نورو آيتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي صادق او مخلص مؤمن يوازي په لمانځه، روژې، زكات او نورو عباداتو سره نشي پېژندل كېدی، دا عبادات په ايمان كي د اخلاص وروستی نښي نه دي، وروستی نښي دوه دي: د الله تعالی په لار كي جهاد او له الله تعالی، د هغه له پيغمبر او مؤمنانو پرته بل څوك په دوستی نه نيول. د هغه چا لمونځ، روژه، زكات او حج هيڅ ارزښت نه لري چي د خدای له دښمنانو سره دوستي كوي او د الله تعالی په لار كي له جهاد ډډه كوي.

تر څو چي الله جل شأنه د مؤمنانو په ډلي كي دغه كسان نه وي تفكيك كړي، مجاهدين ئې نه وي معلوم كړي او هغه ئې نه وي بېل كړي چي له الله تعالی، د هغه له پيغمبر او له مؤمنانو پرته بل څوك د پټ دوست په توګه نه نيسي، ګمان مه كوئ چي الله جل شأنه به تاسو همدغسي خپلي مخي ته پرېږدي او له ابتلاءاتو او آزموينو سره به مو مخامخ نه كړي!!

د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو كي د هغه چا ايمان بې اعتباره ګڼل شوی چي له كافرانو، يهودانو، نصاراوو او مشركانو سره دوستي پالي، په پټه او ښكاره د دوستی پيغامونه ورلېږي، همداراز فرمايي: چا چي له مؤمنانو پرته له بل چا سره دوستي وكړه؛ د اسلام له دائرې وتلی او د هغو خلكو له ډلي به ګڼل كېږي چي دوستي ورسره كوي.

پيغمبر عليه السلام فرمايي چي له مؤمنانو سره مينه د ايمان نښه ده، هغه څوك جنت ته ننوتی شي چي له مسلمان سره مينه لري:

عَنْ أَبِی هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم « لاَ تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا وَلاَ تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا. أَوَلاَ أَدُلُّكُمْ عَلَى شَىْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ أَفْشُوا السَّلاَمَ بَيْنَكُمْ ». رواه مسلم

له ابوهريره رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: جنت ته به داخل نه شئ تر څو ايمان را نه وړئ او ايمان به مو ونه منل شي تر څو يو له بل سره مينه او محبت و نه لرئ، آيا داسي څه دروښيم چي په كولو سره به ئې په تاسو كي مينه او محبت راپيدا كېږي؟ په خپلو

منځونو کي سلام خور او عام کړئ.

يعني الله جل شأنه به ستاسو ايمان په هغه صورت کي قبلوي چي په خپلو منځو کي مو مينه او محبت وي، چي همدا د ايمان تقاضا ده او د همدې له کبله به جنت ته ځئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم« أَنَّ رَجُلاً زَارَ أَخًا لَهُ فِى قَرْيَةٍ أُخْرَى فَأَرْصَدَ اللَّهُ لَهُ عَلَى مَدْرَجَتِهِ مَلَكًا فَلَمَّا أَتَى عَلَيْهِ قَالَ أَيْنَ تُرِيدُ قَالَ أُرِيدُ أَخًا لِى فِى هَذِهِ الْقَرْيَةِ. قَالَ هَلْ لَكَ عَلَيْهِ مِنْ نِعْمَةٍ تَرُبُّهَا قَالَ لاَ غَيْرَ أَنِّى أَحْبَبْتُهُ فِى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ. قَالَ فَإِنِّى رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكَ بِأَنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَبَّكَ كَمَا أَحْبَبْتَهُ فِيهِ ». رواه مسلم

له ابوهريره رضى الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: يو کس د خپل داسي ورور ليدو ته ولاړ چي د الله لپاره ئې له هغه سره وروري وه او په بل کلي کي اوسېدو، نو الله د ده د ورتلو په لار کي يوه فرشته ولېږله، کله چي هلته ورسېدو ورته وئې ويل: چېرې د تلو اراده لرې؟ وئې ويل: په دې کلي کي مي د خپل يوه ورور د (ليدو) اراده کړې، (فرشتې) وويل: آيا له هغه کس سره دي کوم نعمت (لکه مال، زمکه، او بل څه) دي چي پالنه ئې کوې؟ وئې ويل: نه (هيڅ څه مو ترمنځ نشته) مګر دا چي زه د الله لپاره له هغه سره مينه لرم، فرشتې ورته وويل: زه د الله استازی يم، چي ستا په لوري (له دې زېرې سره راغلی يم چي) يقيناً الله جل شأنه له تا سره داسي مينه ساتي لکه ته چي د الله لپاره له ده سره مينه کوې.

په بل حديث کي راځي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ مُعَاوِيَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلمخَرَجَ عَلَى حَلْقَةٍ يَعْنِي مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ مَا أَجْلَسَكُمْ قَالُوا جَلَسْنَا نَذْعُو اللَّهَ وَنَحْمَدُهُ عَلَى مَا هَدَانَا لِدِينِهِ وَمَنَّ عَلَيْنَا بِكَ قَالَ آللَّهُ مَا أَجْلَسَكُمْ إِلَّا ذَلِكَ قَالُوا آللَّهُ مَا أَجْلَسَنَا إِلَّا ذَلِكَ قَالَ أَمَا إِنِّي لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ تُهَمَةً لَكُمْ وَإِنَّمَا أَتَانِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام فَأَخْبَرَنِي أَنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يُبَاهِي بِكُمْ الْمَلَائِكَةَ. رواه مسلم

ابوسعيد خدري رضى الله عنه له معاويه رضى الله عنه روايت کوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپلو يارانو په يوې حلقې او ډلي راووت او وئې ويل: څه شي يو ځای سره کښېنولي ياست؟ وئې ويل: ناست يو الله يادوو او د ده شکر اداء کوو چي مونږ يې د اسلام په لوري هدايت کړو او پر مونږ ئې ستا

په وسيله پيرزوينه وکړه، وئي فرمايل: آيا واقعاً همدا د الله ذکر او خاطر سره راغونډ او يوځای کښېنولي يئ؟ وئې ويل: په الله قسم چې مونږ نه يو کښېنولي مګر همدې شي، وئي فرمايل: ما د دې لپاره قسم درنکړ چې تاسو ته کوم تهمت (راجع کوم) خو ما ته جبرئيل راغی او دا خبر ئې راکړ چې يقيناً الله د فرشتو په وړاندې په تاسو فخر کوي.

همدا راز فرمايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « الرَّجُلُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ ». سنن ابي داؤد

له ابوهريره رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: هر سړی د خپل دوست په دين وي، نو ستاسو هر يو دي وګوري چې له چا سره دوستي کوي.

همدا راز د هغو کسانو د اوچت او لوړ مقام په اړه فرمايي چې د الله لپاره يو له بل سره مينه ساتي:

عَنْ أَبِى زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم« إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللَّهِ لأُنَاسًا مَا هُمْ بِأَنْبِيَاءَ وَلاَ شُهَدَاءَ يَغْبِطُهُمُ الأَنْبِيَاءُ وَالشُّهَدَاءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِمَكَانِهِمْ مِنَ اللَّهِ تَعَالَى ». قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ تُخْبِرُنَا مَنْ هُمْ. قَالَ « هُمْ قَوْمٌ تَحَابُّوا بِرُوحِ اللَّهِ عَلَى غَيْرِ أَرْحَامٍ بَيْنَهُمْ وَلاَ أَمْوَالٍ يَتَعَاطَوْنَهَا فَوَاللَّهِ إِنَّ وُجُوهَهُمْ لَنُورٌ وَإِنَّهُمْ عَلَى نُورٍ لاَ يَخَافُونَ إِذَا خَافَ النَّاسُ وَلاَ يَحْزَنُونَ إِذَا حَزِنَ النَّاسُ ». وَقَرَأَ هَذِهِ الآيَةَ (أَلاَ إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ). سنن ابي داؤد

يقيناً چې د الله له بندګانو ځينې داسې دي چې که څه هم نه انبياء دي او نه شهداء، خو د قيامت په ورځ به حتی انبياء او شهداء په دوی غبطه کوي، د هغه مقام او منزلت له امله چې د الله په خوا کې به ئې لري. صحابه وو وويل: يا رسول الله! مونږ پوه کړه چې دوی څوک دي؟ وئې فرمايل: دا هغه ډله ده چې په الهي فيض او پيرزويني سره ئې يوه له بل سره مينه ساتله، پرته لدې چې د دوی ترمنځ د خپلوۍ اړيکي وي او پرته له دې چې د دوی ترمنځ د مال د راکړې ورکړې معامله وي (يوازې په الله ايمان په خپلو منځونو کې سره نږدې

کړي او يو له بل سره مينه لري) په الله قسم چې د دوی مخونه به د نور په شان وي او دوی به په نور او رڼا وي، کله چې خلك وېرې اخيستي وي دوی به نه وېرېږي او کله چې خلك غمجن شي دوی به نه غمجن کېږي او بيا ئې دا آيت تلاوت کړ: پوه شه چې يقيناً د الله دوستان داسي دي چې نه پر دوی خوف او وېره شته او نه به دوی غمجن شي.

په حديث قدسي کي راغلي:

عن مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ قال سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ « قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَجَبَتْ مَحَبَّتِى لِلْمُتَحَابِّينَ فِىَّ وَالْمُتَجَالِسِينَ فِىَّ وَالْمُتَزَاوِرِينَ فِىَّ وَالْمُتَبَاذِلِينَ فِىَّ » رواه احمد

له معاذ بن جبل رضى الله عنه روايت دئ چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل: الله تعالى فرمايلي: زما محبت هغه چا ته واجب او لازم شو چې په خپلو منځونو کي زما لپاره مينه او محبت ساتي او زما لپاره په خپلو منځونو کي سره کښېني او زما لپاره يو د بل زيارت او ليدو کتو ته درومي او زما په خاطر يو د بل لپاره بذل کوي، قرباني ورکوي او خپل مال لګوي.

يعني د چا چې دا څلور صفات وي د هغوی لپاره زما محبت واجب شوی دئ، زه به له هغه چا سره مينه او محبت ساتم چې: زما لپاره خپلو منځونو کي مينه ساتي، خپلو منځونو کي ناسته ولاړه لري، يو د بل زيارت او ليدلو ته ځي او زما په خاطر په خپلو منځونو کي مالونه لګوي، هديه او تحفه ورکوي او يو خپل مال بل ته ورکوي. د چا تر منځ چې همدغه تعلقات وي الله جل شأنه خپل محبت هغوی لره لازم کړی.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

پر آخرت ایمان
معنی،
دلائل
او غوښتنې ئې

بسم الله الرحمن الرحيم

پر آخرت ایمان

پر آخرت د ایمان موضوع له هغو سترو موضوعاتو څخه ده چې په قرآن عظیم الشأن کې تر هر څه زیات وړاندې بحث شوی، د کومې مسئلې په باب چې زیات دلائل ویل شوي او مشرکینو د هغې په اړه تر ټولو زیات اعتراضات کړي او منل ئې ورته ګران وو، هغه پر آخرت د ایمان موضوع ده.

مشرکینو ته تر بلې هرې موضوع د دې خبرې منل ګران وو چې قیامت به راځي، دا عالم به له منځه ځي، خپل ځای به بلې نړۍ ته پریږدي، ټول مړي به بیاراژوندي کیږي، له هر چا سره به محاسبه کیږي، هر چا ته به د خپلو عملونو مکافات او مجازات ورکول کیږي، ځینې به جنت ته درومي او ځینې دوزخ ته، د دې موضوع په اړه ئې تر ټولو زیاتې پوښتنې کړې، استهزاء ئې کړې، هغه ئې محال ګڼلې او د هغې په منلو کې ئې ستونزې درلودې.

په مکي سورتونو کې اکثراً په همدغې مسئلې بحث او ترکیز شوی. قریشو ته دا خبره آسانه وه چې الله ومني، خو د دې خبرې منل ورته ګران وو چې د دې عالم موجوده نظم به پای ته رسیږي او له هغه وروسته چې انسان ومري، د هغه هډو کې وراسته شي او په زمکه کې تجزیه شي، هغه به بېرته راژوندی کیږي او بیا به حساب او کتاب وي، دا خبره هغوی ته ډېره مبهمه، مجهوله او غیر قابل قبول معلومېده.

موږ به دا موضوع تر دریو عنوانو لاندې څېړو:

- پر آخرت د ایمان معنی څه ده؟
- قرآن عظیم الشأن د آخرت د اثبات لپاره کوم دلائل وړاندې کړي؟
- او پر آخرت د ایمان مقتضیات او غوښتنې کومې دي؟

پر آخرت د ایمان معنی:

پر آخرت د ایمان معنی دا ده چې یو وخت به د عالم دا اوسنی نظم پای ته رسېږي، لکه څنګه چې هر څه ځانته اجل او د پای نېټه لري، دا هستي او کائنات هم ځانته اجل لري، په یوه معینه نېټه به دا نظام متلاشي کېږي، لمر او ستوري به تیاره کېږي، هغه به په خپلو منځونو کي تصادم کوي، غرونه به له خپلو ځایونو خوځېږي، آسمان به ټوټې ټوټې کېږي، زمکه به د بحرونو تر اوبو لاندي کېږي، د عالم دا موجود نظام به متلاشي کېږي، لمر به له غربه طلوع وکړي، بیا به تك تور شي او د هغه له تیاره کېدو سره سم به ستوري هم تیاره شي، آسمان به ټوټې ټوټې شي او پر زمکه به راپرېوځي، په دې ستر او پراخ عالم کي چې څه ترسترګو کېږي ټول به ختم شي، بیا به الله تعالی نوې دنیا، نوې زمکه او نوی آسمان، د نویو ضوابطو سره پیدا کړي، له دې موجوده زمکي او آسمانونو پرته، چې هلته به نوي ضوابط حاکم وي، بیا به الله جل جلاله ټول انسانان د پیدایښت له شروع تر قیامته پوري، بیا راژوندي کړي، له خپلو قبرونو به راپاڅي، بیا به ټول د حشر په میدان کي راغونډ شي، د الله تعالی په وړاندي به ودرېږي، هر چا ته به خپله عمل پاڼه او د خپل ټول ژوند هغه اسناد په لاس کي ورکول کېږي چې خپل ټول کړه وړه به په کي ګوري، ټول اعمال به ئې ورته مجسم شي، هر څه به په هغه شهادت ورکوي، نه یوازي هر هغه څه به شهادت ورکوي چې د ده د اعمالو شاهد وو، بلکي د هغه د وجود اعضا به هم د ده په کړو وړو شهادت ورکوي، هغه ته به د انکار هیڅ امکان او مجال نه وي پاته، ټول عملونه به ئې ورته مجسم او څرګند شي، چا ته به د عمل پاڼه په ښي لاس او چا ته به په کین لاس او له شا ئې ورکړی شي، له ځینو سره به حساب داسي وي چې یوازي خپل عملونه به وروښودی شي او په همدې به اکتفا وشي او الله تعالی به له هغه سره مزید محاسبه نه کوي، خو له ځینو سره به حساب کېږي، بیا به هر څوك د خپلو عملونو اجر او مکافات په مکمله او بشپړه توګه ګوري.

انسان چې کوم عمل کړی او د ده د هر عمل له نېټې تر قیامته پوري چې د هغه په عمل کوم اثرات مرتب شوي، د دې ټولو اجر او سزا او جزاء به په مکمله توګه تر لاسه کوي، د انسان هر عمل ګڼ شمېر اثرات لري او زیات

نتائج پرې مرتب کېږي، ډېر خلك تري متأثر کېږي، بيا همدغه متأثره شوي کسان د ده همدا عمل تکراروي او ډېر نور د دوی تر اغېز لاندي همدغه کار کوي، دا لړۍ ترقيامته پوري دوام کوي، دغو ټولو ته په پام سره به انسان ته د ده د هر عمل بشپړه سزا او بدله ورکول کېږي، که هغه ښه کار کړی يوازي د همدې ښه کار بدله به نه ترلاسه کوي، بلکي په دې ښه کار باندي چې کوم نتائج مرتب شوي، نور انسانان تري متأثره شوي او د ده په پل ئې پل اېښی او همدا کار ئې کړی، د دې ټولو په بدلې او مکافات کي به هغه هم شريك وي، بيا به ځيني د خپلو نېکو عملونو په بدل کي جنت ته ځي او ځيني به د خپلو بدو کړو وړو په وجه دوزخ ته درومي، کافران به دتل لپاره په دوزخ کي پاتي کېږي مګر کله چې الله وغواړي او ګنهګار مسلمانان به له هغه وروسته چې د خپلو عملونو جزاء وګوري جنت ته ځي، د هغوی په اړه به شفاعت منل کېږي، د عفوي او شفاعت له کبله به له دوزخ وځي او جنت ته به داخلېږي.

جنت د انسان د عملونو تجسم دئ، د هغه نېکي خبري دي چې هلته د مېوو په ونو بدلي شوې او د هغه نېك اعمال دي چې په بنګلو بدل شوي، د يوه عادي مسلمان د جنت سور به هومره وي لکه دا اوه آسمانونه او زمکه چې ځنګ په ځنګ کېږدې، له دې ستر او پراخ جنت د استفادې لپاره به طبعاً هغه په دې موجوده شکل کي نه وي، هغه به د يوه داسي مناسب هيئت سره په دغه جنت کي ژوند کوي چې له دې ټول خور او پراخ جنت څخه خوند واخيستی شي. همدا راز په دوزخ کي به هم هغه له دې ووړ جسد سره نه وي، ځکه د دوزخ د شديد اور لمبې خو داسي واړه واړه شيان لکه خس او خاشاك په هوا کوي، د هغه جسد به همدومره وي چې د خپلو ټولو عملونو جزاء وګاللی شي، يعني هلته به دغه موجود جسد او جثه او دا اوسنی قد او قامت نه وي، بلکي دا به له همغو حالاتو او ظروفو سره برابر وي.

په دې اړه چې جنت به د انسان د کړو وړو او د نېکو عملونو عملي تجسم وي، پېغمبر عليه السلام فرمايي: د جنت زمکه ښپرازه ده، اوبه ئې خوږې دي او د انسان تسبيح او ذکر هلته په ونو بدلېږي، چې يو ځل وايې: (سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اکبر)، په جنت کي تا ته يوه ونه شنه کېږي او دا ستا عملونه دي چې هلته درته په بنګلو بدلېږي.

په دوزخ کي به د انسان جزاء او عذاب د ده عمل ته ورته وي، په دنيا کي چي هغه څه ډول عمل کړی عذاب به ئې عمل ته ورته وي، دا په آخرت باندي د ايمان مختصر مفهوم او معنی ده.

د آخرت د اثبات دلائل

د قيامت په ارتباط څو مسئلې مطرح دي:

- لومړۍ موضوع دا چي دا دنيا به پای ته رسيږي، دا ثابت عمر لري چي د خپل اجل په را رسيدو سره به د هغې دا موجود نظم ختميږي.
- دوهمه موضوع دا چي انسانان به بيرته له قبرونو راپاڅي، له هغه وروسته چي هډوکي ئې وراسته شوي او په زمکه کي تجزيه شوي، بيا به راژوندي کيږي.
- درييمه موضوع دا چي هغه به د خپلو ټولو کړو وړو سزا، اجر او مکافات گوري.
- د دغو دريو مسئلو د ثبوت لپاره قرآن عظيم الشأن گڼ شمير دلائل وړاندي کړي:
- کافرانو ته د دې خبري منل گران وو چي انسان دي ومري، د هغه وجود دي په خاورو کي تجزيه شي، هډوکي دې وراسته شي او هغه دي بيرته راژوندی شي، لکه چې قرآن د هغوی په اړه فرمايي:

وَأَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ لَا يَبْعَثُ ٱللَّهُ مَن يَمُوتُۚ بَلَىٰ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ٣٨ لِيُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي يَخْتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّهُمْ كَانُواْ كَٰذِبِينَ ٣٩ النحل: 38-39

او په خپلو کلکو قسمونو سره ئې د الله په نامه لوړه وکړه چي الله به هيڅلکه هغه څوك راژوندی نه کړي چي مري!! داسي نه ده بلکي دا د الله پر ذمي يوه ربښتيني وعده ده، خو ډيرى خلك نه پوهيږي، دا د دې لپاره ده چي دوی ته هغه څه څرگند کړي چي په هغه کي ئې اختلاف کاوو او تر څو کافران وپوهيږي چي دوی دروغجن ول.

په دې مبارکو آيتونو کي د قيامت د ورځي له راتلو د مشرکينو کلك انکار او د دوی په ځواب کي څو مضبوطو دلائلو ته په دې توگه اشاره شوې:

- دوی د الله تعالی په نامه کلك کلك قسمونه کول چې الله تعالی به هیڅکله هغه څوك بیا راژوندی نه کړي چې ومري!! د دې معنی یا دا ده چې بیاژوندون ورته محال او ناممکن برېښېدو، او یا ئې معنی دا ده چې د دوی مذهبي مشرانو دوی ته په درواغو قسمونه خوړل او ویل ئې: الله تعالی هیڅکله نه دي ویلي چې زه به مړي بیاراژوندي کوم، نه په مخکنیو کتابونو کي دا خبره شوې او نه مخکنیو پیغمبرانو دا خبره کړې!! خو د 39 آیت له فحوی معلومېږي چې دا دوهم تعبیر صحیح دئ، ځکه هلته ویل شوي: تر څو کافران وپوهېږي چې دوی دروغجن ول، یعني دا یوه دروغجنه وینا وه چې غوښتل ئې عوام پرې وغولوي.
- د قیامت راوستل، له بندګانو سره محاسبه او د دوی مکافات او مجازات داسي مسئله ده چې الله تعالی پر خپلي ذمې اخیستې، دا له بندګانو سره د الله تعالی ژمنه ده، ربښتینې ژمنه چې تحقق ئې حتمي دئ، خو ډېرې خلك نه پوهېږي، نه خپل رب پېژني او نه په دې پوهېږي چې د عادل مهربان رب له شأن سره همدا ښایي چې د قیامت ورځ راولي، کامل او بشپړ عدالت تأمین او هر چا ته د خپلو عملونو مناسبه بدله ورکړي. څنګه ومنو چې هغه مهربان رب به قیامت نه راولي چې رحمن دئ او پر خپلو بندګانو سخت مهربان، هغه مهربان رب چې د انسان په اړه د ده پېرزویني بې انتهاء دي، آیا منلی شو چې دا مهربان رب به د هغه مظلوم بنده پوښتنه نه کوي چې حق ئې تلف شوی، ظلم پرې شوی، په ناحقه وژل شوی، پر سر، مال او عزت ئې تېرې شوی؟!! دا انګېرنه نه د الله تعالی له پېرزوینو او مهربانیو سره اړخ لګوي او نه له عدالت سره، د دې لپاره هم د قیامت راتګ یو ضرورت دئ چې حقائق څرګند شي او په ټولو هغو قضایاوو کي عادلانه او پر حق ولاړه پرېکړه وشي چې خلکو په کي اختلاف کولو، چا د حق پلوي کوله او چا د باطل. د انسان د پیدایښت له ورځي دا لړۍ پیل شوې چې چا یوه څه ته حق ویلي او چا بل ته، چا یوه تګلاره سمه ګڼلې او چا بله، چا دې عالم ته په یوه سترګه کتلي او چا په بله سترګه، چا یو دین او مذهب د بریا او نجات وسیله ګڼلی او چا بل دین او مذهب، د همدې اختلافاتو له کبله په انسانانو کي شخړي راولاړي شوې، جګړي رامنځته شوې او د ډېرو ویني توی شوې، له الهي عدالت سره دا ښایي چې د دغو شخړو او جګړو په اړه عادلانه پرېکړه وشي، حق او باطل، ظالم او

مظلوم څرګند شي او مکافات او مجازات ترسره شي.

دا دئ ګورئ چې د آخرت منکرینو به ویل: دا هسې خبره ده چې انسان ومري بیا به راژوندی کېږي، دا ئې محال ګڼله او په دې خبري ئې کلکه لوړه کوله چې الله هغه کسان بېرته نه راژوندي کوي چې ومري. خو قرآن د دوی په ځواب کې فرمایي: دا د الله تعالی تغییر نه منونکې وعده ده، دا کار به د دې لپاره کوي چې دوی ته هغه څه و اضح او څرګند کړي چې په هغه کې ئې اختلاف کاوو او تر څو کافران وپوهېږي چې دوی دروغجن وو. یعني الله تعالی به دوی د دې لپاره بېرته راژوندي کوي چې په حقیقت ئې پوه کړي، هغه څه ورته روښانه کړي چې دوی به اختلاف پکې کولو او په دې وپوهېږي چې د دوی دا عقیده دروغجنه وه چې الله به خلك له هغه وروسته چې ومري نه راژوندیکوي. تاسو ته د قیامت راتګ او د انسانانو بیاژوندون ګران او محال برېښي، په داسې حال کې چې د الله تعالی په وړاندي دومره آسان کار دئ چې د ده یوازي دا وینا کافي ده چې ورته ووایي: وشه او هغه ترسره شي.

إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَآ أَرَدْنَٰهُ أَن نَّقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٤٠ النحل:40

کله چې د یوه څه اراده وکړو نو زمونږ وینا یوازي دا وي چې ورته وایو: وشه! نو (هغه له ځنډ پرته) وشي.

دا مبارك آیت که له یوې خوا مونږ ته وایي: د الله تعالی شأن داسي دئ چې کله د کوم کار د کولو او د کوم څه د پیدا کولو اراده وکړي نو یوازي د یوه امر په صادرولو سره هغه کار ترسره شي، یوازي دومره وایي چې وشه، نو هغه کار له ځنډ پرته ترسره کېږي، له بلې خوا په دې سره د هغو منکرینو ځواب وایي چې د قیامت راتګ او د مړو بیا راژوندي کېدا ورته محال او ګران برېښي، د الله تعالی او د هغه د شأن په اړه د دوی غلطه انګېرنه د دې باعث شوې چې د ټولو انسانانو بیاراژوندي کول، له هر یوه سره محاسبه او هر چا ته د خپلو تګلارو او کړنو مناسبه سزا او بدله ورکول ورته ګران او ناممکن کار برېښي، دې ته ئې پام نه دئ چې الله تعالی دا پراخ عالم څنګه پیدا کړی، ولې به هغه چا ته د انسان بیا پیدا کول ګران وي چې انسان ئې د لومړي ځل لپاره له مړې خاوري راپیدا کړ!!

همدا راز د الاسراء په سورې کې راغلي:

وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقٗا جَدِيدٗا ٤٩ قُلۡ كُونُواْ حِجَارَةً أَوۡ حَدِيدًا ٥٠ أَوۡ خَلۡقٗا مِّمَّا يَكۡبُرُ فِي صُدُورِكُمۡۚ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَاۖ قُلِ ٱلَّذِي فَطَرَكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖۚ فَسَيُنۡغِضُونَ إِلَيۡكَ رُءُوسَهُمۡ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَۖ قُلۡ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَرِيبٗا ٥١ يَوۡمَ يَدۡعُوكُمۡ فَتَسۡتَجِيبُونَ بِحَمۡدِهِۦ وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗا ٥٢ الاسراء: 52-49

او وئې ويل: کله چې موږ هډوکي شو او وراسته شو، آیا موږ به بیا په یوه نوي خلقت او پیدایښت کې راپاڅېدونکي یو؟ ورته ووایه! تیږي شئ یا اوسپنه او یا بل داسي څه چې ستاسو په سینو کې درته ستر برېښي، ژر ده چې وبه وایي: څوك مو بېرته راپیدا کوي؟ ورته ووایه! هغه ذات چې د لومړي ځل لپاره ئې تاسو راپیدا کړئ، خو ډېر ژر ده چې دوی به خپل سرونه تا ته خوځوي او وایي به: دا (دوهم ځل پیدایښت) به کله وي؟ ورته ووایه: ښایي نږدې وي. هغه ورځ چې تاسو به وربلي، نو د ده له ستاینې سره به د مننې ځواب ورکوئ او ګمان به کوئ چې یوازې لنډه موده ځنډېدلي یئ.

ګورئ چې دوی د بیا ژوندون په اړه څو پوښتنې او اعتراضات لري: کله چې زموږ غوښې توی شي، په هډوکو بدل شو، د بدن ټول اجزاء مو وراسته شي، بیا به څنګه په یوه نوي هیئت او جوړښت کې راژوندي کېږو؟ دا خبره ورته محال برېښي چې انسان دي په ورستو هډوکو بدل شي او هر څه دې تجزیه شي، بیا دي بېرته راژوندی شي!! په ځواب کې ورته ویل شوي: تاسو خو د هغو سننو او ضوابطو مطابق مرئ چې الله تعالی وضع کړي، د همدې ضوابطو په حکم په هډوکو، ورستو اجزاوو او خاورو بدلېږئ او له همدې خاوري پیدا شوي یئ، ولي له دغې خاوري بیا راپیدا کېدل درته محال برېښي؟!! آیا اوس مو له همدې خاوري نه پیدا کوي؟ آیا نه ګورئ چې د همدې خاوري اجزاء په دانې او مېوې بدلېږي او له هغوی د انسان نطفه جوړېږي. تاسو خو له مرګه وروسته نه په اوسپنه بدلېږئ او نه په بل داسي څه چې له هغه د انسان پیدایښت محال او ناممکن وي!! په دې قاطع او روښانه دلیل ئې سر نه خلاصېږي؛ بیا هم پوښتنه کوي چې څوك به مو بیا راژوندي کوي؟ اوس خو له میندو پیدا کېږو، د قیامت په ورځ به څنګه او له څه پیدا کېږو؟ د دوی په ځواب کې ویل شوي: کوم ذات چې تاسو د لومړي ځل لپاره له خاوري پیدا کړئ، هغه به مو بیا راپیدا کوي. ولي له مور او پلار پرته او مخامخ له

خاوري بيا پيدايښت درته محال او ګران برېښي؟!! دوی به د دې روښانه او قانع کوونکي دليل له اورېدو وروسته بيا هم خپل سرونه د انکار په توګه خوځوي او وايي به: دا "دوهم ځلي پيدايښت" به کله وي؟ ولي تر اوسه نه دئ راغلی او تر ننه مو داسي څوك نه دئ ليدلی چي بيا راژوندی شوی وي؟ د دوی په ځواب کي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي: ورته ووايه: ښايي نږدې وي، هغه ورځ به ژر راشي چي الله تعالی به مو وربلي، نو په داسي حال کي به د ده بلنه منئ چي ستاينه به ئې کوئ او ګمان به کوئ چي يوازي لنډه موده ځنډېدلي يئ. که نن دا موده درته ډېره اوږده ښکاري هغه ورځ به ئې ډېره لنډه ګڼئ.

همدا راز قرآن فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّنَ ٱلۡبَعۡثِ فَإِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ مِن مُّضۡغَةٖ مُّخَلَّقَةٖ وَغَيۡرِ مُخَلَّقَةٖ لِّنُبَيِّنَ لَكُمۡۚ وَنُقِرُّ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلٗا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۢ بَعۡدِ عِلۡمٖ شَيۡـٔٗاۚ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ هَامِدَةٗ فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ وَرَبَتۡ وَأَنۢبَتَتۡ مِن كُلِّ زَوۡجِۭ بَهِيجٖ ٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّهُۥ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَأَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٦ وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٞ لَّا رَيۡبَ فِيهَا وَأَنَّ ٱللَّهَ يَبۡعَثُ مَن فِي ٱلۡقُبُورِ ٧ الحج:5

اې خلکو! که د بيا ژوندون په اړه په شك کي يئ، نو موږ خو له خاوري راپيدا کړئ، بيا له نطفې، بيا له علقې، بيا له ژوول شوې يوې ټوټې غوښې چي انځور شوې او نه انځور شوې وي، ترڅو تاسو ته وښيو، او څه چي وغواړو تر يوې نېټې ئې په رحم کي ځای پر ځای کوو، بيا مو د ماشوم په څېر راباسو، بيا (همداسي ستاسو پالنه کوو) تر څو خپل قوت ته ورسېږئ او له تاسو څخه ځيني ومري او ځيني مو تر ټولو لوړلي عمر ته ورسېږي، هومره چي له پوهېدو وروسته په څه نه پوهېږي او زمکه ګورې چي وچه کلکه ده، خو کله چي اوبه پرې نازل کړو، وخوځېږي، وده وکړي او هر راز سمسور بوټي راوټوکوي. دا د دې لپاره چي الله په خپله حق دئ، او دا چي هغه مړي راژوندي کوي، او دا چي هغه پر هر څه ښه قادر دئ، او دا چي (د قيامت) هغه نېټه حتماً راتلونکې ده، هيڅ شك په کي نشته، او دا چي الله به هغه راپاڅوي چي په قبرونو کي دي.

د دې مبارکو آیتونو په پراخو او ژورو مطالبو د پوهېدا لپاره باید دا خبرې په پام کې ولرو:

- دلته د ټولو انسانانو د عادي او ورځنۍ خلقت مختلفو پړاوونو ته اشاره شوې، چې له خاورې پیل او په مرګ ئې پای ته رسي، که څه هم ځینو درنو مفسرینو داسې انګېرلې چې ښایي دلته به له خاورې د انسانانو پیدایښت په دې معنی وي چې آدم علیه السلام له خاورې پیدا شوی، خو دا تعبیر دقیق نه بریښي، ځکه دلته خطاب عام دئ، ټول انسانان احتوی کوي، آیت وایي: اې خلکو! تاسو مو له خاورې پیدا کړئ، په داسې حال کې چې عملاً ګورو د هر انسان پیدایښت له خاورې پیل کېږي، له خاورې جوړې شوې مېوې او دانې د انسان په وجود کې په مني واوړي، بیا له دې مني د انسان نطفه جوړه شي، بیا علقه شي، بیا نور مراحل پرې راشي او په پای کې یو بشپړ انسان ترې جوړ شي. د آیت الفاظ او ترکیب ئې دغه حقیقت ته اشاره کوي، نه پوهېږو ولې باید د آیت د الفاظو څرګند او واضح مطلب پرېږدو او یوازې د آدم علیه السلام په پیدایښت پورې ئې محدود کړو؟!!
- دلته د بیا ژوندون په اړه د هغو خلکو پوښتنې، شك او اندېښنې ته ځواب ویل شوی چې وایي: کله چې ومرو او بدن مو خاورې شي څنګه به له خاورې بیا راژوندي کېږو؟!! دوی ته ویل شوي: الله تعالی هره ورځ له همدې خاورې د انسان نطفه جوړوي او له دې نطفې بشپړ انسان جوړوي؛ ولې له خاورې د انسان بیاراپیدا کېدا درته ګرانه بریښي؟!!
- دا آیت وایي چې الله تعالی له خاورې د انسان نطفه جوړه کړې، دا نطفه په علقه (ځوړند توکي) واړوي، بیا د یوې ژوول شوې ټوټې غوښې هیئت ورکړي، چې انځور شوې او نه انځور شوې وي، دا الفاظ ښیي چې انسان ته د صورت او انځور ورکولو لړۍ په درېیمي مرحلې کې پیل کېږي، د غږو پیدایښت ئې هم مهاله نه وي، بلکې ځینې وړاندې او ځینې وروسته پیدا کېږي.
- قرآن چې د انسان د پیدایښت د مختلفو پړاوونو او حالتونو په اړه څه ویلي، علم نن همدا خبره کوي او همغه څه وایي چې قرآن ویلي: د انسان نطفه له خاورو جوړېږي، هغه دانه او مېوه چې وني او بوټي ئې له خاورو او نمجني، بوي ناکي، توري خټي جوړوي، د انسان په بدن کې نطفه ترې جوړه شي، د

پلار او مور دا نطفې د اوبو د څاڅکو په څېر د مور په رحم کې سره یو ځای شي، دوه نطفې یوه له بلې سره وصل شي، یوه ګډه او مختلطه نطفه (خلیه او سلول) تري جوړ شي، څه موده وروسته د ځوړند توکي په څېر د مور په رحم پورې نښتې وي، بیا د ژوول شوې غوښې د یوې ټوټې بڼه غوره کړي، دلته دغه نوي مخلوق ته د صورت ورکولو لړۍ پیل شي، د ځینو برخو کار تر نورو وړاندې پیل او بشپړ شي، زړه، غوږونه، سترګې، خوله، پزه، لاسونه، پښې، او نور غړي ورکړی شي، د هډوکو جوړېدا ئې په خاص پراو کې پیل شي، په یوې خاصې مرحلې کې یو ژوندی او متحرك ماشوم تري جوړ شي، په ټاکل شوې نېټې د مور له رحمه د وتلو لار ورته پرانیستل شي او له یوې تیاره او تنګې نړۍ یوې روښانه او پراخې نړۍ ته راووځي. که تاسو د قرآن دغه آیتونه د داسي چا په وړاندي کېږدئ چې د ماشوم د پیدایښت د څرنګوالي پراوونه ئې په دقیقه توګه او په مجهز لابراتوار کې تر نظر لاندې تېر شوي وي؛ او اوس په دې پوهېږي چې انسان په لومړي سر کې د ژنونو مجموعه وي چې هر یو ئې د یوه خاص غړي د جوړولو دنده په غاړه لري، یو ئې د زړه جوړولو دنده ترسره کوي، بل ئې د غوږونو، بل ئې د سترګو، بل ئې د لاسونو، بل ئې د پښو او همداسي د هر غړي لپاره یو ځانګړی ژن، د دوی شمېر څه باندې دېرشو زرو ته رسېږي، هر یو ئې په خاص پراو کې خپل کار پیلوي او په ډېر دقت سره ئې بشپړوي، که داسي یوه عالم ته د قرآن دا وینا واوروئ نو یقیناً چې هغه به تاسو ته ووایي: دا هغه څې دي چې ساینس اوس او د ډېرو پر مختللو وسائلو په مرسته پرې پوه شوی!!

همدا وړه نطفه چې په سترګو نه لیدل کېږي، له بېلو بېلو پراوونو تېره شي او نږدې نه میاشتې وروسته د بشپړ ماشوم په څېر دنیا ته راشي.

له زېږېدو وروسته هم د ده د روزنې او پالنې لړۍ دوام وکړي، تر هغه چې خپل قوت ته ورسېږئ، ځینې تر دې وړاندې په مخکنیو مراحلو کې ومرې او ځینې تر ټولو لوېدلي عمر ته ورسېږي، هومره چې له پوهېدو وروسته په څه نه پوهېږي. د علمي څېړنو په ترڅ کې ثابته شوې چې د عمر په زیاتېدو سره د دماغ ځینې شرائین ورو ورو تنګېږي او خبره داسي ځای ته ورسېږي چې دا شرائین د دماغ هغې برخې ته وینه نشي رسولی چې وظیفه ئې حفظ او په یاد ساتل دي، دغه مهال د انسان حافظه په بشپړه توګه له کاره ولوېږي. قرآن دې

حقيقت ته په دې الفاظو سره اشاره کړې: **وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۢ بَعۡدِ عِلۡمٖ شَيۡـٔٗا:** او ستاسو ځينې تر ټولو ناکاره عمر ته رد کړی شي، داسې چې له پوهې وروسته په څه نه پوهيږي.

- همداراز د بياژوندون منکرينو ته ويل شوي: زمکه ګورې چې وچه کلکه وي، د ژوند او خوځښت هيڅ نښه نه په کې ترسترګو کيږي، خو کله چې باران پرې ووريږي، ناڅاپه وخوځيږي، وده وکړي او هر راز سمسور بوټي راوټوکوي. ځوک چې هره شپېه له مړې زمکې د ژوندیو بوټو راټوکېدا په خپلو سترګو ګوري، هغه ولې د بياژوندون په اړه شک کوي او دا ورته محال او ګران برېښي؟!! مګر الله تعالى په لومړي سر کې انسان له خاوري نه دئ پيدا کړی؟ مګر دا اوس د هر انسان نطفه د خاورو له اجزاء نه جوړوي؟ د الله تعالى په اراده هغه دانه او مېوه چې له خاوري جوړه شوې د انسان په بدن کې د ده نطفه تر ې جوړه شي، بيا له نطفې علقه (داسې ځوړند توکی چې ژوري ته ورته وي)، بيا د غوښې داسې ټوټه تر ې جوړه شي چې ژوول شوې ته ورته وي، چې د ځينې برخې تخليق ئې بشپړ او مکمل شوی او د بلې برخې تخليق ئې نامکمل وي، په هغې بڼې کې چې الله تعالى ورته غوره کړې تر معينې نېټې د مور په رحم کې پاته شي، بيا د ماشوم په توګه دنيا ته راشي، روزنه ئې کيږي، تر هغه چې د خپل قوت او ځوانۍ پراو ته ورسيږي، ځينې په نيمايي لاري کې ومري، ځينې د عمر داسې پراو ته ورسيږي چې خپله ټوله مخکنۍ پوهه له لاسه ورکړي، له علم او پوهې وروسته په څه نه پوهيږي، همدا راز زمکه ګورئ چې سپېره او وچه وي خو کله چې اوبه پرې ووريږي وخوځيږي، وده وکړي او هر راز غوره بوټي راشنه کړي.

دا ځوک دئ چې له خاوري انسان پيدا کوي؟ په انسان باندې دا مختلف مراحل د چا په اراده رادرومي؟ انسان تر ټولو مخلوقاتو افضل او اشرف دئ، هر څه ده ته مسخر شوي، خو هغه له داسې مراحلو طوعاً او کرهاً تېريږي چې د ده خپله اراده په کې هيڅ اثر او اغېز نه لري. نه غواړي په زړښت محکوم شي، د بل د اوږو پېټی شي او د عمر هغې مرحلې ته ورسيږي چې د ماشوم په ځېر شي، په څه نه پوهيږي، دا ئې زړه نه غواړي چې ژوند ئې پای ته ورسيږي او په مرګ محکوم شي، خو چاره نه لري، مخالفت نشي کولی، د يوه مجبور او محکوم موجود په توګه لدې مراحلو تېريږي، ووايست: هغه

څوك دئ چې انسان د ده د ارادې په وړاندې محکوم دئ؟ له هغه وروسته چې د خاورو له اجزاوو د ده نطفه جوړه شي، د مور په رحم کې تر معيني نېټې پاته کېږي، له مختلفو مراحلو تېرېږي او بيا په معينه نېټه د مور د رحم له تيارې او تنګي دنيا د پراخي دنيا غېږ ته راووځي، ضعيف او ناتوانه او د بل مرستې ته اړ، خو ورو ورو ئې روزنه کېږي، د قوت آخري معراج ته ورسېږي، خو له هغه ځايه ئې بېرته زوال پيل شي، د ضعف او ناتوانۍ په لور درومي، په زړښت محکوم شي، طاقتونه او استعدادونه ئې ختم شي او په پای کې ئې د مرګ فيصله وشي.

انسان په خپل ژوند کې (له خاوري پيدايښت)، (له يوې دنيا بلې ته تګ)، (د پيدايښت نېټه)، (دنيا ته د راوتلو نېټه)، (د مور په رحم کې د پاته کېدو معينه موده) او (د مرګ نېټه او اجل) په خپلو سترګو ګوري، سره لدې څنګه او د څه لپاره له بيا ژوندون او لدې دنيا بلې ته د تګ له مسلم حقيقت انکار کوي!!؟

همدا راز د زمکې وچ او سپېره ډاګونه ګورئ چې هيڅوك له هغه د ژوندي شي د راټوکېدو طمع نه لري، خو الله جل شأنه له آسمانه اوبه وربانده ووروي، وخوځېږي، وده وکړي او هر راز غوره او ښايسته نباتات راشنه کړي.

آيا عجيبه نه ده چې څوك د دغو صحنو له ليدو سره سره د انسان بيا ژوندون محال وګڼي؟ هغه ذات چې د وښو ډکې او دانې، له هغه وروسته چې تر خاورو لاندې وراسته شي، بېرته راشنه کوي، انسان به هم له خپل قبر او له هغه وروسته چې هډوکې ئې وراسته شي بيا راژوندی کوي.

په دې مبارك آيت کې چې د انسان د پيدايښت د مختلفو مراحلو په اړه او له زمکې د نباتاتو د راشنه کېدو په اړه کوم بحث شوی، قرآن عظيم الشأن له هغه څو سترې مسئلې ثابتوي او دا نتائج وربانده مرتب کوي:

1- **ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ**: دا د دې لپاره چې الله حق دئ، په الوهيت او شته والي کې ئې شك نشته، دا تحولات او بدلونونه، هم د انسان په ژوند کې او هم د دې عالم په غېږ کې ښيي او په دې شهادت ورکوي چې الله تعالى حق دئ، يو ذات شته چې د هغه په اراده دا تحولات او بدلونونه رائې.

2- **وَأَنَّهُۥ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ** : او دا چې هغه مړې ژوندي کوي، په خپلو سترګو

ګورئ چې انسان او نبات له خاورو راپیدا کوي.
3- **وَأَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ**: او دا چې هغه په هرڅه قادر او برلاسی دئ
4- **وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٞ لَّا رَيۡبَ فِيهَا:** او دا چې د قیامت هغه معین ساعت راتلونکی دئ، په هغه کې هیڅ شك نشته.

لکه څنګه چې ته په خپل ژوند کې ګورې چې په یوې معیني نېټې له یوې دنیا بلې دنیا ته درومې، د مرګ ساعت دې له مخکې ټاکل شوی، د پیدایښت نېټه دې تعیین شوې او کمال ته ستا د رسېدلو ګراف ټاکل شوی، چې بیا له دې ځایه ستا د زوال لارې پیل کېږي، همدا راز د دې دنیا د ختمېدو او د بلې د پیل کېدو لپاره اجل او ثابته نېټه ټاکل شوې.

5- **وَأَنَّ ٱللَّهَ يَبۡعَثُ مَن فِي ٱلۡقُبُورِ**: او دا چې الله به هغه بېرته راژوندي کوي چې په قبرونو کې دي، لکه څنګه چې الله تعالی د وچې او سپېرې زمکې له زرې نباتات راشنه کوي، همدا راز به هغه چې په قبرونو کې دي بېرته راژوندي کړي.

ګورئ چې قرآن د انسان په ژوند کې او د دې عالم او طبیعت په دغو تحولاتو باندې استناد کوي او دا پنځه نتائج زمونږ مخې ته ږدي: الله حق دئ، هغه مړي ژوندي کوي، په هر کار قادر دئ، د قیامت معین ساعت راتلونکی دئ او الله جل شأنه به هغه چې په قبرونو کې دي راژوندي کوي.

هر څه پیل او پای لري:

کافران دا دنیا ابدي او تلپاتې ګڼي، حال دا چې د عالم هر څه پای لري، په خپلو سترګو ګورو چې هر شی پیل او پای لري، دا دنیا د داسې اشیاوو مجموعه ده چې ټول پیل او پای لري، هر یوه ته عمر ټاکل شوی، هر څه ټاکلی عمر لري، د عمر په پای کې په زوال محکومېږي، رانسکوریږي او ختمېږي، ژوند ئې شروع شي، کمال ته ورسېږي، بېرته ئې زوال پیل شي، تر یوې معیني نقطې او نېټې مخکې درومي، خو له هغه وروسته بېرته د مرګ او زوال په لوري خوځي، لکه چې قرآن فرمایي:

وَمَن نُّعَمِّرۡهُ نُنَكِّسۡهُ فِي ٱلۡخَلۡقِۚ أَفَلَا يَعۡقِلُونَ ٦٨ یس:68

چا ته چې عمر ورکوو بېرته ئې په خلقت کې رانسکوروو، آیا تعقل نه کوي؟!

دا آيت د مخكني مضمون په ارتباط وايي: الله تعالى چې چا ته عمر ورکوي بېرته ئې په خلقت کي نسکوروي، زوړوالى پرې راځي او ځواکونه او استعدادونه ئې ورو ورو کمزوري او ضعيف کېږي او په پاى کي له منځه ځي، نو ولي تعقل نه کوي او دا وېره نه لري چې الله تعالى له دوى ټول شته ځواکونه او استعدادونه بېرته واخلي، نه ئې سترګي لار وروښيي او نه ئې پښې په تګ کي مرسته ورسره وکړي؟!

مور په خپلو سترګو ګورو چې هر عمر لرونکى په زوال او زړښت محکومېږي، له يوې نېټې ئې ژوند پيل شي، د کمال خاص پړاو ته ورسېږي، د عمر په تېرېدو سره د زوال په لور دروميږي او په پاى کي مري، د چا په اراده چې هر څه د زوړوالي او کهولت قاعدې محکوم دئ او د خپلې ځوانۍ نشاط ورو ورو له لاسه ورکوي هغه ذات کولى شي نن له انسان د ده ځواکونه او استعدادونه سلب کړي او د قيامت په ورځ په خپلو غړو د ده تسلط له منځه يوسي، غړي ئې د ده خلاف شهادت ورکړي.

لکه څنګه چې قرآن وايي د دې عالم هر مخلوق خاص عمر لري او د عمر په پاى کي زوال مومي، نن ساينس او علم او ساينس پوهان همدا خبره کوي، وايي: هر څه زړېږي او زوال مومي، د کهولت عامه قاعده چې وايي: هر څه په زوړوالي او فنا باندي محکوم دئ، نن دا د ساينسي علومو يو عام او اساسي بنسټ دئ، خلقو ډېر شيان ابدي او تلپاتي ګڼل، خو نن علم په دې پوهېږي چې د کهولت قاعده يوه عامه حاکمه قاعده ده، د عالم هر څه د دې په وړاندي محکوم دي، هر څه د کهولت او زوړوالي په لور دروميږي، قرآن عظيم الشأن فرمايي: لکه څنګه چې د فرد لپاره اجل ټاکل شوى او د قومونو لپاره اجل ټاکل شوى، همدا راز د عالم د هر توکي لپاره اجل ټاکل شوى.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۖ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ٣٤ الاعراف:34

او هر امت ته اجل ټاکل شوى، نو کله چې د دوى اجل راورسېږي نه به يوه شېبه وروسته شي او نه به مخکې شي.

دلته په څو خبرو غور پکار دئ:

- له اجل مراد د عذاب ثابته نېټه ده که د پيدايښت او زوال ثابته نېټه؟ که دا د عذاب نېټه وګڼلى شي، نو دا پوښتنه راولاړېږي چې هيڅوك د عذاب د نېټې

رامخکي کېدا نه غواړي، خو که د امتونو د پيدايښت او زوال نېټه ونيولی شي داسي پوښتنه نه راولاړېږي، ځکه امت په فکري بنسټونو جوړ شوي ولس ته ويل کېږي نه په قومي او ژبني بنسټ جوړ شوي ولس ته، هر امت، که دا د ايمان په بنسټ جوړ شوی وي او که د شرك او کفر په بنسټ، په خپل خپل وخت راپيدا کېږي، عروج ته رسي او زوال مومي.

- لکه څنګه چي هر انسان د پيدايښت او مرګ ثابته نېټه لري، همداسي هر امت هم د پيدايښت او زوال ثابته نېټه لري، په خپل وخت راپيدا کېږي او په خپل وخت درومي، نه ئې د پيدايښت نېټه وروسته کېدی شي او نه ئې د زوال نېټه رامخکي کېدی شي. دا نېټې د چا د هوی او هوس په حکم مخکي يا وروسته کېږي نه، د الهي ثابتو سننو مطابق په خپل خپل وخت ترسره کېږي.

همدا راز د الروم د سورې له 7 تر 11 آيت پوري دې مطلب ته په دې الفاظو اشاره شوې:

يَعۡلَمُونَ ظَٰهِرٗا مِّنَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُمۡ عَنِ ٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ غَٰفِلُونَ ٧ أَوَ لَمۡ يَتَفَكَّرُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡۗ مَّا خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَأَجَلٖ مُّسَمًّىۗ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ بِلِقَآيِٕ رَبِّهِمۡ لَكَٰفِرُونَ ٨ أَوَ لَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗ وَأَثَارُواْ ٱلۡأَرۡضَ وَعَمَرُوهَآ أَكۡثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٩ ثُمَّ كَانَ عَٰقِبَةَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔواْ ٱلسُّوٓأَىٰٓ أَن كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ بِهَا يَسۡتَهۡزِءُونَ ١٠ ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ١١ الروم: 7-11

د دنيايي ژوند په ځينو څرګندو (اړخونو) پوهېږي په داسي حال کي چي دوی له آخرته غافل دي. آيا له ځان سره ئې فکر نه دئ کړی چي الله آسمانونه او زمکه او څه چي د دوی په منځ کي دي له حق او ټاکلې نېټې پرته (په بله توګه) نه دي پيدا کړي او د خلکو ډېری د خپل رب له ملاقات انکار کوي. آيا په زمکي کي نه دي ګرځېدلي چي ليدلي ئې وی د هغو پايله څنګه وه چي تر دوی وړاندي ول، تر دوی د قوت له پلوه ډېر مضبوط ول او زمکه ئې تر هغه زياته سپړلې (ودانه کړې) وه چي دوی سپړلې، او پيغمبرانو ئې څرګندي نښي وروړې، نو الله پر دوی ظلم نه کاوو بلکي دوی پر خپلو ځانونو ظلم کاوو، بيا د هغو کسانو عاقبت او پايله بده وه چي بدي ئې وکړه، له دې کبله چي د الله آيتونه ئې تکذيب کړل او استهزاء ئې پرې کوله. الله هغه ذات دئ چي پيدايښت پيلوي

بیا ئې اعاده کوي، بیا (ټول) د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ.

د دې مبارکو آیتونو لاړښووني دا دي:

- د آخرت د منکرینو لیدواټن لنډ دئ، یوازي د خپلو پښو مخي ته څو ګامه لیدی شي، قضاوتونه ئې د ظواهرو له مخي وي، لکه څنګه چې د دنیا او آخرت په اړه د دوی انګېرنه سطحي ده همداراز پر رومیانو د فارسیانو د ظاهري بري په ارتباط د دوی انګېرنه عجولانه او سطحي ده، په یوې جګړې کې د دوی بریا او برلاسي ته په پام سره ګمان کوي چې نور نو نه د دوی ماته ممکنه ده او نه د رومیانو بیا سرلوړول او برلاسی!! په داسي حال کي چې ډېر ځلي یوه بریا د داسي ماتي مقدمه وي چې د مغرور برلاسي ځواك په بشپړ زوال منتج شي.
- آیا له ځان سره ئې فکر نه دئ کړی چې الله آسمانونه او زمکه او څه چې د دوی په منځ کي دي له حق او ټاکلې نېټې پرته (په بله توګه) نه دي پیدا کړي او د خلکو ډېرى د خپل رب له ملاقات انکار کوي.

هغوی د دنیایي ژوند په ظواهرو پوهېږي خو له آخرته غافل دي، آیا له ځان سره ئې په دې فکر نه دئ کړی چې الله آسمانونه او زمکه او څه چې د هغوی په منځ کي دي، نه دي پیدا کړي مګر په حقه او له ټاکلې نېټې سره او یقیناً چې اکثر د خلکو له خپل رب سره د ملاقات او مخامخ کېدو په اړه کافران دي، یعني فقط د دنیایي ژوند په ظواهرو پوهېږي، دې ته پام نه کوي چې الله تعالی هر څه سم او په حقه پیدا کړي، په دې عالم کي عبث، بېهوده، اضافه او کم شی نشي په ګوته کولی، د هر څه لپاره اجل ټاکل شوی، دا د اجل قاعده عامه ده، هر څه احتوی کوي، آیا دې ته پام نه کوي چې الله تعالی د زمکي او آسمانونو د هر څه لپاره اجل ټاکلی او هغه ئې په حقه پیدا کړي،تاسو ګورئ چې د هر څه پېدایښت له هیڅ نه پیل شي، ورو ورو وده وکړي، خو د کمال او ارتقاء لپاره ئې معین حد ټاکل شوی، د کمال په آخري پړاو کي ئې د زوال لړۍ پیل شي او په پای کي په مرګ محکوم شي، د پیدایښت او مرګ ګراف ئې ثابت او ټاکلی حد او معینه موده او نېټه لري. ګورئ چې هر څه په حق او له اجل مسمّی سره پیدا شوي. خو د خلکو ډېرى په دې حقائقو نه پوهېږي.
- د آخرت او بیا ژوندون په اړه د دوی د غلطو انګېرنو د تردید په اړه دوه

داسي مضبوط دلائل د دوی په وړاندي ږدول شوي چي که هر عاقل انسان له ځان سره پرې فکر وکړي حتماً پرې قانع کېږي: لومړی دا چي په آسمانونو او زمکي کي داسي څه نشي موندلی چي بېهوده، خوشی او بې ګټې وي، په سمه توګه او په حقه نه وي پيدا شوی او په پيدايښت کي ئې کوم حکمت او مصلحت مضمر نه وي!! له دې سره سره څنګه ګمان کوي چي الله تعالی به انسان داسي پيدا کړی وي چي خپلي مخي ته ئې پرېښی، نه د سم کار نېکه بدله ورکوي او نه د غلط کار سزا؟!! داسي غلط کار له هغه الله تعالی سره څنګه مناسب ګڼي چي آسمانونه او زمکه او د دوی په منځ کي هر څه ئې په سمه توګه او پر حق او حقيقت ولاړ پيدا کړي؟!! دوهم دا چي الله تعالی د آسمانونو او زمکي هر څه داسي پيدا کړي چي هم ئې پيدايښت ټاکلې نېټه لري او هم ئې پای. د دې حقيقت له مشاهدې سره سره څنګه ګمان کوي چي دا عالم دائمي دئ او پای نه لري؟!!

- مګر نه ګورئ چي الله تعالی د هر مخلوق پيدايښت پيلوي، بيا ئې اعاده کوي، يا په دې معنی چي په پر له پسې توګه ئې پيدا کوي او يا په دې معنی چي په مرګ ئې محکوموي او په پای کي د هغه په لوري درومي؟!!
- د خپلو مجوسي ملګرو پر موقتي بريا د قريشو د بې ځايه غرور او خوښی په ځواب کي ورته ويل شوي: آيا په زمکي کي نه دي ګرځېدلي چي ليدلي ئې وی د هغو پايله څنګه وه چي تر دوی وړاندي ول، تر دوی د قوت له مخي ډېر مضبوط ول او زمکه ئې تر هغه زياته ودانه کړې وه چي دوی ودانه کړې، پيغمبرانو ئې څرګندي نښي وروړې، دوی انکار وکړ، نو الله تعالی کلك ونيول او سخته سزا ئې ورکړه، دا سزا عادلانه سزا وه، په دې سره الله تعالی پر دوی ظلم نه دئ کړی، بلکي دوی پر خپلو ځانونو ظلم کاوو، آيا دا ئې د تاريخ په پاڼو کي نه دي لوستي چي تل د هغو کسانو عاقبت او پايله بده وه چي بدي ئې کړې، له دې بدي پايلي سره له دې کبله مخامخ شوي چي د الله آيتونه ئې تکذيب کړل او استهزاء ئې پرې کوله.
- په دې مبارکو آيتونو کي قريشو او د آخرت او د الهي مکافات او مجازات ټولو منکرينو ته ويل شوي: دا څوك دئ چي ظالمان مؤاخذه کوي؟ تاريخ ته رجوع وکړئ؛ د هغو متمدنو قومونو انجام وګورئ چي که څه هم په تمدن او قوت کي تر موجوده قومونو ډېر پرمخ تللي ول؛ خو چي د پيغمبرانو د دعوت مخالفت ئې کړی، وګورئ چي الله جل شأنه څنګه مؤاخذه کړي، له کوم عاقبت

سره مخامخ شوي؟! آيا د دوی دا تباهي، تعذيب او هلاکت د دې دليل نه دئ چي دلته داسي څوك شته چي له هر چا سره محاسبه کوي او عملونو ته ئې بدله ورکوي؟ همدا ذات به قيامت قائموي، همدا ذات هغه دئ چي پيدايښت ئې پيل کړی او له پای ته رسېدو وروسته به ئې بيا اعاده کوي، دا همغه ذات دئ چي ټول به د هغه لوري ته ورګرځول کيږئ.

د عملونو مکافات او مجازات:

قرآن عظيم الشأن د آخرت د ثبوت لپاره د عملونو په مکافات او مجازات استدلال کوي. کافران له دې خبري انکار کوي چي په دنيا يا په آخرت کي دي د عملونو لپاره د مکافات او مجازات سلسله وي او يا دا چي انسان دي له مرګه وروسته د دې لپاره بېرته راژوندی کړی شي چي د خپلو عملونو مکافات او مجازات وګوري!! قرآن عظيم الشأن د دې خبري د اثبات لپاره ګڼ شمېر داسي محسوس او مشهود دلائل وړاندي کوي چي انسان ئې هره ورځ په خپلو سترګو ګوري. د التين په مختصري او جامع سوره کي د دغه مطلب په اړه موږ ته دا لارښوونه کوي:

وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيْتُونِ ١ وَطُورِ سِينِينَ ٢ وَهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ٱلْأَمِينِ ٣ لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِيٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ٤ ثُمَّ رَدَدْنَٰهُ أَسْفَلَ سَٰفِلِينَ ٥ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ٦ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِٱلدِّينِ ٧ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَحْكَمِ ٱلْحَٰكِمِينَ ٨

التين: 1-8

پدې انځر، پدې زيتون قسم. په طور سينين قسم. پدغه خوندي ښار قسم. بې شکه چي انسان مو په ډېر غوره جوړښت کي پيدا کړی. بيا مو تر ټولو ټيټو ټيټ ته رد کړ. مګر هغه چي ايمان ئې راوړی او نېک عملونه ئې کړي، چي دوی ته تلپاتې بدله ده. نو ته څه شي د دين درواغ ګڼلو ته اړ کړې؟ مګر خدای، احکم الحاکمين نه دئ؟

دلته په لومړي آيت کي په دوو مېوو لوړه شوې او په وروستيو آيتونو کي په دوو ځايونو او د قسمونو په پای کي ويل شوي: بې شکه چي انسان مو تر ټولو غوره جوړښت کي پيدا کړی. دا د قسم ځواب دئ، په دې څلورو شيانو د دې لپاره لوړه شوې چي ثابته کړي انسان په غوره جوړښت او تقويم کي پيدا شوی، راشئ وګورو چي دا څلور لومړۍ خبري څنګه په دې شهادت ورکوي

چې انسان په ډېر غوره تقويم کې پيدا شوی.

پدې آيتونو کې د (طور سينين) او(بلدالامين) مفهوم کاملاً واضح او روښانه دئ او قرآن په خپله د هغوی وضاحت کړی، طور سينين د موسی عليه السلام مبعث دئ او بلد الامين، مکه مکرمه چې د اسمعيل عليه السلام او محمدعليه السلام مبعث دئ او په هغې کې د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام په لاس کعبه بنا شوې. که د قرآن د نورو آيتونو په رڼا کې غور وکړو نو دا خبره راته جوتيږي چې د دغو دواړو ترمنځ يو ځانګړی شباهت او مناسبت شته او هغه دا چې دواړه د پيغمبرانو مبعث او د وحي مهبط دي، په يوه کې موسی عليه السلام په پيغمبرۍ مبعوث او د فرعون په مقابله مأمور شو او بل ئې د ابراهيم، اسمعيل او محمد عليهم السلام د بعثت او دعوت غيږ. له ځواب سره د دغو دواړو قسمونو ارتباط هم ډېر څرګند او واضح دئ او هغه دا چې دا دواړه ځايونه چې د نړۍ ستر ستر شخصيتونه ئې په غيږ کې پاته شوي، پدې خبرې شهادت ورکوي چې واقعاً انسان په ډېر غوره جوړښت کې پيدا شوی او ډېر ستر ستر استعدادونه پکې اېښودل شوي، د دغه اوچت او لوړ جوړښت څو څرګندي بېلګې ئې دغه جليل القدره پيغمبران دي، که په انسان کې دا اوچت استعدادونه نه وی نو د پيغمبرانو په څېر عظيم او جليل القدره شخصيتونه به پدوی کې نه راپيدا کېدل. مګر نه ګورئ چې دغه جليل القدر پيغمبران د عظمت او لوړوالي کوم کوم مقام ته رسېدلي، هر يوه د سترو انقلابونو لارښوونه کړې، د دوی په لاس ظالم استبدادي نظامونه نسکور شوي، د عدالت او آزادۍ ډيوه ئې بله کړې، د دې ډيوې په رڼا کې مظلومو او محرومو انسانانو ته د ډاډمن او سرلوړي ژوند شرائط برابر شوي، په جهل وهلې ټولنې کې د رونړ مشعل په څېر ځلېدلي، توري تيارې شپې ئې روښانه کړې، آيا همدا کافي نده چې ووايو: واقعاً انسان په ډېر غوره تقويم کې پيدا شوی او په هغه کې ستر او عظيم استعدادونه اېښودل شوي؟ خو له ځواب سره د دوو لومړنيو قسمونو په ارتباط پوهېدل غور غواړي، پدې اړه څو خبرې په پام کې ولرئ: د يوه بليغ کلام يوه مهمه ځانګړتيا او خصوصيت دا وي چې د ببلو ببلو برخو ترمنځ ئې تړاو، نظم او تنسيق وي، د دغه اصل له مخې بايد دوه لومړي قسمونه له دوو وروستيو سره شباهت ولري. که دوه وروستي قسمونه خاصو ځايونو ته اشاره کوي، پکار دا ده چې دوه لومړي قسمونه هم دې ته ورته ځايونو ته اشاره

وکړي. خو بايد وګورو چې په (التين) او (الزيتون) کې د دې امکان او احتمال شته که نه؟ ځواب دا دئ چې هو؛ په څو دليله: لومړی دا چې د کلام له فحوی معلومېږي چې په لومړي آيت کې (البلد) مقدر دئ، د درېيم آيت له (و هذ البلد الامين) همدا خبره معلومېږي، يعني په لومړي آيت کې د انځر او زيتون په سيمو لوړه شوې. دا داسي ده لکه چې څوک ووايي: ډهلی، مسکو او دا کابل مې ليدلي، څوک چې دا خبره واوري نو پوهېږي چې ډهلی او مسکو هم د کابل په څېر ښارونه او پلازمېنې دي، که څه هم دا نومونه ئې تر دې وړاندې نه وي اورېدلي، يا دا چې څوک ووايي: سپين ګل، سور ګل، احمد او محمود مې وليدل، هر عقلمن انسان له دې خبرې دا مطلب اخلي چې سپين ګل او سور ګل د احمد او محمود په انسانان دي نه ګلان، دوهم دا چې د دې سورې د نازلېدو په وخت کې فلسطين د اعلی زيتون په درلودو مشهور وو او شام د اعلی انځر په درلودو، چې چا به د زيتون نوم واخيست نو فلسطين به ئې مخې ته راغی او چې د انځر نوم به ئې واخيست نو شام به ئې ذهن ته راغی، دا داسي وګڼئ لکه څوک چې په پاکستان کې د خربوزه نوم واخلي نو فوراً ئې افغانستان ذهن ته راشي او که په افغانستان کې د ام يا کېلې نوم واخلي نو سمدلاسه ئې پاکستان سترګو ته ودرېږي، دا ډېره عامه ده چې اکثراً ځايونه د خپلو خاصو مېوو په نامه يادېږي. عربانو معمولاً په خپلو محاوراتو کې مختلف ټاټوبي د خپلو ځانګړو او خاصو مېوو په نامه يادول، که به چا د څو ملکونو په څنګ کې د زيتون او انځر نوم اخيستو نو لدې ئې د شام او فلسطين معنی اخيستله. درېيم دا چې دغو دواړو ځايونو ته د قرآن په څو آيتونو کې اشاره شوې او د طورسينين او بلد الامين په څېر د پيغمبرانو د بعثت مبارک ټاټوبي ګڼل شوي. څلورم دا چې که د ځينو مفسرينو د رأيې مطابق (التين) او (الزيتون) فقط مېوه وګڼو او په خوا کې ئې (البلد) مقدر ونه بولو نو له يوې خوا د دغو څلورو قسمونو ترمنځ شباهت او يووالی نشو په ګوته کولی او له بلې خوا د قسمونو او ځواب ترمنځ تړاو او ارتباط نشو ښودلی. شام او فلسطين چې دلته په (التين) او (الزيتون) سره ياد شوي، له (طور سينين) او (البلد الامين) سره لدې لحاظه شباهت لري چې هلته د سليمان، داؤد، عيسی او ابراهيم عليهم السلام په څېر پيغمبران مبعوث شوي. او پدې سره د ټولو قسمونو ژور او دقيق ارتباط له ځواب سره څرګندېږي. يعني هغه باعظمته او ستر ستر شخصيتونه چې پدغو څلورو

سيمو: شام، فلسطين، طور سينين او البلد الامين كي راولاړ شوي، تلپاتې حماسې ئې جوړي کړې او د ډېر لوړ او اوچت انساني شخصيت بېلګي ئې وړاندي کړې، پدې شهادت ورکوي چې الله تعالى په انسان کي څومره لوړ استعدادونه اېښي او په څومره غوره او احسن تقويم او جوړښت کي ئې پيدا کړی!!

خو همدغه انسان، له همدې لوړ او ښايسته جوړښت سره او له ټولو هغو لوړو لوړو او غوره استعدادونو سره چې د ده په فطرت کي اېښودل شوي، د ايمان له سمي لارې د کږېدو او انحراف په نتيجه کي او د کفر د لارې په غوره کولو سره، د دنائت، رذالت، جهل او وحشت داسې ژوري کندې ته پرېوځي چې تر هر ټيټ ټيټ شي، تر هر څيرونکي حيوانه ډېر څيرونکی، بې رحمه او وحشي شي، نه ئې په ظلم کي سيال پيدا کېږي او نه په جهل، بې رحمۍ او قساوت کي او عملاً ګورو چې له دې سقوط او هبوط هغه کسان ژغورل شوي چې د ايمان او صالح عمل لار ئې غوره کړې او په دې لار کي ئې د خپلو نېکو عملونو تلپاتې او نه شلېدونکې غوره او نېکه بدله ترلاسه کړې، عزت او سرلوړۍ ته رسېدلي. د يوه وېرووونکي او (مدهش سقوط) او د بل (عزت او لوړ تګ) ښيي چې دلته زمونږ په نړۍ کي د مکافات او مجازات لړۍ شته، صالح هم د خپلو نېکو عملونو بدله تر لاسه کوي او طالح هم د خپلو بدو کړو وړو سزا ګوري، يو ئې فلاح، بريا او نجات مومي او بل ئې د ذلت او سپکاوي او نامرادۍ په ژوري کندي کي پرېوځي، هره شېبه عملونو ته د مناسبي سزا ورکولو شاهد يو.

نو د عملونو د مکافات او مجازات د عملي بېلګو له مسلسل ليدو سره سره، څنګه او په کوم دليل له (يوم الدين) انکارکوې؟! او ولي له انسان سره حساب و کتاب او محاسبه دروغ ګڼې؟ مګر ستا رب (احکم الحاکمين) نه دئ؟ مګر ودي نه ليدل چې په دغو څلورو سيمو کي، د پيغمبرانو د بعثت سيمو کي، د حق او باطل ترمنځ د پرله پسې نښتو په دغو څلورو ميدانونو کي، په وار وار د احکم الحاکمين رب پرېکړي، د حق د بريا او د باطل د ماتي په بڼه کي تکرار شوي؟!! حق پالونکي غالب شوي او باطل پالونکي مغلوب شوي؟! که څه هم د نزاع او نښتو په سر کي حق پالونکي ډېر کمزوري او ضعيف او د باطل سنګر ډېر مضبوط او مجهز برېښېدو او هيڅا ئې د ماتي او زوال تصور نه شو

کولی!! که دلته او په دنیا کي د مکافات او مجازات لړۍ نه وای نو مسلط، مجهز او په ظاهر کي ډېر مضبوط او ځواکمن ظالمان باید تل برلاسي او غالب او پر ټولني د تل لپاره مسلط پاته کېدی او مستضعفین به هیڅکله د دوی له منګولو نه شو وتلی او په دې نابرابري نزاع او جګړي کي به ئې هیڅکله بریا نه په برخه کېده!! او دا مجهز ځواکونه به هیڅکله د دوی په لاسونو نه رانسکورېدل او د زمکي خلافت به ئې نه په برخه کېدو، د ظالمانو مؤاخذه او د شر او فساد پر ځواکونو د الهي عذاب راپرېوتل دا ښیي چي الله تعالی د دې عالم (حَکم او حاکم) دئ او د احکم الحاکمین رب پرېکړي په کي نافذي او حاکمي دي.

ځینو مفسرینو ویلي چي له اسفل السافلین مراد دوزخ دئ، خو دا رأیه په دې دلیل کمزورې ده چي دوزخ ته د انسان تګ د مخکنیو قسمونو د ځواب په ضمن کي نشي راتلی، ځکه د قیامت او دوزخ منکرین په داسي استدلال نشي قانع کېدی، په دې اړه د هغو مفسرینو رأیه دقیقه ده چي وایي له اسفل السافلین مراد هغه تر ټولو بد حالت دئ چي د کفر او انحراف په نتیجه کي د انسان په برخه کېږي، کله چي هغه بې لاري شي او د پیغمبرانو د دعوت مخالفت وکړي، نو تر حیوانه هم زیات بد شي، تر حیوانه زیات وحشي، سفاك او بې رحمه شي، تر هغه زیات جاهل او ناپوه شي، داسي چي په څه نه پوهیږي، دا هغه حالت دئ چي هر څوك ئې په خپلو سترګو ګوري، دا حالت د هر کافر په وړاندي د یوه مضبوط دلیل په توګه اپښودی شو، قرآن د دوی په اړه فرمایي:

... لَهُمْ قُلُوبٌ لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ ءَاذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَآ أُوْلَٰٓئِكَ كَٱلْأَنْعَٰمِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْغَٰفِلُونَ ١٧٩ الاعراف: 179

... دوی زړونه لري خو پرې پوهېدی نشي، سترګي لري خو پرې لیدی نشي، غوږونه لري خو پرې اورېدی نشي، دوی د څارویو په څېر دي بلکي لازیات لاروركي، همدا دوی غافل او بې خبر دي.

د قرآن د ګڼ شمېر آیتونو په ترڅ کي د دوی په اړه راغلي چي له تعقل محروم دي، په څه نه پوهیږي، بې شعوره دي.. (فَهُمْ لا يَعْقِلُونَ) (فَهُمْ لا يَفْقَهُونَ) (وَ هُمْ لا يَشعُرُونَ)

په حقیقت کي دغه حالت اسفل السافلین دئ. خو څوك په دې اسفل السافلین کي

له لوړدو ژغورل شوی؟ قرآن فرمايي:

إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٖ ٦

مګر هغه چې ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، نو دوی ته غير منقطع(دائمي، مسلسل او تلپاته) اجر دئ.

په داسي حال کي چې ته په انساني ټولنې کي د شخصيتونو دا دوه ډلګي ګوري، چې يو د پيغمبرانو له خط او کړنلاري د انحراف له کبله په اسفل السافلين کي پرېوځي، تر حيوانه زيات بد شي، وحشي او بې رحمه شي او بل ګوري چې هغه دخپلو نېکو عملونو اجر په مسلسل او غيرمنقطع توګه ترلاسه کوي، ته ګوري چې په هري اجتماع کي متقي انسان محترم ګڼل کېږي، ځوک چې په خپل عهد وفا کوي خلك د احترام په سترګه ورته ګوري، چې په بل چا ظلم او تېری نه کوي، خلك د هغه احترام کوي او ګوري چې بدي او بدکاري تل او په انساني ټولنې کي منکر او کرکجن ګڼل کېږي، خلك تری نفرت او انزجار لري، کومه اجتماع ده چې هلته د غله احترام وشي؟ چېرې د يوه حريص انسان قدر کېږي؟ کومه ټولنه داسي ګوري چې هلته دي خلك د يوه ټګمار، دوکه مار، دروغجن، بې وفا، بد عهد انسان احترام وکړي؟ دا چې ته په انساني ټولنه کي د شخصيتونو دا دوه ډلګي ګوري چې يو د پيغمبرانو له تګلاري د انحراف په وجه په اسفل السافلين کي سقوط کوي، په اجتماع کي ئې امن، ډاډ او اطمئنان ختم شي، هلته ظلم او استبداد وي، هلته خلك له خپلو حقوقو محروم وي او هلته اختناق او وحشت وي او بلي خوا ته ګوري چې چا ايمان راوړی او صالح عمل ئې کړی هغه په غيرمنقطع او په مستمر ډول د خپلو عملونو اجر تر لاسه کوي او خلك ګوري چې يوه ته په ښه سترګه ګوري او بل ته په بده سترګه، يو د ستاينې وړ ګڼي او بل د رټلو او شړلو وړ، له خپل لوري هر يوه ته مناسبه بدله ورکوي، نو سره له دې څه شي د يوم الدين په اړه دوکه کړی يې او هغه تکذيبوې؟!

فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعۡدُ بِٱلدِّينِ ٧

د دی واقعيتونو له ليدو سره سره هغه څه دي چې ته ئې د دين په نسبت غولولی يې او هغه تکذيبوې؟! څه شي دې ته اړ کړی يې چې د مکافات او مجازات سلسله تکذيب کړې؟ حال دا چې ته په خپلو سترګو په انساني ټولنه کي

د انسان په عملونو د دوو ډولو نتائجو مرتب کېدا ګوري: يو منحرف شي او په نتيجه کي ئې په اسفل السافلين کي سقوط وکړي، بل ايمان راوړي او د صالح عمل لار غوره کړي په غيرمنقطع، مسلسل او مستمر ډول د خپل عمل غوره اجر تر لاسه کوي، په دوه ډوله عملونو د دوه ډوله نتائجو مرتب کېدل په سترګو ګوري، نو څه شي دوکه کړی يې چي يوم الدين (د مکافات او مجازات ورځ) تکذيب کړي؟ آيا دا پخپله په دې خبري شهادت نه ورکوي چي دلته د مکافات اومجازات سلسله جاري ده؟ آيا د ښلو ښلو عملونو ښل ښل نتائج په دې شهادت نه ورکوي چي دلته داسي يو ذات شته چي د مکافات او مجازات پربکړه د ده له لوري ده؟ ته چي قضاوت کوې، ښه ته ښه وايې او بد ته بد، نو آيا ستا رب به په دې صفت متصف نه وي؟

أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَحْكَمِ ٱلْحَٰكِمِينَ ٨

مګر الله احکم الحاکمين نه دئ؟

آيا ستا پالونکی رب ترټولو غوره، حَکَم او قضاوت کوونکی نه دئ؟ دغه رب به د دين (مکافات او مجازات) ورځ قائموي، چي انسان ته د خپلو عملونو مکمل او بشپړ اجر ورکړی شي. په عملونو د اجر او بدلې له مرتب کېدو معلومېږي چي الله تعالی تر ټولو غوره حَکَم دئ.

دا دئ ګورئ چي قرآن عظيم الشأن په همدې خبري چي د انسان په ژوند کي د مکافات او مجازات لړۍ عملاً جاري ده، استناد کوي او دا حقيقت ثابتوي چي الله به د دين ورځ (يوم الدين) قائموي، چي هلته به انسان ته د خپلو عملونو پوره او کامل اجر او جزاء ورکوي، دا ځکه چي الله (احکم الحاکمين) دئ.

تاسو به حتماً دې خبري ته توجه لرئ چي که انسان ته پرته له دې چي د هغه د اعمالو نتائج په نظر کي ونيولی شي، د ده د عمل جزاء ورکړی شي، عدالت نه تأمين کېږي، ځکه يو عمل يوازي په همغه معينه لحظه کي چي تر سره شوی پای ته نه رسېږي بلکي د هغه اثرات تر قيامته پوري دوام کوي، دا داسي وګڼئ لکه په يو بحر کي چي څوک يوه ډبره واچوي، له دې ډبري په اوبو کي راپيدا شوې څپې او امواج، يوازي په يوه محدوده دائره کي نه پاتې کېږي، بلکي دائره ئې ورو ورو وسيع کېږي او خورېږي، همدا راز هر عمل خاص اثرات او نتائج لري، اغېز ئې په يوې محدودي دائرې کي نه پاتې کېږي، ستا له

يوه نېك عمل بل څوك متأثره كېږي، ستا لاره غوره كوي او له هغه بل متأثره كېږي، دا لږ تر قيامته دوام كوي، همدا راز ستا له يوه بد عمل بل څوك متأثره شوى دئ، ستا عمل هغه دې بدكار ته تشويق كړى، تا د هغه دحياء پرده څيرلې او هغه دي دې لوري ته ترغيب كړى چې ستا په څېر بدعمل وكړي، له هغه بل او له هغه بل متأثره شوى، دا سلسله دوام كوي. له دې كبله چې انسان د خپل نېك او بد عمل پوره او كامل اجر تر لاسه كړي بايد د قيامت ورځ قائمه شي، هلته د عملونو سلسله ختمه شي او بيا انسان ته د خپل عمل داسي بشپړ اجر او بدله وركړى شي چې د هغه د عمل اثرات هم په نظر كي نيول شوي وي. له دې كبله چې الله احكم الحاكمين دئ د قيامت ورځ به راولي، تر څو انسان ته د خپل عمل پوره او كامل اجر وركړى شي.

ته چې په دنيا كي د بدلې بېلگي گورې، د مكافات او مجازات سلسله گورې، دا بېلگي په خپله د دې لپاره كافي دي چې په دې خبري باور او ايمان ولرې چې د قيامت ورځ به راځي او هلته به انسان ته د خپلو عملونو پوره او كامل مكافات او مجازات وركول كېږي، د دې لپاره چې الله احكم الحاكمين دئ.

همدا راز قرآن عظيم الشأن په يوې بلې مختصري سورې كي دې ته ورته ا ستدلال كوي:

وَٱلۡعَصۡرِ ١ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ٢ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ٣ العصر: 1-3

قسم په زمان. يقيناً چې په زيان كي دئ انسان. مگر هغه چې ايمان ئې راوړى او صالح اعمال ئې كړي او يوه بل ته د حق سپارښتنه كړې او يوه بل ته د صبر توصيه كړې.

په لومړي آيت كي په (العصر) لوړه شوې، او ورپسې ويل شوي: يقيناً چې انسان په زيان كي دئ، مگر هغه چې ايمان ئې راوړى او صالح عملونه ئې كړي او يوه بل ته د حق سپارښتنه كړې او يوه بل ته د صبر توصيه كړې.

د قرآن د نورو قسمونو په څېر دلته هم په يوه څرگند او د هر مخاطب مخي ته پروت حقيقت باندي لوړه شوې، په (العصر) يعني زمانه، هره زمانه او د زمانې هر پراو د دغي ادعاء د اثبات لپاره د شاهد په توگه وړاندي شوى چې انسان له ايمان، صالح عمل، په حق سپارښتنه او په صبر له سپارښتني پرته له

زیان او خسران سره مخامخ کېږي. که تاریخ ته رجوع وکړئ، هره پانه ئې وڅېړئ او هر پېراو ته ئې ځیر شئ؛ په څرګنده به وګورئ چې تل د ایمان هغو خاوندانو بریا ترلاسه کړې او له تباهۍ ژغورل شوي چې عملونه ئې صالح وو، پر حق ولاړ وو او یوه بل ته د حق سپارښتنه کړې، په دې لار کې ئې صبر کړی او یوه بل ته د صبر توصیه کړې. راشئ وګورئ د هغو خلکو پایله څه وه چې د کفر او له حق د انکار لار ئې غوره کړې، بد اخلاقه او بد عمله وو، ظلم او تېری ئې کړی، فساد ته ئې لمن وهلې، نه ئې په خپله حق او حقیقت ته سر ټیټ کړی، نه ئې بل حق ته هڅولی، نه ئې په خپل جائز حق قناعت کړی، نه ئې د بل د حق پروا کړې، نه ئې په خپله صبر درلود او نه ئې بل ته د صبر سپارښتنه کړې؟ تاریخ د دغو خلکو په اړه څه وایي؟ د دوی پایله او عاقبت ئې څنګه معرفي کړی؟ کوم ولسونه چې له تباهۍ، ذلت او سپکاوي سره مخامخ شوي خصوصیات او ځانګړتیاوي ئې څه وو؟ او هغه چې فلاح او بریا ئې په برخه شوې، د شرف او عزت لوړو مدارجو ته رسېدلي، د زمکي خلافت او د ولسونو قیادت او زعامت ئې ترلاسه کړی، څوك وو او مواصفات ئې کوم؟ آیا دغه سرلوړي او عزتمن قومونه او دا د تاریخ معروف او مشهور شخصیتونه چې هرڅوك ئې په نامه افتخار کوي، هغوی ته ځان منسوبوي، د هغوی نومونه پر خپل ځان او اولاد ږدي او د هغوی په لار د تلو هڅه کوي، له دغو صفاتو پرته ئې بل څه درلودل؟ او هغه کسان چې له دغو صفاتو محروم وو او د دغو صفاتو له خاوندانو سره ئې دښمني ته ملا تړلې وه، که څه هم زور ځواك ئې درلود، وسائل او امکانات ئې په واك کې وو، لښکري او فوځونه ئې درلودل او په لویو لویو ملکونو ئې حکومت کاوو، له کوم عاقبت سره مخامخ شوي او نن خلك او تاریخ د دوی په اړه څه قضاوت کوي؟ د ابوجهل، فرعون او نمرود په اړه څه وایي؟ د عیسی علیه السلام د مخالفینو په اړه څه قضاوت کوي؟

متأسفانه ځینو دلته هم اشتباه کړې او (العصر) ئې یا د (صلوة العصر: د مازدیګر لمونځ) یا (د مازدیګر وخت) او یا د پیغمبر علیه السلام د زمانې په معنی نیولی، حال دا چې (العصر) عام دئ، په هره زمانه ئې اطلاق کېږي او داسي هیڅ دلیل نشته چې خاص وخت او زمانه په ګوته کړي. دا ضعیفه توجیه د قسم او ځواب ترمنځ هیڅ ارتباط نه شي ښودلی او په هیڅ تعبیر او تأویل سره

دا نه شي ثابتولی چي (العصر) د انسان په خسران او زيان شهادت ورکوي! د (العصر) صيغه عامه ده، سمه نه ده چي هغه (خاص) کړو، د قسم او ځواب ترمنځ ارتباط يوازي په هغه صورت کي راڅرګندېږي چي صيغه په خپل حال (عام) پرېږدو او د زمانې هر پراو او د تاريخ هره مرحله ئې وګڼو، همدا زمانه او ټول لوړ ژور پراوونه ئې شهادت ورکوي چي انسان تل د بې ايمانۍ، بدو کړو وړو، په حق نه ودرېدو او يوه بل ته د هغه سپارښتنه نه کولو، بې صبري او يوه بل ته د صبر د سپارښتنې نه کولو سره تاوان کړی او له تباهۍ سره مخامخ شوی.

همدا راز قرآن عظيم الشأن د الانعام په سورې کي دې مطلب ته اشاره کوي او فرمايي:

فَقُطِعَ دَابِرُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْۚ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ٤٥ الانعام: 45

نو د هغه قوم جړې قطع شوې چي ظلم ئې وکړ. او ستاينه ټوله هغه الله ته ده چي د عالمونو رب دئ. (هغه الله چي په دې عالم کي د رب په توګه تصرف کوي او د ظالمانو جړې قطع کوي، ټولې ستايني هغه ته دي)

ته عملا ګورې چا چي ظلم کړی جړې ئې قطع شوې او له شوم او بد عاقبت او پايلي سره مخامخ شوی، ته ما ته وښيه کوم ظالم دئ چي د ظلم له بدو پايلو سره نه وي مخامخ شوی؟ دا چي په دې دنيا کي ظالمان مؤاخذه کېږي او د الله عذاب پر دوی نازلېږي او له دوی سره حساب و کتاب او د دوی نيونه شديده او سخته وي، تخت او تاج ئې نسکور شي، هيڅوك د دوی مرستي ته نشي دانګلی او هيڅوك ئې له شوم عاقبت نشي خلاصولی، عملاً ګورئ چي: فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَموا، د ظالمانو د جړې له قطع کېدو دا ثابتېږي چي دلته له هر چا سره محاسبه روانه ده، دلته داسي څوك شته چي له ظالمانو پوښتنه کوي، د مظلومانو پوښتنه کوي، له ظالم سره حساب کوي، له هغه انتقام اخلي او د هغه جړې قطع کوي. که دلته د مکافات او مجازات سلسله نه وی او دلته الله د رب په توګه تصرف نه کولی، نو هغه څوك چي ټول وسائل او امکانات ئې په خدمت کي وي، ټول شرائط د هغوی په ګټه وي، بايد د هغوی اقتدار د تل لپاره ادامه کولی، بايد په دې کي تبديلي نه راتلی، په هيڅ صورت کي بايد په حاکمو اجتماعي نظامونو کي انقلاب او بدلون نه راتلی. اما دا چي

ته ګوري د ظالمو حاکمانو پايله وخيمه او دردناکه ده او د هغوی جړې قطع کېږي، دا په خپله ثابتوي چې دلته د مکافات او مجازات سلسله روانه ده.

همدا راز قرآن عظيم الشأن فرمايي:

إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ٣٤ إِنۡ هِيَ إِلَّا مَوۡتَتُنَا ٱلۡأُولَىٰ وَمَا نَحۡنُ بِمُنشَرِينَ ٣٥ فَأۡتُواْ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٣٦ أَهُمۡ خَيۡرٌ أَمۡ قَوۡمُ تُبَّعٖ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ أَهۡلَكۡنَٰهُمۡۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ مُجۡرِمِينَ ٣٧ الدخان:34-37

يقيناً دا ډله حتما وايي چې دا نه دئ مګر زموږ لومړنی مرګ، او موږ بېرته راژوندي کېدونکي نه يو، که ربښتيني يئ زموږ پلرونه راژوندي کړئ. آيا دوی غوره دي که د تبع قوم او هغه چې تر دوی وړاندي ول، موږ هلاک کړل، يقينا دوی مجرمان ول.

دلته د آخرت او بياژوندون د منکرينو وينا رااخيستل شوې چې وايي: زموږ مرګ يو او وروستی مرګ دئ، بېرته نه راژوندي کېږو، که د بياژوندون په اړه ستاسو ادعاء ربښتيني وي نو زموږ پلرونه راژوندي کړئ. يعني همدا يو مرګ لومړی او وروستی مرګ دئ، بيا ژوندون نشته، له خپلو قبرونو بيا راپاڅېدا نشته، څوک مو بېرته نه را ژوندي کوي، که داسي وي نو زموږ پلرونه چې مړه شوي بېرته ئې را ژوندي کړئ که تاسو ربښتيا وايئ!! که تاسو وايئ چې قيامت شته، له مرګ وروسته بياژوندون شته، موږ به بېرته له خپلو قبرونو راپاڅو، دا زموږ آباء او اجداد چې د مخه مړه شوي؛ يو خو بايد را ژوندی شي، تاسو خو يو راژوندی کړئ، که ربښتيني يئ. د دوی په ځواب کې ويل شوي: د تبع قوم، هغه چې تر قريشو وړاندي تېر شوی، په عربو ئې حکومت کړی، فساد او طغيان ئې وکړ، الله مؤاخذه او هلاک کړل، له قصې ئې د عربو هر ماشوم خبر وو، او ټول هغه مجرم قومونه چې تر دې د مخه تېر شوي او د خپل جرم له کبله نيول شوي او د الله تعالی په شديد عذاب اخته شوي، آيا دا کافي نه دي چې قريش دې ته ورته برخليك ته منتظر وي، او الهي محاسبه او مجازات تکذيب نه کړي؟! مګر دغه خبره چې د تبع ځواکمن او واکمن قوم چې پر عربو ئې حکومت کولو، ظروف او شرائط د دوی په خدمت کې، خو له دې کبله چې د جرم لار ئې غوره کړه، حسيب خدای جل شأنه مؤاخذه او هلاک کړل، دا د دې خبري دليل نه دئ چې دلته د مکافات او مجازات سلسله شته؟ او انسان به د خپلو عملونو د پوره او کامل اجر تر لاسه

کولو لپاره له قبر را پورته کړي؟ د همدې خبري د اثبات لپاره قرآن عظیم الشأن په دې استناد کوي چې د تبع قوم مجرم وو او الله تعالی هلاك کړ. دا چې ته په تاریخ کې ګورې چې الله جل شأنه مجرم قومونه هلاکوي، د طغیان په سبب ئې نیسي او سخته سزا ورکوي، آیا دا په خپله د دې دلیل نه دئ چې دلته یو ذات شته چې دا عالم اداره کوي، د عالم د امورو تدبیر د هغه په لاس کې دئ، پر عملونو مکافات او مجازات مرتب کوي، او د مجرمینو د مجازات په بڼه کې د هغه د قدرت، سیطرې او حاکمیت آثار او مظاهر په خپلو سترګو ګورو، دغه مظاهر د مالك الملك الله د شته والي او د قیامت او مکافات او مجازات څرګنده نښه او بېلګه ده. دلته د آخرت د منکرینو دا غلطه انګېرنه تردید شوې چې الهي مکافات او مجازات نه مني، حال دا چې د دې بېلګې د تاریخ په هرې پاڼې او د زمانې په هر دور کې مومي.

په عالم کې نظم او هدفمني:


همدا راز قرآن عظیم الشأن د قیامت د اثبات لپاره په دې خبري استدلال کوي چې ته په دې خور، وسیع او پراخ عالم کې بېهوده او عبث شی نشې موندلی، په دې ټول عالم کې داسې یوه نقطه نشې ښودلی چې هلته نظم او یووالی او تنسیق نه وي، هلته دي کوم اضافي شی وي، هلته دي کوم بېهوده شی وي، هلته دي کوم قصور او نقص وي. په دې ټول عالم کې قصور نشې په ګوته کولی، کمښت نشې ښودلی، بې نظمي او عدم تنسیق نشې ښودلی، عبث او بېهوده شی نشې پیدا کولی، هر څومره چې غور، څېړنه او دقت وکړې، دومره چې سترګې دې سترې او ستومانه شي، بېهوده او عبث شی نشې موندلی، هر څومره چې په عالم کې د نقص پیدا کولو لپاره ځیر شې او څېړنه وکړې، سترګې به دې بېرته ستومانه او نامراده تا ته راګرځي.

ٱلَّذِي خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗاۖ مَّا تَرَىٰ فِي خَلۡقِ ٱلرَّحۡمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٖۖ فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن فُطُورٖ ٣ ثُمَّ ٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ كَرَّتَيۡنِ يَنقَلِبۡ إِلَيۡكَ ٱلۡبَصَرُ خَاسِئٗا وَهُوَ حَسِيرٞ ٤ الملك 3-4

هغه ذات چې اوه آسمانونه ئې پوړ پوړ پیدا کړل، د رحمن په مخلوقاتو کې بېلوالی لیدی نه شې، نو سترګې وغړوه آیا کوم چاود ګورې؟ بیا هم سترګې په وار وار وغړوه، ستا سترګې به ستا په لوري نامراده راوګرځي او حسرت

وهلې (ارمانجني) به وي.

په داسي حال کي چي ته په دې ټول خور او پراخ عالم کي يو بېهوده شی نشې پيدا کولی، څنګه کېدی شي چي انسان دي عبث او بېهوده پيدا شوی وي، حال دا چي ټوله هستي د ده په خدمت کي ده، د زمکي او آسمانونو هر څه الله تعالی د ده لپاره پيدا کړي، د ده لپاره ئې مسخر کړي او د ده په خدمت کي دي!!؟ که د قيامت ورځ نه وي او له انسان سره محاسبه ونشي، د دې معنی دا ده چي دا ټول عالم خوشی، عبث او بېهوده پيدا شوی!! حال دا چي الله تعالی په دې عالم کي هيڅ شی بېهوده نه دئ پيدا کړی، لکه چي قرآن فرمايي:



الدخان: 38-42

او موږ دا آسمانونه او زمکه او څه چي په دوی کي دي؛ د لوبو کوونکو په توګه نه دي پيدا کړي، نه مو دي پيدا کړي مګر په حقه سره، خو د دوی ډېری نه پوهيږي. يقيناً چي د فصل ورځ د دوی ټولو ميقات او ميعاد دئ. هغه ورځ چي هيڅ دوست به له هيڅ دوست څه نشي دفع کولی او نه به د دوی مرسته کېدی شي، مګر هغه چي الله پرې رحم کړی، يقيناً چي هغه مهربان عزتمن دئ.

د دې مبارکو آيتونو لاربښووني دا دي:

- الله تعالی دا آسمانونه او زمکه او څه چي په دوی کي دي؛ د لوبو کوونکو په توګه نه دي پيدا کړي، د ماشومانو د لوبو په څېر ئې بې مقصده او بې هدفه او خوشي نه دي پيدا کړي، په سمه توګه ئې پيدا کړي، دلته عبث او بېهوده شی نشئ موندلی، دلته هر شی په سمه توګه او هدفمن پيدا شوی، خو د دوی ډېری نه پوهيږي.
- الله تعالی د ښه او بد، صالح او طالح، مؤمن او کافر تر منځ د قضاوت او

پرېکړي یوه ثابته ورځ ټاکلې، د فصل او پرېکړي دا ټاکلې ورځ د دوی ټولو میقات او میعاد دئ، دا داسي ورځ ده چې هیڅ دوست به له هیڅ دوست هیڅ څه نشي دفع کولی او نه به داسي څوك وموميِ چې د دوی مرسته وکړي او له مجازات ئې وژغوري، یوازي هغه څوك به ژغورل کېږي چې الله تعالی پرې رحم کړی، دا ځکه چې الله تعالی هم عزتمن او ځواکمن دئ او هم رحیم او مهربان، مجرم مؤاخذه کوي او پر مؤمن رحم کوي.

- هلته به ټول راغونډېږي، د الله په وړاندي به ودرېږي او په هغه ورځ به د ښه او بد تفکیك کېږي، د دوی ترمنځ به فیصله کېږي او خلك به په ډلو ډلو وېشل کېږي.

یعني دا چې ته په خپلو سترګو ګورې چې دا عالم په سمه توګه پیدا شوی، باطل او بېهوده شی په هغه کي نشې موندلی، دا پخپله د دې تقاضاء کوي چې باور وکړو له انسان سره د محاسبې او د ده د مکافات او مجازات لپاره حتماً یوه معینه ورځ په مخکي لرو، ځکه ګورو چې یو له دنیا مظلوم ځي، بل د ګناه له پېټي سره له دنیا وداع کوي، په داسي حال کي چې ظلم ئې کړی او د بل حق ئې تلف کړی، باید د هغه مظلوم پوښتنه وشي او له دې ظالم سره حساب، هغه چې د ګناه له پېټي سره تللی باید محاکمه او مجازات شي، که داسي نه وي نو معنی ئې دا ده چې دا دنیا عبث او بېهوده ده، چې یو څوك ظلم وکړي، د بل چا حق تلف کړي او له حق منحرف شي، خو د خپل عمل سزا و نه ګوري!! د ګناه دروند پېټي ئې پر اوږو او له ډېرو حق تلفیو او ظلمونو سره ولاړ شي، که د محاسبې لپاره د قیامت او د فصل او مکافات او مجازات ورځ نه وي، د دې معنی دا ده چې دا دنیا خوشې، عبث او بېهوده پیدا شوې، حال دا چې په دې عالم کي د یوې ذرې برابر بېهوده شی نشو ښوولی.

د النبأ په سوره کي ګڼ شمېر داسي شیانو ته اشاره شوې چې د هر یوه د پیدایښت هدف هم په ګوته شوی:

عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ ١

له څه یو بل پوښتي.

عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلۡعَظِيمِ ٢ ٱلَّذِي هُمۡ فِيهِ مُخۡتَلِفُونَ ٣

له هغي ستري خبري، هغه چې دوی په کي په خپله مختلف دي.

د قيامت د ستري خبري په اړه يو له بل پوښتي، چې دا به کله او څنګه واقع کېږي؟ هغه خبره چې دوی د هغې په اړه اختلاف کي دي، په دې اړه واحده رأيه نه لري، مختلف نظريات وړاندي کوي.

كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ٤ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ٥

نه داسي نه ده (لکه دوی چې ګمان کوي) ژر به وپوهېږي، نه داسي نه ده (لکه دوی چې ګمان کوي) حتماً به وپوهېږي

أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ مِهَٰدًا ٦

آيا دا زمکه مو يوه زانګو نه ده ګرځولې؟

زمکه ئې د يوه مقصد لپاره په داسي بڼه کي پيدا کړې چې د انسان د کور لپاره فرش شي، په خپلې غېږ کي د انسان ټولو اړتياوو ته ځواب ووايي.

وَٱلْجِبَالَ أَوْتَادًا ٧

او غرونه د مېخونو په څېر؟

زمکه خوځېدله، په ابتداء کي د هغې حرکت نامنظم وو، غرونه ئې ورباندي راپيدا کړل، په دې سره د هغې نامنظم حرکت منظم شو. غرونه د مېخونو په شان په زمکي کي ننوتلي، دا يوازي د زمکي په سر لوړي نه دي، بلکي دا په ربښتيا د مېخ په څېر دي، څو برخي ئې په زمکه کي او کمه برخه ئې د زمکي په سر ده. داسي نه ده چې د زمکي په سر لوړي او ژوري راپيدا شوې وي او د غرونو شکل ئې غوره کړی وي، بلکي غرونه د زمکي لپاره د مېخونو حيثيت لري، لکه کشتۍ چې د مېخونو په وجه له خوځېدو ساتل کېږي، همدا راز غرونه د دې باعث شوي چې زمکه له نامنظم خوځېدو وساتل شي.

وَخَلَقْنَٰكُمْ أَزْوَٰجًا ٨

او تاسو مو جوړه جوړه پيدا کړئ؟ (نر او ښځه، د دې لپاره چې ستاسو نسل ادامه وکړی)

وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ٩

او ستاسو خوب مو د هوساينې لامل کړ؟

ستاسو خوب ئې د راحت، هوساينې او د دې سبب وګرځاوو چې ستوماني مو ختمه او ضائع شوی ځواك مو بېرته جبران شي، بېرته قوت واخلئ، ستړي او ستومانه يئ، د مزيد کار کولو توان مو ختم شوی، په تاسو خوب راولي تر څو

آرام وکړئ او ستړیا مو ختمه شي، خوب ستاسو د ژوند یو حالت دئ، خو په دې کي لوی حکمت، هدف او مقصد مضمر دئ، د دې لپاره چي تاسي خپله ضائع شوې انرژي بېرته جبران کړئ، تاسو د ژوند د ادامې لپاره خوب ته ضرورت لرئ، د خوب لپاره یوې ارامي تیارې فضاء ته ضرورت لرئ، گورئ چي ستاسي لپاره ئې همدغسي حالت راپیدا کړی، شپه خپل وزر په ټول هغه ځای خور کړي چي ستاسو د ټپکي او د ارام ځای دئ.

وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ لِبَاسًا ١٠ وَجَعَلْنَا ٱلنَّهَارَ مَعَاشًا ١١

او دا شپه مو کړه په څېر د یوه پوښاك؟ او دا ورځ مو کړه مهال د ژوند او ژواك؟

شپه مو د لباس په څېر کړه او ورځ مو د معاش وسیله کړه. له شپې وروسته تاسو ورځي او رڼا ته ضرورت لرئ، تر څو هر شی په هغه کي وپېژنئ، مفید او مضر تفکیك کړی شئ او خپل معاش تأمین کړی شئ، د دې لپاره چي ژوند مو ادامه وکړي، ورځي او رڼا، حرارت او تودوخي ته ضرورت لرئ، دا دئ الله تعالی ورځ راپیدا کړې، دا د شپې او ورځي یوه په بلي پسي د راتلو په وجه ده چي د زمکي په سر انسان ژوند کولی شي، نبات او حیوان ژوندی پاته کېدی شي، که دا نظم نه وي او یا په دې کي معمولي تغییر راشي د زمکي پر سر به ژوند ممکن نه وي، یا به زمکه هومره گرمه شي چي انسان به په کي ژوند نشي کولی، یا به دومره سړه شي چي د انسان د ژوند امکانات به په کي ختم شي، خو الله تعالی په منظمه توگه شپه او ورځ یوه په بلي پسي راولي، دا دئ گورئ چي د عالم په هر څه او هر حالت کي یو هدف او مصلحت مضمر دئ.

لږ دغي زمکي ته چي په غېږ کي ئې ژوند کوې او پر اوږو ئې درومې وگوره، ستا لپاره یوه زانگو، نه ډېره سخته او کلکه، هومره چي د استفادې وړ نه وي او نه هومره نرمه او پسته چي نه پرې تگ ممکن وي او نه د اوسېدو وړ، نه ډېره توده او نه له اندازې زیاته سړه، ستا له طبیعي جوړښت سره متناسبه، هوا ئې معتدله، ستا د اوسېدو لپاره جوگه، تیاره یوه زانگو، داسي چي که ئې وضعیت لږ تر دې بدل وی، د تودوخي درجه ئې زیاته یا کمه، فشار ئې لږ یا ډېر، د وربښت اندازه ئې زیاته یا کمه او بله هره عادي تبدیلي او تغییر چي نظم ئې له منځه وړي، ستا ژوند له جدي گوابښ سره مخامخ کوي او دا

زانګو ستا لپاره ګور ګرځوي!!

د زمکي له اوارو لږ د لوړو په لور، غرونو ته سترګي واړوه، آیا دې ته دي پام شوی چې دا غرونه ستا د زمکي مېخونه دي او ونډه ئې د زمکي د زانګو په راتېنګولو او تمولو کي هومره ده لکه د کیږدیٰ په درولو کي د مېړویو او د یوه صندوق په جوړولو کي د مېخونو، هو؛ دا د زمکي مېخونه دي، په څو معنی:

الف: داسي مه انګېره چې دا غرونه یوازي د زمکي پر سر لوړي دي، ګمان مه کوه چې د زمکي پورتنیٰ برخه ګونځي شوې او دا لوړي او ژوري په کي راپیدا شوې، تا ته به غرونه د خاورو او تیږو لوړي غونډیٰ برېښي، خو حقیقت داسي نه دئ، غرونه د مېخونو په څېر د زمکي په زړه کي ننوتي، لویه برخه ئې د زمکي په زړه کي او وړه برخه ئې راوتلې او د زمکي پر سر ده. او آیا پوهېږئ چې دا د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز دئ، انسان اوس او په شلمه پېړیٰ کي په دې پوه شو چې واقعاً غرونه هسي د زمکي د سر لوړي نه دي، بلکي د مېخونو په څېر ئې لویه برخه د زمکي په زړه کي او وړه برخه ئې د زمکي پر سر ده.

ب: دغو سترو او درنو غرونو د زمکي ببلي ببلي برخي په خپلو کي سره کلکي نښلولې، داسي لکه د اوسپني تختې چې د ولډنګ په ذریعه په خپلو کي سره ونښلي، دا غرونه د زمکي پر سر هغه درانه پېټي وګڼئ چې نه پرېږدي د زمکي هغه کلك او ډبرین پوستکی چې تر خاورو څو کیلومتره لاندي دئ، د هغه فشار له کبله مات شي چې د زمکي د زړه له خوټېدونکو موادو راولاړېږي، په دې ترتیب غرونه د زمکي د زلزلو مخنیوی کوي، انسان له ډېرو علمي څېړنو وروسته نن په دې حقیقت پوه شوی چې د زمکي تر خاورین قشر لاندي، د کلکي ډبري پرېږ پوستکی راتاو شوی او د زمکي په زړه کي د ډېر فشار او تودوخي له کبله هر څه ویلي او د خوټېدو په حال کي دي، له دې چې کوم فشار راپیدا کېږي هغه داسي وګڼئ لکه په سره اور پروت، د خوټېدو په حال کي د بخار دېګ چې له داخله تر سخت فشار لاندي وي، د زمکي ډبرین پوستکی هم دې ته ورته د ډېر ستر فشار لاندي وي، که دا غرونه او د دوی زیات وزن نه وی نو د دې فشار په وړاندي به ئې د مقاومت تاب نه درلود او دلته هلته به یو په بل پسي ماتېدو او زلزلې به راولاړېدې. دا د قرآن

يو بل ستر علمي اعجاز دئ چي غرونه ئې د (مېخونو) او (لنګر) په نامه یاد کړي او دا هغه حقیقت دئ چي انسان فقط په دې پېړۍ کي وربانديي پوه شو. قرآن دا حقیقت هم بیان کړی چي د غرونو له راپیدا کېدو مخکي زمکه خوځېده، له پرله پسې زلزلو سره مخامخ وه، الله تعالی غرونه وربانديي راپیدا کړل او دا خوځښت ئې سمبال شو او دا هم د غرونو په ارتباط یو بل ستر علمي حقیقت دئ چي انسان اوس وربانديي پوه شوی.

په دې هم پوهېږو چي غرونه د اوبو زېرمي په خپلي سېنې کي ساتي، د واوري ستر ستر ذخائر له فوري ویلي کېدو ساتي، نهرونه، چینې او کارېزونه له همدې غرونو رابهېږي، د مختلفو سیمو د هوا او موسم په تغییر او د رنګ رنګ نباتاتو په زرغونېدو کي د غرونو ونډه ډېره اساسي او ټاکونکې ده، نو غرونه له دې پلوه هم د زمکي د خیمې لپاره د مېخونو حیثیت لري چي د ژوند د بقاء او ژوندیو ته د رزق او روزي په برابرولو کي مؤثره ونډه لري.

د اتم آیت په اړه باید څو اساسي ټکیو ته متوجه وو:

الف: انسانان جوړه جوړه، نر، ښځه پیدا شوي، یو د بل مکمِل او بشپړوونکي، هر یو ئې د بل تر څنګ د ډاډ، اطمئنان، سکون او آرامۍ ذخایر احساس کوي او یو له بله د بېلوالي په صورت کي د نقص، کموالي او د کوم ضروري او حیاتي شي د ورکولو احساس کوي، د دغو جوړو ترمنځ جاذبه او مینه له همدې احساسه راولاړېږي او همدا جاذبه او مینه د انسان د نسل د بقاء لپاره ضروري ده، له دې پرته د انسان د نسل دوام ممکن نه وو.

ب: د قرآن له نظره انسان، حیوان او ټول ژوي او د عالم هر څه جوړه جوړه پیدا شوي، قرآن د طبیعت د ټولو توکو تر منځ (زوجیت) د کمال او دوام باعث ګڼي. دا دقیقه نظریه د هغه بې بنسټه او غلط تصور کاملاً خلاف ده چي د کمونستانو ماتریالستي فلسفه ئې د تکامل د عواملو په اړه وړاندي کوي، هغوی (تضاد) او د متضادو توکو ترمنځ دائمي (نزاع) د تکامل وسیله ګڼي!! دا په داسي حال کي چي ټول عالم د (ازواج) او جوړه جوړه توکو مجموعه ده، د دې خور عالم په هیڅ برخي کي د تضاد او عدم زوجیت بېلګه نه شو موندلی، د عالم په هري برخي کي د دې حقیقت شاهد یو چي تکامل د ازواج او جوړو ترمنځ د ګډ کار او ژور تنسیق نتیجه ده، په حیواناتو او نباتاتو کي په څرګنده

ګورو چې یو ئې څه د (ورکولو) لپاره لري او بل ئې د (اخیستلو) لپاره، د یوه ورکول یوه اړتیا وي او د بل اخیستل، همدغه احساس یو بل ته نږدې کړي، یو د بل نقص او اړتیا ته ځواب وایي او ضرورت ئې رفع کړي، همدا د دواړو ترمنځ د راکړي ورکړي رابطه او تنسیق د نوي موجود د پیدایښت باعث شي او د دغي (جوړې او زوج) د نسل دوام او بقاء میسر او ممکن کړي. د طبیعت په عناصرو کي هم ګورو چې دوه توکي یوازي هغه وخت یو له بل سره ترکیب کېدی شي او نوی او ځوان توکی رامنځته کولی شي چې یو ئې د بل مکمِل وي، یو ئې د ورکړي لپاره کوم اضافي شی ولري او بل ئې د اخیستو لپاره تش ځای، دا دواړه یو بل ته لاس ورکړي، سره یو شي، یو د بل مکمل شي، یو ئې د بل بار په اوږو واخلي او بل ئې د خپلي جوړې تشه ډکه کړي او په همدې سره نوی ترکیب رامنځته کړي، د عالم ټول مرکبات همداسي جوړ شوي، د (تضاد) نظریه واهي او بې بنسټه ده او په عالم کي د تکامل د عواملو له توجیه سخت عاجز او ناتوانه او د هیڅ څه د تکامل د څرنګوالي په اړه صدق نه کوي.

تاسو خوب ته ضرورت لرئ، داسي یوه فرصت ته چې په ورځني کار کي خپله مصرف شوې انرژي او قوت جبران کړئ، دمه وکړئ، اعصاب مو لږ آرام وکړي او ستړیا مو رفع شي، الله تعالی تاسو داسي پیدا کړي یئ چې له څه وخت کار وروسته خوب درباندي غلبه وکړي، په خپله راشي، حتی ستا له اجازې او موافقې پرته راشي، لاس، پښې مو دروټري او له ځان سره مو بیایي، د خوب مهار ئې ستا په واك کي نه دئ درکړی، بلکي ستا مهار ئې د هغه لاس ته ورکړی، چې کله ستومانه شې او ستا ستوماني او ضعف هغه ځای ته ورسېږي چې نور نو هیڅ کار نه شې کولی، ناڅاپه دي خوب خوا ته راشي، ستا کار درباندي متوقف کړي، ستا د وجود بېلابېلو برخو ته دا فرصت ورکړي چې خپلي نیمګړتیاوي پوره کړي، خپله ستوماني رفع کړي او د راتلونکي پړاو لپاره کار ته ځان چمتو کړي، ګورې چې (ستا په خوب) کي څومره ستر مصلحت او حکمت پروت دئ!! که (خوب) نه وی او یا ئې مهار د انسان په واك کي وی، څومره ستر ستر مصیبتونه به ئې انسان ته راولاړ کړي وو؟!! حریصو انسانانو به خپل ټول توان او ځواك په لنډي مودې کي مصرفاوو، خپله روغتیا به ئې په خطر کي اچوله او خپل ژوند به ئې د مرګ

له ګوابښ سره مخامخ کاوو!!

تاسو د (خوب) لپاره دوو شیانو ته ضر ورت لرئ: (تیاره او چوپتیا)، نه په رڼا کي سم او ژور خوب کولی شئ او نه له شور او ځوګ ډك محیط کي، ناڅاپي ګوري چي شپه ستا مرستي ته راشي، خپل تور وزر په هر څه او هر ځای خور کړي، غږونه غلي شي، هر د غږ خاوند د خوب غږ ته پناه یوسي او په دې سره ستا د خوب لپاره مناسب شرائط برابر شي.

تاسو د خپل ژوند مخکي ببولو او د خپل معاش او رزق، روزي د تأمین لپاره ورځي ته ضرورت لرئ، ترڅو د هغې په رڼا کي هر څه وپیژنئ، مفید له مضر تفکیك کړئ، دوست له دښمن بېل کړئ او په خپل چاپیریال کي د شته توکو د کارولو امکان ترلاسه کړئ. د زمکي او آسمانونو خالق زمکه داسي جوړه کړې او د زمکي او لمر ترمنځ فاصله او د زمکي حرکت په خپل محور او د لمر په محور ئې داسي تنظیم کړی چي کله د زمکي پر سر شپه وي او کله ورځ، نه شپه هومره اوږده وي چي زمکه تر ضرورته زیاته سړه شي او نه ورځ هومره اوږده چي زمکه تر لازم حده زیاته توده شي، باید یوه په بلې پسي راشي، تر هغه ستا خوا ته پاتې شي چي ضروري وي، ستا اړتیا رفع کړي، خپل کارونه ترسره کړي، ببرته ولاړه شي او خپل ځای بلي ته خالي کړي!! که دا دقیق نظم نه وی، شپه او ورځ تر خپل اوسني وخت لنډه یا اوږده وی، د لمر او زمکي تر منځ واټن کم یا زیات وی، د زمکي چورلېدل او خوځېدل تند یا سست وی، نو د زمکي پر سر به ژوند ممکن نه وو.

وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ١٢ وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا ١٣ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلْمُعْصِرَٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ١٤ لِّنُخْرِجَ بِهِۦ حَبًّا وَنَبَاتًا ١٥ وَجَنَّٰتٍ أَلْفَافًا ١٦ النبا:12- 16

او له تاسو بر مو کلك اوه ګوني جوړ کړل. او رون او تود څراغ مو جوړ کړ. او له ننښتېځونکو مو اوبه پرله پسې راتوی کړې. چي په دې سره څه بوټي څه دانې راوباسو. او سمسوره ګڼ باغونه.

د زمکي پر سر ستاسو دا تمځی داسي دئ چي د زمکي سطح ئې ستاسو د کور فرش، اوه آسمانونه ئې چت، ستور لیکي (کهکشانونه) او ستوري ئې فانوس، لمر ئې څراغ او سپوږمی ئې د شپې شمع ده. قرآن دې ته په اشارې سره چي ستاسو له پاسه مو محکم اوه ګوني پیدا کړي، څو اساسي خبرو ته

اشاره کوي:

الف: يا خو زمونږ دا زمکه اوه فضائي مدارونه لري او يا دا ټول عالم د آسمانونو په نامه اوه طبقو احاطه کړی. په قرآن کي کله ګورو چي له زمکي بري فضاء ته آسمان ويل شوي او فرمايي چي باران له آسمانه ورږو او معلومه ده چي باران له هغو ورېځو راورېږي چي فاصله ئې زمونږ له زمکي تر لسو کيلومترو کمه وي. او کله د ستورو موقعيت ته آسمان ويل شوي او وايي چي په ستورو سره مو د دنيا نږدې آسمان ښايسته کړی، يعني ټول ستوري تر لومړي آسمان رالاندي دي.

ب: ګورو چي دا اوه ګوڼې طبقې ډېر مضبوط او دقيق نظام لري، ټول سماوي اجرام ئې په خپلي غېږ کي کلك نيولي، يو له بل سره د دوی له ټکر او تصادم مخنيوی کوي، نه پرېږدي چي يو د بل په مدار کي ننوځي، ستر ئې وړ جذب کړي، هر يو په منظمه توګه، په خپل خپل مدار کي خوځي، هر يو په خپل خپل ځای کي ساتي، د دغو بې شمېره سماوي اجرامو دا دقيقه ساتنه ښيي چي زمونږ په فضاء کي يو مضبوط، ځواکمن او دقيق نظام حاکم دئ.

ج: الله تعالی د زمکي فضاء داسي جوړه کړې چي له يوې خوا د هغو مضر او تاواني وړانګو او پلوشو مخنيوی وکړي چي له لمر د زمکي په لور رادرومي او له بلي خوا د يوه مضبوط چت په څېر پر زمکي د شهاب ثاقب له راپرېوتو مانع شي، کوم شهابونه چي د زمکي په لور راځي له دغي متکاثفي او پرېږي فضاء سره له ټکر او تصادم وروسته يا ويلي شي او يا ئې مسير بدل شي او له زمکي ئې مخه بل لوري ته واوړي او د هوا همدا طبقه د زمکي تودوخه ساتي او په لايتناهي فضاء کي ئې د خورېدو مخه نيسي، هغه ستوري چي داسي متکاثفه او پرېږه فضاء نه لري له يوې خوا په پر له پسې توګه شهابي ډبري پرې راپرېوځي او له بلي خوا ئې د شپې له پلوه هوا ډېره سړه شي.

هغه حکيم ذات چي دا کائنات ئې پيدا کړی، لمر ئې داسي ګرځولی او فاصله ئې له زمکي دومره ټاکلې چي زمونږ دوو اړتياوو ته ځواب وويلی شي: مونږ ته رڼا او تودوخه راکړي، زمونږ دا د زمکي کور هم تود کړي هم روښانه، لمر ئې (سراج او وهاج) يعني (تود او ځلانده څراغ) ګرځولی، زمونږ دواړو جدي او حياتي اړتياوو ته ځواب ويونکی، د لمر د نور او حرارت په مقدار کي

ډېر لږ تغییر او د زمکي او لمر ترمنځ په اوسني واټن کي ډېره لږه تبدیلي او د شپې او ورځې په اوسنۍ اندازې او د زمکي په خپل محور چورلېدو او د لمر په محور خوځېدو کي ئې معمولي تبدیلي د دې باعث کېږي چې د زمکي پر سر دا موجود تعادل له منځه ولاړ شي او په هغې کي ژوند ناممکنه شي.

زمونږ زمکه له لمر 93 ملیونه میله فاصله لري، د لمر حجم د زمکي د حجم 109 برابره دئ او د لمر د سطحي تودوخه د سانټي ګریډ په حساب 14 ملیونه درجې ده، سره له هغه اوږده واټنه چې له لمر ئې لرو، نه شو کولی په عادي سترګو څو ثانیې لمر ته وګورو، د زمکي په ځینو برخو کي چې د لمر وړانګي پر له پسې پرې لګېږي د حرارت درجه کله کله 140درجو ته ورسېږي، که زمونږ زمکه لږ لمر ته نږدې وی نو تودوخه به ئې هومره وه چې نه به انسان او حیوان پرې ژوند کولی شو او نه به بوټي وربانديي راشنه کېدی شول او که ئې فاصله له لمر تر دې زیاته وی نو سختي یخنۍ به د زمکي پر سر د ژوند مجال له منځه وړ، خو دا فاصله داسي تنظیم شوې چې مونږ د لمر له نور او حرارت د ضرورت په اندازه ګټه واخیستی شو.

په څوارلسم آیت کي ورېځي د معصرات یعني زېږنېدونکي په نامه یادي شوې، په دې پوهېږو چې ورېځي د اوبو متکاثف او راغونډ شوي بخارات دي، چې د هوا د فشار او تودوخي په تغییر سره د اوبو په څاڅکو واوړي او د باران، واوري او ږلۍ په څېر ورېږي، د لمر وړانګي د دې باعث شي چې د سیندونو اوبه تبخیر شي، په ورېځو واوړي، بادونه ئې په خپل سر واخلي، لرو لرو سیمو ته ئې انتقال کړي، د غرونو پر جګو څوکو د واوري په څېر او په اوارو او معتدلو برخو د باران په څېر وورېږي، که دا نظام نه وی نو زمکه به د ژوند لپاره وړ نه وه، د دې موضوع په اهمیت هلته ښه پوهېدی شو چې څو اساسي ټکیو ته پام وکړو:

لومړی- که د بحرونو اوبه تبخیر نه شي او د ورېځو په توګه فضاء ته پورته نه شي، ځینې برخي ئې په فضاء کي، ځینې ئې په غرونو او سړو سیمو کي د واورو د سترو سترو زېرمو په شکل کي او ځینې ئې د زمکي لاندي برخي کارېزونو او چینو کي او یوه برخه ئې د زمکي پر سر د نهرونو په څېر خوندي نه شي، ټوله زمکه به په اوبو کي غرق او ټولي وچي به تر اوبو لاندي شي.

دوهم- د څښاك هيڅ پاكي اوبه به مو نه درلودى، له لنډي مودې وروسته به ټولي اوبه د سيندونو د اوبو په څېر تروې، ناولې او تېزابي كېدې او د څښلو وړ به نه وې.

درېيم- د انسانانو، حيواناتو او نباتاتو لپاره چې هره ورځ څومره اوبه په كار دي، دا لوى مقدار صافي او د استفادې وړ اوبه برابرول له بلي هيڅ لاري او په بلي هيڅ عملیي سره ممكن او مقدور نه ده، د (ژجاج) لفظ چې د پرېمانه او پر له پسې په معنى دئ د همدې لپاره په دې مبارك آيت كي راغلى او همدغه حقيقت ته اشاره كوي.

څلورم- محتاجو او اړو سيمو ته د دې مقدار اوبو انتقال هومره پراخو امكاناتو ته ضرورت لري چې د انسان له توانه ډېر ډېر اوچت دئ، آيا په دې پوهېږئ چې يوه واړه بنار ته پاكي اوبه رسول څومره گران كار دئ او څومره مصارف غواړي، د دې پوښتنه له هغو ملكونو وكړئ چې د بحر خوا ته پراته او د زمكي لاندي اوبه ئې تروې دي او دې ته اړ چې د بحر اوبه تصفيه كړي ترڅو خپلو خلكو ته د څښاك صافي اوبه برابري كړي.

پنځم- دا وربنت دئ چې د زمكي هوا تصفيه كوي، فضاء له زهرجنو او مضرو گازونو، مكروبونو او گندگيو تصفيه كوي او استنشاق او تنفس ته ئې تياروي، له وربنت پرته له بلي لاري د زمكي د سر د ټولو حيواناتو او انسانانو د ضرورت وړ دومره زياته صفا هوا برابرول ممكن نه ده، په بلي هيڅ عملیي دا كار نه شي كېدى.

په 15-16آيتونو كي د وربنت هدف ته داسي اشاره شوې: له آسمانه په دې وربدونكو اوبو سره ستاسو له زمكي بوټي او وني او دانې او مېوې راباسو، آسمان ستاسو لمر په خپلي غېږ كي نيولى، د زمكي په لور خپلي وړانگي خوروي اوبه تبخيروي، دا بخارات په وربځو بدل شي، لرو لرو سيمو ته انتقال شي، له بره پر تاسو باران وروي او په همدې باران سره د زمكي له زړه دانه او مېوه راپيدا كوي، آيا دا تاسو ته په ډېر صراحت او وضاحت سره نه وايي چې د زمكي او آسمان تر منځ دقيق يووالى او تنسيق حاكم دئ، دواړه يو بل ته لاس وركوي او د يوې دقيقي منصوبې او طرحي له مخي په گډه كار كوي او ستاسو اړتياوو ته ځواب وايي، بوټي او وني د زمكي خټه زېښي، ستاسو د

ضرورت وړ توکي جذبوي او له هغه داسي ښکلي داني او مېوې جوړوي چې رنګ ئې ښایسته، خوند ئې لذیذ، بوی ئې ښکلی، شکل ئې جذاب او هضم ئې آسانه او همدا ستا غذا! دا بهیر مونږ ته ښیي چې د زمکې او آسمان د چارو تدبیر له یوې مرجع ترسره کېږي او له دې بهیر ثابتېږي چې څه په آسمان کي ترسره کېږي او څه پر زمکه واقع کېږي، دا ټول د یوې دقیقې او منظمې منصوبې له مخې ترسره کېږي، دلته هر حرکت هدفمن دئ، دلته هرڅه سم پیدا شوي او په سم لور خوځي، نه څه خوشی او عبث پیدا شوی او نه په خپل سر او بې مقصده لګیا دئ.

سره لدې چې ګورو په دنیا کي هر څه هدفمن دي، د یوه مقصد لپاره پیدا شوي، بېهوده او عبث نه دي، ګورئ هر یو د یوه خاص مصلحت او مقصد لپاره پیدا شوی، څنګه کېدی شي دا خبره ومنو چې د انسان پیدایښت دي بې مقصده، بېهوده او عبث وي، د ظالم او د مظلوم ترمنځ دي محاسبه او قضاوت ونشي، یو دي د ګناه، ظلم او حق تلفۍ له پېټي سره دنیا پرېږدي او څوک دي له هغه پوښتنه ونه کړي او بل دي مظلوم ولاړ شي او هغه دي خپل حق تر لاسه نکړي! دا غلط ذهنیت په هغه صورت کي د منلو وړ وو چې دا عالم بې هدفه، عبث او بېهوده وی.

إِنَّ يَوْمَ ٱلْفَصْلِ كَانَ مِيقَٰتًا ١٧

بې شکه چې د پرېکړي ورځ ټاکلې نېټه ده.

نو په دې حقیقت کي شك مه کوه چې (یوم الفصل)، ستاسو د ښو او بدو په اړه د قضاوت ورځ، د صالح او طالح تر منځ د تفکیك او توپیر ورځ به راځي، میقات ئې ثابت دئ او نېټه ئې نه بدلېدونکي، حتماً او په ټاکلي وخت به راځي، ټول کائنات د دې خبري په حقانیت شهادت ورکوي، د عالم په اوږدوالي او سور کي هري خوا ته موجود دقیق نظم او هدفمني د دې ورځي د حتمي راتلو تقاضا کوي.

مګر نه ګورئ چې الله تعالی مړه زمکه په یوه باران سره راژوندۍ کړي، همداسي به تا هم د ګور له خاورو ژوندی راباسي، آیا هغه ذات چې انسان ئې په لومړي سر کي هم له خاورو راپیدا کړ او بیا ئې د ده نطفه هم تل له خاورو جوړه کړه، په دې قادر نه ګڼې چې بیا به ئې له خاورو راپیدا کړي؟! آیا هغه

ذات چې انسان ئې د يوې دقيقې منصوبې له مخې جوړه جوړه پيدا کړ ترڅو د نسل بقاء ئې تضمين کړي؛ له دې عاجز ګڼې چې بيا دي راژوندی کړي؟!!

په آخرت نه ايمان په دې معنی دئ چې دا خور وور او ستر عالم نه د کوم څرګند او واضح هدف لپاره پيدا شوی او نه روښانه او واضح پايله لري، خوشی او د هيڅ لپاره پيدا شوی، نه ئې د پيدايښت لپاره کومه دقيقه منصوبه وه او نه کوم هدف او مقصدپه پام کي!! دا غلط تصور او خطا انګېرنه داسي ده چې د عالم هيڅ څه ئې نه تأييدوي، د عالم له هر څه د يوه عقلمن او باشعور انسان له انتباه سره تصادم کوي، مګر تاسو ونه ليدل چې قرآن په پورتنيو آيتونو کي د زمکي او آسمان څومره شيان زمونږ مخي ته کښنودل او د هر يوه د پيدايښت مقصد او هدف او د دوی ترمنځ ژور يووالی او تنسيق ئې مونږ ته بيان کړ؟! آيا د انسان عقل دا منلی شي چې د عالم هر څه دي هدفمن وګوري خو خپل پيدايښت دي عبث او خوشی وګڼي؟! داسي چې ښه او بد ئې برابر او هر کار ئې عادي او طبيعي وګڼل شي، که آسمان، زمکه، لمر، وريځي، بادونه، باران، دانه، نبات او ونه د خپل فطرت د تقاضا او غوښتنو خلاف کوم کار وکړي او د خپلو دندو په ترسره کولو کي پاته راشي، کوم خطرناك حالت به رامنځته شي؟ څنګه ومنو چې انسان په دې عالم کي يوه استثناء ده، کولی شي د خپل فطرت خلاف عمل وکړي او له هغه مسير يوې خوا بلي خوا ته منحرف شي پرته له دې چې د خپلي غلطۍ له بدو پايلو سره مخامخ شي؟!!

قرآن د هغه چا په اړه چې له الهي محاسبې انکار کوي، په بصير خدای باور نه لري، ګمان ئې دا دئ چې نه خدای د ده د کړو وړو شاهد دئ، نه د قيامت ورځ راتلونکې ده او نه به انسان ته د ده د عملونو سزا ورکول کيږي، فرمايي:
أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ ٧ أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ ٨ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ٩ وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ١٠ البلد: 7-10
آيا داسي انګېرې چې هيڅکله به څوك پرې قادر نه شي؟ وايي: ډېر مال مي تباه (مصرف) کړ! آيا دی داسي انګېرې چې هيچا نه دئ ليدلی؟

راشئ وګورو چې دا څوك او کوم انسان دئ چې ځان ورته دومره ځواکمن او قدرتمن برېښي چې ګمان کوي هيڅوك به پرې برلاسی نه شي؟! که څه هم په آيت کي ورته په څرګنده ګوته نه ده نيول شوې خو د کلام له فحوی په

واضح توګه معلومېږي چې دا همغه مغرور انسان دئ چې د پيغمبرعليه السلام هتك حرمت ته ئې ملا تړلې او د الله تعالى د كور په حرم كې پر ده هر ټبرى او تجاوز جائز او حلال ګڼي، هماغه چې خپل ټول زور ځواك ئې د پيغمبرعليه السلام او د ده د دعوت په مخالفت كې كارولى او ادعاء كوي چې كه پيغمبرعليه السلام په حقه وى او الله تعالى او فرشتې ئې د ده ملاتړي وى نو له د غو كړاوونو او ستونزو سره به نه مخامخ كېدو!! او د ده مخالفينو بايد هيڅكله دا فرصت نه شوى تر لاسه كولى چې له ده سره په عناد او دښمنى لاس پورې كړي، دى وځوروي او د ده ياران او ملګري وربږوي او سره له دې د الله تعالى له نيوني او مؤاخذې خوندي وي! دغو مغرورو سردارانو ته ويل شوي چې آيا ستاسو زور ځواك دا د غرور او كبر احساس دركې راولاړ كړى؟ آيا د پيغمبر عليه السلام او د ده د دعوت په ضد ستاسو پراخو هلو ځلو او ډېرو وسائلو كارولو او زيات مال دولت مصرفولو په تاسو كې دا ذهنيت راپيدا كړى چې هيڅوك پر تاسو برلاسه كېدى نه شي؟ آيا داسي انګېرې چې چا نه دئ ليدلى؟ مګر ګمان كوي چې بصير خداى د ده د ناروا او ظالمانه هلو ځلو او ښكاره او پټو هڅو ناظر او شاهد نه دئ؟ سخته اشتباه كوي، هيڅ څه ئې له هغه الله تعالى پټ نه دي چې بصير دئ؛ قرآن د دې حقيقت د اثبات لپاره په لاندي مضبوطو دلائلو استناد كوي:

أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ ٨ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ٩ وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ١٠ آيا ده ته مو دوې سترګې نه دي وركړې؟ او يوه ژبه او دوې شونډې؟ او ده ته مو ونښودې دوې لارې؟

د دې حقيقت د اثبات لپاره چې د (انسان پيدا كوونكى رب) حتماً بصير دئ او د ده د كړو وړو ناظر او شاهد، د انسان په دوو سترګو استدلال كوي او فرمايي: ته مخلوق يې، خالق لرې، بل پيدا كړى يې، ستا ټول استعدادونه ستا پيداكوونكي دركړي، ستا دوې سترګې هم د هغه وديعه دي، ستا عقل څنګه دا خبره مني چې په تا كې به دا صفت وي خو ستا پيدا كوونكى به تري محروم وي؟!! د عقل حكم خو له دې پرته بل څه نه شي كېدى چې ستا خالق بايد په دې صفت په اكمل او بشپړه توګه متصف وي؟!! آيا ممكنه ده په مصنوع او مخلوق كې داسي غوره صفت وي چې د هغه په خالق او صانع كې نه وي؟!! د انسان بصر او بصيرت په دې شهادت وركوي چې الله تعالى بصير دئ. موږ چې د

عالم پیدا کوونکی رب په کومو صفتونو یادوو مظاهر ئې په عالم او د ده په مخلوقاتو کې ګورو، که وایو الله تعالی بصیر دئ دا ځکه چې د ده په مخلوقاتو کې د دې ډیلګه ګورو، که وایو الله تعالی سمیع او اورېدونکی دئ، دا د دې لپاره چې د سمع د صفت مظهر د ده په مخلوقاتو کې ګورو، که وایو: الله تعالی علیم دئ دا ځکه چې د (علم) مظاهر د عالم د هر څه په پیدایښت کې ګورو او زمونږ عقل راته وایي چې دا عالم حتماً داسې ذات پیدا کړی چې په هر څه ښه پوهیږي.

ستا ژبه او دوه شونډې د تکلم وسائل دي، ته له دغو وسائلو په استفادې سره خپل مافي الضمیر بیانوې، خپل قضاوتونه منعکس کوې او خپلې پرېکړې صادروې، په تا کې د دغه استعداد شته والی په دې شهادت ورکوي چې ستا رب حتماً د تکلم په صفت متصف دئ. حتماً به ستا د کړو وړو په اړه قضاوت کوي، وروستۍ پرېکړه به صادروي. په انسان کې د دغه صفت شته والی مونږ د الله تعالی د دغه صفت په څرنګوالي پوهوي. ټول عالم د الله تعالی د صفاتو مظهر دئ، د الله تعالی د صفاتو مظاهر په ټول عالم کې ګورو، له مظاهرو څخه مونږ الله تعالی او د هغه صفات پېژندی شو.

الله تعالی انسان داسې پیدا کړی چې د ده په فطرت او خپله کې ئې د (ښه او بد) د پېژندو لپاره خاص معیارونه او استعدادونه اېښي، د (فجور) او (تقوی) څېره ئې د ده د ضمیر په صفحې انځور کړې، د دغه فطري استعداد له کبله ښه ورته ښه ښکاري او خوښوي ئې او بد ورته بد ښکاري او کرکه تري لري، نېکي ورته معروف برېښي، منل شوی او پېژندل شوی حقیقت ئې بولي او له خپل فطرت سره ئې آشنا ګڼي، خو بدي ورته منکر ښکاري، کرکجنه ئې ګڼي او د خپل فطرت منافي ئې بولي، له ښو دفاع کوي او له بدو کرکه لري، داسې ملَکي او غریزې ئې ورکړې چې دی ښېګړو ته هڅوي او له بدیو ئې منع کوي او په هر بد کار کې ئې ملامتوي، دغه استعداد د دې لامل دئ چې انسان د هر ښه او بد عمل په اړه قضاوت کوي، غواړي سزا او بدله ورکړي، که دوه انسانان د نښتي په حال کې وګوري، یو ئې ظالم بل ئې مظلوم، غواړي د مظلوم مرسته وکړي او ظالم په خپل ځای کښېنوي، په ده کې دا د (قضاوت استعداد) د دې نښه ده چې د ده (پالونکی او پیدا کوونکی) ذات، هغه چې ده ته ئې دا استعداد ورکړی، هرومرو په دغه صفت متصف دئ، حتماً به د انسان د

عملونو په اړه قضاوت کوي، د مظلوم لاس نیوی به کوي او ظالم ته به سزا ورکوي.

دا دئ ګورئ چې قرآن د الله تعالی د صفاتو د اثبات لپاره د همدغو صفاتو په هغو مظاهرو او بېلګو استناد کوي چې د ده په مخلوق کې ئې ګورو، هغه چا ته چې ګمان کوي: الله تعالی د خلکو له عملونو سره هیڅ کار نه لري او د دوی د ښو او بدو عملونو په اړه قضاوت نه کوي، فرمايي: ستا دا دوه سترګي، شهادت ورکوي چې خدای بصیر دئ او ستا د عملونو ناظر، ستا دوې شونډې او ژبه په دې شهادت ورکوي چې ستا رب به حتماً ستا د عملونو په اړه قضاوت کوي، د ښه او بد په اړه ستا دا احساس د دې نبنه ده چې الله تعالی به هم ستا عملونه په دوو برخو وېشي، ښه ته به ښه او بد ته به بده سزا ورکوي.دا ځینې هغه دلائل وو چې قرآن د آخرت د ورځې د اثبات لپاره د خپل مخاطب مخې ته اېښي.

پر آخرت د ایمان غوښتنې

اوس راځو په آخرت د ایمان غوښتنو ته، لکه څنګه چې په آخرت ایمان د انسان په فردي او اجتماعي ژوند ژوري اغېزي لري همداراز ځانګړې غوښتنې هم لري، څوك چې په آخرت د ایمان ادعاء کوي خو نه د ده په فردي او اجتماعي ژوند کې د هغه اغېز تر سترګو کېږي او نه ئې هغه ځانګړتیاوي چې دا ایمان ئې غوښتنه کوي، د ایمان ادعاء ئې بې بنسټه او بې ارزښته ده. په آخرت د ایمان ځینې مهمې غوښتنې دا دي:

آخرت ته پر دنیا ترجیح ورکول

په آخرت د ایمان لومړی تقاضا دا ده چې انسان به آخرت ته په دنیا ترجیح ورکوي، اخروي فلاح او بریا به د ده تر ټولو اوچت مقصد وي. دې ته به تیار

وي چې د خپل آخرت لپاره د دنيا هر راز ستونزي او کړاوونه وزغمي، محروميتونه وګالي، دنيا ته ئې شا او آخرت ته ئې مخه وي، نه په دې معنی چې له دنيا په بشپړه توګه لاس واخلي؛ بلکي په دې معنی چې دنيا به د آزموينې فرصت او آخرت به د خپلو عملونو د پايلو ترلاسه کولو نېټه ګڼي، مسلمان د دنيا او آخرت دواړو ښېګڼه غواړي، دنيا د ده له نظره د آخرت کرونده او مزرعه ده، دلته کښت کوي او په آخرت کې ئې حاصل تر لاسه کوي، ښه دنيا د ښه عقبی او خرابه دنيا د خراب آخرت مقدمه بولي، د دنيا په نسبت آخرت ته ترجيح ورکوي، د دنيا هر څه داسي ګڼي لکه وسيله، لکه د لاري توښه او آخرت اصلي مستقر او د اوسېدو اصلي ځای، په دنيا کي هغه داسي ژوند کوي لکه يو مسافر او لاروی، چې څه په دې دنيا کي تر لاسه کوي هغه زاد سفر او د لاري توښه ګڼي، په هغه سره اصلي مقصد او هدف ته ځان رسول غواړي، که چېرې د آخرت په لوري د سفر په دوران کي کله ټپکه او آرام کوي داسي ئې ګڼي لکه څوك چې په يوې بېديا کي روان وي، ستړی شي او د څو شېبو لپاره د کومي وني سيوري ته تم شي، قرآن په دې اړه فرمايي:

فَلۡيُقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يَشۡرُونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا بِٱلۡأٓخِرَةِۚ وَمَن يُقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيُقۡتَلۡ أَوۡ يَغۡلِبۡ فَسَوۡفَ نُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمٗا ٧٤ النساء:74

نو د الله په لار کي دي هغه کسان وجنګېږي چي د دنيا ژوند پر آخرت پلوري او څوك چي د الله په لار کي وجنګېږي، ووژل شي، يا بريالی شي، نو ژر به ستر اجر ورکړو.

يعني د الله په لار کي هر څوك د جنګېدو وړتيا نلري، الله تعالی هرڅوك د دې لپاره اهل نه ګڼي، يوازي هغه څوك د دې وړ دئ چي هدف ئې د الله رضاء ترلاسه کول وي، خپل ژوند د الله په لار کي قرباني کوي او دې ته تيار وي چي له خپلو ټولو دنيايي ګټو د اخروي فلاح او سعادت لپاره تېر شي. داسي مجاهد ته به شکور خدای ستر اجر ورکوي، که شهيد شي هم او که غازي او غالب شي هم.

څوك چي دغه پېر پلور ته تيار نه وي، هغه د دې وړ او جوګه نه دئ چي د الله په لاره کي جهاد وکړي. لومړی به انسان له ځان سره دا فيصله کوي چي دنيا په آخرت خرڅوم او د دنيا هر څه د آخرت لپاره قرباني کوم، بيا به هغه د

الله په لاره کي د جهاد اراده کوي، تر څو چي هغه له الله سره دا ژمنه او عهد نه دئ کړی او دنيا ئې په آخرت نه ده خرڅه کړې هغه د دې استعداد او وړتيا نه لري چي د الله د لاري مجاهد شي.

همدا راز فرمايي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوٓاْ أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ ٱلنَّاسَ كَخَشْيَةِ ٱللَّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا ٱلْقِتَالَ لَوْلَآ أَخَّرْتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ ۗ قُلْ مَتَٰعُ ٱلدُّنْيَا قَلِيلٌ وَٱلْأٓخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا ٧٧ أَيْنَمَا تَكُونُواْ يُدْرِككُّمُ ٱلْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ۗ وَإِن تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِكَ ۚ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ فَمَالِ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا ٧٨ مَّآ أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ ٱللَّهِ ۖ وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ ۚ وَأَرْسَلْنَٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ٧٩ النساء: 77-79

آيا هغو ته دي ونه کتل چي ورته وويل شو: لاسونه مو راتم کړئ، لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ، خو کله چي جهاد پرې فرض کړی شو نو يوه ډله ئې له خلکو داسي وپرېده لکه له الله او يا تر دي هم سخته وېره او ويل ئې: اې زمونږ ربه! ولي دي پر مونږ جنګېدل فرض کړل؟ ولي دي تر يوې نږدې نېټې ونه ځنډولو؟ ورته ووايه: د دنيا متاع خو وړوکی شی دئ او آخرت غوره دئ، د هغه لپاره چي تقوی ئې غوره کړه او د بڅرکي په اندازه به پر تاسو ظلم ونشي. چي هرځای وئ مرګ به مو بيا مومي، که څه هم په دنګو کلکو مانيو کي وئ او چي کومه ښېګڼه ئې په برخه شي نو وايي: دا خو د الله له لوري ده، خو که کړاو ئې په برخه شي نو وايي: دا خو ستا له کبله دئ، ورته ووايه: ټول د الله له لوري دي، په دې خلکو څه شوي چي په هيڅ خبري نه پوهيږي. له ښېګڼې چي څه ستا په برخه شي نو د الله له لوري ده او چي کړاو او ستونزه درورسيږي نو هغه پخپله ستا لخوا ده، ته خو مو خلکو لره يو استازی لېږلی يې او الله د شاهد په توګه کافي دئ.

په دې مبارکو آيتونو کي هغو خلکو ته چي د الله په لار کي له شهادت وېرېږي ويل شوي: له دنيا سره افراطي مينه مو له مرګ وېروي، آخرت مو هېر کړی، دنيا ته په آخرت ترجيح ورکوئ، د همدې لپاره له مرګ وېرېږئ او

له جنګ ډډه کوئ. د الله په عدالت باور نلرئ، ګمان کوئ چې الله به د مسلمانانو هلي ځلي او قربانۍ ضائع کړي، حال دا چې الله د وړې ذرې په اندازه هم په خپلو بندګانو ظلم نه کوي. په دې پوه شئ چې په کور کې ناستې سره او کلکو مورچلو او دنګو کلاګانو ته په پناه وړلو سره هم له مرګه نه شئ خلاصېدی، په هر صورت به د مرګ داعي ته لبیك وایئ.

دا کسان داسې دي چې که ستاسو په څنګ کې ئې څه ښېګڼه په برخه شوه نو دا ستاسو د ملګرتیا نتیجه نه؛ بلکې په خپل ځان د الله پېرزوینه ګڼي، خو که له کومې ستونزې سره مخامخ شول نو دا ستاسو له لوري ګڼي، دوی ته ووایئ چې ښه او بد ټول د الله له لوري دي، دوی په دې نه پوهېږي چې د ښه او بد، خیر او شر، ګټې او تاوان پرېکړه د الله له لوري کېږي.

هره ښېګڼه د الله پېرزوینه ده، پام چې هغه د خپل عمل نتیجه ونه ګڼئ، دا ځکه چې د نېك عمل توفیق هم د الله پېرزوینه ده.

هر کړاو او ستونزه ستا د بد عمل او ګناه نتیجه ده، له ځان پرته بل څوك مه ملامتوه.

د الله پیغمبر هم د خیر او شر واکدار نه؛ بلکې د استازي په توګه لېږل شوی. الله په دې شهادت ورکوي چې خیر، شر د ده له لوري دئ او ستا په عمل پورې تړلی دئ، د ده پیغمبر فقط د یوه امین استازي دنده تر سره کوي، د خیر او شر واك او پرېکړه د ده په اختیار کې نه ده.

الله تعالی د هیڅ عامل عمل نه ضائع کوي، په دنیا او آخرت کې هر څوك د خپل عمل مکمل اجر تر لاسه کوي، ګمان مه کوئ چې ستاسو عملونه به ضائع شي او په تاسو به ظلم وشي، دلته هم دې مطلب ته اشاره شوې چې په آخرت باندې ایمان لرونکي به د دنیا متاع قلیله ګڼي، آخرت ته به ترجیح ورکوي او هغه به تر دنیا غوره ګڼي.

همدغه مطلب ته قرآن عظیم الشأن په بل آیت کې اشاره کوي او فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَا لَكُمۡ إِذَا قِيلَ لَكُمُ ٱنفِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱثَّاقَلۡتُمۡ إِلَى ٱلۡأَرۡضِۚ أَرَضِيتُم بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ فَمَا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ٣٨ التوبه: 38

اې مؤمنانو! څه دربانديې شوي چې کله درته وویل شي: د الله په لار کې د جهاد

لپاره ووځئ نو زمکي ته درانه کېږي؟! آيا د دنيا په ژوند د آخرت په پرتله راضي شوي ياست (د دنيا ژوند ته مو د آخرت په نسبت ترجيح ورکړې) حال دا چي دنيايي ژوند د آخرت په پرتله له ناڅيزي متاع پرته بل څه نه دئ.

دا مطلب د هغو کسانو په ځواب کي ويل شوی چي کله ورته وويل شي: د الله په لاره کي د جهاد لپاره ووځي، نو هغوی د زمکي طرف ته درانه کېږي، د دې په ځای چي په شور، ځوږ او شوق سره اوچت شي او وخوځېږي او په وتلو کي ئې پوره تحرك او نشاط وي، برعکس لټ او کسل وي، د زمکي لوري ته درانه کېږي، په شور او شوق سره د الله په لاره کي نه خوځېږي، د همدغو کسانو په ځواب کي فرمايي چي آيا تاسو د دنيا په ژوند راضي شوي يئ او آخرت ته مو شا کړې؟ دنيا ته مو ترجيح ورکړې او هغه تر آخرته غوره ګڼئ؟ حال دا چي د دنيا ژوند د آخرت په تناسب نه دئ مګر قليله متاع. يعني هغه څوك چي دنيا ته پر آخرت ترجيح ورکوي، د هغه يوه علامه دا ده چي کله د الله په لار کي جهاد ته وبلل شي د زمکي طرف ته دروند شي او په شور شوق سره د الله په لاره کي د جهاد لپاره نه خوځېږي. دا کسالت، لټي او د زمکي طرف ته درنښدل، په شور، ځوږ او په شوق او رغبت سره د الله په لاره کي جهاد ته نه وتل، د نفاق علامه ده او له دغي عقيدې سرچينه اخلي چي انسان دنيا ته په آخرت ترجيح ورکړي.

دنيا وسيله او آخرت هدف ګڼل

په آخرت د ايمان بله غوښتنه او تقاضا دا ده چي انسان به دنيا وسيله ګڼي او آخرت هدف او د دنيا امکانات به د آخرت هغه ستر هدف او سرمنزل ته د رسېدو لپاره د وسيلې په توګه کاروي. دنيا به د هغه لپاره هدف نه؛ بلکي د سفر توښه وي. يعني هغه د يوه اوږده سفر لاروی دئ چي هدف او وروستي منزل ته د رسېدو هڅه کوي. قرآن عظيم الشأن دغه مطلب ته د يوه نېك بنده په قصې کي اشاره کوي چي خپل قوم د الله لوري ته بلي او ورته وايي: د دنيا ژوند خو له ناڅيزي متاع پرته بل څه نه دئ:

يَٰقَوۡمِ إِنَّمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا مَتَٰعٞ وَإِنَّ ٱلۡأٓخِرَةَ هِيَ دَارُ ٱلۡقَرَارِ ٣٩ غافر: 39

اې زما قومه! خبره دا ده بله نه ده چي د دنيا دا ژوند متاع ده (د ګټې اخيستو او د استفادې لپاره فقط يوه وسيله او ذريعه ده) او د اوسېدو او قرار ځای د آخرت

کور دئ.

د آل عمران په سوره کي هم دې مطلب ته داسي اشاره شوې:

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلۡبَنِينَ وَٱلۡقَنَٰطِيرِ ٱلۡمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلۡفِضَّةِ وَٱلۡخَيۡلِ ٱلۡمُسَوَّمَةِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ وَٱلۡحَرۡثِۗ ذَٰلِكَ مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلۡمَـَٔابِ ١٤ قُلۡ أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيۡرٖ مِّن ذَٰلِكُمۡۚ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَأَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞ وَرِضۡوَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ ١٥ آل عمران: 14-15

خلکو ته د مرغوبو شیانو لکه ښځي، زامن، د سرو او سپینو زرو خزانې، ښانمن آسونه، څاروي او د کر کښت مینه ښایسته کړی شوي، خو دا ټول د دنیوی ژوند متاع ده او د الله خوا ته خو ډېر غوره د ټیکي ځای دئ. ورته ووایه: آیا تر دې په غوره څه مو خبر کړم؟ متقیانو ته د دوی د رب خوا کي داسي جنتونه دي چې ترې لاندي ویالې بهېږي، تلپاتي په هغه کي او پاکیزه جوړې او د الله رضاء او الله خو د خپلو بندګانو ښه لیدونکی دئ.

خلك هغه څه معیار ګڼي او د چا عزت او ذلت، ماته او بریا او سعادت او شقاوت ورباندي تلي چې نفس ته مرغوب دي او د انسان نفس ئې خوښوي، لکه ښځي، زامن، د سرو او سپینو زرو خزانې، ښاني شوي آسونه، د څارویو رمې او د کر کښت پراخي زمکي، خو دا نه هدف دئ او نه معیار، نه انسان د دې لپاره پیدا شوی او نه به د ده په اړه قضاوت د دې له مخي کېږي او نه به ئې مستقبل او راتلونکی د دې له مخي ټاکل کېږي، دا خو په حقیقت کي د ده لپاره پیدا شوي، د ده د ژوند متاع ده، نه هدف او نه هم معیار، د انسان لپاره معیار بل څه دئ، هغه چې الله تعالی ئې دلته په یوه لفظ کي راخلاصه کوي: تقوی: ځان ساتنه، له ظلم، ناروا، تېري، ګناه، عصیان او هر هغه څه چې د ده له انسانیت سره نه ښایي او له هر هغه څه چې ده ته تاوان رسوي. د ښه او بد او سزا او جزاء فیصله خو راتلونکې ده، الله تعالی به د قیامت په ورځ دا فیصله کوي، هلته به د متقیانو په مقام او منزلت پوه شئ، په دنیا کي خو تاسو هغه چا ته په سپکه سترګه کتل چې له خپل ملك شړل شوی، له مال او دولت محروم دئ، نه بنګلې لري، نه لښکري او نه د سرو او سپینو زرو خزانې، خو په آخرت کي به وګورئ چې د الله په نزد کي ئې مقام څومره اوچت وو او په

خپلي خوا کي ئې ځنګه ځای ورته غوره کړی. تلپاته جنت، چې تربنګلو او ونو لاندي ئې ویالې بهیږي، پاکیزه جوړې او تر هر څه اوچت د الله رضاء. الله د خپلو بندګانو کړه وړه لیدلي، د دوی له وړتیاوو خبر دئ، دوی ته به د خپلو وړتیاوو مناسبه بدله ورکوي.

دا مطلب د اعراف د سورې په 24 آیت کي په دې صیغه راغلی:

قَالَ ٱهۡبِطُواْ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوّٞۖ وَلَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُسۡتَقَرّٞ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٖ ٢٤
الاعراف: 24

وئې فرمایل: کوز شئ، ځینې مو د ځینو نورو دښمنان او په زمکي کي تاسو ته تمځی او تر یوې نېټې ګټه اخیستل دي.

یعني زمکه د انسان لپاره موقتي تمځی دئ، د دې هر څه د انسان د استفادې لپاره پیدا شوي، هر څه ته به د وسیلې په سترګه ګوري نه د هدف په سترګه، دا به د هدف په لوري د سفر توښه ګڼي، د هغو خلکو په څېر به نه وي چې په زمکي کي موقت استقرار لومړی او وروستی ګڼي او همدا د څو ورځو موقت ژوند ته د لومړي او وروستي ژوند په سترګه ګوري.

په دې اړه د شوری د سورې په 36 آیت کي داسي لولو:

فَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيۡءٖ فَمَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٣٦ الشوری: 36

نو څه چې تاسو ته درکړی شوي دا د دنیایي ژوند د برخمن کېدو لپاره وسیله او ذریعه ده او هغه څه چې له الله سره دي هغه غوره او دائمي دي، د هغو لپاره دي چې ایمان ئې راوړی او پر خپل رب توکل کوي.

یعني دلته چې څه درکړی شوي، هر څه چې وي، له هر جنس او هري نوعي، دلته چې له نعمتونو کوم څه ګورئ، دا به یو هم د هدف او مقصد په توګه نه نیسئ، دا ټول د دنیایي ژوند لپاره د متاع حیثیت لري، د دنیا نعمتونه فنا کېدونکي دي، د دې لپاره درکړی شوي چې په خپل محدود دنیایي ژوند کي ګټه ترې واخلئ، خو هغه څه چې د الله په خوا کي دي هغه غوره او دائمي دي او د هغه چا په برخه کېږي چې پر الله ایمان لري او پر هغه توکل او اعتماد کوي.

له مرګه نه وېرېدل

په آخرت د ايمان بله تقاضا دا ده چې انسان به له مرګه نه وېرېږي، نه يوازې دا چې له مرګه به وېره نه لري؛ بلکې د الله په لاره کې مرګ به د هغه تر ټولو اوچته تمنا او هيله وي. قرآن عظيم الشأن د صحابه وو په اړه فرمايي چې د هغوی هر يوه د الله په لاره کې د شهادت تمنا کوله:

وَلَقَدۡ كُنتُمۡ تَمَنَّوۡنَ ٱلۡمَوۡتَ مِن قَبۡلِ أَن تَلۡقَوۡهُ فَقَدۡ رَأَيۡتُمُوهُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ١٤٣
آل عمران: 143

او يقيناً چې تاسو تر دې وړاندې چې له مرګ سره مخامخ شئ د هغه تمنا مو کوله، نو دا دئ ومو ليدو په داسې حال کې چې ورته کتل مو.

ګورئ چې دلته له مرګه نه وېرېدل او د الله په لار کې د شهادت تلوسه د ايمان نښه ګڼل شوې او د پيغمبر عليه السلام ټولو صحابه وو ته په خطاب کې ويل شوي چې تاسو ټولو د شهادت تمنا کوله، په دې مبارک آيت کې څو مهمې خبرې توجه غواړي:

- صحابه وو د شهادت تلوسه درلوده.
- د احد په جګړې کې ځينې د دې تمنا د تر سره کېدو فرصت ترلاسه کړ.
- د دې صحنې د نظارې په ځای بايد له هغه فرصت د خپل آرمان د ترسره کېدو په اړه استفاده شوې وی.

پيغمبر عليه السلام فرمايي: قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په اختيار کې دئ چې زه دا خبره تر ټولو غوره ګڼم، دا ما ته تر ټولو محبوبه ده چې د الله په لار کې ووژل شم، بيا ژوندی شم، بيا ووژل شم، بيا ژوندی شم، بيا ووژل شم.

... وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوَدِدْتُ أَنْ أُقْتَلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلَ. سنن النسائي

ګورئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د الله په لار کې په وار وار او څو څو ځله شهادت غواړي، په يوه شهادت ئې زړه نه تسل کېږي؛ بلکې د مسلسل شهادت تمنا کوي.

قرآن عظيم الشأن فرمايي: په هغه قوم کې به د شهادت تلوسه او هيله مري

چې په آخرت ایمان نه لري، د بنې اسرائیلو په اړه فرمایي:
قُلۡ إِن كَانَتۡ لَكُمُ ٱلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ عِندَ ٱللَّهِ خَالِصَةٗ مِّن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ ٱلۡمَوۡتَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٩٤ وَلَن يَتَمَنَّوۡهُ أَبَدَۢا بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ٩٥ وَلَتَجِدَنَّهُمۡ أَحۡرَصَ ٱلنَّاسِ عَلَىٰ حَيَوٰةٖ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْۛ يَوَدُّ أَحَدُهُمۡ لَوۡ يُعَمَّرُ أَلۡفَ سَنَةٖ وَمَا هُوَ بِمُزَحۡزِحِهِۦ مِنَ ٱلۡعَذَابِ أَن يُعَمَّرۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ٩٦ البقره: 94- 96
ورته ووایه: که د الله په خوا کي د آخرت کور، له خلکو پرته یوازي ستاسو لپاره وي نو د مرګ تمنا وکړئ که رښتیني یئ. او په خپلو لاسونو ئې چې څه وړاندي کړي د هغه له کبله به هیڅکله د مرګ تمنا ونکړي او الله په دې ظالمانو ښه پوه دئ. او دوی به تر ټولو زیات په ژوند حریص وموميِ او له مشرکانو هم، هر یو ئې دا خوښوي چې کاش زر کاله عمر ورکړی شي، خو همدا د عمر اوږدوالی له عذاب د دوی ژغورونکی نه دئ او الله د هغه څه ډېر ښه لیدونکی دئ چې دوی ئې کوي.

دلته د بنې اسرائیلو په اړه ویل شوي چې سره له خپل ټول شرك، عصیان، له جهاد ډډه، د ظالمانو ملګرتیا او د پیغمبرانو او حقپالو مخالفت، ګمان ئې کاوو او مذهبي مشرانو ئې ورته همدا ویلي وو چې جنت یوازي ستاسو لپاره پیدا شوی او تاسو د جنت لپاره، د دوی په ځواب کي ویل شوي: که داسي وي نو تاسو خو باید له مرګه نه وېرېدئ او د الله په لار کي د شهادت تلوسه مو په زړونو کي نه وی مړه شوې، دا ولي له مرګه وېرېږئ؟ دا ولي ستاسو هیڅ مذهبي مشر په سنګر کي نه دئ لیدل شوی؟ ولي مو تل خپل پیغمبران په جهاد کي یوازي پرېښي؟ له دې خو په ډاګه معلومېږي چې په خپلي دعوی باور نه لرئ. په دې آیتونو کي او دې ته ورته په ډېرو نورو کي له مرګه وېره، د ډېر اوږد ژوند تمنا او د الله په لار کي له شهادت ډډه، د هغه قوم نښي ګڼل شوې چې د ایمان په دعوی کي دروغجن دي، نه په آخرت او جنت باور لري او نه په دې چې د مرګ ژوند پرېکړي الله کوي.

که رښتیا تاسو په آخرت ایمان لرئ او د آخرت کور ستاسو لپاره مختص وي، ولي په تاسو کي د شهادت تلوسه او هیله مړه شوې او ستاسو هر یو د اوږده ژوند تمنا کوي. د خپلو بدو عملونو له کبله د شهادت تلوسه د دوی په زړونو کي مړه شوې، د بدو کارونو له کبله به هیڅکله د شهادت تمنا ونه کړي،

يعني ګناه، فساد، جرم او خيانت دا د دې باعث شي چې انسان له مرګه ووېرېږي او آخرت ته ئې څه هيله نه وي، د آخرت په اړه ناهيلي پخپله په انسان کې د شهادت جذبه وژني.

الله تعالى چې د يهودو په اړه کوم قضاوت کړی دا په علم مبتني قضاوت دئ، الله تعالى د دغو ظالمانو په حال ښه پوه دئ، الله تعالى ته دا څرګنده ده چې ولې په دوی کې د شهادت جذبه ختمه شوې، خپلو بدو عملونو دوی له آخرته ناهيلي کړي او له دې کبله په هغوی کې د شهادت جذبه مړه شوې. له همدې کبله به دوی د دنيا په ژوند تر هر چا زيات حريص ومومې، تر مشرکانو هم زيات، يا ئې معنى دا ده چې له مشرکانو څخه به هم ځيني داسي ومومې چې په ژوند ډېر زيات حريص وي، هر يو ئې غواړي چې کاش زرکاله عمر ورکړی شي، خو دوی په دې نه پوهيږي چې دا اوږد عمر دوی له الهي عذابه نشی ژغورلی او الله په هغه څه چې دوی ئې کوي بصير دئ، د دوی معامله له هغه ليدونکي او بصير خدای سره ده چې د دوی د ټولو عملونو په نسبت علم لري، دا طولاني عمر دوی د الله له عذابه نشي ژغورلی.

ګورئ! د شهادت تمنا په چا کې ختمه شوې؟ څوك به له مرګه وېرېږي؟ او څوك به د اوږده ژوند تمنا کوي؟ هغه چې خپل آخرت ته څه هيله نه لري، داسي عملونه ئې کړي چې د هغه له کبله له آخرته ناهيلی شوي او په دې ترتيب ئې په آخرت باور او يقين کمزوری شوی، له مرګه وېره ئې په زړه کې راولاړه شوې او د شهادت تلوسه ئې په زړه کې مړه شوې، داسي څوك به هيڅکله د مرګ تمنا ونه کړي، برعکس د طولاني عمر غوښتونکی به وي او تر هر چا به د دنيا د ژوند په نسبت زيات حريص وي. په بل ځای کې له مرګه وېرېدونکو ته په دې صيغه خطاب شوی:

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِۖ ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ٥٧ العنكبوت:57

هر نفس (ژوی) د مرګ خوند او ذائقې څکونکی دئ، بيا زمونږ لوري ته بېرته راګرځول کېږئ.

دا خطاب هغو کسانو ته متوجه دئ چې وېرې اخيستې او ګمان کوي چې که له وطنه د هجرت هڅه وکړي ښايي د دښمن له لوري به ووژل شي، هر څه به ترې پاته کېږي، نو د رزق او روزي انتظام به ئې څنګه کېږي؟ د دوی د دغو

اندېښنو په ځواب کي ويل شوي چې هر نفس د مرګ څکونکی دئ، خامخا او په هر صورت کي به انسان مري، کوم ذی نفس او ذیروح دئ چې هغه به يوه ورځ د مرګ خوند نه څکي؟ چې انسان په هر صورت کي مري نو ولي د يوه ستر او لوړ مقصد په لار کي ونه مري، په ځای د دې چې هسي مري او د هيڅ لپاره مري، ولي د الله په لار کي ونه مري؟ په دې دليل هم له مرګه وېره نه ده په کار چې ستا مسير د الله تعالی په لوري دئ، په مرګ سره د خپل رب خوا ته بېرته ګرځي، هغه الله چې ته ئې عبادت کوې، هغه ستا د ژوند مطلوب او مقصود دئ، هغه ستا معبود دئ، د مرګ په نتيجه کي د هغه طرف ته درومې. مرګ د ژوند پای نه دئ چې له هغه ووېرېږي، بلکي مرګ د نوي ژوندون پيل دئ، مرګ له يوې دنيا بلي ته د تګ ذريعه ده، مرګ تا خپل هدف ته رسوي، تا خپل مطلب ته رسوي، نو د څه لپاره بايد له مرګ ووېرېږې؟

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ غُرَفٗا تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ نِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ٥٨ العنكبوت:58

او هغه چې ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، حتماً به ئې د داسي جنتونو په خونو او قصرونو کي ځای په ځای کړم چې ترې لاندي ويالې بهېږي، د تل لپاره به په هغه کي وي، د عمل کوونکو اجر څومره غوره دئ.

الله تعالی په دې آيت کي فرمايي چې له دې کبله هم له مرګه وېره نه ده په کار چې چا ايمان راوړی او صالح عملونه ئې کړي او په دې لار کي له ستونزو سره مخامخ شوي او يا په مرګ محکوم شوي که هغه په دې لار کي د څټو کور له لاسه ورکوي، د دې په بدل کي به د جنت ستري، ستري او دنګي، دنګي بنګلې تر لاسه کوي، چې د ونو او قصرونو لاندي به ئې ويالې بهېږي، که دنيا له لاسه ورکړي، جنت ورکوي او په هغه کي داسي قصرونه چې ترې لاندي به ئې ويالې بهېږي، که د څو شپو ورځو محدود ژوند له لاسه ورکړي، د دې په عوض کي الله تعالی د جنت ابدي، دائمي او تلپاتی ژوند ورکوي. د دنيا د ژوند په مقابل کي د جنت ژوند، د څټو د کورونو په مقابل کي د جنت قصرونه او د دنيا په مقابل کي جنت، دا خو هغه شيان دي چې ته ئې پېژنې، خو لدې آخوا چې کوم څه په جنت کي انسان ته مهيا شوي، سترګو نه دي ليدلي، انسان د هغه خوند او ذائقه په خپل ژوند کي نه ده څکلې، داسي خوندوري او په زړه پوري منظرې او غږونه چې د چا په ذهن کي ئې خطور

نه دئ کړی او د انسان له تصور او وهم ډېر لوړ او اوچت، نو په داسي حال کي چي ته هر څه له لاسه ورکوې، الله تعالی تر هغه غوره په عوض کي درکوي، ولي باید له مرګه ووېرېږي؟ معقوله نه ده چي انسان دي په آخرت ایمان ولري او هغه دي له مرګه ووېرېږي.

قرآن په بل ځای کي دغه مطلب د یوه مؤمن ټولګي په قصې کي زموږ مخي ته ږدي چي کله په مرګ تهدید شول او دښمن په اعدامولو ووېرول؛ د دښمن د ګواښ په ځواب کي ئې په پوره ډاډ، اطمئنان او مېړاني وویل: که په دې لار کي وژل کېږو هیڅ پروا ئې نشته. د موسی علیه السلام د قصې په دې برخي کي دا ډله او د دوی دا مېړانه او شهامت زموږ مخي ته ږدي چي فرعون د موسی علیه السلام مقابلې ته سحره راغونډ کړل، مسابقه پیل شوه، جاودوګران مات شول، د موسی علیه السلام د دعوت په حقانیت پوه شول، ایمان ئې راوړ، خپل ایمان ئې اعلان کړ، فرعون په مرګ تهدید کړل او ورته وئې ویل: آیا زما له اذن او اجازې وړاندي مو ایمان راوړ؟

قَالَ ءَامَنتُمۡ لَهُۥ قَبۡلَ أَنۡ ءَاذَنَ لَكُمۡۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِي عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحۡرَ فَلَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَۚ لَأُقَطِّعَنَّ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَرۡجُلَكُم مِّنۡ خِلَٰفٖ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمۡ أَجۡمَعِينَ ٤٩

الشعراء: 49

وئې ویل آیا مخکي له دې چي اجازه درکړم د هغه په خبره مو باور وکړ او ایمان مو راوړ؟ یقیناً چي دا حتماً ستاسو هغه مشر دئ چي جادو ئې درښودلی، اوس به وپوهېږئ (چي څه درسره کوم) حتماً به ستاسو لاسونه او پښې بدل رابدل پرې کوم او هرومرو به ټول په دار ځوړوم.

دا په داسي حال کي چي تر دې مخکي ئې ولس ته ویلي وو: ولي د موسی په ځای د خپلو سحره او جادوګرانو متابعت ونه کړو، مخصوصاً که له موسی (علیه السلام) سره په مقابله کي فاتح او غالب شي؟ ولي خپل دین پرېږدو؟ ولي د موسی (علیه السلام) قیادت او مشري ومنو؟ چي د بل چا قیادت او مشري منو ولي د خپلو مذهبي مشرانو (جادوګرانو) قیادت او مشري ته تسلیم نه شو؟ خوکله چي جادوګران د موسی علیه السلام د دعوت په حقانیت پوهېږي او ایمان راوړي، فرعون ئې په مرګ تهدیدوي او ورته وایي: اوس به وپوهېږئ چي ستاسو عاقبت به څه وي. د لاس او پښې په قطع کولو او په دار خپړولو

تهديد کړي خو وګورئ چې د دې تهديد او تخويف په مقابل کې د دوی ځواب څه دئ؟ حال دا چې له ايمان راوړو څو شېبې مخکې د فرعون په اشاره د موسی عليه السلام مقابله کوي، طمع ئې دا ده چې فرعون اجر ورکړي او په دې خوښ او ډاډه دي چې فرعون ورته ويلي: حتماً به تاسو ته بدله درکوم او په هغه صورت کې به دربار ته مقرب وئ، ګورئ چې طمع ئې له فرعون، د فرعون په امر راغونډ شوي، د موسی عليه السلام مقابله کوي، د اجر طمع ئې له فرعون څخه، په دې قانع کېږي چې که بريالي او غالب شي نو د فرعون د دربار مقرب به وي، د درباريانو په فهرست کې به نيول کېږي، خو کله چې ايمان راوړي، په دې تهديد کېږي چې لاس او پښې به ئې قطع کېږي او په دار به ځړول کېږي، خو ډاډه او مطمئن دي او د فرعون د تهديد په ځواب کې وايي:

قَالُواْ لَا ضَيۡرٌۖ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ٥٠ الشعراء: 50

وئې ويل: باك ئې نشته يقيناً چې موږ د خپل رب لوري ته بېرته ګرځو.

يعني په دې خبري ايمان لري چې د مرګ په نتيجه کې د خپل رب طرف ته ځي، په همدې خاطر له مرګه نه وېرېږي او وايي: پروا ئې نلرو. ګورئ چې کاملاً بېباك دي او له مرګه وېره نه لري او مزيد وايي:

إِنَّا نَطۡمَعُ أَن يَغۡفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطَٰيَٰنَآ أَن كُنَّآ أَوَّلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٥١ الشعراء: 50

موږ له خپل رب د دې طمع لرو چې ګناهونه مو راوبخښي، د دې لپاره چې لومړني مؤ منان يو.

ګورئ چې نه يوازې له مرګه ئې وېره ختمه شوې، بلکې د پرون ورځې مادي طمع ئې په معنوي تلوسې بدله شوې، اوس په دنيا کې له هيڅا هيڅ طمع نه لري، يوازې له يوه الله طمع لري. دا د ايمان نتيجه ده، تر ايمان مخکې د هغوی حالت وګورئ او تر ايمان وروسته، توپير ئې دومره لکه زمکه او آسمان.

قرآن د دغې قصې په ترڅ کې موږ ته وايي چې په آخرت د ايمان اغېز داسې دئ، له مرګه د انسان وېره ختموي، له ماسوی الله د انسان طمع ختموي، نه يوازې دا چې وېره به ئې پای مومي؛ بلکې د الله په لار کې مرګ به ئې تر ټولو ستره تمنا او هيله وي، مادي طمع به ئې په معنوي تلوسې بدلېږي.

ډاډ او اطمئنان:

په آخرت د ايمان بله تقاضا دا ده چې انسان به هيڅکله د خپلو کړو وړو او هلو ځلو د نتائجو په اړه تشويش نلري، په دې به ئې کلك باور وي چې د خپلو هلو ځلو نتائج حتماً او په هر صورت کي ترلاسه کوي، که احياناً په دنيا کي تري محروم شو نو په آخرت کي به ئې په بشپړه توګه ترلاسه کوي، د همدې لپاره هغه هيڅکله نه مأيوس کيږي، په داسي حال کي چې ته په دې باور لرې او مطمئن يې چې د خپلو ټولو کړو وړو مکمل اجر به پرته له کموالي او ضياع، څو څو برابره تر لاسه کوې او ستا اجر د الله تعالى په خوا کي خوندي او محفوظ دئ، هيڅوك ئې نشي ضائع کولى او هيڅوك ئې نشي کمولى، دا باور په خپله د دې باعث شي چې انسان په هيڅ صورت کي مأيوس نشي، تر سختو په سخت حالت کي مطمئن او ډاډه وي، ځکه هغه د خپل عمل له نتيجې مطمئن وي، انسان په هغه صورت کي مأيوس کيږي چې ګمان وکړي عملونه ئې بې نتيجې پاته شول، د هغه هڅې حبط او ضائع شوې، خو چې انسان په دې ډاډه او مطمئن وي چې د خپلو عملونو او هلو ځلو اجر حتماً تر لاسه کوي، هغه په هيڅ صورت کي نه مأيوسه کيږي. عدم يأس په آخرت باندي د ايمان نتيجه او د هغه غوښتنه او تقضاء ده.

قرآن عظيم الشأن په دې اړه فرمايي:

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَلِقَآئِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ يَئِسُواْ مِن رَّحْمَتِي وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٢٣ العنكبوت: 23

او هغه چې د الله په آيتونو او له هغه سره په مخامخ کېدو باندي کافران شوي، همدا دوى زما له رحمت مأيوس شوي، دې ډلي ته دردناك عذاب دئ.

جنت د چا لپاره؟

قرآن موږ ته لارښوونه کوي او دا حقيقت رابنيي چې د آخرت غوره مقام به د چا په برخه کيږي؟ څوك به ئې ترلاسه کوي؟ لکه چې فرمايي:

تِلْكَ ٱلدَّارُ ٱلْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي ٱلْأَرْضِ وَلَا فَسَادًاۚ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ٨٣ القصص: 83

دا د آخرت کور مو د هغه چا لپاره ګرځولى چې په زمکه کي نه لويي غواړي

او نه هم فساد، او غوره پايله او نېك عاقبت د همدغو پرهېزګارانو دئ.

دا مبارك آيت مونږ ته وايي: د آخرت غوره مقام به هغه څوك ترلاسه كوي چې دا دوه صفتونه لري: خپله لويي نه غواړي او په زمكي كي فساد نه كوي، هغه چې د تكبر او لويي په ځای له الله تعالى وېره لري او د خپل رب په وړاندي خشوع او خضوع لري او هغه چې په زمكي كي فساد نه غواړي، يعني د ژوند مقصد ئې دا نه دئ چې پر نورو لويي تر لاسه كړي او د لويي او تكبر دغه كركجن احساس ئې په زمكي كي د فساد خورولو ته وهڅوي؛ بلكي هغه له دې دواړو ځان ساتي، دا متقيان به د آخرت غوره مقام ترلاسه كوي، دوی ته نېكه پايله انتظار كوي.

د عمل او اجر ورته والی:

قرآن عظيم الشأن مونږ ته لارښوونه كوي چې د آخرت اجر به د انسان د دنيا عمل ته ورته او مشابه وي، يعني ته چې په دنيا كي هر څه كوې په آخرت كي به ئې ورته بدله او سزا ترلاسه كوې، د آخرت اجر او عذاب به په دنيا كي ستا عمل ته ورته وي، لكه چې د اسراء د سورې په 72 آيت كي لولو:

وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِۦٓ أَعۡمَىٰ فَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ أَعۡمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلٗا ٧٢ الاسراء:72

او څوك چې دلته (په دې دنيا كي) ړوند وو، هغه به په آخرت كي هم ړوند او تر دې زيات تېروتی او لاروركی وي.

يعني چا چې په دنيا كي په پټو سترګو ژوند وكړ، له خپل بصيرت او سترګو ئې هغه كار وانه خيست چې ورسره ښايي، نه ئې د دنيا له پېښو او حوادثو عبرت او پند واخيست او نه ئې په عالم كي د عبرت نښو ته اعتناء وكړه، د ټولو هغو نښو له خوا د ړندو په څېر تېر شو چې انسان ته د خپل رب په لوري بلنه وركوي او په آخرت ايمان ته ئې بلي، په دنيا كي ئې د ړانده په څېر ژوند وكړ، په آخرت كي به هم ړوند حشر كېږي، څوك چې په دې دنيا كي له بصيرته محروم وو، د دنيا له عبرتناكو پېښو او صحنو ئې پند او عبرت وانه خيست، په عالم كي دې دقيق نظم، يووالي او هدفمني د الله طرف ته هدايت نه كړ، ړوند پاته شو، د ړندو په شان ئې ژوند و كړ، هغه به په آخرت كي ړوند حشر كېږي، لكه په دنيا كي چې تېروتی او لاروركی وو، د سمي لاري له

پېژندو عاجز او په سمي لاري له تلو بې زاره وو هلته به تر دې زيات تېروتی او لاروركی وي، د جنت په لوري به لار نشي موندلی، د دوزخ په لوري به درومي او د جهنم په كندو كي به سقوط كوي، لكه څنګه چي هغه په دنيا كي لار ورکه كړې وه، په آخرت كي به هم له هغه لار ورکه وي، لكه څنګه چي هغه په دنيا كي د ړندو په څېر ژوند كړی، په آخرت كي به هم ړوند وي.

همدا راز فرمايي:

وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ ١٢٤ طه: 124

او چا چي زما له ذكره اعراض او ډډه وكړه نو يقيناً چي تنګ او ضيق ژوند به ئې په برخه وي او د قيامت په ورځ به ئې ړوند حشر كړو.

يعني چا چي په دنيا كي د الله تعالى له ذكر او يادولو او د الهي كتاب له پند او لارښوونو ډډه وكړه، الله تعالى ئې هېر كړ، د ړندو په څېر ئې ژوند وكړ، د هغه دنيايي ژوند به له تنګۍ، اضطراب، پرېشانۍ او تشويش سره توأم وي، هغه به د واقعي اطمئنان او آزادۍ مخ ونه ګوري، په اختناق او وحشت كي به ژوند كوي، كه څه هم له زياتو امكاناتو برخمن وي، ډېر وسائل، ذرائع او امكانات ئې په واك كي وي، خو زړه به ئې ډاډه نشي، تل به مضطرب او پرېشان وي. د انسان ترټولو لويه شتمني د زړه ډاډ او اطمئنان دئ، هغه به له دې شتمنۍ محروم وي، وسائل، بنګلې، مال، دولت او شتمني انسان ته د زړه اطمئنان نشي وركولی، دا د الله تعالى ذكر او يادونه ده چي انسان ته اطمئنان وركوي او زړه ئې ډاډه كوي، چا چي د الله له ذكر او ياده ډډه وكړه، په دې معنى چي الله ورپه ياد نشو او كوم كتاب چي الله تعالى نازل كړی هغه ئې خپل لارښود نكړ، د هغه په رڼا كي ئې ژوند ونه كړ، هغه د ده د لاري ډېوه او د ژوند په ټولو برخو كي لارښود نه وو او د هغه له منلو ئې ډډه وكړه، د دې اجتناب له كبله به په دنيا كي مضطرب او پرېشان ژوند لري او د قيامت په ورځ به ړوند حشر كېږي.

قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرۡتَنِيٓ أَعۡمَىٰ وَقَدۡ كُنتُ بَصِيرٗا ١٢٥ طه: 125

هلته به وايي: اې زما ربه! ولي دي ړوند حشر كړم په داسي حال كي چي سترګه ور وم.

قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتْكَ ءَايَٰتُنَا فَنَسِيتَهَا ۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلْيَوْمَ تُنسَىٰ ١٢٦ طه: 126

الله تعالى به وفرمايي: همدا راز زما آيتونه درغلل خو تا هېر کړل (هغه دي ونه منل) نو همداسي به نن هېر کړی شي.

لکه تا چې د الله آيتونه هېر کړل، پند او عبرت دي تري وانه خيست، همداسي به الله تعالى نن تا ته التفات نه کوي، تا ته به توجه او اعتناء نه لري، دا ځکه چې تا د هغه آيتونو ته اعتناء او توجه ونه کړه.

همدا راز قرآن د هغو کسانو په اړه ډېره عبرتناکه وينا لري چې د الله آيتونه د ناڅيزي متاع په بدل کي پلوري، يا په دې معنى چې په الهي آيتونو له دې کبله عمل نه کوي چې ګمان کوي دا به ئې له کوم خطر سره مخامخ کړي، ژوند او دنيايي ګټو ته به ئې صدمه ورسېږي، نو ځکه په دغو الهي لارښوونو له عمل کولو ډډه کوي او په دې توګه خپلو دنيايي ګټو ته ترجيح ورکوي او د الله آيتونو ته شا کوي او يا په دې معنى چې د څه قليلي متاع په مقابل کي ناروا او غلطي او د الهي لارښوونو خلاف فتواګاني ورکوي، د الله آيتونه پټوي، حق او باطل سره ګډوي، فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ ٱللَّهِ وَأَيْمَٰنِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ لَا خَلَٰقَ لَهُمْ فِي ٱلْءَاخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ وَلَا يَنظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٧٧
آل عمران:77

يقيناً هغه چې د الله په عهد او په خپلو قسمونو لږه بدله او بيع پېري، دوی ته به په آخرت کي هيڅ برخه نه وي او د قيامت په ورځ به نه الله ورسره تکلم کوي او نه به ورته نظر کوي او نه به ئې پاکوي او دوی ته به دردناك عذاب وي.

يعني هغه کسان چې له الله تعالى سره په خپل عهد او ژمني وفا نه کوي او الهي حکم او دستور ته غاړه نه ږدي، (عهد هغه حکم او دستور ته هم وايي چې د پاڅا له لوري د رعيت په نامه صادرېږي) او هغه چې د خپلو قسمونو په مقابل کي قليله متاع تر لاسه کوي، دوی ته په آخرت کي هيڅ برخه نشته، دا ځکه چې هغوی خپله دنيايي برخه تر لاسه کړې، د څه لپاره چې دوی د الله تعالى عهد او خپل قسمونه پلورلي وو هغه ئې په دنيا کي تر لاسه کړل، نو ځکه به په آخرت کي د دوی لپاره هيڅ برخه نه وي. الله تعالى به له دوی سره تکلم ونه کړي، لکه څنګه چې دوی د الله د کتاب په آيتونو تکلم نه وو کړی، په دنيا

کي ئې خلکو ته نه وو بيان کړي، هغه ئې کتمان کړي او پټ کړي وو، الله تعالى به هم د قيامت په ورځ له دوى سره تکلم ونه کړي. دوى ته به ونه ګوري، دوى هم په دنيا کي د الله آيتونو ته ونه کتل، د دې الهي حکم سترواليو او عظمت ته ئې ونه کتل، د خپلو مسئوليتونو لوى والي ته ئې التفات او اعتناء ونه کړه، الله تعالى به هم دوى ته د قيامت په ورځ د رحمت په نظر ونه ګوري. او پاك به ئې نه کړي، د ګناه پېټي به ترې کوز نه کړي، د دوى لمن به د ګناهونو له هغو ګنده داغونو پاکه نه کړي چې په دنيا کي ئې پرې لړلې وه، دوى د علماوو او پيغمبر عليه السلام د ورثه وو په توګه مکلف وو چې اجتماع له مفاسدو او مظالمو پاکه کړي، د خير طرف ته بلنه ورکړي، امر بالمعروف او نهى عن المنکر وکړي، دا د دوى ديني مسئوليت وو، خو هغوى دا د تزکيې دنده ترسره نه کړه، په ټولنه کي د مفاسدو او مظالمو په خلاف اوچت نه شول، د فساد او ظلم په ضد ئې غږ پورته نه شو، مقابله ئې ونه کړه، اجتماع او ټولنه ئې له مفاسدو اومظالمو پاکه نه کړه، الله تعالى به هم هغوى له ګناه نه تزکيه او پاك نه کړي، دوى ته به عفو ونه کړي او په ګناهونو بار به د دوزخ طرف ته درومي. او دوى ته به دردناك عذاب وي، دا ځکه چې دوى مکلف ول د مظلومانو مرسته وکړي، هغوى ته لاس ورکړي، له ظلمه ئې وژغوري، خو دوى دا کار ونه کړ، له دې کبله به د قيامت په ورځ دوى ته همدا راز دردناك عذاب وي.

د البقرې د سورې په 174 آيت کي هم دې مطلب ته اشاره شوې چې د آخرت عذاب به د دنيا له عمل سره ورته وي، لکه چې فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَشۡتَرُونَ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ مَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ إِلَّا ٱلنَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ١٧٤ البقره: 174

يقيناً هغه کسان چې د الله کوم نازل کړى کتاب پټوي او لږه بدله او بيع پرې پېرې، نو دا ډله له اور پرته بل څه په خپلو ګېډو کي نه خوري (نه اچوي) او الله به نه د قيامت په ورځ ورسره خبرې کوي او نه به ئې پاکوي او دوى ته به دردناك عذاب وي.

يعني چا چې د الله د کتاب له بيانولو ډډه وکړه، د کومې دنيايي ګټې لپاره ئې د

الله د کتاب کوم څه پټ کړل، د ظلم او فساد په خلاف ئې غږ اوچت نه کړ، له جهل او شرك د خلکو د ژغورني لپاره ئې جهاد ونکړ، یا د دې لپاره چې ژوند او مال متاع ئې په خطر کي ونه لوړي او یا د دې لپاره چې په دې کتمان سره له ظالمو واکمنانو څه ترلاسه کړي، نو د قیامت په ورځ به الله تعالی له ده سره تکلم نه کوي، همغسي لکه چې ده د الله په کتاب تکلم نه وو کړی، له ګناه به ئې پاك نه کړي، همغسي لکه چې ده له فساد سره مقابله نه وه کړې او ټولنه ئې له ظلم او شرك نه وه پاکه کړې، ده ته به دردناك عذاب وي، همغسي لکه چې ده مظلومان په دردناکو عذابونو کي یوازي پرېښي وو، څه چې په دې سکوت او مداهنت ترلاسه کوي په اصل کي د دوزخ اور دئ چې په خپلي ګېډي کي ئې اچوي، دوی د هدایت په ځای ضلالت غوره کړی او د مغفرت په ځای الهي عذاب، د الله له کتاب د دوی هر اختلاف له حق او حقیقت اختلاف دئ.

له ناځیزي بیعي یا مقصد دا دئ چې که دا ډله د دې شنیع عمل په مقابل کي هر څه تر لاسه کوي هغه په حقیقت کي قلیله بدله او ډېره کمه بیع ده او یا ئې مطلب دا دئ چې دا خلك په ډېر کم قیمت اخیستل کېږي، دا کار د ډېري قلیلي اجورې په مقابل کي کوي، د دوی او د فتواګانو قیمت ئې ډېر ارزان دئ، دغه کسان چې ما انزل الله پټوي او د الله د کتاب له تبلیغ، ارشاد او خلکو ته ئې له رسولو ډډه کوي او د هغه په مقابل کي څه تر لاسه کوي، په ډېر کم قیمت اخستل کېږي، د دوی او د دوی د فتواګانو بیع ډېره کمه ده.

دا مطلب هغو کسانو ته هم متوجه دئ چې د قلیلي متاع په مقابل کي حق پټوي، غلطي فتواګاني ورکوي او د واکدارانو ناروا کړنې او اقدامات توجیه کوي او هغو کسانو ته هم متوجه دئ چې له دې کبله حق پټوي او له څرګندولو ئې ډډه کوي چې کومه صدمه ورونه رسېږي، له مأموریته منفك نشي، زندان ته ولاړ نشي او کاذب عزت او واهي اعتبار ته ئې صدمه ونه رسېږي.

څوك به قیامت نه منې؟

قرآن عظیم الشأن مور ته دا هم بنیيي چې د قیامت تکذیبوونکی څوك دئ او ځانګړتیاوي ئې کومي؟ د کومو خصلتونو له کبله انسان له قیامته انکار کوي او راتګ ئې محال ګني؟ لکه چې فرمایي:

ٱلَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ١١ وَمَا يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعۡتَدٍ أَثِيمٍ ١٢ المطففين: 11-12
هغه چې د سزا ورځ دروغجنه ګڼي. او دروغجنه ئې نه ګڼي مګر هر تېرى کونکى ګنهګار.

په دې مبارکو آیتونو کي د مطففینو څو کرکجن خصلتونه په ګوته شوي:

الف: دوى دروغجن دي، د نورو په اړه په خپلو دروغجنو قضاوتونو سره د تطفیف جرم او ګناه کوي.

ب: نه یوازي د نورو په باب دروغ وایي، افتراء کوي او په عزت او حیثیت ئې تېرى کوي، بلکي (یوم الدین) هم تکذیبوي او دروغ ئې ګڼي.

ج: (تعدي: تېرى) او (اثم: ګناه) دوى هغه ځاى ته رسولي چې (یوم الدین: د سزا ورځ) دروغ وګڼي، یعني دوى له دې کبله له آخرت او د عملونو له مکافات او مجازات انکار نه کوي چې کافي، قانع کوونکي او معقول دلائل ورته نه لري، بلکي وجه ئې دوه نوري خبري دي: یوه ئې دا چې دوى په خپل حق او حد قانع نه دي، مخکي ئې د بل په حق تېرى کړى او په راتلونکي کي هم د تېري اراده لري او بله ئې دا چې په ګناهونو لړلي دي، تر دې مخکي ئې هم ګناهونه کړي او له دې وروسته هم د ګناه اراده لري، دغه (تېرى) او (ګناه) له آخرته د دوى د انکار لاملونه دي.

د دې آیت په وړاندي چې وایي فقط (معتد) او (اثیم) له آخرت او الهي محاسبې انکار کوي، باید لږ توقف وکړو او وګورو چې دا څنګه او ولي یوازي تېرى کوونکى او ګناهګار له الهي محاسبې انکار کوي؟!! څنګه تېرى او ګناه انسان هغه ځاى ته رسوي چې د مکافات او مجازات حقیقت ونه مني او آخرت دروغ وګڼي؟!! له دې آیته معلومېږي چې د تېري کوونکي او ګناهګار انسان لپاره په آخرت نه باور او له الهي محاسبې انکار، ذهني محرك لري نه عقلي دلیل، هغه له داسي ستونزي سره مخامخ دئ چې باید ځان ته دا خبره تلقین کړي چې نه آخرت شته، نه حساب او کتاب او نه مکافات او مجازات، دى قیامت د ځان لپاره یوه خطرناکه پېښه ګڼي، چې عواقب او پایلي به ئې ده ته ډېري دردناکي وي، په آخرت د باور تصور ئې سخت ځوروي، ناچار باید په دروغجنو تلقینونو سره له دې اضطراب او پرېشانۍ ځان وژغوري، انسان عادتاً په اغفالوونکو او غولوونکو تلقینونو سره محتمل خطر نفي کوي او په دې

سره ځان له ذهني اضطراب او پرېشانۍ ژغوري. دا د ګنهګار لپاره يوه رواني مسئله ده چې له قيامته به انکار کوي، لکه ته چې په يوې خطرناکي لارې درومې، د تلو پخه اراده دي کړې، که څه هم په لارې کې خطر دئ، خو ته حتماً هدف ته ځان رسول غواړې، نو له ځان سره دوکه کوې، ځان ته دا تلقين کوې چې خطر نشته، همدغه راز به د قيامت ورځ هغه څوک دروغ ګڼي، چې معتد او اثيم وي. هغه که د قيامت په ورځ باور وکړي خپل عاقبت ورته وخيم او خطرناک برېښي، د خطرناکي محاسبې له تصور د ځان ژغورلو لپاره ځان تلقينوي چې دا د قيامت ورځ نشته، حساب او کتاب او د عملونو مکافات او مجازات نشته، همدا وجه ده چې قرآن فرمايي: د قيامت ورځ نه تکذيبوي مګر هر معتد او اثيم، دا ځکه چې هغه ته د دې خبرې منل ګران دي چې د خپلې اعتدا، تجاوز، تېرې، ظلم او د خپلو ګناهونو سزا به ګوري.

إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٣ كَلَّاۖ بَلۡۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ١٤ المطففين: 13-14

کله چې زمونږ آيتونه پرې ولوستل شي وايي: د مخکنيو قصې دي!! نه؛ داسي نه ده، بلکې د دوی پر زړونو، د دوی لاسته راوړنو زنګ وهلی دئ.

يعني دا کسان نه يوازې له خلکو سره په خپل چلن کې مطفف (کموونکي) دي، بلکې له خرګندو الهي آيتونو سره په معامله کې هم مطفف دي، دا دئ ګورئ چې الهي آيتونه اساطيرالاولين ګڼي، په څو معنی وو:

1 – دا د آخرت، آخرت خبرې مو ډېرې اوربدلې، ډېرو دا خبره کړې چې قيامت راتلونکی دئ، ببرته به راژوندي کېږئ او د خپلو عملونو سزا به ګورئ، خو تر اوسه نه قيامت راغی او نه د دوی وعد او وعيد ترسره شو.

2 - قرآن ئې د تېرو قومونو د قصو مجموعه ګڼلی، يوه تاريخي کتاب ته ورته!! دا يوازې دوی نه دي چې د الله لاربنود کتاب ته ئې اساطير الاولين ويلي، مخکنيو امتونو هم له الهي کتابونو سره دغه معامله کړې، دا دئ وګورئ له تورات او انجيل سره هغو خلکو څه معامله وکړه چې په همدې کتابونو د ايمان دعوی کوي، راشئ بايبل وګورئ چې د مسخره قصو مجموعه ترې جوړه شوې، داسي مسخره قصې چې هر هوښيار او عاقل انسان ته خندا پرې ورځي، انسان د هغه چا عقل او شعور ته حيرانېږي چې دا له مسخره قصو ډک

کتاب د الله تعالی له لوري پر پیغمبرانو نازل شوی کتاب ګڼي، له قرآن څخه هم ډېرو هغو خلکو اساطیرالاولین جوړ کړی چې د ایمان دعوی کوي، څوك چې د قرآن بحثونه، وعد او وعید ئې په هغې زمانې پورې محدودوي چې دا کتاب په کې نازل شوی او ګمان کوي چې په قرآن کې دا له مؤمنانو سره د الهي تأیید او نصرت وعدې، د هجرت او جهاد احکام، د برې او فتح زېرې، د دښمن د حتمي ماتې او د مؤمنانو د حتمي بریا او برلاسي وړاندوینې، ټولې په همغې زمانې پورې مربوط ګڼي، د موسې علیه السلام او فرعون او نورو تاریخي څېرو او د دوی د زمانې د پېښو په اړه د قرآن بحثونه تاریخي بحثونه ګڼي، نه د الهي ثابتو سننو لپاره تاریخي بېلګې، په حقیقت کې دغو هم له قرآن اساطیرالاولین جوړ کړی، قرآن دا څېرې او په دوی پورې اړوندې قصې د تاریخي بېلګو په څېر وړاندې کوي، پیغمبر علیه السلام ابوجهل د خپل امت فرعون ګڼي:

عن ابن مسعود... قال فلما وقف علیه صلی الله علیه و سلم قال "هَذَا فِرْعَوْنُ هَذِهِ الأُمَّةِ"رواه الطبراني

له ابن مسعود روایت دئ چې وئې ویل: کله چې پیغمبر صلی الله علیه و سلم د ده (د جسد) خوا ته ودرېدو نو وئې ویل: دی د دې امت فرعون وو.

هو! هره زمانه ځان ته فرعون لري او په مقابل کې ئې یو موسی، د پیغمبر علیه السلام د امت فرعون ابوجهل وو. یعني فرعون یوه تاریخي څېره نه؛ بلکې یوه تاریخي بېلګه ده، د ظلم، استبداد، اختناق، فساد او کفر بېلګه، د تاریخ فرعون مړ شوی خو د قرآن فرعون په هره زمانه کې شته، نن هم شته او سبا به هم وي، د کلي په کچه هم، د هېواد په کچه هم او د ټولې نړۍ په کچه هم، پرون بریژنف یو فرعون وو او نن جورج بش یو فرعون دئ. عمر رضي الله عنه ته اطلاع ورکړی شوه چې فلاني د پخو خښتو دوه منزله کور جوړ کړی، وئې ویل: ګمان مي نه کاوو چې د محمد علیه السلام په امت کې به هم کوم فرعون راپیدا شي، هماغه چې هامان ته ئې وویل: د پخو خښتو قصر راته جوړ کړه!! ګورئ چې صحابه وو فرعون یوه تاریخي څېره نه؛ بلکې یوه تاریخي بېلګه ګڼله، د دوی په نظر د قرآن په قصو کې د قرآن مفاهیمو ته عیني تجسم ورکړی شوی، الهي سنن په کې تمثیل شوي، عقائد انځور شوي او ترسترګو کېدونکي هیکلونه ورکړی شوي، د هري قصې په ترڅ کې یوه مفهوم

ته ژوندی او عملي مثال وړاندي شوی، ترڅو ښه څرګند شي او هرچا ته پرې پوهېدل آسان شي. قرآن د دې لپاره چې خپل مخاطب په دې ښه پوه کړي چې د حق او باطل ترمنځ نزاع او د ظالم او مظلوم ترمنځ جګړه یو دائمي سنت دئ، دا جګړه پرون وه، نن شته او سبا به وي، خو تل به ئې نتیجه د حق غلبه او د باطل زوال او د حق پالو بریا او د باطل پالو ماته وي، خو دا مطلب او ټول جوانب ئې خپلو مخاطبینو ته د فرعون او موسی علیه السلام د قصې په ترڅ کي انځوروي.

د دغو مطففینو د ضمیر صفحه لړلي او زنګو وهلې ده، فجور، کذب، اعتداء، اثم او نورو بدو عملونو او ګناهونو د دوی پر زړه او دماغ داسي توره او پرېږه پرده غوړولي چې د دوی ټول معیارونه ئې ورته بدل کړي، د دوی قضاوتونه ئې تر خپل اغېز لاندي نیولي او د دوی کار ئې هغه ځای ته رسولی چې د الله تعالی څرګند آیتونه اساطیرالاولین وګڼي، څوك چې د الله له آیتونو سره دا معامله کوي، هغه ته دا ډېره عادي خبره ده چې قیامت دروغ وګڼي، د خلکو له ښېګڼو او وړتیاوو سترګي پټي کړي او په خپلو قضاوتونو کي د تطفیف مرتکب شي.

په دې توګه تاسو ګورئ چې د قرآن له نظره له آخرته انکار او د هغه تکذیب، د ګناهګارانو کار دئ، داسي نه ده چې هغوی د دې لپاره داسي عقلي دلیل لري چې په خپله پرې قانع شوي یا بل پرې قانع کړي، هغه د خپلي ادعاء د اثبات لپاره هیڅ دلیل نشي وړاندي کولی، حقیقت دا دئ چې کافر د خپل کفر لپاره هیڅ دلیل نشي وړاندي کولی، هغه له بل سره هم دوکه کوي او له ځان سره هم، له خپل عقل او ضمیر سره خیانت کوي. د ده د کفر او د قیامت له ورځي د انکار باعث او دلیل صرف دا دئ چې غواړي له ذهني فشار ځان وژغوري، ځان داسي تلقین کړي چې قیامت نشته، مؤاخذه او حساب کتاب نشته.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

پر پيغمبرانو ايمان

معنى،
دلائل
او غوښتنې ئې

بسم الله الرحمن الرحيم

پر پيغمبرانو ايمان

دا موضوع به تر دې دريو عنوانونو لاندي څېړو:

- پر پيغمبرانو د ايمان معنى.
- د پيغمبر بعثت او لېرنې ته د انسان ضرورت.
- او پر پيغمبرانو د ايمان غوښتنې.

پر پيغمبرانو د ايمان معنى

پر پيغمبرانو د ايمان معنى دا ده چې الله تعالى د زمانې په بېلابېلو پېراوونو کې د انسانانو د لارښوونې او هدايت لپاره، د دوى له منځه ترټولو غوره او صالح شخصيتونه غوره کړي، هغوى ته ئې وحي کړې او له خپل پيغام سره ئې خلکو ته لېږلي، چې هغوى د الله تعالى لورې ته دعوت او هدايت کړي، هغوى ته خپل ځان، جهان او خپل رب وروپېژني او د غوره او سوکاله ژوندون لارې او طريقې وروښيي.

الله تعالى پيغمبران د خلکو له منځه انتخاب کړي او دوى تر ټولو غوره او صالح انسانان او د لوړ معنوي او اخلاقي شخصيت خاوندان دي. د خلکو له منځه د دوى د انتخاب معنى دا ده چې پيغمبران د آدم عليه السلام له اولادې څخه دي، په دې موضوع د دې لپاره تركيز كوم چې متأسفانه ځينو د جهالت او ناپوهۍ له کبله او ځينو په محبت او درناوي کې د غلو او افراط له کبله دا هڅه کړې چې ثابته کړي پيغمبران د نورو انسانانو په څېر نه دي، ځينو خپل پيغمبران هغه مقام ته رسولي او داسې څه ئې هغوى ته منسوب کړي چې يوازې له الله تعالى سره ښايي، مسيحيانو د عيسى عليه السلام په اړه وويل چې

هغه له نوره پیدا شوی، هغه د خدای زوی دئ، له خدایه رابېل شوی، خدای د مسیح په بڼه کي زمکي ته راغلی، یهودانو د عزیر علیه السلام په اړه وویل چي هغه د خدای زوی دئ، په مسلمانانو کي هم داسي جاهل کسان راپیدا شول چي د پیغمبر علیه السلام په اړه ئې د مسیحیانو او یهودانو په څېر له غلو او مبالغې ډکي خبري وکړې، چا وویل هغه له نوره پیدا شوی، چا وویل هغه په غیب پوهېدو، دا په داسي حال کي چي قرآن په صریح او څرګندو الفاظو او په مکرره توګه وایي چي پیغمبران علیهم السلام د آدم علیه السلام د اولاد له منځه د انسانانو د لارښوونې او هدایت لپاره غوره شوي، توپیر ئې له نورو انسانانو یوازي په دې کي دئ چي د الله تعالی له لوري وحي ورته شوې. قرآن موږ ته وایي چي انسان له خاوري پیدا شوی، خو د همدغه له خاوري پیدا شوي انسان په وړاندي هغه ملائکي په سجدې کولو مکلفي شوې چي له نوره پیدا شوې، دا د کوم شي کمال نه دئ چي له نوره پیدا شوی وي، او پر هغه څه تفوق او امتیاز ولري چي الله تعالی له بل څه پیدا کړی، د خاوري او د نور هم بنسټ یو دئ او هم ئې خالق یو، د هر مخلوق امتیاز او پر بل تفوق او لوړوالی په هغه کار کي دئ چي ترسره کوي ئې نه په ذات او د پیدایښت په ماده کي، قرآن دې مطلب ته په څرکنده توګه اشاره کوي چي که د زمکي په سر ملائکي په ډاډ او اطمئنان سره اوسېدلی او دوی ته پیغمبران لېږل کېدی نو د دوی له ډلي به وو، فرشتو ته به فرشتې د پیغمبرانو په توګه لېږل کېدې، خو د زمکي په سر انسانان اوسېږي نو ځکه الله تعالی دوی ته د دوی له منځه یو انسان د پیغمبر په توګه لېږي، او قرآن وایي: که الله تعالی غوښتی چي کومه فرشته انسانانو ته د خپل استازي او پیغمبر په توګه ولېږي نو هغه به ئې د یوه انسان په بڼي کي لېږله، دا ځکه چي انسان یوازي د انسان په ژبه پوهېدی شي او یوازي انسان د ده لپاره بېلګه او قدوه کېدی شي.

د قرآن له ویناوو معلومېږي چي له ټولو پیغمبرانو علیهم السلام سره همدا معامله شوې، چا چي تر ټولو زیات د دوی مخالفت ته ملا تړلې، هغه دین پلورونکي ټګمار مذهبي مشران وو چي تر ټولو مخکي ئې باید په هغوی ایمان راوړی وی، خو دوی له دین دکان جوړ کړی وو او له مذهب دام!! پیغمبرانو حقیقي دین ته بللي، له الله تعالی وېرې ته، حق او عدالت ته، له حرامو ځان ساتلو ته، صداقت او ربښتیا ته او دا هغه څه وو چي دوی ئې منلو ته تیار نه

وو، دوی د هر نوي پيغمبر مقابله په دې سره کوله چې خلکو ته به ئې ويل: په ده کې هغه ځانګړتياوي نشته چې په مخکنيو پيغمبرانو کې وې، عوامو له دوی د مخکنيو پيغمبرانو په اړه هغه څه اورېدلي وو او هغه څه ئې هغوی ته منسوب کړي او په هغو الفاظو ئې ستايلي وو چې يوازې له الله تعالی سره ښايي، دوی پيغمبران د خدايۍ او الوهيت مقام ته رسولي، عوام د دوی د غلطو تبليغاتو تر اغېز لاندې له پيغمبرانو د هغه څه انتظار کاوو چې په وس کې ئې نه وو، قرآن دا حالت څومره ښکلی او دقيق انځوروي، هلته چې فرمايي:

وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعٗا ٩٠ أَوۡ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٞ مِّن نَّخِيلٖ وَعِنَبٖ فَتُفَجِّرَ ٱلۡأَنۡهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفۡجِيرًا ٩١ أَوۡ تُسۡقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ عَلَيۡنَا كِسَفًا أَوۡ تَأۡتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ٩٢ أَوۡ يَكُونَ لَكَ بَيۡتٞ مِّن زُخۡرُفٍ أَوۡ تَرۡقَىٰ فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤۡمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا كِتَٰبٗا نَّقۡرَؤُهُۥۗ قُلۡ سُبۡحَانَ رَبِّي هَلۡ كُنتُ إِلَّا بَشَرٗا رَّسُولٗا ٩٣ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا ٩٤ قُل لَّوۡ كَانَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَلَٰٓئِكَةٞ يَمۡشُونَ مُطۡمَئِنِّينَ لَنَزَّلۡنَا عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكٗا رَّسُولٗا ٩٥ الاسراء: 90-95

او وئې ويل: تر هغه درباندې ايمان نه راوړو چې له زمکې کومه چينه راته ونه بهوی. او يا دې د خرما او انګورو داسې باغ نه وي چې په منځ کې ئې ويالې رواني کړې. او يا لکه څنګه چې ګمان کوې دا آسمان پر موږ ټوټې ټوټې راپرې باسې او الله او ملائکې موږ ته مخامخ راحاضر کړې او يا دې د سرو سپينو زرو کور وي او يا آسمان ته وخېژې او ختل دې هم تر هغه نه منو چې کوم داسې ليکلی کتاب راته راوړې چې موږ ئې لوستی شو، ورته ووايه: سبحان الله! مګر زه له يوه لېږل شوي انسان پرته بل څه يم؟! او د هدايت له راتلو وروسته خلك له دې پرته بل څه له ايمان راوړلو منع نه کړل چې ويل ئې: آيا الله يو انسان د پيغمبر په توګه مبعوث کړی؟ ورته ووايه: که په زمکې کې ملائکې اوسېدی او ډاډمنه ګرځېدی نو هرومرو به مو له آسمانه پر دوی يوه ملائکه د پيغمبر په توګه لېږلې وه.

دا مبارك آيتونه څو مهمي او اساسي لارښوونې زموږ مخې ته ږدي:

- منکرينو نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم د دعوت او بلنې محتوی ته کتل، نه د ده دلائلو ته، نه د ده لارښوونو ته، نه د ده شخصيت ته، نه د ده

ويناوو او کړنو ته، نه د قرآن اغېزناکو او ځلاندو څرګندونو او روښانه لارښوونو ته او نه هغو شخصيتونو ته چې د قرآن په غېږ کې او د رسول الله صلى الله عليه و سلم په لاس وروزل شول او هر يو ئې د يوه ځلانده ستوري په څېر وو، له رسول الله صلى الله عليه و سلم څخه ئې داسې معجزې غوښتې چې خارق العاده او حيرتناکي وي، لکه: له زمکي کومه روانه چينه راوخوتوه، ځان ته د خرما او انګورو داسې باغ راپيدا کړه چې په منځ کې ئې ويالې روانې کړې، لکه څنګه چې ته ګمان کوې دا آسمان به پر موږ ټوټې ټوټې راپرېوځي دا کار همدا اوس زموږ په وړاندې ترسره کړه، الله او ملائکې موږ ته مخامخ راحاضر کړه، ځان ته د سرو سپينو زرو کور جوړ کړه، آسمان ته وخېژه، ختل دي هم تر هغه نه منو چې کوم داسې ليکلى کتاب راته راوړې چې موږ ئې لوستى شو!! د دې مبارکې سورې په 59 آيت کې د دوى د داسې غوښتنو په اړه ويل شوي: له دې پرته بل څه موږ د معجزو له لېږلو منع نه کړو چې مخکنيو هغه تکذيب کړي، دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چې د دوى د دغو غوښتنو په ځواب کې ورته ووايه: سبحان الله! مګر زه له يوه لېږل شوي انسان پرته بل څه يم؟!

- ګورئ چې (خلك) دغې خبرې له ايمان راوړلو منع کړې چې پيغمبر ئې د نورو انسانانو په څېر يو انسان موندلى، داسې چې حيرتناك او خارق العاده کارونه نشي کولى، د ده په خوا کې نه څوك خداى په څرګنده ګورې او نه د فرشتو لښکرې، آسمان ته نشي ختلى، له زمکي چينې نشي راخوټولى، سره او سپين زر ئې په لاس کې نشته، د باغونو او بنګلو خاوند نه دئ!! د يهودانو مذهبي مشرانو د خپلو پيغمبرانو په اړه خلکو ته همدا ويلي وو چې دوى دغه ټول کارونه کولى شو، نو ځکه ئې د عيسى عليه السلام په څېر په هغه پيغمبر هم ايمان رانه ووړ چې معجزې ئې تر ټولو پيغمبرانو زياتې وې!!
- مشرکينو هم له دې کبله پر پيغمبر عليه السلام له ايمان راوړو ډډه کړې چې هغه ئې د ځان په څېر يو انسان موندلى، د دوى انګېرنه او انتظار دا وو چې د الله تعالى پيغمبر بايد له انسانانو په هر څه کې توپير ولرې او داسې ستر ستر او خارق العاده کارونه وکړى شي چې عادي انسانان ترې عاجز وي!! د دوى په اړه ويل شوي: کله چې خلکو ته د الله تعالى له لورې او د کوم پيغمبر په لاس هدايات راغلي نو دوى له ايمان راوړلو بل څه منع نه کړل مګر دې

خبري چې ويل ئې: آيا الله يو انسان د پيغمبر په توګه مبعوث کړی؟ ورته ووايه: که په زمکه کې ملائکې اوسېدی او ډاډه په کې ګرځېدی نو مونږ به حتماً له آسمانه يوه فرشته د پيغمبر په توګه رالېږلې وه. دا ځکه چې فرشته د فرشتې په ژبه پوهېدی شي او انسان د انسان په ژبه.

- که الله تعالی غوښتی چې پيغمبر عليه السلام داسې معجزې وښيي نو دغو کافرانو ته به ئې وربښودلې وې، ځکه معجزه په اصل کې د مخالفينو د عاجزولو او پر کولو لپاره وي، د همدې لپاره د پيغمبرانو عليهم السلام خارق العاده کارونو ته د معجزې نوم ورکړی شوی. د موسی عليه السلام د عصا په يوه ګوزار سره له تيرې دولس چينې راوخوتېدې، خو هغه معجزه د همغه وخت لپاره وه، اوس هغه چينې نشته، که رسول اللهصلی الله عليه و سلم ته داسې معجزې ورکول کېدی نو دا به تر قيامته پورې تلپاتې وې، ځکه د ده دعوت تلپاته دئ او تر قيامته دوام کوي. که الله تعالی غوښتی چې رسول اللهصلی الله عليه و سلم ته د مخکنيو پيغمبرانو عليهم السلام په څېر معجزې ورکړي نو دا معجزې به هم تر مخکنيو سترې وې او هم تلپاتې، دا ځکه چې د رسول اللهصلی الله عليه و سلم رسالت د همدې تقاضاء کوي، دا معجزې بايد تر قيامته ليدل کېدی، که ئې غوښتی چې د موسی عليه السلام په څېر معجزه ورکړي نو له يوې ډبرې به ئې داسې چينه ورته راخوتولې وه چې تر قيامته به اوبه ترې راخوتېدې، له آسمانه به ئې داسې ليکلی قرآن پرې نازل کړی وو چې د خلکو په وړاندې به په فضاء کې ولاړ وو، هر چا به په خپلو سترګو ليدو، دا کار الله تعالی ته ډېر آسان دئ، که لمر، سپوږمۍ او دا ټول بې شمېره ستورې په فضاء کې ساتلی شي د يوه کتاب ساتل به څه ګران کار وي!! که ئې غوښتې وی چې د عيسی عليه السلام په څېر کومه معجزه ورکړي او مړي ورته راژوندي، ړانده سترګور او بيماران روغ کړي نو د قرآن په لوستلو سره به ئې په حقيقي معنی تل مړي راژوندي کول، او ناروغان به ئې روغول، الله تعالی ته دا ټول کارونه آسان دي، ځوک چې رسول اللهصلی الله عليه و سلم ته وړې وړې معجزې ثابتوي هغوی په حقيقت کې د هغو خلکو د تبليغاتو تر اغېز لاندې تللي چې ويل ئې: ولې رسول اللهصلی الله عليه و سلم ته د مخکنيو پيغمبرانو په څېر معجزې نه دي ورکړی شوې؟ خو دې ته ئې پام نه دئ چې الله تعالی د کافرانو د دغې غوښتنې څه ځواب ورکړی؛ ځواب دا دئ: که له

آسمانه مو داسي کتاب دربانديِ نازل کړی وی چي کافرانو په خپل لاس لمس کولی شوی، مړي پرې راژوندي شوي وی، بيا هم دوی ايمان نه راوړ.

- له دې مبارکو آيتونو معلومېږي چي د مشرکينو او اهل کتابو ټګمارو او دوکه مارو مذهبي مشرانو خلکو ته ويل: مخکنيو پيغمبرانو، د الله مقربو بندګانو او اولياء کرامو دغسي خارق العاده او حيرتناك کارونه کولی شو، هغه څوك د پيغمبر په توګه مه منئ چي دا کارونه ونه کړی شي. د دوی په ځواب کي ويل شوي: معجزه د پيغمبر په خوښه نه رامنځته کېږي، د ده په واك کي نه وي، د الله تعالی په إذن او هغه مهال رامنځته کېږي چي الله تعالی ئې وغواړي او پيغمبر ته ئې د ښودلو امر، اجازه او واك ورکړي.
- د دوی ځيني نور بيا داسي ول چي د خپلو پيغمبرانو په اړه به ئې همداسي ګمانونه کول، ويل به ئې چي زمونږ پيغمبر په غيب پوه وو، د امورو متصرف وو، الله ورته خاص خاص اختيارات ورکړي وو، مونږ هغه پيغمبر نه منو چي دغه ځانګړتياوي ونلري!!

بيمار ذهنيتونه دغسي وي، خدای په (اعجازونو)، (خارق العاده پېښو) او (فوق طبيعي اسرارو) کې لټوي، او پيغمبر د خارق العاده معجزو له مخي مني، پر الله تعالی د ايمان راوړو لپاره دا په طبيعت کي خواره بې شمېره نښي او شواهد ورته کافي نه وي، دا د الله له لوري نه ګڼي، طبيعي پېښي ئې بولي، غواړي خدای د داسي پېښو له مخي ثابت کړي چي غيرطبيعي وي، په (رازونو) او (رموزونو) سره، نه په (ښکاره وو) او (څرګندو) سره!! او پر پيغمبر د ايمان لپاره د هغه (لارښود کتاب)، (ځلانده پيغام)، (لوړ شخصيت)، (صالح ملګري)، (پر حق او عدالت ولاړ دعوت)، (د ظلم، فساد او بې عدالتی په خلاف د هغه مسلسل جهاد)، (له ظالمانو او مفسدينو سره د هغه عدم مصالحت او له هر راز تمايل، نږدې والي او جوړ جاړي ډډه کول)، کافي نه ګڼي، له هغه داسي معجزې غواړي چي انسان ئې له وړاندي کولو عاجز وي!!! خو د قرآن اسلوب بېل دئ، قرآن د هستي هرڅه او هر حرکت د الله تعالی د ذات او صفاتو نښه او مظهر ګڼي، په همدغو څرګندو شيانو استناد کوي او په دې سره خپله ادعاء ثابتوي، په همدې څرګندو، په طبيعت کې خورو ورو شيانو باندي لوړه کوي او د خپلي ادعاء لپاره ئې د شاهد په توګه وړاندي کوي. د پيغمبر د حقانيت ثابتولو لپاره هغه کتاب شاهد ګڼي چي دی ئې خلکو ته

وړاندي کوي: فرمايي: **وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ ٢ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٣ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٤** : له حکمته ډک قرآن شاهد دئ چې ته (اې محمده!) د پيغمبرانو له ډلې څخه يې، په مستقيمي لاري برابر.

پيغمبر يوازې د الله تعالى د پيغام حامل نه دئ، دنده ئې په دې کې نه راخلاصه کيږي چې الهي پيغام په امانت او صداقت سره او په بشپړه توګه خلکو ته ورسوي، بلکې هغه د انسانانو لپاره قدوه، اسوه او بېلګه دئ، هغه دا الهي پيغام هم په خپلې ژبې سره خلکو ته بيانوي او هم ئې په خپل عملي ژوند کې دوی ته انځوروي، مور د پيغمبر په شخصيت او عملي ژوند کې هغه څه ګورو چې الله تعالى ئې د هر انسان په ژوند کې لېدل غواړي، که څوک غواړي په دې پوه شي چې خپل رب ئې څه ترې غوښتي، د ده لپاره څنګه ژوند، څنګه وينا، کومه عقيده، کوم عمل او څنګه اخلاق غوره ګڼي، نو ځواب ئې دا دئ چې د پيغمبر په څېر ژوند، وينا، عقيده، عمل او اخلاق. پيغمبر په حقيقت کې د الهي پيغام عملي تجسم دئ، الله تعالى چې انسانانو ته د کامل او غوره انسان د جوړېدو لپاره کومې لارښوونې رالېږلي هغه د پيغمبر په شخصيت کې څرګندې شوې، کامل انسان هغه دئ چې د پيغمبر په څېر وي، الله تعالى هغه بنده او د ده قول او عمل خوښوي چې قول او عمل ئې د پيغمبر په څېر وي، پيغمبر د انساني ټولنې د معنوي او اخلاقي کمال او ارتقاء لپاره د پای او انتهاء هغه نقطه ده چې تر ټولو د لوړ شخصيت خاوندان، باهمته او اولوالعزمه انسانان وررسېدی شي او هيڅ انسان ترې لوړ نشي تېرېدی، که وغواړو دا مطلب د يوه ګراف په ذريعه تشريح کړو؛ نو د ګراف په بې انتهاء پای کې الله تعالى دئ، مسلمان په دې ګمارل شوی چې په همدې لوري به درومي، الله تعالى ته به د نږدې کېدو هڅه کوي، په الهي اخلاقو به ځان سينګاروي، په دې لارښوونې به عمل کوي چې (تخلقوا بخلق الله: په الهي اخلاقو ځان سمبال کړئ، الهي اخلاق ځان ته غوره کړئ)، الهي اخلاق په حقيقت کې د بې انتهاء معنوي کمال او ارتقاء هغه لوړه څوکه ده چې هغې ته رسېدل د انسان له وسه وتلې ده، هغې څوکې ته نږدې کېدا ممکنه ده خو رسېدا محال. پيغمبران عليهم السلام دې لوړې څوکې ته د رسېدلو په لار کې هغه ځای ته رسېږی چې د انسان لپاره وروستی او آخري معراج دئ، په يوه بې انتهاء او پای نه منونکي مسير کې وروستی تم ځای او د توقف آخري پړاو، هيڅ انسان ته تر دې نقطې

آخوا تېرېدا ممکنه نه ده. د پیغمبرانو علیهم السلام شخصیت د انساني لوړو اخلاقو، د ده اوچتو معنوي ځانګړتیاوو او د غوره صفاتو او خصوصیاتو لپاره وروستی معراج او د ګراف آخري لوړه څوکه ده. هغوی په هر څه کي د نورو لپاره بېلګه، اسوه او قدوه دي، الله تعالی له ګناه، خطأ او اشتباهاتو خوندي او مصئون ساتلي، له فکري، اخلاقي او عملي پلوه له ګناه او خطأ معصوم دي، د ګناه عصمت په دې معنی چي که کله د انساني طبیعت په مقتضاء له دوی کومه وړه اشتباه هم وشي، الله تعالی ئې ډېر ژر متوجه کوي، د اشتباه مخنیوی او جبران کوي او تکرار ته ئې نه پرېږدي. په دې معنی هغوی معصوم دي او الله تعالی له ګناه مصئون ساتلي، الله تعالی د خپل رسالت او پیغام لپاره داسي شخصیتونه غوره کوي چي دا دنده په بشپړ امانت او صداقت سره خلکو ته ورسوي، د یوه پیغمبر په ځای ئې بل پیغمبر هغه مهال لېږلی چي د مخکني پیغمبر د دعوت ټولي نبني، اغېز او اثر زائل او له منځه تللی، هر پیغمبر چي راغلی خلك په دې مکلف شوي چي په همدې نوي پیغمبر به ایمان راوړي، مخکنی پیغمبر او امت ئې هم په دې مکلف شوي چي په هغه ایمان راوړي او ملګرتیا ئې وکړي، لکه چي قرآن فرمایي:

وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ لَمَآ ءَاتَيۡتُكُم مِّن كِتَٰبٖ وَحِكۡمَةٖ ثُمَّ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مُّصَدِّقٞ لِّمَا مَعَكُمۡ لَتُؤۡمِنُنَّ بِهِۦ وَلَتَنصُرُنَّهُۥۚ قَالَ ءَأَقۡرَرۡتُمۡ وَأَخَذۡتُمۡ عَلَىٰ ذَٰلِكُمۡ إِصۡرِيۖ قَالُوٓاْ أَقۡرَرۡنَاۚ قَالَ فَٱشۡهَدُواْ وَأَنَا۠ مَعَكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ٨١ آل عمران:81

او کله چي الله د پیغمبرانو ژمنه واخیسته چي دا دئ تاسو ته مي کتاب او حکمت درکړم، نو که بیا تاسو ته داسي کوم پیغمبر راغی چي تاسو ته د درکړی شوي کتاب تصدیقوونکی وي نو حتماً به ایمان پرې راوړئ او مرسته به ئې کوئ، وئې فرمایل: آیا په دې اقرار کوئ او پر دې باندي زما دا پېټی (پر اوږو) اخلئ؟ وئې ویل: اقرار کوو، وئې فرمایل: نو شاهد اوسئ چي زه هم له تاسو سره د شاهدانو له ډلي یم.

یعني الله تعالی له پیغمبرانو دا ژمنه اخیستې ده چي یو به د بل ملاتړ او مرسته کوي، په دې ژمني کي د دوی امتیان هم شامل دي، دوی به هم د خپلو پیغمبرانو پر پله ګام ږدي او د هر مؤمن او د کتاب تصدیقوونکي ملګرتیا او ملاتړ به کوي. څوك چي دا کار ونکړي په حقیقت کي ئې له الله سره کړې ژمنه ماته کړې او د پیغمبرانو له لاري منحرف شوی، دا ځکه چي له انبیاوو دا عهد

او پيمان اخيستل شوی چي که له دوی وروسته داسي بل پيغمبر راځي چي د دوی د دعوت مصدق وي نو هرومرو به پر هغه ايمان راوړي او د هغه تأييد او ملګرتيا به کوي او د دوی امتونه او پلويان هم مکلف شوي چي په همغه نوي دعوت او نوي پيغمبر به ايمان راوړي.

پر هر پيغمبر له حالاتو سره سم او د شرائطو له غوښتنو سره سم کتاب، صحيفه او احکام نازل شوي، چا ته کتاب ورکړی شوی، چا ته صحيفې او څوك په دې مکلف شوی چي د خپل دور او يا تر ده مخکي پيغمبر دعوت وچلوي، هغه تجديد کړي او د هغه طرف ته بلنه ورکړي.

د پيغمبرانو شمېر ډېر دئ، د آدم عليه السلام له پيدايښت سره سم د دوی د لېږلو سلسله پيل شوې او دا لړۍ پر محمد عليه السلام پای ته رسېدلې، له ده وروسته بل پيغمبر نه مبعوث کېږی، تر قيامته پوري ټول خلك پدې مکلف دي چي د محمد صلی الله عليه و سلم په رسالت ايمان راوړي او هغه دين ومني چي ده راوړی، دا ځکه چي الله تعالی دی په داسي وخت کي په پيغمبرۍ مبعوث کړ چي پيغام او رسالت ئې تر قيامته له هر راز تحريف خوندي پاته کېدی شي، د ده په لاس د لېږل شوي قرآن د خوندي او محفوظ پاته کېدو انتظام شوی، دا دئ ګورئ چي د قرآن له راتلو څوارلس پېړۍ تېري شوې خو په يوه حرف او حتی زور او زبر کي ئې تغيير رانه غی، دا کار تر دې د مخه ممکن نه وو، د نورو پيغمبرانو عليهم السلام په لاس لېږل شوي کتابونه له منځه ولاړل، له هر يوه ئې يوه وړه برخه حتی د څو جملو په اندازه هم نه ده پاتې شوې، د همدې لپاره تر محمد عليه السلام وروسته د بل پيغمبر د لېږلو ضرورت منتفي شوی، د قرآن په شته والي کي نه د بل کتاب لېږلو ضرورت شته او نه د بل پيغمبر.

د پيغمبرانو عليهم السلام يو خصوصيت دا دئ چي هر يو ئې د مخکني پيغمبر او د هغه د دعوت تصديق کوي او د راتلونکي پيغمبر زېرى او بشارت ورکوي، دا د تېر قيادت تأييد او د راتلونکي مشرتابه زېرى ورکول، هغه څه دي چي له نورو زعامتونو د دوی توپير په ګوته کوي، هغه څه چي د نړۍ د سياسي زعامتونو له کړنلاري سره ژور توپير لري، د نورو سياسي زعامتونو خصوصيت دا وي چي تر ځان مخکي قيادتونه محکوموي، د دوی په ضد

تبليغات کوي، د ناخوالو عامل ئې ګڼي، د روان بد حالت او ستونزو مسئوليت د دوی په غاړه اچوي، خلکو ته وايي: موږ ته يو ويجاړ نظام، ناکامه اداره، اقتصادي ستونزي، امنيتي مشکلات او اجتماعي کړاوونه په ميراث پاتي دي، غواړي په دې کار سره له يوې خوا له مخکني قيادت د خلکو پام ځان ته راواړوي او له بله پلوه خپله ماته توجيه کړي، د دوی بل بد خصلت دا دئ چي په خپلي خوا کي د نوی قيادت راولاړېدو او وده نه خوښوي، هر هغه څوک ټکوي چي د دوی اقتدار او زعامت ګوابني، او د دې امکان او استعداد په کي ګوري چي د دوی ځای به ونيسي او په راتلونکي کي به د ولس قيادت ترلاسه کړي، نه پرېږدي د دوی په څنګ کي بل شخصيت وده وکړي، لکه په غرب کي چي همدې ذهنيت د داسي مشهور متل حيثيت غوره کړی چي وايي: لوی قيادتونه ستري وني ته ورته وي چي تري لاندي بل بوټی شين کېدی نشي، په دې متل کي د غربي هېوادو سياسي او اجتماعي قيادتونه او د دوی دا خصلت په ډېره دقيقه توګه انځور شوی، هلته لوی لوی شخصيتونه داسي وي لکه ګڼي او ستري وني چي تر سيوري لاندي ئې بل بوټی او ونه نشي شنه کېدی، همدا د هغوی خصوصيت دئ، که خروشف راځي بايد ستالين محکوم کړي او حتی مجسمه ئې بايد محاکمه کړي، که ګورباچوف راځي بايد بريژنيف او تر ځان مخکي ټول نور زعامتونه په دې متهم کړي چي شوروي اتحاد ئې په يوې ناکامي جګړي کي ښکېل کړ او دا ټولي ستونزي او کړاوونه ئې ده ته په ميراث پرېښودل، بايد ماوتسه دون د هغه چا په لاس محاکمه شي چي د ده د اقتدار په وخت کي ئې د لارښود په سترګه ورته کتل او د ده افکارو ته د خپل اخلاص څرګندولو لپاره به ئې د ده کتابونه په جيب کي ګرځول، همداسي چي هر چا اقتدار له لاسه ورکړی، که څه هم د اقتدار په شپو ورځو کي خلکو د لمانځني ترپولي د دوی توصيف او ستاينه کړې، د مريي په شان ئې د دوی اطاعت کړی، خو چي د اقتدار له کرسۍ کوز شوی نو خپلو نږدې ملګرو او پلويانو په کلکه محکوم کړی، بيا ئې مجسمې هم محاکمه شوې او رانسکوري شوې، هو! دا د يوې غيرديني ټولني د زعامت او مشرتابه ځانګړتيا ده چي د اقتدار په وخت کي هيڅا ته د دې موقع او مجال نه ورکوي چي وده وکړي او بل شخصيت د دوی تر څنګ تبارز وکړي، حال دا چي د پيغمبرانو په اړه قرآن فرمايي: هغوی د تېرو پيغمبرانو د دعوت تصديق کوي او د راتلونکو پيغمبرانو

د راتلو زېرى وركوي، ځان او خپل پلويان په دې مكلف ګڼي چې په راتلونكي پيغمبر به ايمان راوړي او د هغوى ملګرتيا او تأييد به كوي، لكه چې قرآن فرمايي:

وَإِذْ قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ يَٰبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنۢ بَعْدِي ٱسْمُهُۥٓ أَحْمَدُ ۖ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ قَالُوا۟ هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ٦ الصف:6

او كله چې عيسى د مريمي زوى بني اسرائيلو ته وويل: يقيناً چې زه د الله له لورې تاسو ته استازى او پيغمبر يم، د تورات تصديقوونكى او د هغه نبي (د راتلو) زېرى وركوونكى چې له ما وروسته به راځي، نوم ئې احمد دئ، خو كله چې له څرګندو نښو سره ورته راغى وئې ويل: دا خو څرګند سحر دئ.

ګورئ چې عيسى عليه السلام مخكنى پيغمبر، د هغه دعوت او د ده په لاس راغلى كتاب تصديقوي او د راتلونكي پيغمبر په اړه خلكو ته زېرى وركوي، ذهناً ئې د ده ملګرتيا ته تياروي او راتلو ته ئې لار آواروي.

قرآن عظيم الشأن موږ ته لارښوونه كوي چې پيغمبران عليهم السلام د دې لپاره رالېږل شوي چې انسان د فلاح او سعادت لارې په موندلو كې د دوى لارښوونو ته اړ او محتاج دئ، دا ځكه چې تاسو د دې عالم هر څه داسي ګورئ چې په فطري او طبيعي توګه وحي ورته شوې، د ژوند تګلاره ورښودل شوې، د كوم مقصد لپاره چې پيدا شوى او كوم كار چې ورسپارل شوى، د سر ته رسولو فهم، شعور او اراده ئې وركړى شوې، پوهيږي چې څه وكړي او څه ونه كړي، څه وخوري او څه ونه خوري، خو انسان چې د كوم ستر مقصد لپاره پيدا شوى، د هغه د سرته رسولو لپاره پر فطري لارښووني برسېره مزيد هدايت او لارښووني ته ضرورت لري، كه تاسو انسان له حيواناتو سره مقايسه كړئ نو انسان به تر هر څه زيات لارښووني، پالنې او ساتنې ته اړ او محتاج ومومئ، اكثر حيوانات به داسي وګورئ چې له پيدايښت سره سم او دنيا ته له راتلو لنډه موده وروسته له مور او پلار مستغني او بې نيازه شي، لنډه موده وروسته خوراك كولى شي، كه په وچه كي پيدا شي نو په خپلو پښو تلى شي، كه په بحر كي پيدا شي نو لامبو وهلى شي، د مور او پلار له وينا پرته همغه څه خوري چې ګټه وررسوي او د هغه څه له خوراكه ډډه

کوي چې تاوان ورته لري، خو د انسان ماشوم تر اوږدې مودې شديداً د مور او پلار پالنې ته اړ او محتاج وي، د اور او د اوبو فرق نشي کولی.

څومره چې انسان د پلار او مور لارښوونې، پالنې او روزنې ته اړ دئ همدومره د پيغمبرانو لارښوونې ته اړ دئ، هغه د پيغمبر له لارښوونې پرته نه خپل ځان پېژندلی شي، نه دا پراخ عالم او کائنات، او نه د الله تعالی په لوري خپله لار، نه په دقيقه توګه د حق او د باطل ترمنځ تفکيك کولی شي، نه د عدل او ظلم ترمنځ توپير، او نه مفيد او مضر او حلال او حرام سره بېلولی شي، دا سمه ده چې انسان ته عقل او شعور ورکړی شوی چې د دې په مرسته کولی شي څه ناڅه ښه او بد سره بېل کړي، او له دې اړخه ترنورو ژوو مخکې دئ، خو يوازې د عقل او شعور په مرسته ځان او ټول عالم پېژندل او بيا د يوه جامع او کلي معرفت په رڼا کې خپله تګلاره ټاکل ورته ممکن نه دي، انسان د عقل او شعور په څنګ کې دې ته ضرورت لري چې د لارښوونې او هدايت لپاره ئې پيغمبران ولېږل شي، د همدې لپاره الله تعالی د زمانې په هر پېړاو کې د خلکو د لارښوونې او هدايت لپاره پيغمبران لېږلي.

قرآن عظيم الشأن په دې ارتباط فرمايي:

كَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِيكُمۡ رَسُولٗا مِّنكُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِنَا وَيُزَكِّيكُمۡ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمۡ تَكُونُواْ تَعۡلَمُونَ ١٥١ البقره: 151

همداسې لکه چې په تاسو کې مو ستاسو له منځه داسې پيغمبر درولېږو چې زما آيتونه دربانديې لولي، ستاسو روزنه کوي، علم او حکمت درښيي او هغه څه درښيي چې نه پرې پوهېدئ.

يعنې پيغمبران د دې لپاره لېږل شوي چې د الله تعالی آيتونه خلکو ته واوروي، له شرك، فساد او بدکارۍ ئې وژغوري، د دوی ټولنه له مفاسدو او مظالمو تزکيه او پاکه کړي، د هغوی عقائد تزکيه کړي، هغوی ته کتاب وروښيي، د دې کتاب د پلي کولو او تطبيق طريقه ورزده کړي، دلته له کتابه مراد هغه احکام دي چې الله تعالی په خپل کتاب کې نازل کړي او له حکمته مراد د دې احکامو د تطبيق لاري، چاري او طريقې دي. يعنې پيغمبران عليهم السلام هم خلکو ته الهي احکام او د دين او دنيا اړوند ضوابط او قواعد ښيي، هم د دوی د ژوند اهداف او مقاصد وربښيي او هم دغو اهدافو ته د رسېدلو طريقې

وربښيي، هم خلکو ته کتاب ښيي او هم د دې کتاب د تطبيق او عملي کولو چاري وربښيي او ټول هغه څه وربښيي چې په خپله پرې پوهېدی نشول.

ګورئ چې په دې مبارك آيت کې مور ته لاربښوونه شوې چې پيغمبران عليهم السلام مور ته هغه څه هم رابښيي چې پرې پوهيدی نشو، (**وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ تَكُونُواْ تَعْلَمُونَ**: او هغه څه درزده کړي چې نه پرې پوهېدئ، تاسو په هغه د پوهېدو توان نه درلود، درته ممکنه نه وه چې پرې وپوهېږئ.

لَقَدْ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُواْ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ١٦٤
آل عمران: 164

يقيناً چې الله پر مؤمنانو احسان وکړ چې په دوی کې ئې د دوی له منځه داسي پيغمبر مبعوث کړ چې د ده آيتونه پرې لولي، د دوی روزنه کوي او کتاب او حکمت وربښيي، په داسي حال کې چې تر دې د مخه په ځرګندي تېروتنې کې وو.

په دې مبارك آيت کې چې د احد د جګړې په ارتباط نازل شوی مسلمانانو ته ويل شوي: پيغمبر خو هغه څوك دئ چې تاسو د ده په لاس له ضلالت او بې لاريتوب وژغورل شوئ، د ده بعثت خو پر تاسو د الله تعالی يوه ستره پېرزوينه وه، ده درته حلال او حرام وښودل، ستاسو روزنه ئې وکړه، کتاب او حکمت ئې دروښود، په غنائمو کې غلول خو د ده لخوا خيانت وګڼل شو، تر دې د مخه خو غنيمت يا د زورورو قومندانانو حق ګڼل کېدو او يا د هغه چا چې په لاس کې ئې پرېوتی وو، کمزوري تل تر ې محروم وو، ده درته وويل چې غنائم به د جنګ په پای کې راغونډېږي او په ټولو مجاهدينو به مساويانه وېشل کېږي، ولي مو د پيغمبر عليه السلام په اړه بې ځايه تشويشونه کول؟!

په دې اړه د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام په دعاء کې کې داسي راغلي:

رَبَّنَا وَٱبْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُواْ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ١٢٩ البقره: 129

اې زمور ربه! په دوی کې په خپله له دوی ځنې داسي پيغمبر مبعوث کړه چې ستا آيتونه پرې لولي، کتاب او حکمت وربښيي او روزنه ئې کوي، بې شکه چې همدا ته باحکمته عزتمن يې.

قرآن د ابراهيم عليه السلام په قصې کي زموږ په وړاندي د پيغمبرانو عليهم السلام د شخصيت او مأموريت په اړه يو ډېر دقيق او جامع تصوير وړي، هلته چې وايي: الله تعالى اراده کړې وه چې په مکه کي د توحيد بنسټ کېښودی شي او دلته کعبه او د موحدينو د راغونډېدو مرکز جوړ شي، غوښتل ئې دا مرکز د يوه ستر موحد او بت ماتوونکي په مبارك لاس بناء شي، ابراهيم او د ده سرتېرې زوی اسمعيل عليهما السلام ئې د دې ستر کار لپاره غوره کړل، هغه په عراق کي د يوه بت لمانځونکي او بت جوړوونکي په کور کي پيدا شو، د نمرود تر سلطې لاندي يوې شرك وهلې جاهلي ټولنې کي، هلته چې خلك هم د ژوندي نمرود په وړاندي سر ټيټوي او هم له مرګ وروسته د ده مجسمې ته!! خو ابراهيم عليه السلام ته نه د مړه بت لمانځل د منلو وو او نه د ظالم نمرود واکمني، پلار او قوم ته ئې ويل: دا ستاسو د لاس او ذهن مولود جعلي خدايان نه منم، نه دا بتان، نه دا لمر، سپوږمۍ او ستوري او نه هيڅ فنا کېدونکی په خدايي منم، الله همغه دئ چې هر څه ئې پيدا کړي. خو کله چې ئې وليدل دا خلك يوازي د ده په بلنې او استدلال له شرك او کفر لاس نه اخلي نو پرېکړه ئې وکړه چې دا بتان رانسکور کړي، پوهېدو چې هم د نمرود ظالمانه واکمني د دغو بتانو په بنسټ ولاړه ده او هم د ولس د مظلوميت او په خواری، ذلت او جهل کي د ژوند کولو عامل ئې همدا بتان او د هغوی لمانځنه. نه ئې د ولس د انتقام پروا وکړه او نه د نمرود له غضب وېره، يوازي وو، له يوه تبر پرته ئې بل څه نه شو برابرولی، خو دغو اندېښنو د ده اراده او عزم نه شو بدلولی، تبر په لاس د بتانو خوني ته ورننوت، ټول ئې يو په بل پسې رانسکور کړل او تبر ئې د ستر بت په غاړه کي ځوړند کړ او له خوني په ډاډه زړه ووت. خلك له مېلې راوګرځېدل، هلته ئې نمرود لمانځلی وو، کور ته تر تلو مخکي بايد د نمرود بتان هم ولمانځي، خو دلته ئې ناڅاپه ټول بتان مات، نسکور او نړېدلي ومونډل او ستر بت مزيد سپك شوی، تبر ئې په غاړه کي، د نورو د ماتولو اتهام ورته متوجه، خو نه اتهام ردولی شي او نه اصلي ماتوونکی ښودلی شي، دا همغه خدايان وو چې خلکو له دوی د خپلو حاجتونو ترسره کېدو او د ستونزو د حل طمع کوله او دا ورته تلقين شوی وه چې د ستونزو د حل مرجع دغه ده، ستاسو د مشکلاتو عامل نظام او واکمنان ئې او د دوی تصرفات نه دي، مشکلات مو له دې راولاړ شوي چې دا خدايان درنه ناراضه دي. او دا هغه څه

دي چي هر نمرودي نظام تر هر څه مخكي او زيات ورته ضرورت لري. له ابراهيم پرته بل څوك په دې كار نه شو تورن كېدى، هغه ئې راحاضر كړ، پوښتنه ئې وكړه: دا كار تا كړى؟ ابراهيم عليه السلام د داسي غونډي، همدې حالت او د بت لمانځونكو داسي يوې پوښتني ته منتظر وو، وئې ويل: تبر خو د ستر بت په غاړه كي دئ، له هغه پوښتنه وكړئ كه خبري كولى شي!! ځواب ئې وركړ: ابراهيمه! ته خو پوهېږې چي دوى خبري نه شي كولى! هغه همدا ځواب غوښتو، وئې ويل: نو دا تاسو څنګه د هغه څه عبادت كوئ چي نه خبري كولى شي، نه له ځانه ضرر دفع كولى شي، نه بل ته ګټه رسولى شي، افسوس پر تاسو او ستاسو پردغو معبودانو!! د قوم او د دوى د سالار نمرود پرېكړه معلومه وه، زندان، په اور سوزول، داسي سزا چي د نورو لپاره عبرت شي. خو ابراهيم عليه السلام د نمرود له لوري د ده د مرګ او سوزولو د پرېكړي د اورېدو په ځواب كي وويل: د مرګ ژوند پرېكړه هغه ذات كوي چي دا لمر له مشرقه راپورته كوي او په مغرب كي ئې پرې باسي، اور ته د لوېدو په وخت كي ئې ويل: الله راته كافي دئ، هماغه تر ټولو غوره وكيل او نصير. الله تعالى دا ابراهيم د كعبې د جوړولو لپاره له سوزېدو وژغورو، له عراق ئې شام ته او بيا له هغه ځايه مكې ته راووست، دلته ئې په بې اوبو او وحشتناك بيابان كي د هاجر او تي خور اسمعيل يوازي پرېښودو امر ورته وكړ، په دې ستر امتحان كي هم بريالى شو، كله چي اسمعيل ځوانى ته ورسېد، په خوب كي ئې داسي څه وليدل چي د اسمعيل د قرباني كولو اشاره ئې ور ته كوله، د ده لپاره همدا اشاره كافي وه، زوى ته ئې دا خبره وكړه، هغه په ځواب كي ورته وويل: پلاره! څه چي درته ويل شوي، هغه ترسره كړه، ما به صابر او مطيع ومومې، په دې لوى او خطرناك امتحان كي دواړه بريالي شول او اوس نو دوى د هغه ستر كار لپاره جوګه شوي چي د زمكي پر سر د الله مبارك كور، كعبه، د موحدينو قبله د دوى په لاس جوړه شي، دوى چي كله د دېوالونو په اوچتولو لګيا او ډبري ئې يوه د بلې په سر اېښودې، دا وينا ئې په ژبه وه: اې زمونږ ربه! له مونږ ئې قبول كړه، بې شكه چي ته خو ښه پوه اورېدونكى يې. اې زمونږ ربه! مونږ دواړه درته منقاد او تابع وګرځوه او له اولادې مو تا ته يو منقاد امت او مونږ ته زمونږ ديني مناسك راوښيه او توبه مو قبوله كړه، يقيناً چي ته ډېر مهربان توبه قبلوونكى يې. په دوى كي په خپله له دوى داسي پيغمبر

مبعوث کړه چې ستا آیتونه پرې لولي، کتاب او حکمت ورښیي او روزنه ئې کوي، بې شکه چې همدا ته باحکمته عزتمن یې.

په هغې وېرووونکې بیدیا کې د دوو مهاجرو او له خپل هېواد د شړل شوو په لاس چې کوم کور جوړ شو، دا دئ څلور زره کاله وروسته هم، هر کال تر شلو لکو زیات خلك د هغه طواف کوي، هملته د دوی پر پله ګام ږدي او همغه څه کوي چې دوی دواړو له خپل رب غوښتي وو.

قرآن د بني اسرائیلو او هرې هغې مذهبي ډلې غلط تصورات رد کړي چې مذهب او مذهبي مقام موروثي ګڼي او ګمان کوي چې له پلار اولاد ته په میراث رسي او دا طمع لري چې پیغمبرانو او د الله دوستانو ته د انتساب له کبله د الله د پېرزوینو وړ، د امامت وارث او د جنت مستحق دي، دوی ته ویل شوي چې نه مذهب او عقیده داسي شی دئ چې په میراث وړل کېدی شي او نه مذهبي مقام داسي مقام دئ چې له پلار اولاد ته په میراث رسېدی شي، د الله په دین کي له هر چا سره معامله د ده د عقیدې او عمل له مخي کېږي، له هر چا به د خپلو کړو وړو پوښتنه کېږي، پیغمبرانو ته ځان منسوبول او ځان د دوی د مقام او منزلت وارث ګڼل او له دې لارې د امتیازاتو ترلاسه کول، دا هغه کارونه دي چې د بني اسرائیلو ټګمارو مذهبي مشرانو کول. دوی ځان د الله د خاصي کورنۍ غړي، د پیغمبرانو ورثه او ځای ناستي ګڼل او ابراهیم علیه السلام ته ئې ځان منسوباوو، الله تعالی د دوی په ځواب کي فرمایي: ابراهیم مشرك نه وو، خپل اولاد ته ئې دا غوښتي وو چې د خلکو د ارشاد او هدایت لپاره ئې امامت او قیادت په برخه شي، خو الله تعالی د ده د غوښتني په ځواب کي ویلی وو: دا مقام د ظالمانو په برخه کېدی نشي، ابراهیم علیه السلام خو کعبه د دې لپاره جوړه کړه چې دا د امن کور وي، د امن وسیله وي، دلته خلك په ډاډ او اطمئنان سره د الله عبادت او ذکر وکولی شي، ده خو دا تمنا کړې وه چې د دې سیمي اوسېدونکي د الله شاکر بندګان وي، تل په دوی کي داسي پیغمبران مبعوث شي چې دوی ته دین وښیي او له ګناهونو ئې وژغوري، ده خو خپل اولاد ته د دې توصیه کړې وه چې د یوه الله عبادت به کوي، د ابراهیم او ستاسو د جد یعقوب علیهما السلام توصیه خو دا وه، تاسو څنګه له خپل شرك، فساد، ظلم، د دین او دیندارانو له دښمنۍ سره سره ځان هغوی ته منسوبوئ؟!!

دا مطلب د قرآن عظيم الشأن په ډېرو ځايونو کي توضيح شوی چې د پيغمبرانو تر بعثت مخکې تاسو په داسي ناپوهۍ او جهالت کي وئ چې ترې وتلی نشوئ او د سعادت لار مو نشوی موندلی، حتی پيغمبر عليه السلام ته فرمايي:

وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدَىٰ ٧

آيا ضال (لارورکی) ئې ونه موندې چې هدايت ئې کړې.

چې پيغمبر عليه السلام ته داسي خطاب کېږي، د دې معنی دا ده چې انسان من حيث الانسان وحي ته اړ او محتاج دئ، ځکه نو الله تعالی د انسان د هدايت او لارښووني لپاره وحي رالېږلې او پيغمبر ئې مبعوث کړی.

قرآن عظيم الشأن فرمايي چې څوك پر پيغمبر ايمان نه لري، هغه ئې ځان ته لارښود نه دئ ټاکلی او هغه رښا ئې نه ده په برخه شوې چې الله تعالی د پيغمبر په لاس رالېږلې، مثال ئې هغه چا ته ورته دئ چې د ژور سيند د اوبو په تل کي وي، د بحر څپې ئې پر سر، يوه د بلي د پاسه، او تر څپو بر پر سيند پرېږي تيارې وربځي، تيارې يوه د بلي د پاسه، هومره تياره او داسي تك تور محيط او ماحول چې حتی که خپل لاس راوباسي نه ئې شي ليدلی، يعني هغه د کفر له کبله په داسي يوه تياره محيط کي واقع دئ چې حتی خپل ځان هم نشي پېژندلی، څه دا چې خپل ماحول او محيط درك کړی شي، لکه چې فرمايي:

أَوۡ كَظُلُمَٰتٖ فِي بَحۡرٖ لُّجِّيّٖ يَغۡشَىٰهُ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ سَحَابٞۚ ظُلُمَٰتُۢ بَعۡضُهَا فَوۡقَ بَعۡضٍۚ إِذَآ أَخۡرَجَ يَدَهُۥ لَمۡ يَكَدۡ يَرَىٰهَاۗ وَمَن لَّمۡ يَجۡعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورٗا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ ٤٠ النور:40

او لکه په ژور بحر کي هغه تيارې چې يوه د بلي له پاسه څپو پوښلی وي، او له پاسه ئې وربځي، تيارې ځيني د ځينو نورو پرسر، که خپل لاس راوباسي نه ئې شي ليدی، او چا ته چې الله کومه رښا نه وي ورکړې نو هيڅ رښا به ئې په برخه نشي.

قرآن له پيغمبرانو عليهم السلام او د دوی له رسالت او لارښوونو منکر کافران له مړو سره تشبيه کوي او فرمايي:

أَوَ مَن كَانَ مَيۡتٗا فَأَحۡيَيۡنَٰهُ وَجَعَلۡنَا لَهُۥ نُورٗا يَمۡشِي بِهِۦ فِي ٱلنَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُۥ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ لَيۡسَ بِخَارِجٖ مِّنۡهَاۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلۡكَٰفِرِينَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٢٢ الانعام:122

آیا هغه چې مړ وو، بیا مو راژوندی کړ او داسي رڼا مو ورپه برخه کړه چې په هغې سره په خلکو کي تګ کولی شي، هغه چا ته ورته دئ چې په داسي تیارو کي وي چې تري وتونکی نه وي، کافرانو ته همداسي هغه څه ښایسته شوي چې دوی ئې کوي.

په دې مبارك آیت کي څو ډېري مهمي او اساسي خبري په ایجاز او اختصار سره شوې:

- کفر داسي دئ لکه مرګ او ایمان داسي دئ لکه ژوند، کافر د مړي په څېر دئ او مؤمن د ژوندي په څېر.
- څوك چې کافر وو او الله تعالی ایمان ورپه برخه کړ داسي دئ لکه چې مړ وو او الله تعالی راژوندی کړ.
- د الله تعالی لارښود کتاب داسي دئ لکه رون څراغ چې په تیاره کي انسان ته لار ښیي.
- د دې رون څراغ په رڼا کي انسان کولی شي د خلکو په منځ کي د تلو لار ځان ته روښانه کړي، دوست او دښمن، صالح او طالح، مؤمن او منافق، ښه او بد وپېژني، لوړي او ژوري وویني، خندونه او ګړنګونه ورته جوت شي.
- بې ایمانه انسان په یوې کفري ټولنې کي هغه چا ته ورته دئ چې په پرېږو تیارو کي پروت وي او د وتلو ټولي لاري پرې بندي وي.
- دا تیاره په حقیقت کي د جهل، شرك او کفر هغه تیاره ده چې د ده پر زړه، دماغ او سترګو ئې سیوری غوړولی، د ده معیارونه ئې مختل کړي، د ده احساسات او مشاعر ئې ځپلي، خپلې بدي کړنې ئې ورته ښایسته کړې.

دا آیتونه مورږ ته ښیي چې انسان پیغمبرانو ته اړ او محتاج دئ، الله تعالی د ده د اړتیا رفع کولو او د ده د لارښوونې او هدایت لپاره پیغمبران رالېږلي. پیغمبر مورږ ته د داسي اسوې او قدوې حیثیت لري چې کتاب د هغه په شخصیت کي عیني تجسم موندلی، یوازي کتاب د انسان د لارښوونې لپاره کافي نه دئ، باید الهي کتاب د یوه چا په عملي شخصیت کي څرګند شي، ټول مفاهیم او احکام ئې د هغه په شخصیت کي مجسم شي، د انسان د لارښوونې لپاره یوازي دعوت کافي نه دئ بلکي د دعوت ترڅنګ داعي او معلم ته ضرورت شته، همدا وجه ده چې الله تعالی خپل کتاب د پیغمبر په لاس رالېږي.

پيغمبر عليه السلام په مكه مكرمه كي د دعوت په ابتدائي شپو ورځو كي د شخصيتونو روزلو ته توجه كړې، نه ئې رسالې ليكلې دي او نه كتابونه، شخصيتونه ئې جوړ كړل؛ ځكه چې د دعوت لپاره تر هر څه د مخه داسي داعي په كار دئ چې دا دعوت د هغه په شخصيت كي مجسم شي، كله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم دغسي داعيان وروزل او د دعوت چلولو لپاره ئې اجتماع ته وړاندي كړل، گورئ چې خلك فوځ فوځ د ده خوا ته راتلل او په څنگ كي ئې ودرېدل.

قرآن عظيم الشأن په دې اړه فرمايي:

لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا ٢١ الاحزاب:21

يقيناً چې تاسو ته د الله په استازي او پيغمبر كي نېكه بېلگه او اسوه ده. هغه چا ته چې الله او د آخرت ورځې ته هيله ساتي او الله زيات يادوي.

يعني څوك چې غواړي الله ته د هيلي درلودو په څرنگوالي وپوهېږي او هغه عملونه وپېژني چې له كبله ئې انسان د الله د مرستي، رعايت او عنايت طمع او هيله كولى شي نو دا دي له پيغمبر زده كړي، څوك چې غواړي وپوهېږي آخرت ته هيله او طمع درلودل يعني څه، او غواړي هغه عملونه وپېژني چې په آخرت كي به گټه وررسوي او له دې لاري كولى شي د نېك آخرت طمع ولري نو هغه دي آخرت ته د طمعي او هيلي څرنگوالى له پيغمبره زده كړي او څوك چې غواړي د الله د زيات ذكر په څرنگوالي پوه شي بايد په دې كي د پيغمبر متابعت وكړي، پيغمبر بايد د ده لپاره اسوه او قدوه وي او د هغه په شخصيت كي او د ده د اخلاقو او كړنو په رڼا كي د دې خبرو په حقيقت ځان پوه كړي، د ژوند په ټولو مسائلو كي بايد پيغمبر مورِ ته ېېلگه، اسوه او قدوه وي، الله ته د هيلي درلودو په څرنگوالي كي، د آخرت په نسبت ايمان درلودلو او د اعمالو د نتائجو په اړه آخرت ته طمع او هيله ساتلو او د الله د زيات يادولو او ذكر په څرنگوالي كي بايد پيغمبر زمورِ قدوه او اسوه وي.

همدا رنگه قرآن عظيم الشأن پيغمبر عليه السلام ته خطاب كوي او فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ٤٥ وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ بِإِذۡنِهِۦ وَسِرَاجٗا مُّنِيرٗا ٤٦ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ بِأَنَّ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَضۡلٗا كَبِيرٗا ٤٧ وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ

وَٱلْمُنَٰفِقِينَ وَدَعْ أَذَىٰهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ٤٨ الاحزاب: 45 -48
اې نبي! يقيناً چې ته مو شاهد، زېرى وركوونكى، انذار وركوونكى، د الله په حكم د الله لوري ته بلونكى او لكه رون څراغ لېرلى يې. او مؤمنانو ته دا زېرى وركړه چې ستر الهي فضل به ئې په برخه شي، او د كافرانو او منافقينو متابعت مه كوه، ځوروني ئې له پامه وغورځوه، او پر الله توكل وكړه، او الله د وكيل په توګه كافي دئ.

په دې آيتونو كي د پيغمبر عليه السلام څو صفاتو ته اشاره شوې:

- نبي: هغه څوك چې له حقائقو خبر او په خبرو پوه وي.
- رسول: هغه استازى چې له يوه پېغام او رسالت سره لېږل شوى.
- شاهد: هغه څوك چې د يوه مطلب په حقانيت په خپل قول او عمل سره شهادت وركوي او د نورو لپاره بېلګه او اسوه وي.
- مبشر: زېرى وركوونكى.
- نذير: له بدو پايلو او خطرناكو پېښو او عواقبو د خلكو وېرووونكى.
- داعياً الى الله: د الله په لوري بلونكى.
- سراجاً منيرا: رون او روښانه څراغ.
- په دې مبارکو آيتونو كي نه يوازي د پيغمبر عليه السلام ځانګړتياوي بنودل شوې بلكي د دعوت د بېلو بېلو مراحلو تسلسل ته هم اشاره شوې، په دې توګه:
- د پيغمبرانو هر دعوت په داسي توګه پيل شوى چې لومړى ئې په خپله پوهه او بصيرت په برخه شوى، الله تعالى د وحي له لارې په حقائقو پوه كړي، بيا له الهي پېغام او رسالت سره د خلكو د هدايت او لارښوونې لپاره لېږل شوي، بيا همدغه پېغام او دعوت د دوى او د دوى د پلويانو په عملي شخصيت كي عيني تجسم مومي، له هر يوه د خپل دعوت د ټولو مفاهيمو لپاره ژوندى شاهد او بېلګه جوړ شوى، ګورئ چې دلته په دې صف كي يوازي پوهه او بصيرت كافي نه دئ، بلكي له پوهې وروسته ګڼ شمېر مراحل شته، پيغمبر عليه السلام فرمايي: د علم دوه ډولونه دي: يو ئې هغه چې يوازي په ژبه وي، داسي علم به د قيامت په ورځ د انسان په خلاف حجت ګرځي او بل ئې هغه نافع علم چې د عمل لارښود وي او انسان پرې عمل كوي.

- د پيغمبرانو عليهم السلام په لار تلونکي بايد د خپلې الهي تګلارې د دقيقې پېژندنې ترڅنګ د الهي پيغام حامل وي، دا پيغام او رسالت بايد د دوی په عملي شخصيت کې داسې راڅرګند شي چې هر ليدونکی د دوی په کړنو کې د دې دعوت څرنګوالی او اغيز په خپلو سترګو وګوري. دا ځکه چې پيغمبر عليه السلام د شاهد او ګواه په توګه لېږل شوی، داسې چې د ده عمل د ده د دعوت او رسالت په حقانيت شهادت ورکوي او دا دعوت او عقيده د ده په عملي شخصيت کې په داسې توګه راڅرګندېږي چې هر ليدونکی د دې عقيدې په حقانيت متقاعد کړي.
- د پيغمبر بل مهم صفت دا دئ چې هغه د مبشر په توګه لېږل شوی، د مأيوسو او نا اميدو خلکو طرف ته تللی، د هغوی مړې هيلې ئې راژوندۍ کړې، د هغوی مأيوس زړونه ئې ډاډه کړي، او له ياس او نا اميدۍ ئې ژغورلي، هغوی ته ئې د ايمان په لار کې د روښانه مستقبل او ځلانده راتلونکي زېرى ورکړى، د پيغمبرانو عليهم السلام په لار تلونکی هر دعوتګر بايد تر ټولو د مخه مبشر وي، د يأس او نا اميدۍ مقابله به کوي، هغه دعوتګر چې په خپلې بريا باور نه لري، د خپل رب په رعايت، عنايت او مرستې ئې بشپړ يقين نه وي، د خپل دعوت راتلونکي ته هيله من نه وي، مأيوس وي، خپل مخاطب ته د بريا، فتحې، غلبې او روښانه مستقبل زېرى نشي ورکولی، هغه يو ناکام داعي دئ، دا ځکه چې له نبوت او رسالت وروسته د هر پيغمبر لومړى صفت مبشر دئ، هغه په خپله هيله من دئ، داسې چې په سختو سختو حالاتو کې نه مأيوس کېږي او هغه خپل امت ته هم د روښانه راتلونکي او حتمي بريا او فتحې زېرى ور کوي او د مبشر په توګه د مأيوسو ولسونو طرف ته درومي.
- او هغه نذير دئ، د ظلم مقابله کوي، د فساد، جهل او شرك مقابله کوي، خلك د فساد، شرك، جهل او ظلم له بدو پايلو وېروي، هغه د منکراتو او مفاسدو په وړاندې چوپ او بې اعتناء نه پاته کېږي، بلکې خلك وېروي، که له يوې خوا مؤمنانو ته د ايمان په خط کې د بري او غوره پايلې زېرى ورکوي، له بلې خوا هغه چا ته چې له دې لارې منحرف شي او مفسدينو او ظالمانو ته انذار ورکوي او د کفر، ظلم او فساد له بد عاقبت ئې وېروي.
- هغه يو دعوتګر دئ، په خپل قول او عمل سره، بلنه ئې د الله تعالی لوري ته وي، نه د ځان لوري ته، او نه د کوم دنيوي غرض او مقصد لپاره، داسې

بلونکی او دعوتګر چې د خپل رب په اذن او حکم او د ده له سننو او لارښوونو سره سم خلکو ته بلنه ورکوي، غواړي خلك د الله لوري ته لاړ شي، هغه ته ورنږدې شي، په الهي اخلاقو مزین او سمبال شي.

- هغه په انساني ټولنې کې داسې دئ لکه په تیاره کې رون او روښانه څراغ، خپله سوزي خو نورو ته رڼا ورکوي، لکه شمع په خپل سر اور وړي چې د نورو ماحول او د پښو مخه روښانه کړي، د نورو لپاره سوزي، د نورو د هدایت او لارښوونې لپاره ځان وقفوي، کله چې خلك په تیاره کې وي او رون مشعل ته اړوي نو دی د رون او روښانه څراغ په څېر دوی ته لار ښیي او له تیارو ئې باسي.
- پیغمبر مؤمنانو ته د دې خبرې زېرې ورکوي چې د الله له لوري ئې ستر فضل په برخه دئ، دوی باید ډاډه وي چې الله تعالی به خپل ستر فضل ورپه برخه کړي، پر دښمنانو به فتح، برلاسي او غلبه ورکړي او خپل تأیید به د دوی په حال شامل کړي.
- پیغمبر په دې ګمارل شوی چې د کافرانو او منافقانو اطاعت به نه کوي، له کافرانو او منافقینو به ځان لرې ساتي، د هغوی تګلارې او کړنلارې به مردود شمېري، د ژوند په هیڅ برخې او هیڅ کار کې به د دوی کړنلاره نه غوره کوي، هدف ته د رسېدو لپاره هغه لارې چارې او تدبیرونه نه غوره کوي چې کافران او منافقان ئې غوره کوي، د دوی د اذیتونو او ځورَونو، تبلیغاتو او غوغاوو پروا نه کوي.
- پیغمبر پر الله تعالی توکل لري، ځان الله تعالی ته سپاري او هغه ځان ته کافي ګڼي.

دې آیتونو نه یوازې د رسول الله صلی الله علیه و سلم لوړ اخلاقي صفات زموږ مخې ته انځور کړي بلکې موږ ته وایي: د پیغمبر علیه السلام په لار تلونکي مؤمنان باید دغه ځانګړتیاوې او مواصفات ولري.

قرآن د پیغمبرانو علیهم السلام له بعثت مخکې د خلکو حالت او د دوی له بعثت وروسته حالت داسې انځور کړی:

كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ فِيمَا ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ۚ وَمَا ٱخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ أُوتُوهُ مِنۢ بَعْدِ

مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۗ فَهَدَى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَا ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ مِنَ ٱلۡحَقِّ بِإِذۡنِهِۦۗ وَٱللَّهُ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٍ ٢١٣ البقره: 213

خلك ټول يو امت او ټولى وو، نو الله زېرى وركوونكي او انذار وركوونكي پيغمبران ولېږل او له دوى سره ئې حقيقي كتاب راولېږو چې د خلكو ترمنځ په هغه څه كې پرېكړه وكړي چې دوى په كې اختلاف كړى وو او اختلاف خو له هغو پرته بل چا نه وو كړى چې كتاب وركړى شوى وو او دا هم په خپلو كې د كينې له كبله او وروسته له هغه چې څرګندي نښې ورته راغلې، نو الله په خپل حكم سره هغه كسان په مختلف فيه شيانو كې هدايت كړل چې ايمان ئې راوړى وو او الله خو چې هرڅوك وغواړي د سمې لارې په لورې ئې هدايت كوي.

د دې مبارك آيت لاربښووني دا دي: خلك د پيغمبرانو تر بعثت وړاندې يو شاني له حق بې خبره، په اختلافاتو اخته، بې لارې او په ظلم، جهل او فساد كې غرق وو، الله تعالى د دوى د لاربښووني لپاره داسې پيغمبران راولېږل چې بې لارې انسانان له خپل بد عاقبت ووېرووي او ورته ووايي چې ستاسو د دې اوسني فردي ژوند، اجتماعي او اقتصادي نظام، اخلاقي روابطو او د راكړې وركړې طريقه بدې پايلې لري، هم په دې دنيا كې او هم په آخرت كې، خو كه له دې لاس واخلئ، حق ته غاړه كېږدئ، په الله او آخرت ايمان راوړئ، د الله دين ته تسليم شئ، نو د دنيا او آخرت نېك بختي او سعادت به مو په برخه شي. پيغمبر هم بشير وي او هم نذير، د ده د دعوت وارثان به هم بشير او هم نذير وي، د بدانو او ظالمانو مخې ته به ودرېږي او د ظلم او فساد له بدو پايلو به ئې وېرووي او مظلومانو ته به د حق لار ښيي او په سمه لار د تلو د نېكو پايلو زېرى به وركوي. چا چې ايمان راوړ نو په حقه لار هدايت شو او په ټولو هغو حقائقو پوه شو چې مخكې ده او نورو په كې اختلاف كاوو.

د (كان الناس امة واحدة) صحيح او دقيقه معنى همدا ده چې د پيغمبرانو تر بعثت مخكې خلك ټول يوه ډله، سره ورته او په اختلافاتو كې غرق وو، ظلم او جهل خور وو او فساد په بر او بحر باندې خپل سيورى غوړولى وو، د پيغمبرانو په راتلو سره ځيني د حق په لورې هدايت شول او سمه لار ئې وموندە او نړۍ له تباهۍ وژغورل شوه. خو پيغمبرانو چې كومې ډېرې بلې كړې وې، تر يوه وخته ئې خلكو ته رښا وركوله او سمه لار ئې وربښوده، خو د زمانې په تېرېدو سره خلك ورو ورو له دې ډېرو لرې شوي او بيا ئې په ظلم او

فساد لاس پوري کړی. په دې آيتونو کي د پيغمبرانو تر بعثت مخکي حالت ته اشاره شوې او د يونس د سورې په 19 آيت کي د دوی له تلو وروسته حالت بيان شوی:

وَمَا كَانَ ٱلنَّاسُ إِلَّآ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَٱخْتَلَفُواْ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ١٩ يونس: 19

او خلك خو يوازي يو امت وو، بيا ئې په خپلو کي اختلاف وکړ او که ستا د رب له لوري مخکنۍ وينا نه وی نو حتماً به ئې د دوی ترمنځ په هغه څه کي فيصله کړې وه چې اختلاف په کي کوي.

ځيني د (فاختلفوا) لفظ په مخکني آيت کي هم مقدر ګڼي، حال دا چې نه دې ته ضرورت شته او نه د آيت ترکيب دا اجازه ورکوي او نه له مخکي او وروسته فقرو سره اړخ لګوي، د احتياط تقاضا خو دا ده چې د الله په کلام کي تصرف ونکړو او په خپل سر او بې ضرورته څه اضافه نه کړو.

د قرآن په آيتونو کي بې ضرورته څه زائد ګڼل او هغه له نظره غورځول او يا څه مقدر او کم ګڼل او په خاصو الفاظو سره دا کموالی پوره کول، دا کار اکثراً يا هغه څوك کوي چې د آيت له اصلي الفاظو او د هغوی له ترکيب سم مطلب نشي اخيستی او يا هغه څوك چې له مخکي خاص نظر او رأيه ورسره وي او غواړي دا آيت داسي جوړ کړي چې د ده رأيه او نظر تأييد کړي، نو ځکه د آيت په ترکيب کي تصرف کوي، کله څه ترې راکم کړي او هغه ته د زائد نوم ورکړي او کله څه وربانديې اضافه کړي او په هغه د مقدر نوم کيږدي.

همداراز قرآن فرمايي:

وَمَا نُرْسِلُ ٱلْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ۖ فَمَنْ ءَامَنَ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ٤٨ الانعام: 48

او موږ پيغمبران نه لږو مګر زېرى ورکوونکي او وېروونکي، نو چا چې ايمان راوړ او (ځان ئې) اصلاح کړ، نو نه به څه وېره پرې وي او نه به غمجن شي.

دا مبارك آيت موږ ته بنيي چې:

- د پيغمبرانو عليهم السلام اساسي دندي دا دي چې نېکانو ته په دنيا او آخرت کي د بنه او روښان راتلونکي زېرى ورکړي او بدان د خپلو ګناهونو له بدو

پايلو ووېروي، كه پيغمبرانو يوازي نېكانو ته د جنت زېرى وركولى، فضائل ئې بيانولى، په بدانو ئې غرض نه درلودى، دوى ئې د ظلم او فساد له بدو پايلو نه وېرولى، په دوى ئې نيوكي نه كولى، له ظلم او فساد لاس اخيستو ته ئې نه رابللى، نو هيڅكله به د دوى له مخالفتونو سره نه مخامخ كېدل. د پيغمبرانو عليهم السلام د ورثه وو دنده هم دا ده چې بشير او نذير به وي، چا چې هغه كار وكړ او دا نه، ربښتينى وارث نه دئ، څوك چې د ظالمانو او بد كارانو له مخالفت سره مخامخ نه وو، د پيغمبرانو عليهم السلام په لار روان نه دئ.

چا چې ايمان راوړ او (ځان ئې) اصلاح كړ، هغه ته نه له هيڅ څه وېره په كار ده او نه په هيڅ څه ويره، كه د خطرناكو دښمنانو له مخالفتونو سره مخامخ شو وېره دي نه لري او كه د الله تعالى په لار كي ئې څه له لاسه وركړل وير دي پرې نه كوي.

د پيغمبرانو په دعوت او پيغام كي هم اهداف ښودل شوي او هم اهدافو ته د رسېدلو لاري په گوته شوې، لكه چې قرآن فرمايي:

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ٩ الصف:9

الله هغه ذات دئ چې خپل پيغمبر ئې له هدايت او حق دين سره ولېږو چې په ټولو اديانو ئې غالب كړي كه څه هم مشركان كركه ولري.

گورئ چې الله تعالى خپل پيغمبر ته هم حقيقي دين ښودلى او هم ئې تگلاره او د دې دين د پلي كولو او پر ټولو اديانو د غالبولو لار ئې وربښودلې، يعني د پيغمبرانو عليهم السلام په پيغام كي هم اهداف ښودل شوي او هم تگلاره او خط مشي او اهدافو ته د رسېدلو لار، د پيغمبرانو په دعوت كي دا دواړه قضيي توضيح شوې: هم ضوابط، اجتماعي نظام، قوانين، شريعت او احكام ښودل شوي او هم د دې ضوابطو، مقرراتو او اجتماعي نظام او د هغه د خاصو مناسباتو د پلي كولو طريقې او لاري تشريح شوې.

پر پيغمبرانو د ايمان غوښتنې

پر پيغمبرانو د ايمان مهمي او اساسي غوښتنې دا دي:

توقير او تعظيم:

پر پيغمبرانو د ايمان لومړۍ غوښتنه دا ده چې مؤمن انسان به د دوی توقير او تعظيم کوي، هومره تعظيم او توقير چې له الله تعالى رالاندي تر بل هر چا زيات وي او په دې کې هيڅوک له دوی سره برابر نکړی شي. قرآن عظيم الشأن په دې اړه صحابه وو ته حکم کوي چې پام کوئ کله چې د پيغمبر سره په مجلس کې ناست ياست داسي نه چې ستاسو غږ تر پيغمبر اوچت شي، لکه چې فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَرۡفَعُوٓاْ أَصۡوَٰتَكُمۡ فَوۡقَ صَوۡتِ ٱلنَّبِيِّ وَلَا تَجۡهَرُواْ لَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ كَجَهۡرِ بَعۡضِكُمۡ لِبَعۡضٍ أَن تَحۡبَطَ أَعۡمَٰلُكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ ٢ الحجرات: 2

اې هغو چې ايمان ئې راوړی! خپل غږونه د پيغمبر تر غږ مه اوچتوئ او هغه ته په جګ غږ سره خبره مه کوئ، هغسي لکه چې ستاسو ځينې ځينو نورو ته غږ کوئ، داسي نه چې عملونه مو حبط شي حال دا چې نه پوهيږئ.

په دې مبارک آيت کې که له يوې خوا صحابه وو ته ويل شوي چې له پيغمبر عليه السلام سره په مجلس کې به د دې خيال ساتئ چې غږ مو د ده تر غږ لوړ او جګ نشي، په لوړ غږ به له هغه سره خبري نه کوئ، له لرې به هغه ته په لوړ غږ نعرې نه وهئ، دا د ايمان منافي حرکات دي، په دې سره د انسان ايمان او نېک عملونه ضائع کېدی شي، که صحابه په دې مکلف وو چې د پيغمبر عليه السلام د حضور آداب به مراعاتوي، مور په دې مکلف يو چې کله د رسول الله صلى الله عليه و سلم احاديث اورو بايد ساکت او چوپ وو او په غور او دقت سره ئې واورو، د هغه د نوم په اورېدو سره بايد درود پرې ووايو، د پيغمبر

علیه السلام د هري وینا په وړاندي خپله رأیه لري وغورځوو. د همدې آیت په استناد حتی علماء، مفسرین او محدثین وایي چې دا له ديني اخلاقو څخه دئ چې مسلمانان به له خپلو مشرانو سره په معامله کې د دې خبري مراعات کوي چې غږ ئې د دوی تر غږ لوړ نشي، شاګرد به له خپل استاد سره، د ډلې مجاهد به له خپل سرخپل سره او ټول مسلمانان به د خپلې ټولنې او اجتماع له مشرانو سره همدغه اخلاقي چلن مراعاتوي.

له بلې خوا فرمایي چې پام کوئ ستاسو غږ د پیغمبر علیه السلام تر غږ اوچت نشي، که نه ستاسو عملونه به حبط شي، په داسې حال کې چې نه به پوهیږئ، یعني په دې کار سره د انسان عملونه حبط او هدر کیږي، د پیغمبر توقیر، احترام او تعظیم هومره اهمیت لري چې د عدم مراعات په نتیجه کې ئې د انسان عملونه حبط کیږي. چا چې پر پیغمبرانو علیهم السلام استهزاء کړې، الله تعالی په شدید عذاب اخته کړي، لکه چې قرآن فرمایي:

۞وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ فَأَمۡلَيۡتُ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ثُمَّ أَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ ٣٢ الرعد:32

او یقیناً چې تر تا مخکې پیغمبرانو باندې استهزاء شوې، نو موږ هغو کسانو ته چې کافران شوي وو مهلت ورکړ، بیا مو ونیول، نو وګوره چې دا څنګه عذاب وو.

چا چې پر پیغمبرانو استهزاء کړې الله تعالی مؤاخذه کړي او خپل عذاب ئې پرې نازل کړی. نو وګوره چې دا عقاب او نیونه څنګه وه؟ وګوره چا چې پر مخکنیو پیغمبرانو استهزاء او تمسخر کړی او د هغوی احترام او توقیر ئې نه دئ ساتلی، پایله ئې څنګه وه، الله تعالی څنګه تعذیب کړل.

همدا راز فرمایي:

وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُواْ مِنۡهُم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ١٠ **الانعام:10**

او یقیناً چې تر تا په مخکنیو پیغمبرانو استهزاء شوې، نو پر هغو چې ملنډې به ئې پرې وهلې همغه څه واقع شول چې استهزاء ئې پرې کوله.

یعني د پیغمبرانو علیهم السلام کومې خبرې چې دوی د ملنډو وړ ګڼلې او

ملندې ئې پرې وهلې، همغه ربنتيا شوې، دوی نه د کمزورو او ضعيفو مؤمنانو بريا او د ځواکمنو کافرانو ماته د منلو وړ خبره ګڼله او نه دا چې د الله تعالی عذاب به پر کافرانو نازليږي، دواړه خبرې ربنتيا شوې.

يعني دوی د پيغمبرانو د دې خبرو په نسبت استهزاء کوله چې د خپلو بدو عملونو جزاء به ګورئ، او دا چې د کفر، ظلم، فساد او شرك په نتيجه کې به د الله تعالی عذاب په دوی نازليږي، بالآخره همغه عذاب په دوی نازل شو په کوم چې دوی استهزاء کوله.

ژوره مينه:

پر پيغمبرانو د ايمان بله تقاضا دا ده چې انسان به له پيغمبر سره دومره مينه او محبت ساتي چې له الله تعالی رالاندې له هيڅا او هيڅ څه سره دومره مينه ونه لري، لکه چې قرآن عظيم الشأن فرمايي:

قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَٰنُكُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَٰلٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّىٰ يَأْتِيَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِي ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ٢٤
التوبه:24

ورته ووايه: که مو پلرونه، زامن، ورونه، مېرمني، خپلوان، راغونډ کړي مالونه مو، هغه تجارت چې د بازار له سوړوالي ئې وېرېږئ او هغه کورونه مو چې خوښوئ ئې، تاسو ته تر الله، د هغه تر پيغمبر او د ده په لاري کې تر جهاد زيات محبوب وي، نو د الله پربکړي ته انتظار وکړئ چې الله داسي فاسق قوم نه هدايتوي.

په دې آيت کې د دنيا هر هغه څه راخلاصه شوي چې انسان ورسره مينه ساتي؛ که تعلقات دي، دوستان او خپلوان دي، که شتمني، مال، دولت، تجارت او بنګلې دي، هر څه چې دي دا ټول يوې خوا ته او الله، د هغه پيغمبر او د الله په لار کې جهاد بلې خوا ته، که د چا مينه او محبت له هغو سره وي او هغوی ورته تر الله، د هغه تر پيغمبر او د الله تعالی په لار کې تر جهاد غوره وي، نو دا کسان فاسقان دي او د الهي هدايت دروازې د هغوی پرمخ ټرل شوې دي، الله ئې نه هدايتوي او له الهی هدايت محروم دي.

دا د انسان د ايمان د تللو لپاره ستر او دقيق معيار او ملاك دئ، په دې سره

هره لحظه انسان خپل ايمان سنجولی شي، هره لحظه د دې سؤال راپيدا کيږي چي آيا ته ايمان ته ترجيح ورکوې، الله ته، د هغه پيغمبر ته، او د الله په لار کي جهاد ته او که پلار، زامنو، ورونو، خپلوانو، ښځي، مال، تجارت او بنګلو ته ترجيح ورکوې؟ انسان هره شېبه د خپل ايمان په اړه د همدغه معيار او ملاك او تلي په اساس قضاوت کولی شي، د چا چي تر الله، پيغمبر او جهاد له دې شيانو سره محبت زيات وي، هغوی فاسقان دي، د الله له هدايت محروم دي، د هغوی پرمخ د هدايت دروازې تړل شوې دي.

له دې آيت په څرګنده توګه معلوميږي چي هغه څوك بايد د لارښود په توګه غوره نه کړو او د فتوی لپاره هغه ته رجوع ونه کړو چي د الله تعالی په لار کي ځې جهاد نه وي کړی، جهاد ځې تر هر څه غوره نه وي ګڼلی، د الله په لار کي ځې قرباني نه وي ورکړې او له کافرانو سره ځې د خپلوۍ او دوستۍ اړيکي نه وي شلولې. دا آيت تا ته وايي: پام کوه هغه څوك د امام، پير، مرشد، لارښود، مشر او مفتي په توګه مه نيسه چي الله تعالی، د هغه پيغمبراو د الله په لار کي جهاد د خپل ژوند تر هر څه غوره نه ګڼي او قرباني کولو ته ځې چمتو نه وي. چا چي جهاد نه دځ کړی هغه نه يوازي عالم او مرشد نه دځ بلکي د هدايت دروازې ځې پر مخ تړل شوې.

د دغه آيت په استناد پيغمبر عليه السلام فرمايي:

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ

ستاسو د يوه ايمان نه قبليږي تر څو چي زه ورته له خپل پلار، اولاد او تر ټولو خلکو محبوب نه وم.

کامل اطاعت:

پر پيغمبرانو د ايمان بله تقاضا دا ده چي د خپل فردي او اجتماعي ژوند په ټولو برخو کي به د پيغمبر اطاعت کوو، لکه چي قرآن عظيم الشأن فرمايي:

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ إِذ ظَّلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ جَآءُوكَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُواْ ٱللَّهَ تَوَّابٗا رَّحِيمٗا ٦٤ النساء:64

او هيڅ پيغمبر مو له دې پرته د بل څه لپاره نه دځ لږلی چي د الله په حکم سره

ئې اطاعت وشي او که دوی هغه وخت درته راغلي وی چې پر خپل ځان ئې ظلم کړی وو، بیا ئې له الله مغفرت غوښتی وی او پیغمبر هم ورته بخښنه غوښتې وی، نو الله به ئې مهربان توبه منونکی موندلی وو.

په دې جامع آیت کي څو ډېري ستري لارښووني شوې:

- الله تعالی خپل پیغمبران د دې لپاره رالېږي چې اطاعت ئې وشي، په دوی پسې اقتداء وشي، لارښود او مقتداء وګنل شي، دوی یوازي پیغام راوړونکي نه دي، چې خلك به ئې فقط پیغام اوري او بیا به په خپله خوښه عمل کوي، نه؛ دوی د الهي پیغام عیني تجسم وګڼئ، که غواړئ په دې پوه شئ چې الله تعالی څنګه انسان خوښوي، نو دا غوره او الله ته خوښ انسان د پیغمبر په ژبره کي وګورئ، که غواړئ پوه شئ چې د الله په دین عمل کول څنګه وي، نو په دین د عمل کولو ربښتینې بېلګه پیغمبر دئ.
- که کله کومه غلطي درنه وشوه، په کومې قضیې کي دي له پورتني اصل مخالفت وکړ او د پیغمبر اطاعت درنه پاته شو او د هغه په سنت دي عمل ونکړ، نو له الله تعالی بخښنه وغواړه، توبه وکړه، الله مهربان توبه منونکی دئ، توبه او توبه کوونکی خوښوي، نه یوازي دا چې توبه قبلوي او ګناه بخښي؛ بلکي پر توبه کوونکي مزید مهرباني هم کوي.

یعني د پیغمبر د بعثت مقصد دا دئ چې انسان به په ټول ژوند کي او د ژوند په ټولو اړخونو، ابعادو او قضایاوو کي د پیغمبر اطاعت کوي، په هغه پسې به اقتدا کوي، هغه به د ځان لپاره اسوه او قدوه ګڼي او په ټول ژوند کي به د یوه مطیع بنده په توګه د پیغمبرانو په نقش قدم درومي.

دې مطلب ته په بل آیت کي داسي اشاره شوې:

مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ حَفِيظٗا ٨٠
النساء:80

څوك چې د پیغمبر اطاعت وکړي په حقیقت کي ئې د الله اطاعت کړی او څوك چې مخ واړوي نو ته مو پردوی څارونکی نه یې لېږلی.

د پیغمبر اطاعت په حقیقت کي د الله تعالی اطاعت دئ او له ده مخالفت له الله تعالی مخالفت، ځکه پیغمبر مور ته هغه څه وایي چې د الله تعالی له لوري پرې ګمارل شوی، له ځانه حکم نه کوي، د هغه هره لارښوونه وحي ده، د پیغمبر

دنده دا ده چې د الله پيغام خلکو ته ورسوي، هغه د الله استازی دئ، نه د خلکو څارندوی، له ده دا پوښتنه نه کېږي چې ولې ئې خلك له مخالفت منع نه کړی شو، دی په دې نه دئ مکلف شوی، مکلفیت ئې دا دئ چې خلکو ته د الله دین ورسوي.

که د قرآن په آیتونو کې لږ غور وکړئ نو دا به په صراحت سره وموميئ چې کوم پیغمبر کوم قوم ته تللی او هغوی ته ئې بلنه او دعوت ورکړی؛ قرآن د دوی دعوت په دغو دوو ټکیو کې خلاصه کوي:

فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ١٠٨ الشعراء:108

له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

يعني هر پیغمبر خپل قوم ته همدا دوه خبري کړې: له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

د استهداء لپاره پیغمبر ته رجوع:

پر پیغمبر د ایمان بله تقاضا دا ده چې انسان به د استهداء، لارښووني او هدایت لپاره د پیغمبرانو دعوت ته د وروستۍ او آخري مرجع په توګه رجوع کوي، د ژوندانه د هري پېښې او هري قضیې په اړه به د پیغمبر علیه السلام د ارشاداتو په رڼا کې پرېکړه کوي، مخکې له دې چې د کوم کار په ارتباط پرېکړه وکړي، د کوم اقدام اراده وکړي، د تګ لپاره کوم لوری او استقامت انتخاب کړي، باید وګوري چې پیغمبر علیه السلام د هغه په اړه څه ویلي، کله چې د پیغمبر علیه السلام د ارشاداتو په رڼا کې ورته معلومه شوه چې صحیح لوری کوم دئ، په پوره ډاډ او اطمئنان سره به په همدغه لار درومي، نه به په خپله ښې او کیڼ لوري ته د تلو تکل کوي او نه به د بل چا وینا ته اعتناء کوي، تر پیغمبر علیه السلام رالاندې به د بل چا اطاعت په هغه صورت کې کوي چې له هغه اطاعت د الله او د پیغمبر اطاعت وي، د هغه خبره د پیغمبر له خبرې سره ورته وي، په هغې مبتنې او مستنده وي، له هیڅا به د یوه مستقل بالرأی مطاع په توګه اطاعت نه کوي، هیڅا ته به د وروستۍ مرجع په توګه رجوع نه کوي، پیغمبر به آخرینه مرجع ګڼي، قرآن همدغسې فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ

فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا ٥٩ النساء: 59

اې مؤمنانو! د الله اطاعت وکړئ او د پيغمبر او د خپلو چارواکو اطاعت وکړئ، نو که په کوم څه کي مو په خپلو کي شخړه وکړه، نو الله او پيغمبر ته ئې راجع کړئ، که پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان لرئ، دا ډېر غوره دئ او د پايلي له لحاظه ډېر ښايسته.

په دې مبارك آيت کي مسلمانانو ته حکم شوی چي له حکامو او چارواکو سره د اختلاف په صورت کي به شخړه او منازعه الله تعالی او د هغه رسول ته، يعني د الله کتاب او د پيغمبر عليه السلام سنت ته راجع کوي، له دې حکم دا حقيقت په ډاګه معلوميږي چي امير په مشوره مکلف دئ، د اختلاف په صورت کي ده ته د وروستۍ پرېکړي حق نه دئ ورکړی شوی، وروستۍ فيصله به د قرآن او سنت له مخي کيږي او همدا پر الله او د آخرت پر ورځي د ايمان تقاضا ګڼل شوې. يعني که د کومي مسئلې په اړه او د کومي قضيې په باب ستاسو په منځ کي اختلاف راپيدا شو، نو د اختلاف د حل وروستۍ مرجع به کتاب الله او سنت رسول الله ګڼئ، پيغمبر ته به رجوع کوئ، ستاسو د استهداء لپاره به وروستۍ مرجع له الله تعالی وروسته پيغمبر وي.

... وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٧ الحشر:7

پيغمبر چي تاسو ته څه درکړي هغه واخلئ او له څه ئې چي منع کړئ له هغه ډډه وکړئ او له الله ووېرېږئ، يقيناً چي الله شديد العقاب دئ.

همدا راز قرآن فرمايي:

وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمۡرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ مِنۡ أَمۡرِهِمۡۗ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلٗا مُّبِينٗا ٣٦ الاحزاب:36

او مؤمن نارينه او با ايماني ښځي ته نه ښايي چي کله الله او د هغه رسول د کوم کار فيصله وکړي بيا دي دوی ته په خپل کار کي څه اختيار وي او څوك چي له الله او د هغه له پيغمبر سرغړاوی وکړي يقيناً چي په څرګندي تېروتني سره تېروتی.

يعني د کوم څه په اړه چي د الله تعالی په کتاب او د پيغمبر عليه السلام په

سنت کي وضاحت شوی، دا به وروستی پرېکړه ګڼي، ځان ته به دا اختيار نه ورکوي چي بل څه ووايي او بله پرېکړه وکړي، بيا به چار او ناچار، له ځنډ او تأخير پرته مننه او اطاعت کوي.

حکميت:

پر پيغمبرانو د ايمان بله تقاضا دا ده چي انسان به د حکميت لپاره او د خپلو شخړو او منازعاتو د حل و فصل لپاره پيغمبر ته رجوع کوي، هغه به ستا په ټولو قضاياوو او شخړو کي حکم وي، ستا د اختلافاتو د حل و فصل وروستی مرجع به هغه څه وي چي پيغمبر راوړي، د هغه سنت، د هغه اسوه او هغه دين چي ده راوړی، لکه چي قرآن عظيم الشأن فرمايي:

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا ٦٥ النساء:65

نو نه؛ ستا په رب قسم چي تر هغه ئې ايمان نه دئ راوړی چي تا په خپلمنځيو شخړو کي حکم ونه ګرځوي، بيا ستا د پرېکړي په اړه په خپلو زړونو کي تنګوالی ونه مومي او په بشپړه توګه تسليم نشي.

په دې مبارك آيت کي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: ترهغه چي د ايمان مدعيان تا په خپلو شخړو کي حکم ونه نيسي او بيا ستا په پرېکړي راضي نشي او په خپلو زړونو کي هيڅ حرج احساس نه کړي او عملاً انقياد ونکړي، مؤمنان نشي بلل کېدی او د ايمان ادعاء ئې نشي قبلېدی. له دې آيته په ډېر وضاحت سره معلوميږي چي د ايمان د قبلېدو لاندي شرائط دي:

- شخړي او منازعات شريعت ته محول کول.
- د اسلام په هري پرېکړي رضايت.
- او هر حکم ته ئې عملاً غاړه ايښودل.
- يعني دا دري شرطونه به پوره کېږي بيا به الله تعالى د چا ايمان قبلوي، له دې پرته ئې د ايمان دعوى اعتبار نه لري.

هدف او ټګلاره د پيغمبر په متابعت کي ټاکل:

پر پيغمبرانو د ايمان بله تقاضا دا ده چي موږ به د خپل فردي او اجتماعي

ژوند په ټولو اړخونو کي (اهداف) او (اهدافو ته د رسېدلو تګلاره) د پيغمبر په دعوت او سنت کي لټوو، له خپلي خوا او په خپله خوښه به نه اهداف ټاکو او نه اهدافو ته د رسېدلو تګلاري او کړنلاري، بلکي د دواړو په اړه به د پيغمبر عليه السلام سنت او لارښوونو ته رجوع کوو.

ځيني کسان داسي دي چي که اهداف له دين اخلي نو هدف ته د رسېدو طريقه او تګلاره په خپله خوښه ټاکي، ګمان کوي چي په دې برخه کي انسان ته کاملاً آزادي ورکړی شوې او په څه قيد او شرط ملزم او مکلف نه دئ، کولی شي په خپلو خاصو ظروفو او شرائطو کي څنګه چي ځې زړه غواړي عمل وکړي او د خپل تشخيص او درک په رڼا کي چي څه کول غواړي هغه وکړي او چي کومه تګلاره غوره ګڼي اختيار ځې کړي، هر څه کول ځان ته جائز ګڼي، حال دا چي مسلمان مکلف دئ د شرعي او نېکو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره نېکي او شرعي وسيلي اختيار کړي، نه ناجائزي وسيلې او هر هغه څه چي د ده زړه ئې غواړي، قرآن فرمايي:

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ٩ الصف:9

الله هغه ذات دئ چي خپل پيغمبر ځې له هدايت او حق دين سره ولېږو چي پر ټولو اديانو ځې غالب کړي، که څه هم مشرکان کرکه ولري.

يعني د پيغمبر په لاس لېږل شوی لارښود حقيقي دين نه له نورو اديانو سره د روغي جوړي لپاره راغلی او نه د دې لپاره چي دنيا له نورو اديانو سره ووښي چي په يوه برخه ئې دا دين حاکم وي او په نورو برخو کي نور اديان، د دې لپاره هم نه دئ راغلی چي د انسان ژوند له نورو اديانو سره ووښي چي د ژوند په ځينو اړخونو دا دين حاکم وي او په نورو ابعادو کي ئې نور اديان، بلکي دا دين راغلی چي پر ټولو نورو اديانو غالب شي، که څه هم مشرک عناصر له دې کرکه ولري، مشرک عناصر يا هغه دي چي اديان سره خلطوي، څه برخه له يوه دين اخلي او څه له بل، اهداف په دين کي لټوي خو تګلاره په خپله خوښه او د خپل ذهن او تصور مطابق ټاکي، او يا هغه چي په الوهيت او ربوبيت کي له الله تعالی سره بل څوک شريکوي، که څه هم دا مشرکين له دې کرکه لري چي د الله دين دي پر ټولو اديانو غالب شي، پر ټولي نړۍ او د ژوند

پر ټولو برخو دي يوازي دا دين حاکم وي، خو د الله تعالى فيصله دا ده چې دا دين به په ټوله زمکه او په ټولو اديانو غالبوي. دې مطلب ته په بل ځای کې هم اشاره شوې:

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدٗا ٢٨ الفتح:28

الله هغه ذات دئ چې خپل پيغمبر ئې له هدايت او حق دين سره ليږلى چې پر ټولو اديانو ئې غالب کړي، او الله د شاهد په توګه کافي دئ.

يعني الله تعالى په دې خبري شهادت وركوي چې د خپل پيغمبر په لاس ليږلى دين ئې د غلبې او حاکميت لپاره ليږلى، نه له نورو اديانو سره د روغي جوړي لپاره.

د پيغمبرانو عليهم السلام د حقانيت د اثبات لپاره دا خبره کافي ده چې له آدم عليه السلام تر محمد عليه السلام پوري په زرګونو پيغمبران، کله يو له بل سره نږدې او کله ډېر سره لري، هم د زماني له پلوه او هم د ټاټوبي او مبعث له پلوه، يو د نړۍ په يوه ګوټ کې او بل ئې په بل ګوټ کې، يو په يوې پيړۍ کې او بل ئې په بلې کې مبعوث شوى، ژبې ئې هم سره بېلې؛ خو د ټولو پيغام سره ورته، ټولو د ظالمانو مقابله کړې، مظلومان ئې خوا ته راغونډ شوي، د ټولنې صالح وګړو د دوى ملګرتيا کړې او مفسدينو د دوى مخالفت ته ملا تړلې، ټولو خپلو مخاطبينو ته څو اساسي خبري کړې:

- د الله تعالى عبادت وکړئ چې له ده پرته بل معبود نشته.
- قيامت راتلونکى دئ، حساب و کتاب په مخکې لرئ، د خپلو کړو وړو سزا به حتماً ګورئ.
- د پيغمبر اطاعت وکړئ چې الله تعالى ته او دنيايي او اخروي سعادت ته د رسېدو لار همدا ده.
- هر بد کار ګناه ده، هر هغه څه درباندې حرام دي چې تا ته يا بل ته تاوان رسوي.
- له ګناه او حرام ځان وساتئ، پر خپل جائز حق قناعت وکړئ او د بل پر حق له تېرې ډډه وکړئ.

د دوى د پيغام، تګلاري او شعارونو ورته والى ښيي چې د ټولو د الهام منبع

او مرجع يوه ده، له دوی سره د ټولنې د صالح وګړو ملګرتيا او د ظالمانو، مجرمينو، جنايتکارانو او مفسدينو دښمني او مخالفت ښيي چې د الله تعالی له لوري او د انسان د ژغورنې لپاره لېږل شوي. د پيغمبرانو عليهم السلام په اړه له دې پرته بل څه ويل او بله عقيده درلودل؛ د انصاف، عدل او عقل خلاف او ظالمانه قضاوت او حکم دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

پر کتابونو ایمان
معنی،
دلائل
او غوښتنې ئې

بسم الله الرحمن الرحيم

پر کتابونو ایمان

پر کتابونو د ایمان موضوع به تر دریو عنوانو لاندي څېړو:

- پر کتاب د ایمان معنی.
- الهي لارښوونو ته د انسان اړتیا.
- او پر کتابونو د ایمان غوښتنې.

پر کتاب د ایمان معنی

د دې لپاره چې انسان خپل ځان وپېژني، په دې پوه شي چې چا پیدا کړی او د څه لپاره ئې پیدا کړی؟ په دې عالم کې د ده د پیدایښت مقصد څه دئ او مقام او منزلت ئې کوم؟ دا عالم چې د انسان د اوسېدو ځای دئ چا پیدا کړی، د څه لپاره ئې پیدا کړی؟ ساتنه او پالنه ئې څوك کوي؟ د دې عالم مآل او پای به څنګه وي؟ دلته به انسان څنګه ژوند کوي؟ د دې خور او پراخ عالم د هر جزء او هري برخې په اړه به د ده تصور څنګه وي او له هغه سره د ده رابطه څنګه؟ الله تعالی د انسان دغو پوښتنو ته د ځواب او د ده د لارښوونې لپاره د پیغمبرانو علیهم السلام په لاس خپل هدایات لېږلي، دا لړۍ له هغې ورځې پیل شوې چې الله تعالی انسان پیدا کړ، د زمانې په هر پړاو کې ئې پیغمبران لېږلي، هغوی ته ئې وحي کړې، ځینو ته ئې د مکمل کتاب په بڼه کې خپل هدایات او لارښوونې سپارلې او ځینو نورو ته محدودې لارښوونې د صحیفو په اندازه، الله تعالی خپل کتابونه رالېږلي تر څو انسان ته ښه او بد، حلال او حرام، مفید او مضر وروښیي، د هر هغه څه علم او پوهه ورکړي چې پېژندلو ته ئې اړ دئ، خو په خپل عقل او په تجربې سره د هغه پېژندل ورته ممکن نه دئ، یوازې د همدې رونې او ځلاند مشعل په رڼا کې انسان کولی شي خپل ځان

وپېژني، په خپل چاپېريال کي خواره پټ حقائق درک کړي او د خپل پالونکي رب په لوري د تلو لار وموندلی شي، دا له جهل او ناپوهی د وتلو یوازینی لار ده، دا له ظلم او بې عدالتی د ژغورني یوازینی ذریعه ده. الهي کتابونه راغلي تر څو انسان د انسان له بندګی وژغوري او هغه مقام ته ئې ورسوي چې له الله تعالی پرته ئې بل چا ته د بندګی سر ټیټ نشي او د عزت سوکاله ژوند ئې په برخه شي.

په الهي کتاب کي هر هغه څه یا په تفصیل سره او یا په ایجاز او اختصار سره څېړل شوي چې انسان په هغه پوهېدو ته ضرورت لري. څه چې په دې کتابونو کي راغلي، که هغه د حقائقو او واقعیتونو په باب څېړنه ده، که د عدالت د تأمین لپاره حدود او احکام دي، که د ښه او بد، مفید او مضر او د خیر او شر په اړه قضاوتونه دي، که د حقوقو د تثبیت لپاره معیارونه او ملاکونه دي، که له مؤمنانو سره وعدې دي، که کافرانو او ظالمانو ته وعید او انذار دئ، ټول به حق ګڼو، په هغه کي به شك نه کوو او باور به لرو چې د الله وعدې به خامخا ترسره کېږي او هیڅوك د دې کتاب د قطعي او حتمي پرېکړو د تحقق مخه نشي نیولی.

د الله په کتاب کي نه یوازي دا چې حقائق څرګند شوي، انسان ته خپل ځان او د ده چاپېریال ښودل شوی، د ده او د دې عالم د پیدایښت مقصد او مآل توضیح شوی، حدود وضع شوي، د هر چا حقوق ټاکل شوي، بلکي د بیان او څېړني تر څنګ د انسان د لارښوونې او د دې لپاره چې د دنیایي او اخروي سعادت او فلاح لوړ پوړ ته ورسېږي او د خپل پیدایښت اوچتو او لوړو اهدافو او مقاصدو ته ځان ورسوي، طریقه او تګلاره ورښودل شوې او دا دواړه په داسي توګه او داسي الفاظو بیان شوي چې انسان قانع کړي، پوښتنو ته ئې ځواب ووایي، شکوك ئې رفع کړي، د زړه او دماغ درې ئې د حق منلو ته پرانیزي، لکه چې قرآن فرمایي:

هَٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ١٣٨ آل عمران:138

دا (قرآن) د خلکو لپاره بیان (څرګندونه) او د متقیانو لپاره لارښوونه او موعظه ده.

یعني په دې کتاب کي هم څرګندوني دي او هم لارښوونې، خو په داسي

الفاظو او له داسي استدلال او نصايحو سره توأم چې انسان متأثره کوي، د بيان او څرګندوني دې اسلوب ته موعظه ويل شوي، دلته په داسي دلائلو استناد شوی چې انسان د دې کتاب په حقانيت باور وکړي او د هغه طرف ته راغب شي، يوازي دا نه چې احکام او حدود ئې ټاکلي او حقوق ئې تثبيت کړي، بلکي د هغي اجتماع او ټولني د جوړولو لارئې هم ښودلي چې بايد دغه حدود او ضوابط په کي حاکم وي او د وګړو ترمنځ ئې دا مناسبات قائم شي، نو دا کتاب هم بيان دئ، هم لارښوونه او هدايت او هم موعظه، خو د دې کتاب له مواعظو او لارښوونو يوازي پرهېزګاران او متقيان ګټه اخيستلی شي، که څه هم څرګندوني او بيان ئې د ټولو انسانانو لپاره دئ.

الله تعالی هغه مهال د انسانانو د لارښوونې لپاره نوی کتاب د نوي پيغمبر په لاس لېږلی چې يا مخکنی کتاب تحريف شوی، دين پلورونکو علماوو لاسوهنې په کي کړې، يا د حوادثو او پېښو په ترڅ کي له منځه تللی او داسي څه نه دي تر ې پاته شوي چې د انسان د هدايت لپاره کافي وي او يوه صالح ټولنه پر ې جوړه شي، په داسي حال کي چې هر نوی الهي کتاب د مخکنيو کتابونو تصديق کوي، ټول د اصولو او اساساتو له پلوه سره ورته او شبيه دي او له دې ناحيې د هغوی تر مينځ هيڅ توپير نشته، د مخکني کتاب مطالب د نوي پيغمبر او د نوي امت په ژبه بيان شوي، خو هره اجتماع او ټولنه ځانته ظروف لري، ځانته شرائط او مقتضيات لري، د دغو ظروفو په مقتضا هري ټولني ته پر اساسي لارښوونو سربېره ځيني خاصي لارښوونې متوجه شوې، دا لارښوونې له يوې اجتماع نه تر بلې، له يوې پېړۍ تر بلې فرق کوي، په کتابونو کي يوازي له دې ناحيې توپير او تفاوت شته، که نه نو د مبانيو او اساساتو له لحاظه ټول الهي اديان په بشپړه توګه يو بل ته ورته دي او د اساسي اصولو له ناحيې په دوی کي هيڅ فرق او اختلاف نشته. خو هر کله چې کوم نوی کتاب نازل شوی په داسي حال کي چې د مخکني کتاب د ټولو مطالبو تصديق کوي، خو په هغه د عمل کولو لړۍ پای ته رسوي، د هر نوي کتاب له راتلو وروسته خلك په دې مکلف شوي چې يوازي به په دغه کتاب عمل کوي، په داسي حال کي چې په تېر کتاب به ايمان لري، د هغه په حقانيت به باور لري، هغه به د الله جل جلاله له لوري ګڼي، په دې به ئې باور وي چې تېر کتابونه حق دي، خو خپل ژوند به د نوي الهي کتاب له غوښتنو او لارښوونو سره سم برابروي.

قرآن تر ټولو جامع کتاب دئ، په هغه کي ټول مخکني کتابونه راخلاصه شوي، په دې کتاب سره ټول مخکني کتابونه منسوخ شوي، اوس د ټولو الهي اديانو پلويان مکلف دي چې يوازي به د قرآن متابعت کوي، تر قيامته پوري به دا کتاب د دوی لارښود او دستور العمل وي.

په اختصار سره پر کتاب باندي د ايمان معنی دا ده چې:

- الهي کتاب به د ژوند د ټولو برخو لپاره د يوازيني لارښود په توګه نيسو، ښه او بد، مفيد او مضر، دوست او دښمن، صحيح او غلط، روا او ناروا به د الهي کتاب په رڼا کي ټاکو.
- په ټولو لارښوونو او احکامو به ځې عمل کوو، خپل مشاجرات او شخړي به دې کتاب ته راجع کوو او پرېکړو ته به ځې غاړه ږدو، که دا مشاجرات حقوقي ښه ولري، د فکري او اعتقادي مسائلو په ارتباط وي، يا سياسي او اجتماعي قضايا وي او مالي او اقتصادي جړي ولري.

الهي لارښوونو ته د انسان اړتيا:

بايد په دې پوه شو چې الله تعالی ولي د انسان د لارښووني لپاره کتاب رالېږلی؟ آيا انسان نشي کولی د نورو ژوو په څېر د خپل عقل او شعور په رڼا کي ژوند وکړي، ښه او بد، مفيد او مضر تشخيص کړي؟ آيا هغه داسي پيدا شوی چې الهي لارښوونو ته د يوه لارښود کتاب په ښه کي ضرورت لري، له دې پرته او يوازي د خپل عقل او شعور په مرسته نشي کولی هغه لار ومومي چې هدف ته ځې رسوي او هغه ژوند ورپه برخه کړي چې ورسره ښايي او د ده انساني فطرت ځې غوښتنه کوي؟

که ځان ته او خپل ماحول ته لږ ځير شو نو د انسان او نورو ژوو تر منځ دا توپير ډېر ژر زموږ مخي ته راځي چې نور ژوي او حيوانات داسي پيدا شوي چې په فطري توګه د دوی لارښوونه شوې، په دې پوهېږي چې څه وکړي او څه ونه کړي، څه وخوري او څه ونه خوري، د حيوان بچی د پيدا کېدو له لومړۍ ورځي په دې پوهېږي چې کوم بوټی وخوري او له کوم يوه ډډه وکړي، د دوی په فطرت کي دا پوهه اېښودل شوې چې مضر او مفيد خوراك تشخيص کړي، خو انسان ته بايد وويل شي چې دا خوراك درته ګټور دئ او دا مضر، دا

کار صحیح دئ او دا غلط، د عالم په ټولو ژوو کي یوازي انسان داسي پیدا شوی چي مجبور دئ د مفید او مضر خوراك په اړه له بله معلومات ترلاسه کړي، نور ژوي داسي پیدا شوي چي د پیدایښت له لومړیو شیبو په دې پوهیږي چي کوم څه وخوري او کوم څه نه، په دماغ کي ئې د مضر او ګټور بوټي او دانې د تشخیص استعداد اېښودل شوی، د دغه استعداد په مرسته د پیدایښت له لومړۍ ورځي سم او ناسم خوراك معلومولی شي، د غرځه بچی، وری، سپرلی، وزګوړی، سخوندر، جونګی او ټول نور ژوي او بچیان ئې هغه بوټي نه په خوله کوي چي ورته مضر وي، خو د انسان بچی ډېره، خاوره، سکروټه او هر څه په خوله کوي، تر اوږدې مودې ئې باید مور سمبال کړي او د تاواني شیانو له خوړلو ئې وساتي، تل باید ورته ووایي: مه مه، کیخ، باو، تو کړه، مه خوره،.. قرآن په جنت کي د آدم علیه السلام د ځای په ځای کېدو او د ممنوعه شجرې په یادولو سره دغي اساسي او مهمي خبري ته اشاره کړې او په دې سره ئې مور ته لارښوونه کړې چي انسان د مفید او مضر په پېژندو کي الهي لارښووني ته اړ دئ.

دا مطلب د قرآن په یوه بل آیت کي په ډېره دقیقه توګه څېړل شوی، هلته چي فرمایي:

إِنَّا عَرَضْنَا ٱلْأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱلْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا ٱلْإِنسَٰنُ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ٧٢ الاحزاب:72

یقیناً چي مور دا امانت آسمانونو، زمکي او غرونو ته وړاندي کړ خو هغوی له دې ډډه وکړه چي حمل ئې کړي (په غاړه ئې واخلي او قبول ئې کړي) او (له سترواليِ او عظمت ئې) ووېرېدل او انسان حمل کړ، (دا امانت ئې په غاړه واخیست) یقیناً چي هغه ډېر ظالم او ډېر نا پوه او جاهل وو. تر څو منافقین او منافقاني، مشرکین او مشرکاني تعذیب کړي او پر نارینه او ښځینه مؤمنانو (په خپل رحمت سره) رجوع وکړي (د دوی توبه قبوله کړي)، او یقیناً چي الله مهربان بخښونکی دئ.

دا مبارك آیتونه چي په حقیقت کي یو آیت دئ او د احزاب سورې جامع تتمه او خلاصه زمور په وړاندي ږدي څو اساسي مطالب افاده کوي:

- د آیت په لومړۍ برخي کي الهي کتاب د امانت په نامه یاد شوی او ویل

شوي چي دا امانت آسمانونو، زمکي او غرونو ته وړاندي شو خو هغوی ئې له قبلولو ډډه وکړه، باید وګورو چي د دې معنی څه ده؟ آیا معنی ئې دا ده چي دوی د الله تعالی له حکمه سرغړاوی وکړ؟ او که دا چي دوی داسي لاربنود کتاب ته ضرورت نه درلود؟ آیا معنی ئې انکاري اجتناب دئ که په فطري توګه او د عدم ضرورت او عدم اهلیت له کبله اجتناب؟ دې پوښتني ته قرآن په خپله ځواب وایي، د قرآن نور آیتونه موږ ته دا حقیقت بیانوي چي د آسمانونو او زمکي هر څه ته په فطري توګه لاربنوونه شوې، هر څه همغه کار کوي چي الله تعالی پرې ګمارلی، د زمکي او آسمانونو هر څه طوعاً او کرهاً الله تعالی ته منقاد دي او د هغه اوامرو ته غاړه ږدي، د دغو آیتونو په رڼا کي وایو چي د آسمانونو، زمکي او غرونو ډډه کول هیڅکله د الله تعالی له امره د سرغړاوي، عصیان او عدم اطاعت په معنی نه دي، ځکه قرآن فرمایي:

أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ٨٣ آل عمران: 83

آیا (دا کافران) د الله له دین پرته (بل دین) لټوي، حال دا چي د آسمانونو او زمکي هرڅه طوعاً اوکرهاً (په خوښه او ناخوښه) ده ته غاړه اېښې او د ده لوري ته ورګرځول کېږي.

یعني د زمکي او آسمان هر څه الله ته تسلیم دي، د ټولو دین اسلام دئ، هغه څه کوي چي الله پرې ګمارلي، په همغه لار درومي چي الله ورته ټاکلې، لمر، سپوږمۍ، ستوري په خپل خپل مدار کي خوځي، په خپل خپل وخت او له خپل خپل ځای راخېژي او پرېږدي، ونې، بوټي او حیوانات د خپل فطرت مطابق په خپل کار لګیا دي، په ټولو مخلوقاتو کي یوازي کافر او عاصي انسان دئ چي د الله له دین پرته د بل څه په لټه کي شي، هم د الله د دین په نسبت کافر شي او هم د خپل فطرت په نسبت، دی ستر باغي دئ، له هغه دین ئې بغاوت کړی چي د زمکي او د آسمانونو د هر څه دین دئ.

له دې آیتونو په څرګنده معلومېږي چي د زمکي، آسمانونو او غرونو د اجتناب او اعراض مفهوم دا نه دئ چي ګواکي د الله له امره ئې عصیان او سرغړونه کړې، د قرآن عظیم الشأن د نورو آیتونو په رڼا کي معلومېږي چي الله جل شأنه د زمکي او د آسمانونو هر څه ته د هغوی د فطرت او طبیعت سره سم وحي کړې، هر یوه ته ئې خپله خپله لار ښودلې، هغوی خپل مسیر پېژني،

په کوم څه چې ګمارل شوي او کومه وظيفه چې ورکړی شوې هغه ترسره کوي، د کوم هدف لپاره چې پيدا شوي د هغه د تحقق هڅه کوي، نو د دې لپاره چې دوی ته ښله وحي شوې، خپله لار ئې پېژندلې، په رښا کې خوځېږي، په خپل مسير پوهېږي او له بلې خوا دا انسان ته لېږل شوی امانت، د دغو شيانو له طبيعت سره متناسب نه وو، په دې خاطر هغوی د دې له منلو اجتناب وکړ، دا داسي وګڼئ لکه د چا چې موټر څراغونه ولري، خو په دې خاطر چې رښا او ورځ وي د موټر د څراغونو له بلولو اجتناب کوي، په رښا کې څوك څراغ نه بلوي، د دغو شيانو اجتناب هم دغسي وګڼئ، دوی په رښا کې دي، هغوی ته وحي شوې، هغوی خپله لار پېژني، بلې رښا ته ضرورت نه لري، دا د هغوی له طبيعت او فطرت سره جوړښت نه خوري او د دوی لپاره مناسب نه دئ، له دې امله له هغه ډډه کوي، خو په دې مبارك آيت کې دې ته هم اشاره شوې چې د دې امانت، عظمت، لوړوالی او سترواليدومره دئ چې حتی آسمانونو، زمکي او غرونو هم د هغه له حملولو وېره وکړه، دا دومره ستر امانت دئ چې هغوی د ده له حمل ځان عاجز وګڼلو، خو همدا امانت انسان حمل کړ.

د دې آيت د وروستۍ برخي په اړه د مفسرينو ترمنځ ډېر اختلاف رأی ليدل کېږي، په دې کې دومره مختلف آراء وړاندي شوي چې انسان په حيرت کې اچوي او کله کله خو همدا متعدد او مختلف آراء هر ابتدائي لوستونکی په شك او تشويش کې غورځوي او حقيقت پرې مغشوشوي، خو د دې ساده او بسيط مطلب دا دئ:

وَحَمَلَهَا ٱلۡإِنسَٰنُۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومٗا جَهُولٗا: او انسان حمل کړ (له دې کبله چې) يقيناً هغه ډېر ظالم او ډېر جاهل او ناپوه وو. يعني په آسمانونو او زمکي کي يوازي انسان داسي څوك وو چې د (ظلم) او (جهل) له تيارې دنيا د وتلو لپاره ئې دغسي يوې رښا ته ضرورت وو، هغه له دې پرته په خپلو قضاوتونو کي (ډېر ظالم) او د ځان او جهان په پېژندو کي (ډېر جاهل) وو، يوه (معيار او ملاك) او يوه (څراغ او رښا) ته اړ وو، ځکه ئې دا الهي امانت قبول کړ.

د دې لپاره چې انسان په خپل قضاوت او له نورو سره په خپل چلن او معاملې کي له ظلم او تېري ځان وژغوري، د عدل يوه ملاك او معيار ته ئې ضرورت درلود، د همدې لپاره ئې دا کتاب قبول کړ، له انسان پرته نور مخلوقات له دې بې نياز ول، هر يوه ته ښله ښله لارښوونه شوې، خو انسان د

عدل لپاره يوه معيار ته اړ او محتاج وو، غوښتل ئې داسي ملاك او معيار ترلاسه کړي چې (عدل) له (ظلم) تفکيك کړی شي، د دې لپاره چې له ظلم وژغورل شي يوې تلې، معيار او ملاك ته محتاج وو، نو ځکه ئې دا الهي امانت قبول کړ، همدا راز هغه ډېر ناپوه او جهول وو، نه ئې ځان پېژندلی شو او نه دا عالم، هر څه ورته مجهول وو، نور او رڼا ته محتاج وو، هغه څه ته ئې ضرورت درلود چې ده ته خپل ځان او دا عالم او کائنات وروپېژني، هغه دا الهي امانت د دې لپاره قبول کړ چې هغه د ناپوهۍ په تيارو کې وو، يوه داسي رونړ څراغ ته اړ وو چې له تيارو ئې وباسي، نو ځکه ئې دا امانت حمل کړ، خو آسمانونو، زمکې او غرونو د دې لپاره حمل نه کړ چې هغوی خپله لاره پېژندله، هغوی ته خپل خپل مسير ټاکل شوی، هغوی ته د خپل طبيعت او فطرت سره سم وحي او لارښوونه شوې.

حقيقت دا دئ چې انسان نشي کولی يوازي د خپل عقل په مرسته او د تجربو له لاري ټول مفيد او مضر شيان تشخيص کړي او د ژوند داسي تګلاره ځان ته غوره کړي چې د ده له فطرت سره ښايي، دې هدف ته د رسېدو لپاره يوازي په خپل عقل، شعور، پوهې او تجربې اکتفاء نشي کولی، داسي تګلاره يوازي په هغه صورت کې ځان ته ټاکلی شي چې د خپل ځان او د دې پراخ عالم په اړه بشپړ او کامل علم ولري، که څوك وغواړي د انساني ژوند د ښه تنظيم لپاره قوانين وضع کړي او داسي ژوند ته د رسېدو لپاره ده ته تګلاره وټاکي، هغه بايد په دغو دواړو برخو کې بشپړ او کامل علم ولري، د انسان لپاره د تګلاري ټاکل په دغو دواړو برخو کې داسي بشپړي پوهې او علم ته ضرورت لري چې په رڼا کې ئې هم د انسان د فطري جوړښت او د هغه د نفس ټول مادي او معنوي ابعاد تشخيص کړی شي او هم د دې پراخ او پېچلي عالم له ټولو اجزاوو سره د ده د اړيکو څرنګوالی وروښيي، سره له دې چې انسان د عالم د پېژندو په اړه ډېر پرمختګ کړی، د پرون ورځې ډېرې مجهولې برخې نن ورته څرګندې شوې، خو دا علم ئې له ضروري حده ډېر محدود او ناقص دئ او د دې لپاره قطعاً کافي نه دئ چې ده ته د يوه صالح او سالم ژوند صحيح لار وروښيي، هغه الهي لارښوونو ته اړ دئ او له دې پرته بله چاره نه لري. انسان ته د خپل نفس يوازي د محدودي برخې پېژندل ممکن دي او تر يوه حده خپل ماحول پېژندلی شي، خو د خپل نفس او د ټول عالم او د عالم په اړه کامل

او جامع علم؛ د انسان له وس او توان بهر دئ، دا ځکه چې د هغه عمر محدود دئ او دا عالم ډېر خور، وسیع، پراخ او بې انتهاء، هغه په دې محدود عمر کې نه خپل ځان په بشپړه توګه پېژندلی شي او نه دا خور عالم او هستي، د دې عالم وسعت او پراخوالی او د ده د استعدادونو ضعف او محدودیت، د دې ټول عالم پېژندګلوي هغه ته محال کړې ده، انسان ته امکان نه لري چې دا ټوله هستي وپېژني، د دې عالم یوه برخه خو د انسان تر تجربې لاندې راځي او هغه ئې پېژندلی شي او کېدی شي دا تجارب له یوه نسله بل ته انتقال شي او په دې توګه ورو ورو د انسان علم وسیع شي، خو په دې عالم او د ده په خپل نفس کې داسې مجهولي برخې شته چې لږ تر لږه دومره ویلی شو چې تر ننه پورې انسان نه دئ توانېدلی چې هغه وپېژني، دا عالم دومره خور او پراخ دئ چې د ځینو ستورو نور ئې د سرعت او لرې والي په وجه زمکې ته نشي رسېدلی او ځینې نور ئې داسې دي چې په زرهاوو نورې کلونو ته ضرورت لري چې نور ئې زمکې ته راورسېږي. ساینسي علوم دا عالم او کائنات بې انتهاء ګڼي، یعني دا چې دا عالم پای او انتهاء نه لري، تر اوسه په دې نه دئ توانېدلی چې د ستورو او ستورلیکو (کهکشانونو) شمېر ئې دقیقاً معلوم کړي، د زمکې د سر او منځ د ډېرو برخو په اړه دقیق او بشپړ معلومات نه لري او د خپل ذات په اړه هم د انسان علم دېر محدود دئ، حتی د انسان د فزیولوژي او جسمي جوړښت ګڼ شمېر برخي ورته مجهولي دي، تر نن پورې علم د انسان د مغز شاوخوا 25% کارونو او وظائفو باندې څه ناڅه پوهېږي، خو متباقی برخي ئې ورته مجهولي دي، نه پوهېږي چې دا څه کار کوي او د څه لپاره پیدا شوي؟ تر اوسه خو علم لا د انسان د دماغ پنځه او یا په سلو کې 75% نه پېژني، څه دا چې د هغه د روحي جوړښت په نسبت د څه ویلو جرأت وکړي.

په داسې حال کې چې انسان مجهول دئ او هغه تر اوسه پورې نه دئ توانېدلی چې خپل ځان وپېژني او دا عالم او هستي هومره وسیع او پراخه ده چې انسان ئې بې انتهاء ګڼي، تر اوسه د هغه پای او نهایت ورته معلوم نه دئ، د هغه ټول اجزاء او توکي خو پرېږده، له دې محدود علم سره انسان څنګه کولی شي د ځان لپاره تګلاره، قواعد او ضوابط وضع کړي؟ حال دا چې د هر مادي توکي او عنصر په اړه قوانین او ضوابط هلته وضع کېدلی شي چې هم د هغه د فزیکي خصوصیاتو په نسبت پوره علم په واک کې ولرو او هم ئې د

کیمیاوي خصوصیاتو په نسبت، په دغو خصوصیاتو له پوهېدو وروسته موږ وایو چې دا له کومو کومو عناصرو سره تعامل کولی شي او څه ترې جوړېدی شي او له کومو سره ئې تعامل محال او ناممکن دئ. اول باید د هغه په اتومي جوړښت او فزیکي خواصو پوه شو، د هغه کیمیاوي خصوصیات درك کړو او په دې پوه شو چې له کومو عناصرو سره تعامل کولی شي او له کومو سره نه، له دې وروسته د نوموړي عنصر په اړه قواعد او ضوابط وضع کولی شو، نه له دې مخکې.

کله چې د انسان لپاره دین، د ژوند تګلاره او قوانین وضع کېږي، نو لومړی باید په خپله انسان وپېژندل شي او د هغه په اړه کامل علم حاصل شي او بیا د هغه د ټول ماحول په اړه جامع او کامل علم ترلاسه شي، له دې وروسته د انسان لپاره قواعد او ضوابط وضع کېدلی شي، خو دا کار انسان ته ممکن نه دئ، د همدې لپاره الله جل شأنه په خپله د دې انتظام کړی، پیغمبران ئې مبعوث کړي، هغوی ته ئې وحي کړې، د انسان د لارښوونې او هدایت لپاره ئې کتاب لېږلی، هغه ته ئې د ژوند ضابطه وضع کړې او هغه ته ئې حدود ټاکلي.

قرآن د انسان دغه نقص او کمښت ته ګوته نیسي او وایي: که ده ته د میراث د وېش په څېر د خپل اجتماعي ژوند د یوې عادي قضیې پرېکړه وسپارل شي د کوم بنسټ له مخې به عادلانه پرېکړه کوي، د پلار او زوی ترمنځ به چا ته ترجیح ورکوي، د چا برخه به زیاته او د چا لږ ټاکي، که ده ته وویل شي چې میراث دي په نږدې خپلوانو ووېشه، وویاست چې پلار به ډېر نږدې ګڼي که زامن، د کوم یوه برخه به تر بل زیاته ټاکي؟ قرآن په دې اړه فرمایي:

... ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ لَا تَدۡرُونَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ لَكُمۡ نَفۡعٗاۚ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ١١ النساء:11

... نه پوهېږئ چې کوم یو به ئې په نفع کې تاسو ته نږدې وي، پلرونه مو که زامن مو؟ دا الهي فریضه ده، بې شکه چې الله ډېر باحکمته پوه دئ.

دلته وېل شوي: که دا د میراث وېش ستاسو خپلې خوښې ته پرېښودی شي، پخپله د هر یوه برخه وټاکئ، نو وویئ چې د هر یوه برخه به څنګه ټاکئ؟ د برخو په ټاکلو کې به کوم څه د ملاك او معیار په توګه غوره کوئ؟ نږدېوالی که ګټه او منفعت؟ پلار ډېر درنږدې او ګټور دئ که زوی؟ د کوم برخه به

زیاته غوره کوئ او د کوم لږ؟ تاسو ته ممکن نه ده چې په دې اړه حکیمانه او عالمانه پرېکړه وکړی شئ. دا برخې د هغه الله له لورې ټاکل شوې چې هم ښه پوه دئ او هم د حکمت خاوند، هره پرېکړه ئې حکیمانه او په علم ولاړه پرېکړه ده.

که انسان ته په خپلو نړۍ خپلوانو د میراث د وېشلو عادي مسئله پرېښودی شي وواياست چې د هر یوه حقوق به څنګه ټاکي؟ کوم ته به څومره برخه ورکوي؟ د پلار او زامنو حقوق به د کوم معیار له مخې ټاکي؟ که ده ته حتی دا هم ګرانه وي چې په خپل نړۍ ماحول کې، د خپلو نړۍ خپلوانو حقوق وټاکي، نو د ژوند په نورو پېچلو برخو کې به څنګه تصرف کوي او ځان ته به عادلانه او حکیمانه تګلاره غوره کوي؟!!

له دې علاوه مور ګورو چې انسان په دې عالم کې د یوه داسي امتیازي مخلوق حیثیت لري چې د عالم هر څه د ده په خدمت کې او ده ته مسخر شوي، د قرآن په اصطلاح انسان د زمکې خلیفه دئ، هغه په دې عالم کې د الله د خلیفه په توګه تصرف کوي، دا تصرف جامع او کلي علم ته ضرورت لري، جامع او کلي علم انسان ته ممکن نه دئ، په دې خاطر الله جل شانه په خپله انسان ته د دې انتظام کوي چې هغه په پوره بصیرت سره په دې عالم کې تصرف وکولی شي، الله جل شأنه هغه ته د جامع علم انتظام کړی او د ده د لارښوونې لپاره ئې کتاب رالېږلی. قرآن دغه مطلب په دې توګه زمور مخې ته ږدي چې وایي: د انسان لپاره د دین ټاکل او د حدودو او ضوابطو وضع کول د هغه ذات کار دئ چې هم د ټول عالم په اړه جامع او بشپړ علم لري او هم په خپله د انسان د طبیعت په اړه کامل علم، په همدې ارتباط فرمایي چې الهي کتابونه د هغه الله له لورې لېږل شوي چې په زمکه او آسمانونو کې هیڅ شی تر ې پټ نه دئ او تاسو ئې پیدا کړي یئ.

د آل عمران په سورې کې د تورات، انجیل او فرقان د نزول له یادوني وروسته فرمایي:

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخۡفَىٰ عَلَيۡهِ شَيۡءٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ٥ هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ كَيۡفَ يَشَآءُۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٦ آل عمران:5-6

یقیناً چې په الله باندې هیڅ څه نه شي پټېدی، نه په زمکې کې څه او نه په آسمان

کي څه. دی خو همغه ذات دئ چي تاسو ته د (میندو) په رحم کي هغسي صورت او شکل درکوي چي دی ئې غواړي، پرته له ده چي عزیز او حکیم دئ بل معبود نشته.

دلته د کتاب په اړه څو ډېري اساسي او بنیادي خبري شوې چي په مطلب ئې پوهېدل لږ غور او دقت غواړي:

- هغه څوك کولی شي د انسان لپاره قانون وضع کړي چي هم د انسان د خلقت، جوړښت او فطرت له ټولو زوایاوو او د ده له ټولو فطري اړتیاوو خبر وي او هم د انسان د ماحول په ټولو هغو شیانو پوه وي چي دی ئې احاطه کړی او دی ورسره په یوه او بله بڼه کي څه تعلق لري. هم انسان پېژني او هم د انسان په مېشت ځای کي هرڅه پېژني، په دې پوه وي چي انسان څه ته ضرورت لري، څه ورته ګټور دي او څه تاواني. په قانون کي به انسان ته ویل کېږي چي څه کول ورته جائز دي او څه ناجائز، د کوم څه خوړل ورته روا دي او کوم څه ناروا، د روا، ناروا، جائز او ناجائز او مفید او مضر پرېکړه هغه څوك کولی شي چي هم د انسان له طبیعت دقیقاً خبر وي او هم په زمکي کي د ټولو موجودو شیانو له ماهیت خبر وي او په دې پوه وي چي کوم څه انسان ته څه تاوان رسولی شي. قانون په حقیقت کي یو کشف دئ نه اختراع، قانون جوړوونکی قانون کشفوي، له خپل ځان او په خپل سر ئې نه شي جوړولی، د انسان لپاره قانون وضع کول داسي دي لکه یو فزیك پوه، کیمیا پوه او د ساینس عالم چي د یوه عنصر په اړه وایي: د دې عنصر فزیکي او کیمیاوي خواص دا دي، د حرارت او برق د انتقال توان ئې دومره دئ، د حرارت په کومه درجه کي سوزي، له فلاني فلاني عنصر سره ئې ترکیب ممکن دئ او له هر یوه سره ئې د ترکیب فورمول دا دئ. د دې عنصر په اړه چي دوی څه ویلي دا ټول ئې د تحقیقاتو او تجاربو په ترڅ کي موندلي، دا هر څه کشف دي نه اختراع، کشف یعني د څېړني په ترڅ کي موندل او اختراع یعني په خپله نوی شی جوړول، دوی په خپل سر او په خپلي خوښي څه نه دي وضع کړي، بلکي شته او حاکم قوانین ئې کشف کړي او په خاصو الفاظو سره ئې بیان کړي. د ساینس ټول فورمولونه په حقیقت کي په طبیعت حاکم قوانین دي چي ساینس پوهانو کشف کړي، د انسان لپاره قوانین هم باید همداسي کشف شي، د دې لپاره (انسانپوه) ته ضرورت دئ، نه یوازي انسانپوه ته بلکي

(طبیعتپوه) ته هم، هغه چا ته چې هم د انسان په اړه دقیق علم ولري او هم د ده د ټول ماحول په اړه.

- که د یوه ساده عنصر په اړه د نړۍ هیڅ فزیك پوه او د ساینس هیڅ عالم دا جرأت نه شي کولی چې له ځانه قانون وضع کړي او هره خبره ئې د کشف نتیجه وي، نو د انسان لپاره قانون جوړوونکي څنګه جرأت کوي چې په داسي حال کي د ده لپاره قانون جوړوي چې تر اوسه خو لا د انسان د جسمي جوړښت له ډېرو پیچلو برخو خبر نه دي، روحي جوړښت خو ئې پرېږده، روحي جوړښت خو ئې هومره پیچلی دئ چې دا برخه لا تراوسه اصلاً د ده تر بحث لاندي نه ده راغلې او په دې اړه څه ویل ورته ممکن نه دي، دا برخه په لابراتوار کي د میکروسکوب لاندي هم نه شي نیولی. الکسیس کارل د شلمي پېړۍ یو معروف غربي عالم په خپل کتاب (انسان یو ناپېژانده موجود) کي لیکي: زه له نن ورځي د خپل ژوند ترپایه د انسان په اړه هومره سؤالونه یو په بل پسي کولی شم چې علم ئې له ځواب ویلو عاجز دئ او ډېر سؤالونه داسي چې ساینس ئې هیڅکله ځواب نه شي ویلی!
- په دغو مبارکو آیتونو کي دغه حقیقت ته اشاره شوې، کوم ذات چې تاسو ته کتاب رالېږلی هغه ته هم د زمکي او آسمانونو ټول پټ اسرار معلوم دي او هم ستاسو د وجود له ټولو اسرارو خبر دئ، تاسو خو هغه پیدا کړي یئ، دی ستاسو د صورت او جوړښت خالق دئ، ستاسو د روحي او جسمي جوړښت له ټولو زوایاوو خبر دئ.

په دې بحث پسي متصل بیا د کتاب په اړه فرمایي:

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۡهُ ءَايَٰتٞ مُّحۡكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ وَأُخَرُ مُتَشَٰبِهَٰتٞۖ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٞ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُۗ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ رَبِّنَاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ۷ آل عمران:7

الله هغه ذات دئ چې دا کتاب ئې پرتا باندي نازل کړ، چې ځیني آیتونه ئې مُحکم دي، چې دا د کتاب بنسټ دئ او نور ئې متشابه دي، نو هغه کسان چې په زړونو کي ئې کوږوالی دئ په متشابه پسي ئې درومي، د فتنې په لټه کي او د تأویل په لټه کي، په داسي حال کي چې په تأویل ئې له الله پرته هیڅوك نه پوهیږي او هغه چې د راسخ علم خاوندان دي وایي: مونږ ایمان پرې راوړی،

ټول زمونږ د رب له لوري دي او پند نه اخلي مګر د عقل خاوندان.

دا مبارك آيت څو مهم مطالب زمونږ مخي ته ږدي:

- د الله کتاب دوه برخي او دوه ډوله آيتونه لري: ځيني ئې هغه دي چې د څرګندو او انسان ته د معلومو شيانو په اړه ئې بحث کړی او ځيني هغه چې د انسان له سترګو د پټو شيانو په اړه څرګندوني لري. لومړي ډول ته (مُحکم آيتونه) او دوهم ډول ته ئې (متشابهات) ويل شوي.
- محکم آيتونه هغه دي چې هم ئې د بحث موضوع څرګند شيان دي او هم ئې الفاظ هغه دي چې انسان ئې د همدغو شيانو لپاره کاروي.
- متشابه آيتونه ئې هغه دي چې په هغوی کي د تشبيه له فن استفاده شوې، د بحث موضوع ئې د انسان له سترګو پټ شيان دي او د دغو شيانو د معرفي لپاره داسي الفاظ کارول شوي چې په اصل کي د نورو شيانو لپاره وضع شوي.
- د کتاب اصلي او اساسي مطالب په هغو آيتونو کي راغلي چې محکم دي او تشبيه نه ده په کي کارول شوې.
- متشابه آيتونه چې په مفهوم ئې پوهېدل غور او دقت غواړي بايد همدې محکمو آيتونو ته راجع شي او د همدې آيتونو په رڼا کي تفسير او توضيح شي، دا ځکه چې د کتاب (ام)، اصل او محور همدا محکم آيتونه دي.
- هغه کسان چې په زړونو کي ئې خيري او کوږوالی وي، د دې په ځای چې د متشابه آيتونو په مراد باندي ايمان کافي وګڼي، برعکس د دې آيتونو په تأويل د پوهېدو هڅه او لټه کوي او غواړي له هغه د بحث او تحقيق موضوع جوړه کړي.
- هغه کسان چې غواړي دغه ډول آيتونه د مناقشې او بحث موضوع وګرځوي، هغوی په حقيقت کي يا د فتنو راولاړول غواړي، د دې هڅه کوي چې د خلکو په زړونو کي شکوك او شبهات راولاړ کړي او توجه ئې له محکمو آيتونو بل لور ته واړوي او يا دا چې غواړي د متشابهاتو په تأويل ځان پوه کړي. د تأويل لغوي معنی اول يا اصل ته اړول دي، تأويل يعني په متشابه آيت کي د تشبيه شوي څيز په کُنه او ماهيت باندي ځان پوهول، ګويا دوی غواړي په دې پوه شي چې د دې متشابه اصلي او اولنی حالت او کيفيت څنګه دئ؟!
- دا هلي ځلي او دا هڅه او هاند د هغه چا کار دئ چې زړه ئې کوږ او

خيرن وي، پر زړه او دماغ ئې شکونو سيوری غوړولی وي.

- د متشابهاتو د تأويل علم يوازي له الله تعالی سره دئ، بل هيڅوك نه شي کولی په هغه باندي پوه شي، ځکه الله تعالی هغه غيبي او له سترګو پټ شيان چي انسان ئې نه پېژني او نه په خپل قاموس کي ورته نوم لري، د انسان د ښې پوهي په خاطر له محسوسو او پېژندل شوو شيانو سره تشبيه کړي او په داسي الفاظو سره ئې معرفي کړي دي چي په حقيقت کي د ښکاره او څرګندو شيانو لپاره استعمالېږي، د دې لپاره چي هغه د انسان لپاره د فهم وړ وګرځوي او د هغه څيز د حقيقت په اړه نسبي فهم ورته حاصل شي. د دې مطلب دا شو چي د دغو شيانو د معرفي لپاره ترممکنه حده او تر هغه ځايه چي د انسان عقل ته مقدور ده اهتمام شوی او د متشابه آيتونو په ترڅ کي معرفي شوي، د انسان د عقل نيلي له دې آخوا وړاندي نه شي تلی، دا د ده د الوت وروستی پړاو دئ، آخوا ته ئې لاس نه رسېږي، د ده له عقل او ادراك لوړ دي، الله تعالی د همدې ډول شيانو د معرفي کولو لپاره ښه لازمه څرګندونه کړې ده او د انسان د عقلي قوت مطابق وضاحت ئې کړی دئ، خو له دې آخوا د انسان عقل د مخکي تګ مجال نه لري، بايد همدلته ودرېږي او د متشابهاتو له تأويل ځان وساتي. د انسان د عقل او پوهي قصور، د حواسو او مشاعرو محدوديت ئې او د ژبې او قاموس عدم جامعيت ئې باعث شوي چي له مخکي تګ نه عاجز شي او د متشابهاتو په حقيقت تر دې زيات پوه نه شي.

تر دې آيت وړاندي په مخکنيو دوو آيتونو کي وضاحت شوی وو چي د انسان لپاره (لارښود) او (فرقان) کتاب هغه الله رالېږلی چي د (آفاق) او (انفس) په ټولو اسرارو او خفاياوو خبر دئ، يعني په دې کتاب کي هم د زمکي او آسمان د ډېرو هغو شيانو په اړه بحث شوی چي د انسان له سترګو پټ دي او هم په خپله د انسان په اړه. انسان په خپل قاموس کي يوازي د هغو شيانو لپاره نومونه لري چي ده په خپلو سترګو ليدلي او پېژني ئې، هغه څه چي د ده له سترګو پټ دي د هغه لپاره نه نوم لري او نه ئې د معرفي کولو لپاره الفاظ، نو الله تعالی به هغه ته دا شيان څنګه او په کومو الفاظو معرفي کوي؟ د الله په کتاب کي به د دې غيبي شيانو د معرفي کولو لپاره کوم اسلوب کارول کېږي؟ دغه سؤال ته په دې مبارك آيت کي ځواب ويل شوی.

که په قرآنکريم کي لږ غور او دقت وکړو نو دا به راته په ډاګه شي چي د

قرآنکریم د بحث او څېړنې دوه اساسي محورونه دي، یو شمېر ئې په هغو قضایاوو پورې اړه لري چې د انسان لپاره مشهود، څرګند او ښکاره دي او په انساني قاموس کې ورته صریح او څرګند الفاظ شته، لکه لمر، سپوږمۍ، آسمان، زمکه، غر، انسان او نور، دوهمه برخه ئې له داسي شیانو سره تړاو لري چې له نظره پټ او غایب دي او انسان په خپل قاموس کې داسي کلمات او لغات نه لري چې د هغوی د معرفي کولو لپاره ئې وکاروي. د دې غیبي شیانو د پېژندلو او معرفي کولو لپاره لابد باید هغه الفاظ وکارول شي چې په اصل کې د ملموسو او ښکاره شیانو لپاره وضع شوي دي او ناچار باید د تشبیه له فن کار واخیستل شي ترڅو د دې غیبي څیزونو داسي انځور وړاندې کړی شي چې حقیقت ته نږدې وي، له همدې ځایه آیتونه په دوو برخو وېشل کېږي: هغه آیتونه چې د ښکاره او مشهود عالم په اړه بحث کوي، په دې کې داسي الفاظ استعمال شوي چې هر یو د خپل ځانګړي مورد لپاره وضع شوی دئ، مفهوم او مدلول ئې څرګند دئ، د آیت مراد او په خپل مورد د لفظ تطبیق آسان دئ، دا آیتونه محکم دي، خو هغه آیتونه چې له غیب او غیبي شیانو بحث کوي، په دې ډول آیتونو کې د غیبي شیانو د افادې او تعریف لپاره د تشبیه فن کارول شوی او داسي الفاظ په کې استعمال شوي دي چې په اصل کې د څرګندو او ټولو ته د ښکاره شیانو لپاره وضع شوي دي، دا آیتونه متشابه بلل کېږي.

د مثال په توګه د دې لپاره چې موږ ملائکې وپېژنو او په دې پوه شو چې هغوی د آسمان او زمکې ترمنځ تګ راتګ کوي، په داسي حال کې چې انسان د ملائکو له لیدو او په جوړښت او شکل ئې له پوهېدو عاجز دئ او په داسي حال کې چې انسان د الوتو لپاره یوازي یوه وسیله پېژني چې هغه وزرونه دي، اوس که څوك وغواړي انسان ته ملائکې وروپېژني او په دې ئې پوه کړي چې دوی د آسمان او د زمکې ترمنځ څنګه ځي راځي، نو له دې پرته بله چاره نشته چې ورته ووایي: ملائکې وزرونه لري، ځیني ئې ډېري ټیزي دي او ځیني ئې لږ، موږ د ډېر او لږ تېزوالي لپاره فقط وزر د معیار په توګه پېژنو، نو همدا به ویل کېږي چې د ځینو لږ او د ځینو ډېر وزرونه دي.

همدا راز د دې لپاره چې موږ په دې خبره پوه شو چې الله د زمکې او آسمانونو واکمن او مالك دئ، دا عالم د ده له لوري اداره کېږي او دلته د ده حکم نافذ دئ، زموږ په قاموس کې واکدار ته (مَلِك) او (مالك)ویل شوي، د واکمنۍ

نبني ئې تخت او کرسۍ وي، د دې لپاره چې موږ ته د الله تعالى د واکمنۍ مطلب بيان شي او په دې پوه کړى شو چې الله تعالى د دې عالم مالك دئ او په چارو کې ئې د مالك او حاکم په توګه تصرف کوي، نو په دې مطلب د پوهېدو لپاره بله چاره نشته چې د الله تعالى مالکيت او حاکميت د هغو الفاظو په مرسته توضيح شي چې انسان ئې په خپل قاموس کې لري او د همدې مطالبو لپاره ئې کاروي، د هغو غير محسوسو اشياوو لپاره به مجبوراً همغه الفاظ استعمالوو چې انسان ئې د محسوسو شيانو لپاره کاروي، دې ته اړ يو چې د تشبيه له فن به کار اخلو او هغه نامحسوس شى به له يوه محسوس شي سره تشبيه کوو، ځکه موږ د غيرمحسوسو شيانو لپاره نومونه نه لرو، داسې الفاظ نه لرو چې هغه پرې معرفي کړو، د معرفي لپاره ئې بله چاره نه لرو مګر دا چې له همدغو محسوسو شيانو سره ئې تشبيه کړو.

دا موږ ته ښيي چې په قرآن کې د دوو شيانو په اړه بحث شوى: ځيني ئې هغه چې محسوس او مشهود دي او بل ئې هغه چې زموږ له درك او فهم لوړ او اوچت دي، هغه شيان چې زموږ له درك او فهم لوړ دي خو موږ ته بايد معرفي شي، نو الله تعالى ئې په دې توګه موږ ته ښيي چې له محسوسو او مشهودو شيانو سره ئې تشبيه کوي او د متشابه آيتونو په ترڅ کې ئې موږ ته معرفي کوي، دا ځکه چې انسان د (خليفة الله) په توګه د دغو شيانو په اړه هم علم ته ضرورت لري، بايد هغه شيان هم وپېژني چې په خپلو سترګو ئې ليدلى نه شي، دا مطلب د يوه مثال په ترڅ کې توضيح کوو: انسان د يوه شي د درونديوالي او وزن لپاره تله استعمالوي، څه ته درونديوالي او څه ته سپك وايي، خو د معنوي اقدارو او اخلاقي موازينو د معلومولو لپاره هم همدغه د تلې د درونديوالي او سپك والي الفاظ استعمالوي او وايي: دا درونديوالى سړى دئ، مقصد ئې دا نه وي چې د هغه وزن زيات دئ، بلکې هدف ئې دا وي چې هغه مخور، معتبر او متين سړى دئ، پدې سره د هغه قدر، درونديوالى، وقار او متانت توضيح کوي، ګورئ چې د انساني شخصيت هغه برخې چې په سترګو نه ليدل کيږي په هغو الفاظو بيانوو چې په اصل کې د محسوسو شيانو لپاره وضع شوي.

په الهي کتابونو کې هم د هغو اشياوو په اړه بحث شوى چې انسان ته محسوس او مشهود دي، موږ ئې پېژنو او په خپلو سترګو ئې ګورو او د هغو

اشياوو په اړه هم چې زموږ له فهم او درك لوړ دي، خو موږ اړيو چې هغه وپېژنو، دا ځكه چې كه موږ په دې عالم كې خپله لار ټاكو، خپل مسير تعيينوو او د عالم له ټولو اجزاوو سره د خپلې رابطې څرنګوالى ټاكو نو مجبور يو چې دا عالم وپېژنو، همدغه مطلب ته قرآن عظيم الشأن داسې اشاره كوي:

سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلْءَافَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ۗ أَوَ لَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ٥٣ فصلت:53

ډېر ژر به خپل آيتونه په آفاق (كائنات) كې هم او د دوى په خپلو نفسونو كې هم وروښيو تر څو ورته څرګنده شي چې هغه حق دئ، آيا ستا د رب په اړه دا كافي نه ده چې هغه په هرڅه شاهد دئ؟

يعنې ستا په نفس او خپل ځان كې د قدرت نښې او په دې آفاق او عالم كې د قدرت نښې، د دې مقروء كتاب قرآن په حقانيت شهادت وركوي، دا ځكه چې الله د هرڅه شاهد دئ، د هرڅه شاهد خو به خود داسې څه وايي چې هر څه د ده د هرې وينا په حقانيت شهادت وركړي.

په دې مبارك آيت سره الله تعالى فرمايي چې ژر به خپل آيتونه په آفاق او فضاء كې هم او د دوى په بدن كې هم وروښيم تر څو ورته څرګنده شي چې هغه حق دئ.

د دې مبارك آيت معنى دا ده چې الله تعالى به خلكو ته د قرآن د آيتونو مصداق او حقيقت هم په آفاق كې جوت كړي او هم د انسان د نفس په بېلو بېلو برخو كې، يعنې قرآن چې د عالم او انسان په اړه كومې څرګندونې كړې دي؛ د دغو څرګندونو حقيقت به دوى ته جوت شي او په دې به پوه شي چې الله تعالى حق دئ او د ده كتاب ربښتينى او له حقائقو ډك كتاب دئ. او دا بنيي چې د قرآن علمي اعجاز به ورو ورو خلكو ته جوتېږي.

دغو حقائقو ته په پام سره ده چې نن په غربي نړۍ كې هر كال په زرګونو خلك ايمان راوړي او په دوى كې ډېرى ئې داسې څېرې دي چې په ساينسي علومو كې ئې څېړنې او مطالعات كړي او په ترڅ كې ئې د قرآن حقيقت ورته څرګند شوى او ايمان ئې راوړى.

د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو كې د عالم، آسمانونو، زمكې، لمر، ستورو، شپه، ورځ، د انسان پيدايښت، نباتاتو، حيواناتو، حشراتو، وربشو، بارانونو، بادونو،

غرونو، سيندونو، سمندرونو او نورو طبيعي شيانو په اړه داسي دقيق او علمي بحثونه تر سترګو کېږي چې انسان ډېر وروسته پرې پوه شوی، انسان له اوږد علمي سفر وروسته او د ډېرو پرمختللو وسائلو په مرسته توانېدلی دغه حقائق درک کړي او نن هغه خبره وکړي چې قرآن څوارلس پېړۍ وړاندي کړې وه.

يقيناً چې الله تعالى د خپلو آيتونو مصداق هم په آفاق، کائنات او عالم کي خلکو ته ښيي او هم ئې د دوی په خپلو نفسونو کي، ورو ورو د دوی علم د خپل نفس په اړه هم زياتېږي او د عالم او آفاق په اړه هم، په تدريج سره به د دوی علم، پوهه او تجارب اضافه کېږي، دا علم او پوهه به له يوه نسل بل نسل ته انتقالېږي او په دې توګه به دوی په آفاق او په خپل نفس کي د الهي آيتونو مصداق په خپلو سترګو وګوري او په دې به پوه شي چې دا حق دئ، الله حق دئ او د ده له لوري رالېږل شوی کتاب حق دئ. دا ځکه چې الله تعالى د دې عالم د هر جزء او توکي په اړه علم لري، د خپل دغه جامع او کامل علم له مخي ئې چې کوم کتاب رالېږلی د هغه د هري وينا حقانيت او د هر قضاوت مصداق به هم په آفاق کي وګوري او هم په خپلو نفسونو کي.

قرآن د دې سترې ادعاء د اثبات لپاره دا دليل او توجيه وړاندي کوي: **أَوَ لَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ** : آيا ستا د رب په اړه دا کافي نه ده چې هغه په هرڅه شاهد دئ؟ يعني د هر شي په نسبت علم لري او د هغه د څرنګوالي شاهد دئ؟ د داسي شاهد ذات وينا خو به خود داسي وي چې هر څه د ده د هري وينا په حقانيت شهادت ورکړي.

په دې توګه قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د دې الهي کتاب آيتونه هم زموږ د نفسونو په پټو او څرګندو برخو احتوی کړې او اړوند حقائق ئې موږ ته ښودلي او هم ئې د عالم په آفاق کي خواره حقائق احتوی کړي او د هر څه حقيقت ئې موږ ته ښودلی، خو موږ به په تدريج سره او ورو ورو په دې حقائقو پوهېږو. دا آيت موږ ته دا هم ښيي چې انسان به په تدريج سره او هر څومره چې د ده علم وده کوي او فهم او بصيرت ئې زياتېږي همدومره به د دې کتاب په حقانيت پوهېږي، د قرآن ډېر حقائق داسي دي چې انسان نن او د قرآن له نزوله څوارلس پېړۍ وروسته د هغوی په حقيقت پوه شو، تر دې د مخه ډېرو ته مبهم، غامض او غير قابل فهم برېښېدل.

همدې مطلب ته د قرآن عظيم الشأن يو بل آيت په دې توګه اشاره کوي:

... وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ تِبْيَٰنًا لِّكُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ٨٩ النحل:89

... او پر تا باندې مو دا کتاب نازل کړ چې د هر څه لپاره څرګندونه او د مسلمانانو لپاره هدايت، رحمت او زېرى دئ.

يعني دې کتاب د دې عالم هر څه توضيح کړي، د دې عالم په اړه ټول ضروري علوم زموږ مخې ته ږدي، د عالم اړوند کلي مفاهيم په اختصار او ايجاز سره بيانوي، هر څومره چې انسان له دې کتاب سره مزيد آشنا کېږي، همدومره به د هغه په ابعادو، اسرارو او رموزو باندې پوهېږي. دا کتاب هومره اسرار او رموز لري چې په دې ټول عالم کې دومره رموز نشته، دا چې الله تعالى فرمايي: قرآن (تبيانا لكل شئ) دئ، دا به مبالغه نه ګڼو، دا ېبله خبره ده چې موږ لدې کتاب سره دومره نه يو آشنا شوي چې له هغه د هر څه د تبيين او پېژندني رڼا تر لاسه کړو، دا کتاب هومره جامع او له اسرارو ډک دئ چې که ټول انسانان تر قيامت پورې په هغه کې تحقيق او څېړنه وکړي انتهاء او د اسرارو د عميق بحر تل ته ئې نشي رسېدلى، د يوه انسان محدود عمر خو پرېږده چې هيڅکله ورته کفايت نه کوي.

دا کتاب تبيان دئ د هر څه لپاره او لارښوونه او د رحمت وسيله او ذريعه ده مسلمانانو ته، د دې کتاب په رالېږلو سره الله جل جلاله خپله لويه پېرزوينه د انسان په حال شامله کړه، دا ځکه چې انسان تر هر څه زيات چې کوم څه ته احتياج لري هغه همدا د ده لارښوونه او هدايت دئ او دا د الله د رحمت وسيله ده، چا چې دې کتاب ته پناه يووړه، نو الله تعالى به خپل وسيع او پراخ رحمت د هغه په حال شاملوي او دا کتاب د هغو کسانو لپاره زېرى دئ چې ورته تسليمېږي، اطاعت ئې کوي او په ټول ژوند ئې حکومت کوي. له دې کتاب پرته انسان داسي دئ لکه مړى يا لکه ږوند، لکه څوك چې په تيارو کې ژوند کوي، په هغه کې حساس وجدان مړ شوى وي، د ضمير صفحه ئې زنګ وهلې وي او انساني مشاعر او عواطف ئې ختم شوي وي، داسي لکه مړى يا داسي لکه چې په تياره کې خوځېږي، نه ځان ليدى شي، نه په خپل ماحول کې نور شيان او نه د پل اېښودو ځاى او لورى.

قرآن عظيم الشأن دغه مطلب د الانعام په سورې کي په دې الفاظو توضيح کوي:

أَوَ مَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَٰهُ وَجَعَلْنَا لَهُۥ نُورًا يَمْشِى بِهِۦ فِى ٱلنَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُۥ فِى ٱلظُّلُمَٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَٰفِرِينَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ١٢٢ الانعام: 122

آيا هغه چې مړ وو، بيا مو راژوندی کړ او داسي رڼا مو ورپه برخه کړه چې په هغې سره په خلکو کي تګ کولی شي، هغه چا ته ورته دئ چې په داسي تيارو کي وي چې ترې وتونکی نه وي، کافرانو ته همداسي هغه څه ښايسته شوي چې دوی ئې کوي.

ګورئ چې دا کتاب انسان ته حقيقي ژوند ورپه برخه کوي، داسي رون مشعل په لاس کي ورکوي چې په رڼا کي ئې د خلکو ترمنځ تګ کولی شي، په دې رڼا سره خپله لار مومي، خلك پيژني، د دوی په منځ کي لار ځان ته پرانيزي او د مخکي تلو توان تر لاسه کوي. هو؛ دا هغه نور دئ چې په هغه سره د خلکو په منځ کي خپله لار پرانيستلی شي، له دې مشعل پرته چې هر قدم اخلې له يوه او بل سره به دي ټکر او تصادم راځي، که ستا ښي او کين لاس ته څوك ولاړ او يا درسره روان وي، يا ستا د مسير مخالف درومي، له ټولو سره به دي ټکر راځي، که غواړې چې د خلکو په منځ کي خپله لار بيا مومې او د دوی ښه او بد وپيژنې، فقط د دې کتاب په رڼا کي دا کار کولی شې، هغه تا ته نېك او بد معرفي کوي، مفيد او مضر درته ښيي، دوست او دښمن درته ښيي، کافر او منافق درته ښيي، تاته په ډېر دقيق انداز هغه منافقين چې پيژندګلوي ئې ډېره ګرانه ده درمعرفي کوي، د همدې کتاب په رڼا کي هغه ملمع څېرې هم پيژندلی شې چې پيژندنه ئې ډېره ګرانه ده، د هغوی له الفاظو، د هغوی له کړنو، د جنګ او د صلحي په دوران کي د هغوی له موافقو، تبصرو او تحليلونو، د فتح په وخت کي د هغوی له مواقفو، د ماتي په وخت کي د دوی له دريځ او تحليل، له دې ټولو ته هغه پيژندلی شې، نو دا هغه رون مشعل دئ چې حامل ئې د هغه په ذريعه د خلکو په منځ کي لار موندلی شي. آيا د دې رون مشعل حامل به هغه چا ته ورته وي چې په تيارو کي دئ، يوه تياره نه بلکي ګڼ شمېر تيارې يوه په بلې پسې، داسي تيارې چې ترې وتونکی نه دئ، د دې توان نه لري چې ترې ووځي او ځان وژغوري، د رڼا طرف ته ووځي او سمه لار وموم، يعني په ذاتي توګه هغه استعدادونه نه لري چې په هغو سره له دې

تياره محيط د نور او د رڼا لور ته ووځي، له دې ګڼ شمېر تيارو ځان په خپلو ذاتي استعدادونو نشي ژغورلی، ځان نشي پېژندلی، دا عالم او هستي نشي پېژندلی، خلك او د هغوی حقوق او له هغوی سره خپلي اړيکي او چلن نشي پېژندلی.

همدې مطلب ته د ابراهيم د سورې په لومړي آيت کي داسي اشاره شوې:

الٓرٰۚ كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ لِتُخۡرِجَ ٱلنَّاسَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ١ ابراهيم: 1

الف لام را، دا هغه کتاب دئ چي ستا په لوري مو نازل کړ چي د دوی د رب په حکم سره خلك له تيارو د نور طرف ته وباسې، د ستايل شوي عزتمن ذات لاري ته.

يعني دا کتاب له تيارو د نور طرف ته د خلکو د ايستلو يوازينۍ وسيله ده، يوازي په دې سره خلك له تيارو د نور لوري ته وتلی شي، فضاء، ماحول، ځان، هستي، عالم او کائنات ورته مجهول او تك تور او تياره برېښي، پېژندلی ئې نشي او په هغه کي خپله لار موندلی نشي، الله تعالی دا کتاب نازل کړی ترڅو ته اې پيغمبره دا خلك له تيارو د نور لوري ته بوځې.

قرآن پيغمبر عليه السلام ته په داسي حال کي چي پيغمبر دئ، تر ټولو حساس فهيم او فکور انسان دئ، تر ټولو زيات بصير، پوه او خبير دئ، هغه ته هم فرمايي چي ته له دې مخکي چي کتاب درباندي نازل شي او وحي درته وشي، نه پوهېدلې چي کتاب څه دئ؟ او ايمان څه ته وايي؟

... مَا كُنتَ تَدۡرِي مَا ٱلۡكِتَٰبُ وَلَا ٱلۡإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلۡنَٰهُ نُورٗا نَّهۡدِي بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِنَاۚ وَإِنَّكَ لَتَهۡدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٥٢ الشورى:52

ته نه پوهېدې چي کتاب څه دئ او نه په ايمان پوهېدې، خو موږ (دا قرآن) داسي نور او رڼا وګرځاوو چي له خپلو بندګانو چي څوك وغواړو پرې هدايت کوو ئې او يقيناً چي ته مستقيمي لاري ته لارښوونه کوې.

يعني پيغمبر عليه السلام د قرآن له راتلو مخکي حتی په ليك لوست هم نه پوهېدو، دا خو پرېږده چي د ټول کتاب د علومو په اړه هغه وسيع او جامع علم ولري چي تر دې وروسته ئې په برخه شو، نه په ليك لوست پوهېدو او نه د کتاب او ايمان له حقيقته په دومره تفصيل سره خبر وو، چي د دې کتاب له

راتلو وروسته پرې خبر شو، خو الله تعالى دا کتاب د ده لپاره داسي نور وګرځاوو چې ټول حقائق ئې د هغه په رڼا کې وپېژندل. قرآن عظيم الشأن د انعام د سورې په 115 آيت کې فرمايي چې د الله کلام د صداقت او عدالت له پلوه بشپړ او پای او اتمام ته رسېدلی دئ، يعني صداقت او عدالت په هغه کې راخلاصه شوی، رښتيني کلمات همدا دي، عدل صرف په همدې سره تأمينېدی شي، دا د عدل د تأمين يوازينی وسيله او ذريعه ده او په همدې کې حق، حقانيت، صداقت او رښتينتوب خلاصه شوي، هلته چې فرمايي:

وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدۡقٗا وَعَدۡلٗاۚ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١١٥

الانعام:115

او ستا د رب کلام د صداقت او عدالت له پلوه بشپړ دئ، هيڅوك ئې د پرېکړو بدلوونکی نشي کېدی او هغه پوه اورېدونکی دئ.

دلته د دې الهي کتاب په اړه څو خبري شوې:

- دا ستا د رب کلام دئ.
- هره خبره ئې په بشپړه توګه رښتينې ده.
- هر قضاوت او حکم ئې په بشپړه توګه عادلانه دئ.
- هيڅوك ئې د پرېکړو، وعد او وعيد د تحقق مخه نشي نيولی.

الله تعالى چې په دې کتاب کې څه ويلي، که دا د مؤمنانو او کافرانو د قول او عمل په اړه دي، که د توحيد او شرك، حق او باطل، دنيا او آخرت په اړه دي، که د خلکو د عملونو د پايلو او عواقبو په اړه دي، ټول حق او رښتيني دي او دا د هغه ذات له لوري ويل شوي چې پوه اورېدونکی دئ.

قرآن د پيغمبر د حقانيت ستره نښه ده

حقيقت دا دئ چې هر انسان د خپلې وينا، اخلاق او عملي ژوند له مخې پېژندل کېږي، لکه څنګه چې ونه له مېوې پېژندل کېږي شخصيتونه هم له خپل عمل او وينا پېژندل کېږي، مور د قرآن عظمت ته په پام سره وايو چې د دې عظيم او ستر کتاب حامل حتماً د الله تعالى له لوري لېږل شوی پيغمبر دئ، مور محمد عليه السلام په خپلو سترګو نه دئ ليدلی، د ده معجزې مو هم نه دي مشاهده کړې، خو د هغه قرآن له مخې چې ده خلکو ته وړاندي کړ، مور پرې

ایمان راوړی او د زړه سلول سلول مو په دې شهادت ورکوي چې دی یقیناً د خدای پیغمبر دئ، د ده لوړ اخلاق، د ده هغه پیغام چې خلکو ته ئې درلود، هغه تبدیلي چې ده د قرآن په رڼا کې په نړۍ کې راوسته، هغه انسان چې ده ئې د جوړولو هڅه کوله، دا موږ ته ثابتوي چې دی پیغمبر وو، موږ چې د عیسی علیه السلام له میلاده دوه زره کاله وروسته په بایبل کې داسي کوم کلام وګورو چې د یوه پیغمبر له شأن سره ښایي نو وایو چې دا به حتماً د عیسی علیه السلام وینا وي.

موږ د محمد علیه السلام تر ټولو ستره معجزه هغه قرآن ګڼو چې د ده په مبارکو لاسونو نړۍ والو ته وړاندي شو، خو دا څنګه؟ ځیني خو داسي فکر کوي چې ښایي یوازي د بلاغت او فصاحت له پلوه به دا کتاب د پیغمبر علیه السلام معجزه وي، له ادبي اړخه دا کتاب دومره لوړ دئ چې د نړۍ هیڅ کتاب ورسره سیالي نشي کولی، که څه هم دا وینا په خپل ځای کې صحیح ده، دا الهي کتاب د بلاغت او فصاحت له پلوه ستره معجزه ده، د قرآن ادبي اعجاز په هغه روایت کې ډېر ښکلی انځور شوی چې وایي: په قریشو کې معمول دا وه چې هر کال به شعراوو او لیکوالانو له خپلو اشعارو او لیکنو تر ټولو غوره شعر، نظم او نثر غوره کولو، هغه به ئې د کعبې په دېوال ځوړندولو، بیا به د کال په یوې ځانګړې ورځ د یوه خاص هیئت لخوا دا ټول اشعار، نظمونه او نثرونه په دقت سره څېړل کېدل، تر ټولو لوړ کلام به ئې غوره کاوو، نور به ئې راکوزول او یوازي همدا غوره شعر، نظم یا نثر به ئې پرېښودو او لیکونکي به ئې د کال جائزه ترلاسه کوله، یو ځل یوه صحابي د پیغمبر علیه السلام له اجازې پرته، د کوثر سوره چې په هماغو ورځو کې نازله شوې وه، په پټه رااخلي او په همدغسي و خت کې ئې په دېوال باندي نصبوي، هیئت راځي او ټولي پاڼي او لیکني له نظره تېروي، له یوې او بلې تېرېږي، د کوثر سورې ته رارسي، نوري ټولي لیکني راکوزوي او یوازي دغه سوره پرېږدي او تري لاندي لیکي: په خدای قسم چې دا د بشر وینا نه ده، یعني دا وینا د بشر له توانه ډېره اوچته ده، دا سمه خبره ده چې د بلاغت او فصاحت له پلوه قرآن عظیم الشأن د پیغمبر ستره معجزه ده. دا هم د قرآن یو ستر اعجاز دئ چې د نزول له نېټې تر ننه په ملیونونو خلکو هغه حفظ کړی، تاسو به په ټولې نړۍ او په ټول بشري تاریخ کې هیڅ داسي مذهبي او غیر مذهبي، د شعر یا د نثر کوم کتاب

ونه مومئ چي د قرآن په اندازه حافظان ولري!! موږ د نورو کتابونو او مذهبونو له منونکو پوښتنه کوو: دا ولي تاسو په خپل اوږده تاريخ کي د خپل مذهبي کتابونو محدود شمېر حافظان هم نه لرئ؟!! ځواب ئې څرګند دئ؛ انسان هغه کلام ژر حفظ کولی شي چي د زړه دړه ئې ورته پرانيستل شي، له عقل سره ئې اړخ ولګوي، محتوی ئې لوړه او د الفاظو ترکيب ئې خوندور وي، قرآن له دغه پلوه هم معجزه ده. خو په حقيقت کي قرآن له يوې بلې ناحيې تر ټولو ستره او لويه معجزه ده، هغه اسرار او رموز چي په قرآن کي شته، هغه دقيقي، ژوري او هراړخيزي څېړني او د انسان او عالم د معرفي او پېژندګلوی لپاره چي قرآن څه قضاوتونه کړي، له دې ناحيې قرآن تر ټولو لويه او ستره معجزه ده. د طبعيت او کائنات په اړه چي قرآن عظيم الشأن کوم بحثونه کړي، علم څوارلس سوه کاله وروسته پرې پوهېږي چي په دې اړه د قرآن وينا حق ده. زه ئې څو محدود مثالونه ستاسو مخي ته ږدم:

قرآن فرمايي: دا زمکه، آسمانونه، ستوري او لمرټول سره يو ځای او يوه کتله وه او موږ د يوه شديد انفجار په نتيجه کي سره بېل کړل:

أَوَ لَمۡ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ كَانَتَا رَتۡقٗا فَفَتَقۡنَٰهُمَاۖ وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّۚ أَفَلَا يُؤۡمِنُونَ ٣٠ الانبياء:30

آيا کافرانو دې ته پام نه دئ کړی چي آسمانونه او زمکه سره نښتي ول، نو موږ سره بېل کړل او هر ژوی مو له (اوبو) پيدا کړی، نو آيا ايمان نه راوړي؟!

د دې مبارک آيت لاربښووني دا دي:

- دا مبارک آيت په ډېر صراحت او وضاحت سره وايي چي په سر کي ټول کائنات، زمکه، لمر او د آسمان ټول اجرام يوه کتله وه او الله تعالی په يوې چاودني سره دوی بېل بېل کړل او اوسنۍ بڼه ئې ورکړه. د (رتق) معنی پيوستون او يو له بل سره نښتل ده، او د (فتق) معنی بېلتون او جلا کېدا ده، يعني د عالم هر څه که دا په آسمانونو کي دي او که په زمکي کي سره پيوست او نښتي ول او الله تعالی سره جلا جلا او بېل بېل کړل.
- د ټولو ژوو د پيدايښت لومړۍ او اساسي ماده اوبه دي، الله تعالی ټول ژوي له اوبو پيدا کړي.
- د ايمان راوړو لپاره دغه دوه دلائل کافي دي، آيا د دغو دوو څرګندو

دلائلو له لیدو او اورېدو سره سره کافران ایمان نه راوړي؟!! (افلا یؤمنون؟!!)

- مخکي له دې چي د قرآن دا وینا وڅېړو باید ووایو چي دا څه عادي او معمولي خبره نه ده، د دې خبري په ارزښت او اهمیت هغه څوك ښه پوهیږي چي د عالم د پیدایښت په اړه ئې ژور علمي تحقیقات او څېړني کړې، د ډېرو ساینسپوهانو نظریات او تحلیلونه ئې لوستلي، تجربې ئې کړې او له کلونو کلونو تحقیق وروسته دغي نتیجې ته رسېدلی چي د قرآن په پورتني آیت کي ورته اشاره شوې، که تاسو د قرآن دغه آیت د همداسي کوم ساینسپوه مخي ته کېږدئ او ورته ووایئ: زمونږ په دغي دیني کتاب کي څوارلس پېړۍ مخکي لیکل شوي چي آسمانونه او زمکه سره نښتي او پیوست ول او الله تعالی سره بېل کړي، نو یقیناً چي هغه به یا اعتراف کوي چي دا د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب دئ، انسان نشو کولی چي له شلمي پېړۍ وړاندي د عالم د پیدایښت په اړه داسي علمي او دقیقه وینا وکړي، یا خو به دا خبره هغه ته لږ تر لږه دومره حیرانوونکي وي چي د څه ویلو توان به تري سلب کړي.

که څوك په شفاف ذهن سره دې آیت ته ځیر شي نو له الفاظو ئې څو نتائج تر لاسه کوي:

- په سر کي به دا زمکه، لمر، سپوږمۍ او ټول ستوري سره نښتي وو، د بېلېدو پر مهال به زمکه، سپوږمۍ او نور ستوري داسي ځلانده او تاوده ول لکه لمر، ورو ورو به ځینو خپله رڼا او تودوخه له لاسه ورکړې وي!!

لابد به زمونږ زمکه له نورو د رابېلېدو په وخت کي د لمر په څېر ګرمه او سره وه، دا ځکه چي دواړه یو ځای وو او په یوه وخت کي سره بېل شوي. لمر چي ستر دئ خپل حرارت ئې تر ننه حفظ کړی، خو زمکه چي تر لمر ډېره وړه ده، ورو ورو سړه شوې، سر ئې سوړ او زړه ئې لاتراوسه تود او سخت ګرم پاته شوی، هومره تود چي هرڅه په کي ویلي، د قرآن په اصطلاح هر څه په کي (نحاس: ویلي) دي. او دا هغه څه دي چي هم ئې زمونږ عقل راته وایي او هم ئې ساینس د تجربو او مشاهداتو له مخي وایي. د زمکي پر سر هره ورځ د داسي صحنو شاهد یو چي دلته او هلته د زمکي له زړه څخه دغه نحاس او ویلي سره او خوټېدونکي مواد راوځي، بهېږي او د اور د سکروټو په څېر شیندل کېږي او مونږ د زمکي د زړه له تودوخي خبروي، تحقیقات ښیي چي د زمکي د زړه تودوخه د سانټي ګریډ په حساب څو زره درجې ده.

د دې وينا بله طبيعي نتيجه دا ده چې د زمکي بهرنی قشر به له سړېدو وروسته د ډبرې په څېر کلك وو، داسي لکه د اورشيندو په ترڅ کي چې د زمکي د زړه ويلي مواد راوځي او د زمکي پر سر له بهېدو وروسته کلکه ډبره تړې جوړېږي، د زمکي دا ډبرين پوستکی به ورو ورو په خاوري بدل شوی وي، دا هم هغه څه دي چې زموږ عقل ئې راته وايي او د ساينسي څېړنو په ترڅ کي ثابت شوي، د زمکي اصلي برنی پوستکی ډبرين دئ، دا پوستکی په ځينو برخو کي په ډېرې خاوري او په ځينو کي په لږ خاوري پوښل شوی، دغه پوستکي د زمکي د زړه ويلي او تاوده توکي داسي په خپلي غېږ کي راتم کړي لکه د بخار په ديګ کي خوټېدونکي مواد، د زمکي پر سر اورشيندي هغه مهال او په هغه سيمه کي راڅرګندېږي چې دا پوستکی وچوي او له چاودونو ئې د زمکي د زړه ويلي مواد بهر راووځي.

د زمکي او د زمکي پر سر د ژوو د پيدايښت په اړه محققين وايي: زمکه له خپل پيدايښت وروسته سخته توده او سره وه، د زمکي قشر او پوستکی ورو ورو سوړ شو، خو د سختي تيږي په څېر وو، لومړی اوبه راپيدا شوې، د زمکي ټولي اوبه د پرېږو ورېځو په بڼه کي تر زمکي راتاو وې، د بارانونو ورېدا پيل شوه، د باران او ګڼ شمېر نورو عواملو په وجه د زمکي د سر دا ډبرين پوستکی ورو ورو په خاوره بدل شوی، سېلابونو دا خاوره له ځان سره د زمکي آوارو او ژورو برخو ته انتقال کړه، د زمکي تودوخه لا هومره وه چې اوبه ئې د ځان د پاسه نه پرېښودې، د اوبو د تبخير په نتيجه کي سېلاب راوړې خټه په کړنګېدونکې وچي خټي او کودړي بدله شوه، خو د زمکي د مزيد سړېدو او مزيد بارانونو په نتيجه کي داسي حالت راپيدا شو چې له يوې خوا د پرېږو ورېځو پرده څېرې شي او د لمر وړانګي زمکي ته ورسي او له بلي خوا د زمکي د سر خاوره په لومړي سر کي نمجنه خټه او وروسته توره بوی ناکه خټه شي، د زمکي پر سر د ژوو پيدايښت په دغه مرحله کي پيل شو.

راشئ د محققينو او ساينسپوهانو دا وينا د قرآن د وينا په څنګ کي کېږدو او وګورو چې قرآن د دغو نظرياتو په اړه څه ويلي، آيا په قرآن کي داسي څه مومو چې دغو ببلو ببلو مراحلو او د زمکي د سر تغييراتو ته ئې اشاره کړې وي؟ که داسي وي چې قرآن دغو خبرو ته په واضح الفاظو اشاره کړې وي، همغسي لکه د پيدايښت د پيل او د زمکي او آسمانونو د پيوستون او ببلتون په

اړه چې ئې ویلي، نو آیا د دې معنی به دا نه وي چې ساینسپوهان په هغه څه ډېر وروسته پوه شوي چې قرآن څوارلس سوه کاله د مخه ویلي؟!!

راشئ وګورو چې قرآن د زمکي د زړه د ډېري تودوخي او په هغه کي د ویلي شوو توکو په اړه څه ویلي، د قرآن لاندي آیتونو ته لږ ځیر شئ:

يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلۡطَٰنٖ ٣٣ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٤ يُرۡسَلُ عَلَيۡكُمَا شُوَاظٞ مِّن نَّارٖ وَنُحَاسٞ فَلَا تَنتَصِرَانِ ٣٥ الرحمن: 33-35

اې د انسانانو او پېریانو ټولګیو! که کولی شئ چې دآسمانونو او زمکي له اقطارو ووځئ نو ووځئ، وتلی نشئ مګر په ځانګړي ځواك سره، نو د خپل رب کوم کوم نعمتونه تکذیبوئ؟ پر تاسو به د اور داسي شعلې او داسي ویلي مس لېږل کېږي چې مقابله ئې نشئ کولی.

په دې آیتونو کي د قرآن دوه ستر ستر علمي اعجاز زمونږ مخي ته ځلېږي: یو دا چې وایي: که آسمان ته بر ولاړ شئ نو له داسي بې دوده لمبو سره به مخامخ شئ چې مقابله ئې نشئ کولی، یعني د آسمان په برنۍ برخي کي د شهاب ثاقب تېزي او تودې لمبي دومره زیاتي او زوروري دي چې تاسو ئې له مقابلې عاجز یئ!! او دا هغه حقیقت دئ چې انسان اوس او هغه مهال پرې پوه شو چې سپوږمۍ او ستورو ته ئې د ختلو لارې پیل کړه او متوجه شو چې دا شهاب ثاقب د فضائي سفرونو په وړاندي داسي ستر ګوابن دئ چې مقابله ئې نشي کېدی. یقیناً چې دا د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ، نن او له ډېرو ژورو تحقیقاتو وروسته انسان ته جوته شوې چې آسمان ته د لوړ تلو په لار کي تر ټولو ستره مانع او خنډ هغه شهاب ثاقب (د اور د لمبو په څېر لوېدونکي آسماني اجرام) دي چې هره شېبه، له هر لوري راغورځي، ځان ترې ساتل او خوندي ترې تېرېدل ممکن نه دي، د دغو لمبو حرارت، سرعت، زور او فشار دومره لوړ وي چې هر څه ویلي کوي او هیڅ څه ئې مخي ته تم کېدی نشي. انسان تر نن پوري د خپل واړه شمسي نظام څو ستورو ته رسېدلی یا نږدې شوی، تر دې وړاندي تګ یوازي په هغه صورت کي ورته ممکن دئ چې وسیله ئې له شهاب ثاقب سره له تصادم کولو خوندي پاته شي.

د دې مبارك آیت بل علمي اعجاز دا دئ چې وایي: که د زمکي له یوه پلوه بل

ته د وتلو هڅه وکړئ نو له (نحاس: ویلي شوي مس) سره به مخامخ شئ، یعني د زمکي په منځ او سینه کي هر څه ویلي دي، د تودوخي درجه دومره لوړه ده چي هر څه ئې ویلي کړي، تاسو نشئ کولی له دې برخي د تېرېدو توان ترلاسه کړئ. او دا هغه څه دي چي ساینس اوس پرې پوه شوی!! د قرآن بل آیت دې مطلب ته داسي اشاره کوي:

ءَأَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ أَن يَخۡسِفَ بِكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ ١٦ الملك: 16

آیا له هغه چې په آسمان کي دئ له دې پلوه خوندي شوي یئ چې په زمکي کي مو ښخ کړي چې ناڅاپه به بیا خوځي؟

په دې مبارك آیت کي چې د قرآن یو ستر علمي اعجاز زموږ مخي ته اېښودل شوی څو اساسي مطالبو ته اشاره شوې:

الف: مګر ګمان کوئ دا آواره زمکه چې تاسو ته ئې پر خپلو اوږو ځای درکړی، او ستاسو د رزق او روزي د تأمین وسیله ده، همداسي به د تل لپاره ستاسو په خدمت کي وي او دا اوسنی حالت ئې تلپاتی، مستمر او ثابت دئ او هیڅکله به تغییر په کي نه راځي؟ مګر له دې هیڅ وېره نه لرئ چې د عالم ټولواك رب له بره دا فرمان صادر کړي چې د زمکي دا آرام او ډاډمن حالت بدل کړي، داسي چې نه نور ستاسو په خدمت کي وي، نه تاسو پر خپلو اوږو یوسي، او نه رزق او روزي درکړي، بلکي برعکس ستاسو په هدېرې بدله شي، تاسو تر خاورو لاندي کړي، سخته خوځېدا او لړزېدا ئې په خپلو سترګو وګورئ؟!! څه شي ډاډه کړي یئ؟ څه شي د داسي حالت له راتلو مطمئن کړي یئ؟ د دې کاذب ډاډ او اطمئنان لپاره څه دلیل لرئ؟

ب: په دې آیت کي د خسف: د زمکي کښېناستل او ننوتل له (لړزېدا او خوځېدا) سره یو ځای ذکر شوي، د بیان اسلوب داسي دئ چې ښیي که د زمکي کومي برخي کي خسف رامنځته شي نو لړزېدا به ورپسې وي، او دا هماغه خبره ده چې ساینس ئې نن د زمکي د زلزلو د عواملو په اړه کوي.

علمي تحقیقات ښیي چې د زلزلې یو اساسي سبب خسف دئ، وایي چې د زمکي منځنۍ برخه، د سختي تودوخي په وجه د خوټېدو په حالت کي ده او هر څه ئې ویلي او ذوب شوي دي، دا توده او ویلي برخه په کلك پټوکي چې کلکي ډبرې ته ورته دئ، احاطه شوې، د زمکي پورتنۍ خاورینه برخه د همدې ډبرین پوټکي په ذریعه له منځنۍ برخي بېله شوې، کله چې دا ډبرین پوټکی، د

زمکي په کومي برخي کي، د برني يا داخلي فشار او د نورو عواملو په نتيجه کي مات شي او د زمکي هماغه برخه د مذاب او ويلي موادو د پاسه واقع شي، هلته زلزلې پيل شي.

کوم مطلب چي په دې آيت کي د خسف او زلزلې په اړه ويل شوی، يوازي په تېري پېړۍ کي او له ژورو څېړنو او تحقيقاتو وروسته انسان ته معلوم شو.

همدا راز دا آيت ښيي چي کله زمکه خسف شي نو داسي برخه ئې راڅرګنده شي چي خوځېږي، د زمکي د زړه ويلي او خوځېدونکي توکي راڅرګند شي، او دا هغه حقيقت ته په واضح توګه اشاره کوي چي وايي: د زمکي د زړه توکي مذاب او ويلي دي.

تاسو د الأنبياء د سورې په دېرشم آيت کي وليدل چي د آسمانونو او زمکي له پيدايښت سره متصل د اوبو او له اوبو د ټولو ژوو پيدايښت ته اشاره کوي او وايي: آيا کافران په دې نه پوهېږي چي آسمانونه او زمکه سره (نښتي) وو، نو موږ سره (بېل) کړل او هر ژوی مو له (اوبو) پيدا کړی، نو آيا ايمان نه راوړي؟! په دې آيت کي او يو په بل پسي د زمکي او آسمان له پيدايښت سره متصل د اوبو او له اوبو د هر ژوي د پيدايښت ذکر دا مطلب په ګوته کوي چي د زمکي پر سر تر ټولو د مخه اوبه پيدا شوې. او دا هغه حقيقت دئ چي قرآن څوارلس سوه کاله مخکي بيان کړی دئ او ساينس اوس پرې پوهېدلی. نن چي ته له هر ساينس پوه د زمکي، آسمان او اوبو د پيدايښت په اړه پوښتنه وکړې، نو ځواب به ئې همدا وي چي قرآن ويلي. ساينسپوهان وايي چي هايډروجن تر ټولو سپک عنصر دئ چي اتم ئې له يوه پروټون او يوه اليکټرون جوړ شوی او د زمکي پر سر له لومړنيو جوړ شوو عناصرو څخه دئ، هيليوم ورپسې دئ چي اتم ئې يو پروټون او دوه اليکټرون لري، هايدروجن د اوبو د ترکيب دوه درېيمه برخه ده، دوه مالېکول هايدروجن له يوه مالېکول آکسيجن سره يو ځای شوي او اوبه ترې جوړې شوې. نور عناصر وروسته جوړ شوي او اړوند مرکبات ئې هم وروسته وروسته راپيدا شوي. قرآن د هود د سورې په اوم آيت کي فرمايي:

وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ وَكَانَ عَرۡشُهُۥ عَلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗاۗ وَلَئِن قُلۡتَ إِنَّكُم مَّبۡعُوثُونَ مِنۢ بَعۡدِ ٱلۡمَوۡتِ لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ

هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ٧ هود: 7

او دی (الله) هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کي پیدا کړل، او عرش ئې پر اوبو وو، تر څو تاسو وآزمویي چي کوم یو مو د عمل له مخي تر ټولو غوره دئ، او که ته ووایې چي تاسو به له خپلي مړیني وروسته هرومرو راپاڅئ نو هغه چي کفر ئې کړی حتماً به ووایي: دا له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ!!

په دې مبارك آیت کي ویل شوي چي الله تعالی آسمانونه او زمکه په شپږو ورځو کي پیدا کړل، په داسي حال کي چي عرش ئې پر اوبو وو. د دې آیت په تفسیر کي د درنو مفسرینو تر منځ ژور اختلاف تر سترګو کیږي، هم په دې اړه چي آیا له شپږو ورځو همدا زمونږ اوسنۍ ورځي مراد دي او که شپږ تکویني مرحلي؟ او هم په دې اړه چي د دې فقرې معنی څه ده چي د آسمانونو او زمکي د پیدایښت پر مهال د الله عرش پر اوبو وو؟ آیا عرش او اوبه د زمکي او آسمانونو له پیدایښته مخکي پیدا شوي؟ آیا عرش داسي شی دئ چي د بل څه پر سر ولاړ وي همغسي لکه د زمکي کوم تخت؟ او که معنی ئې دا ده چي هغه مهال یوازي اوبه د الله تعالی تر واکمنۍ لاندي وې او نور څه نه وو؟ آیا له اوبو څخه مراد همدا زمونږ اوسنۍ د ځښلو اوبه دي که دا چي هغه مهال آسمانونه او زمکه د اوبو په څېر (ویلي او مایع) وو؟

د دې مبارك آیت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

- دلته د الله تعالی په اړه د (عرش) او (ورځي) یادونه شوې، انسانانو دا دوه نومونه د خاصو شیانو لپاره وضع کړي، کله چي دې ته ورته نومونه د الله تعالی په اړه راځي نو مونږ ئې په هغه متبادره معنی نشو اخیستی چي انسانان ئې ورته کاروي، نه عرش داسي شی دئ چي د زمکي کوم تخت ته ورته وي او نه دا ورځ هغه موده ده چي زمونږ له دولسو ساعتونو سره برابره وي، په کومو آیتونو کي چي داسي الفاظ د غیبي امورو لپاره راشي هغوی ته متشابه آیتونه ویل کیږي، په هغوی کي داسي غیبي شیان چي انسان ورته نوم نه لري په داسي الفاظو یاد شوي چي انسان د لیدل کېدونکو شیانو لپاره وضع کړي، په دې سره مونږ ته د غیبي شیانو په اړه نسبي معلومات راکول کیږي، د دې یو مثال همدا د (ورځ) اصطلاح ده چي قرآن ئې یو ځای د داسي مودې لپاره راوړي چي زمونږ له زرو کلونو سره برابره ده، او بل ځای ئې د پنځوسو زرو

کلونو اوږدې مودې لپاره کارولې، نو دا شپږ ورځې هم دا زمونږ شپږ ورځې نه دي چې نږدې دوه اویا ساعتونه کېږي بلکې شپږ تکویني مراحل دي چې اوږدوالی ئې یوازې الله تعالی ته معلوم دئ. د دې تفصیل د الاعراف د سورې د 54 آیت په تفسیر کې ولولئ.

- د آیت د دې فقرې (وکان عرشه علی الماء) په اړه درنو مفسرینو ډېل ډېل آراء وړاندې کړي، د ځینو له تعبیرونو داسې معلومېږي چې ګواکې د الله تعالی عرش به د زمکې د سر کوم تخت ته ورته شی وي او پر اوبو باندې ئې اوسېدا همغسې لکه د اوبو پر سر د کوم تخت ودرېدا!! په داسې حال کې چې نه د الله تعالی عرش د زمکې کوم تخت ته ورته دئ او نه ئې پر اوبو اوسېدا داسې ده لکه پر اوبو د زمکې د کوم تخت ودرېدا، نه عرش ازلي شی دئ او نه اوبه، نه د دغو الفاظو مراد او معنی دا ده چې د الله تعالی عرش د اوبو له پاسه وو او نه د الله تعالی عرش داسې شی دئ چې د ودرېدو لپاره کومې آواري سطحې ته ضرورت لري، الله تعالی دا آسمانونه له کومې ستنې پرته ودرولي نو عرش به ئې څنګه داسې څه ته اړ وي؟! دا غلطي انګېرنې او ناسم تصورات د هغه چا د تنګ او تیاره ذهن زېږنده دي چې الله تعالی او عرش ئې د زمکې د سر له مخلوقاتو سره تشبیه کوي، د آیت معنی دا نه ده چې د آسمانونو او زمکې د پیدایښت پر مهال د الله تعالی عرش د اوبو پر سر داسې ولاړ وو لکه د زمکې کوم تخت چې پر اوبو ولاړ وي!! څوك چې د دې آیت په تعبیر کې دغه غلط اسلوب غوره کوي له داسې پوښتنو سره مخامخ کېږي چې هیڅ ځواب ورته نشي موندلی، لکه دا چې: عرش تر اوبو مخکې چېرې وو او پر څه ئې استوی کړې وه؟ الله تعالی تر عرش مخکې چېرې وو او پر څه ئې استوی کړې وه؟
- د یوه آیت په اصلي مطلب هغه مهال ښه پوهېدی شو چې وګورو په کوم مناسبت راغلی؟ د بحث اصلي موضوع ئې څه ده؟ تر هغه مخکې او وروسته څه ویل شوي؟ که دلته لږ ځیر شو نو راته جوته کېږي چې دا آیت له مخکني آیت سره ژور ارتباط لري، په مخکني کې ویل شوي چې د ټولو ژوو او ساکښو روزي د الله تعالی پر ذمه ده، همغه الله چې د دوی د پیدایښت او مړینې له نېټې خبر دئ، ورپسې ویل شوي چې الله همغه ذات دئ چې آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړي، تاسو پوهېږئ چې د رزق او روزي اصلي اسباب آسمان او زمکه دي چې له یوه باران راوړېږي او لمر ئې زمکي ته رڼا او تودوخه ورکوي او

بله ئې دانه او مېوه راشنه کوي، او بيا په آسمان او زمکي کي د رزق تر ټولو مهم او اساسي توکی اوبه دي چې ورېدا، ذخيره کېدا، د زمکي پر سر روانېدا ئې د الله تعالی په حکم دي، چې خبره داسي ده نو بايد پوه شي چې واقعاً الله تعالی د ټولو ژوو د رزق او روزي ذمه وار دئ، او دا همغه مطلب دئ چې په همدې توګه د العنکبوت په سوره کي په دې بڼه راغلی:

وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٖ لَّا تَحۡمِلُ رِزۡقَهَا ٱللَّهُ يَرۡزُقُهَا وَإِيَّاكُمۡۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٦٠ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٦١ ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٦٢ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ٦٣ العنكبوت: 60-63

او څومره ژوي داسي دي چې خپله روزي نه وړي، الله هغوی ته روزي ورکوي او تاسو ته هم، او هغه پوه اورېدونکی دئ، او که ئې وپوښتې چې آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي او لمر او سپوږمۍ چا مسخر کړي؟ حتماً به ووايي: الله؛ نو څنګه دوکه کېږئ، دا خو الله دئ چې په خپلو بندګانو کي هغه چا ته روزي پراخوي چې دی ئې غواړي او يا ئې ورته محدوده او تنګه کوي، يقيناً چې هغه پر هر څه بښه پوه دئ، او که ئې وپوښتې چې له آسمانه څوك اوبه راکوزوي او په همدې سره زمکه له خپلې مړيني وروسته راژوندۍ کوي؟ حتماً به ووايي: الله؛ ووايه: ستايني ټولي الله لره دي خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

په دې آيتونو کي هم ګورئ چې لومړی ژوو ته د رزق او روزي ورکولو خبره شوې او بيا د آسمانونو او زمکي د پيدايښت، د لمر، سپوږمۍ د تسخير (چې شپه او ورځ په ګوته کوي او دا دواړه د رزق او روزي مهم اسباب دي)، بيا له آسمانه د اوبو راورېدا او بيا په زمکي کي د ژوندون پيلېدا ته اشاره شوې او په دې توګه مور ته ويل شوي چې رزق او وسائل او اسباب ئې د الله له لوري پيدا شوي او ذمه وار ئې الله تعالی دئ، هغه دا پرېکړه کوي چې چا ته څومره رزق او روزي ورکړي. که لږ ځير شئ نو درته جوته به شي چې د دغو دواړو سورتونو په دغو آيتونو کي بشپړ ورته والی او يو د بل شرح او تفسير دئ.

دې ته مو هم بايد پام وي چې لکه په (على الله رزقها) کي (على) د فوقيت او

بروالي په معنى نشو اخيستى او داسي نه شو ويلى چي رزق ئې د الله د پاسه دئ بلكي وايو رزق ئې د الله پر (ذمه) دئ، همداسي په (كان عرشه على الماء) كي نه شو ويلي چي عرش ئې د اوبو له پاسه ولاړ وو، بلكي بايد ووايو: اوبه د الله تعالى د واكمنۍ تر عرش لاندي وې. ځكه دلته د بحث اصلي موضوع همدا ده چي د رزق او روزي وسائل د الله تعالى په واك كي دي.

تاسو پوهيږئ چي اوبه د ژوو د رزق تر ټولو مهمه برخه ده، دانه، مېوه او وابنه هم په اوبو راټوكيږي، په دې آيت سره مورِ ته لارښوونه شوې چي الله تعالى د ژوو له پيدايښته مخكي د دوى روزي پيدا كړې، داسي لكه د ماشوم له پيدا كېدو مخكي چي د مور په تي كي شيدې ورته پيدا كوي.

دې مبارك آيت ته هم ځير شئ:

فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ وَلَن تَفۡعَلُواْ فَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِي وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُۖ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ٢٤ البقره:24

او كه د هغه څه په اړه شك لرئ چي مونږ پر خپل بنده نازل كړى، نو له الله پرته خپل شاهدان راوبلئ او د هغه په څېر يوه سوره خو راوړئ كه رښتيني يئ. او كه ونه توانېدئ او هيڅكله نه شئ توانېدى نو له هغه اور ځان وساتئ چي سوند ئې خلك او ډبري دي، د كافرانو لپاره تيار كړى شوى.

د قرآن د علمي اعجاز يوه بېلگه تر دې آيت د مخه ذكر شوې او يوه هم په دې آيت كي او هلته چي فرمايي: (له هغه اور ځان وساتئ چي سوند ئې خلك او ډبري دي) د قرآن د نزول په وخت كي هيچا دا خبره نه شوى منلى چي ډبري هم د اور سوند كېدى شي، معلومه نه ده چي مخالفينو به هغه وخت په دې خبري باندي څومره تمسخر كړى وي، څومره به ئې په خپلو مجالسو كي ويلي وي چي دا لېونيان اوس دا خبره هم مني چي ډبري سوزي، هيڅ عاقل انسان د ډبرو سوزېدل نه مني!! خو تاسو اوس يوه فزيك پوه ته ووايئ: جنابه! آيا ډبري سوزي؟ هغه به ډېر ژر او له كوم تأمل پرته درته ووايي: هو؛ سوزي، يوازي ډبري نه بلكي هرڅه، حتى اوسپنه هم، هرڅه د اور په اوچتو درجو كي سوزي، دغه اوبه او دا خاوره هم چي ته ئې د اور وژلو لپاره كاروې. او كه هغه ته ووايئ: زمونږ په دغه كتاب كي چي څوارلس پېړۍ وربانديې تېري شوې راغلي چي ډبري به د اور سوند وي، هغه وخت زمونږ د كتاب په دې

خبري مخالفينو ملندي وهلې او دا ئې ستر دروغ ګڼلو، ما ته ووايئ: د دې فزيك پوه غبرګون به څه وي او د دې کتاب او د هغه د وړاندي کوونکي په اړه به څه فکر کوي؟

د انسان له پيدايښت او ده ته د رزق او روزي له برابرولو وروسته، په ده باندي د الله تعالى تر ټولو ستره پېرزوينه دا ده چې د ده د لارښوونې لپاره ئې کتاب راولېږو. داسي کتاب چې د هغه په حقانيت هر سالم الفطرت انسان په ډېره آسانۍ پوهېدى شي، له دقيقو څېړنو او ژورو بحثونو ئې ډېر ژر پوهېدى شي چې دا د الله له لوري راغلى کتاب دئ، هري پوښتنې ته ئې ځواب وايي او هر شك ئې ختموي. که تاسو په دې کتاب کي شك لرئ او ګمان مو دا وي چې دا به د الله له لوري نه وي، نو د يوې وړې سورې په څېر ئې کوم څه راوړئ که رښتيني ياست.

همدا راز قرآن عظيم الشأن د کافرانو د لجاجت او قساوت په اړه فرمايي چې د دوى زړونه تر تيږو هم کلك او سخت دي، دا ځکه چې له تيږو خو ځيني داسي هم شته چې کله ټوټې ټوټې او تجزيه شي اوبه تري راوځي، هلته چې فرمايي:

ثُمَّ قَسَتۡ قُلُوبُكُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ فَهِيَ كَٱلۡحِجَارَةِ أَوۡ أَشَدُّ قَسۡوَةٗۚ وَإِنَّ مِنَ ٱلۡحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنۡهُ ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ وَإِنَّ مِنۡهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخۡرُجُ مِنۡهُ ٱلۡمَآءُۚ وَإِنَّ مِنۡهَا لَمَا يَهۡبِطُ مِنۡ خَشۡيَةِ ٱللَّهِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ٧٤ البقره:74

بيا له دې وروسته ستاسو زړونه سخت شول، داسي لکه چې ډبري وي او تر دې هم ډېر سخت او له ډبرو خو ځيني داسي دي چې ويالې تري بهېږي او ځيني داسي چې ټوټې ټوټې شي نو اوبه تري راوځي او ځيني ئې داسي چې د الله له وېري راپرېوځي او الله له هغه څه چې کوئ ئې غافل نه دئ.

په دې مبارك آيت کي که له يوې خوا د سخت زړو بني اسرائيلو دا حالت انځور شوى چې د مړي د راژوندي کېدو له ستري پېښي وروسته هم د دې په ځاى چې ايمان راوړي، برعکس ئې زړونه مزيد سخت شول، هومره لکه کلکه ډبره او تر دې هم زيات، خو له بلې خوا يو داسي حقيقت په کي توضيح شوى چې انسان فقط په شلمه پېړۍ کي او د قرآن له نزول څوارلس سوه کاله وروسته او له ډېرو علمي تحقيقاتو بعد پرې پوه شو او هغه دا چې د سختو تيږو

په ترکیب کي د اوبو مالیکولونه شته، په دې حقیقت هلته پوه شو چې تیرې او منرالونه ئې تجزیه کړل او د ټولو په ترکیب کي ئې د اوبو مالیکولونه ومونډل او دا همغه حقیقت دئ چې قرآن په دې الفاظو سره بیان کړی: او له ډبرو خو ځینې داسې دي چې ویالې ترې بهیږي او ځینې داسې چې ټوټې ټوټې شي نو اوبه ترې راوځي!! چې کله قرآن دا خبره کوله هیڅا دا ګمان هم نه شو کولی چې د کلکو ډبرو په ترکیب کي به د اوبو مالیکولونه وي!!

اما دا چې قرآن دلته ویلي چې ځینې تیرې د الله له وېرې راپرېوځي، آیا په رښتیا تیرې احساس لري او که دلته کومه استعاره کارول شوې او مقصد ئې فقط دا دئ چې تیرې هم په خپل زړه کي نرمي اوبه لري او هم له خپل الله څخه وېرېږي خو د اهل کتابو علماوو نه په خپلو زړونو کي ترحم درلود او نه له الله تعالی وېره؟ باید پوه شې دا تیرې چې تا ته بې احساسه او بې شعوره ښکاري او سخت زړې او بې رحمه انسانان ورسره تشبیه کوې، داسې نه ده، ته اشتباه کوې، دا تیره احساس لري، خپل رب پېژني او کله کله د الله له وېرې راپرېوځي، ستا د وجود غوښه، مغز، وینه او عصبي تارونه له هغې خاورې جوړ شوي چې یو وخت سخته تیره وه، ورو ورو په خاورو تبدیل شوه، له دې خاورې وني، بوټي، مېوې او دانې راوټوکېدې او همدا ستا په غوښه، مغز، وینې او عصبي رشتو بدلي شوې، که په دې تیرو کي دا کمال نه وی نو په ژوندیو شیانو به د هغوی بدلون ممکن نه وو، له هغې به ژوندي شیان نه راپیدا کېدل، تا ته به دا وني او بوټي هم بې احساسه برېښي، دا حیوانات به هم بې شعوره ګڼې، خو دا هر یو په ډبرو برخو کي تر تا مخکي دي، د وني د ستې پوستکی په لور وشکوه، وبه ګورې چې ډبر ژر په هغه زخمي ځای کي ښویه او سرېښناکه مایع راپیدا کړي، زخم پټ کړي، له چینجیو او مکروبونو ئې خوندي کړي، څو ورځي وروسته به ګورې چې دا زخمي ځای تر نور پوستکي هم سخت شوی دئ، د وني د یوه اړخ یوه څانګه پرې کړه، څو ورځي وروسته به وګورې چې د همدې ځای خوا ته، ترې لاندي یا بر، نوې څانګه راټوکېدلې، دا د دې لپاره چې ونه غواړي خپل تعادل ببرته برابر کړي، آبله خوا ئې درنه نه شي او په هغه لوري ئې کږه نه کړي. په کوټه کي د ګل بوټی کېږده، څو ورځي وروسته ئې وګوره چې د کړکۍ په لوري به مایل شوی وي او دا هڅه به کوي چې ځان نور او رڼا ته ورسوي، هر بوټی پوهیږي چې له زمکي کوم

مواد جذب کړي او څنګه له دې خوندوره دانه یا مېوه جوړه کړي، په محفوظ پوستکي کې او داسې چې ته ئې هم له شکل او رنګ خوند اخلې او هم له بوی او ذائقې او که ته دا خپل ټول (شعور)، (عقل) او (علم) او خپل ټول پرمختللي وسائل دي په کار واچوې، د دې واړه بوټي او دغې وني په څېر څه نه شې پیدا کولی. د شاتو موچۍ چې څه جوړوي ستا ټول لابراتوارونه تر ې عاجز دي، ډېر حیوانات په خپلو ډېرو حواسو کې تر تا مخکې دي، څنګلي حیوانات، پشۍ، سپۍ، غرځه، مارغان په لیدو اورېدو او د بوی په احساسولو او پېژندلو کې تر تا ډېر ډېر وړاندې دي. ډېر حیوانات د باران، طوفان او زلزلی راتګ تر تا د مخه احساسوي، ته هسې مغرور شوی یې او دوی ته د حقارت په سترګه ګورې.

دا یوازې تیرې نه دي چې قرآن د هغوی په اړه دا وینا کوي، قرآن د کائناتو هر څه داسې معرفي کوي چې طوعاً او کرهاً خپل رب ته منقاد دي، په ټول انهماك سره خپل مأموریت او ورکړی شوې دنده ترسره کوي او هر یو ئې د خپل رب تسبیح وایي، خو مونږ د دوی د تسبیح په څرنګوالي نه پوهېږو.

نو د قرآن دا خبره حق ده چې ځینې تیرې د الله له وېرې راپرېوځي، دا تیرې، لوټې، بوټې، ستاسو لاسونه، پښې او پوستکی به د قیامت په ورځ ستاسو په ټولو کړو وړو او هر څه شهادت ورکوي او دا هغه حقیقت دئ چې ساینس ئې د پوهېدو لومړي پړاو ته نږدې شوی، ډېر نور مزل باید ووهي چې مزید حقائق ورته څرګند شي.

همدا راز قرآن عظیم الشأن د جن او انس ډلې مخاطب کوي او فرمایي:

◆يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلۡطَٰنٖ ٣٣ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٤ يُرۡسَلُ عَلَيۡكُمَا شُوَاظٞ مِّن نَّارٖ وَنُحَاسٞ فَلَا تَنتَصِرَانِ ٣٥ الرحمن:33-35

اې د پېریانو او انسانانو ټولیه! که کولی شئ چې د آسمانونو او زمکې له قطرونو تېر شئ (او بل لوري ته ئې ووځئ) نو ننوځئ، نفوذ نشئ کولی مګر په قوت او ځواك سره. نو د خپل رب له کوم کوم نعمت انکار کوئ؟! په تاسو باندې به د اور خالصې لمبې رالېږل کېږي او ویلي شوي شیان، چې یو د بل مرسته به نشئ کولی.

په دغه حقيقت چې قرآن څوارلس پېړۍ مخکې ورته اشاره کړې د ساينس نړۍ اوس او په دې وروستۍ پېړۍ کې پوه شوه چې د آسمانونو په لوري او فضاء ته د ختلو په دوران کې به انسان له داسې مشتعل او سوزنده سماوي اجرامو سره مخامخ کېږي چې د اور لمبو ته ورته وي. هماغه څه چې قرآن کريم څوارلس پېړۍ د مخه د (شواظ من نار) په نامه ياد کړي. همدا راز د زمکې زړه ته د نفوذ او ننوتو په صورت کې به انسان د زمکې له بهرني او سوړ قشر وروسته ورو ورو هغې برخې ته رسېږي چې هلته هر څه د تودوخې د لوړي درجې له کبله ويلي او مذاب دي، چې قرآنکريم ورته (نحاس) ويلي.

قرآن د انسان د پيدايښت د ښلو ښلو مراحلو په اړه فرمايي:

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن طِينٖ ١٢ ثُمَّ جَعَلۡنَٰهُ نُطۡفَةٗ فِي قَرَارٖ مَّكِينٖ ١٣ ثُمَّ خَلَقۡنَا ٱلنُّطۡفَةَ عَلَقَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡعَلَقَةَ مُضۡغَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡمُضۡغَةَ عِظَٰمٗا فَكَسَوۡنَا ٱلۡعِظَٰمَ لَحۡمٗا ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ ١٤ المؤمنون: 12-14

او يقيناً چې انسان مو د ختې له خلاصې (عصارې) څخه پيدا کړ، بيا مو يوه نطفه وګرځاوو په يوه مضبوط تمځي کې، بيا مو دا نطفه علقه وګرځوله، بيا مو دا علقه د غوښي يوه ټوټه جوړه کړه، بيا مو د غوښي دا بوټۍ هډوکي وګرځول، بيا مو دا هډوکي په غوښي وپوښل، بيا مو په يوه بل جوړښت کې پيدا کړ، نو مبارك دئ دا تر ټولو غوره پيدا کوونکی الله. بيا تاسو له دې وروسته حتماً مرئ بيا تاسو حتماً د قيامت په ورځ راپاځول کېږئ.

د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- دلته د انسان د پيدايښت اوو مرحلو ته اشاره شوې، په دې توګه: 1- انسان مو د ختې له خلاصې (عصارې) پيدا کړ، چې مراد ترې د انسان په مني کې جوړه شوې نطفه ده، 2- بيا مو يوه نطفه وګرځاوو په يوه مضبوط تمځي کې، چې مراد ئې د مور په رحم کې د ګډې نطفې استقرار دئ، 3- بيا مو دا نطفه علقه وګرځوله، 4- بيا مو دا علقه د غوښي يوه ټوټه جوړه کړه، 5- بيا مو د غوښي دا بوټۍ هډوکي وګرځول، 6- بيا مو دا هډوکي په غوښي وپوښل، 7- بيا مو په يوه بل جوړښت کې پيدا کړ، يعني بشپړ ماشوم مو ترې جوړ کړ.
- دا پوښتنه راولاړېږي چې تر دې وړاندې د انسان د فلاح او بريا اوو

اسبابو ته اشاره وشوه، دلته د انسان د پيدايښت اوو پړاوونو ته او ورپسې ويل شوي چې ستاسو له پاسه مو اوه لاري پيدا کړې، د دغو دريو خبرو او دغو اوو عواملو، مراحلو او آسماني لارو تر منځ څه ټړاو شته؟ د دې پوښتنې ځواب دا دئ چې هو؛ يقيناً د دوی تر منځ ژور ټړاو شته، او هغه داسي: د انسان معنوي ارتقاء همغسي ښې ښې مدارج لري، له ښلو ښلو معنوي پړاوونو له تېرېدو وروسته کولی شي د فلاح او بريا لوړو لوړو ځوکو ته ورسېږي، همغسي لکه چې د ده پيدايښت او د يوه بشپړ انسان په توګه دنيا ته د ده راتګ پړاوونه لري، او همغسي لکه چې زمونږ له پاسه لوړ آسمان پورې پورې دئ.

- الله تعالی د انسان نطفه د خټې له خلاصې جوړوي، يعني د ده په نطفه کې د اوبو په شمول د خاوري ټول هغه مواد شته چې خاوره ترې جوړه شوې، له همدغې لمدې خاوري (خټې) دانه او مېوه جوړه کړي، وني او بوټي له لمدې خټې مواد جذبوي او مېوه او دانه ترې جوړوي، دغه دانه او مېوه د انسان (نارينه او ښځې) په بدن کې په مني واوړوي، د دغې مني له يوې وړې ذرې (نطفې) څخه د ده پيدايښت پيل کړي. علم نن همدا خبره کوي چې د انسان د بدن په ترکيب کې د خاوري ټول مواد کارول شوي. او همدا خبره کوي چې د انسان پيدايښت له يوې وړې نطفې پيل شي.
- د نارينه او ښځې له مني څخه يوه يوه نطفه غوره شي، تر ټولو ښه او پياوړې ئې، دوی سره يو ځای شي، له همدې ځايه د انسان جوړښت پيل شي، بيا ئې الله تعالی په يوه مضبوط، خوندي او مناسب ځای کې ځای په ځای کړي. دلته هم د قرآن يو ستر علمي اعجاز زمونږ په وړاندې ځلېږي او هغه دا چې د نارينه او ښځې د دوو نطفو (سپرم او اووم) يو ځای کېدا د مور د بدن په يوې برخې کې او هلته چې اووم (هګۍ) سپرم ته په انتظار پرته وي، تر سره کېږي او بيا له يو ځای کېدا وروسته رحم ته درومي او هلته تر هغه پاتې کېږي چې د يوه بشپړ ماشوم په څېر دنيا ته راشي. د قرآن دغه وينا چې لومړی ګډه نطفه جوړه شي او بيا په مضبوط مستقر کې ځای په ځای شي هغه ستر حقيقت انځوروي چې انسان په شلمي پېړۍ کې پرې پوه شو، تر دې وړاندې عاميانه انګېرنه دا وه چې د نارينه او ښځې مني په رحم کې يو ځای کېږي او هملته ماشوم ترې جوړېږي. خو قرآن لا د مخه ويلي وو چې په رحم کې استقرار د نطفې له جوړېدا وروسته ترسره کېږي.

- دا نطفه وده وکړي، لومړی د علقه بڼه غوره کړي، د یوه ځوړند توکي په څېر شي، بیا د ژوول شوې غوښي بڼه غوره کړي، بیا ئې د هډوکو جوړېدا پیل شي، بیا دا هډوکي د غوښي په بوټیو پټ کړی شي، قرآن هغه مخکنۍ غوښه د مضغه په نامه یاده کړې او دا ئې د لحم په نامه او دا ښیي چې د دواړو ترکیب او حالت بېل بېل دئ او په خپلو کي توپیر لري.
- له دې وروسته هغه ته د یوه بشپړ ماشوم صورت او شکل ورکړی شي.

څه چې په دې مبارك آیت کي ویل شوي علم نن د هغه حرف حرف تأییدوي او د انسان د پیدایښت د بېلو بېلو مراحلو حالت همغسي ګڼي چې په دغو مبارکو آیتونو کي انځور شوي.

همدا راز ټول هغه څه چې قرآن تحریم کړي او د انسان لپاره ئې مضر ګڼلي، علم ورو ورو هغه پېژندلي او په اضرارو ئې پوه شوي. د مثال په توګه قرآن ځوارلس پېړۍ مخکي شراب تحریم کړل او د انسان لپاره ئې تاواني او مضر وګڼلو، هغه مهال چې قرآن دا پرېکړه خلکو ته اوروله کافرانو او د اسلام مخالفینو ته د دې خبري منل ګران وو چې واقعاً شراب انسان ته تاوان رسوي، خو نن علم په دې پوهېږي چې واقعاً شراب د انسان صحت ته مضر دئ او له هغه اجتناب په کار دئ.

په قرآن کي دې ته ورته آیتونه ډېر زیات دي چې ثابتوي دا کتاب د داسي علیم او پوه ذات له لوري لېږل شوی چې د عالم په ټولو اسرارو پوه دئ. ما د (ساینس او د قرآن علمي اعجاز) په کتاب کي د قرآن نړۍ دوه سوه هغه آیتونه راغونډ کړي چې هر یو ئې ستر اعجاز دئ، او حقائق ئې څرګند کړي چې علم په ډېر زحمت او تکلیف سره او له ډېر اوږد مزل وروسته پرې پوه شوی. پوښتنه دا ده چې د دې کتاب حامل څنګه په هغو اسرارو پوه شو چې نور انسانان ځوارلس سوه کاله وروسته پرې پوهېږي او هغه هم د ډېرو دقیقو، پېچلو، پرمخ تللو او مډرنو وسائلو په مرسته، په هغه صحرائي ټولنې کي چې د باسوادو او په لیك لوست پوهو کسانو شمېر ئې لسو ته نه رسېدو!! پیغمبر علیه السلام د عالم د مختلفو برخو په اړه دومره دقیق معلومات له کومي منبع ترلاسه کړل، هغه معلومات چې د نړۍ ستر ستر علماء او ساینس پوهان نن پرې پوهېږي او ایمان راوړي؟ دا ولي د غرب معروف شخصیتونه او نومیالي

علماء له دې کبله په دې کتاب ایمان راوړي چې ګوري د ساینس دقیقې څېړنې او علمي لاسته راوړنې همغه خبره کوي چې په قرآن کې څوارلس پېړۍ مخکې ویل شوې، دې نتیجې ته رسېږي چې د اسلام په حقانیت ایمان راوړي او ووایي: انسان باور نشي کولی چې د قرآن دا دقیقې او علمي ویناوي دي د یوه داسې انسان شخصي نظریات وي چې په څوارلس سوه کاله مخکې محیط او اجتماع کې ئې ژوند کولو. قرآن د خپلو علمي او دقیقو ویناوو له پلوه داسې ستره معجزه ده چې د یوه عاقل او منصف انسان د اقناع لپاره کفایت کوي، لکه چې الله تعالی د دې الهي کتاب په اړه فرمایي:

أَوَ لَمۡ يَكۡفِهِمۡ أَنَّآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَرَحۡمَةٗ وَذِكۡرَىٰ لِقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٥١ العنکبوت:51

آیا دا ورته کفایت نه کوي چې موږ پر تا هغه کتاب نازل کړی چې پر دوی لوستل کېږي، یقیناً چې په دې کې د ایمان راوړونکو وګړو لپاره حتماً رحمت او ذکر دئ.

چا چې له حق سره د مخالفت پرېکړه کړې وي، نه په دلائلو قانع کېږي او نه په معجزو، دا دئ ګورئ چې د قریشو په وړاندې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر ستر شخصیت ولاړ دئ، د الله تعالی لوري ته بلنه ورکوي، د قرآن په څېر له معجزو ډک کتاب ورته وړاندې شوی، خو هغوی نه یوازې له ایمان راوړو ډډه کوي بلکې د داسې خارق العاده معجزو غوښتنه کوي چې شیطان ئې پرې قانع شي، وایي: ولې د ده د رب له لوري څرګندې نښې نه دي پرې نازلې شوې؟ الله تعالی د دوی په ځواب کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لاربښوونه کوي چې ورته ووایي: یقیناً چې نښې خو له الله سره دي، او زه یوازې یو څرګند نذیر یم، له ما سره نه معجزې شته او نه ئې د ښودلو واک، زه فقط یو نذیر یم چې د کفر، شرک، ظلم او فساد له بدو پایلو تاسو ته خبرداری درکوم. د دوی د غلطې غوښتنې په ځواب کې فرمایي: آیا د دوی د قناعت لپاره دا له اعجازونو ډک کتاب چې ته ئې پرې لولې کفایت نه کوي؟!! یقیناً چې په دې کې د ایمان راوړونکو وګړو لپاره حتماً (رحمت) او (ذکر) دئ، هغه چې د ایمان راوړو استعداد او وړتیا ئې نه ده ځپل شوې هغوی به هرومرو دا کتاب د الله تعالی یوه لویه پېرزوینه ګڼي او له هغه به پند اخلي.

يعني په چا کي چې د ايمان راړولو استعداد وي هغه ته دا کتاب په خپله د معجزې او دليل په توګه کافي دئ، تر دې لويه او ستره معجزه نشته. که څوک لږ له شفاف ذهن سره او د حق موندلو له تلوسې او تندي سره قرآن ته رجوع وکړي نو يقيناً چې د قرآن هره وينا به د دې عالم او د عالم د هر څه په اړه هومره علمي او دقيقه ومومي چې ورته ثابتوي دا کتاب هغه چا نازل کړی چې د دې ټول عالم او د عالم د هر څه په اړه جامع علم لري، دا کتاب د هغه چا له لوري راغلی چې علم ئې په زمان او مکان پوري محدود نه دئ، هيڅ شی او حقيقت ئې تر پټ نه دئ، د ده د علم په وړاندي داسي حجاب نشته چې د يوه شي په حقيقت د پوهېدو مانع شي، مور په دې کتاب کي ګورو چې د هر څه په باب ئې هره وينا او قضاوت دقيق او صحيح دئ، دا دقيق او سل په سلو کي صحيح او علمي قضاوتونه او پرېکړي مور ته ثابتوي چې د دې کتاب لېږونکی د هر څه په اړه جامع او کامل علم لري، له دې ناحيې قرآن معجزه ده او د پيغمبر عليه السلام په حقانيت شهادت ورکوي.

پر کتاب د ایمان غوښتنې

پر الهي کتاب د ایمان غوښتنې په مختصره توګه دا دي:

د کتاب په باب شك او شبهه نه کول

پر الهي کتاب د ایمان لومړۍ تقاضا دا ده چې په دې کتاب د ایمان مدعي به د هغه په هري وينا د زړه له تله پوخ باور لري او د هيڅ وينا په اړه به ئې شك او بدګماني نه لري، په هيڅ حالت کي به د کتاب د پرېکړو او فيصلو په اړه، د احکامو او اوامرو په باب، د قضاوتونو او څېړنو په ارتباط، له مؤمنانو سره د شوو وعدو په اړه، کافرانو ته د ګوابنونو او وعيدونو په اړه شك نه کوي، په دې به ئې بشپړ باور وي چې کافرانو ته متوجه ګوابنونه به هرومرو ترسره کېږي، له مسلمانانو سره شوې وعدې به حتماً سرته رسي، د عالم او د انسان په اړه ئې چې کوم قضاوتونه کړي هغه به تحقق مومي، وړاندويني به ئې ترسره کېږي، په دې به بشپړ او کامل باور لري چې د انسان د دنيايي او اخروي سعادت يوازينۍ لار همغه ده چې دې کتاب په ګوته کړې او شقاوت او بدمرغي ئې په همغه څه کي چې دې کتاب ښودلي، په دې ټولو خبرو به کامل او راسخ ايمان لري او د کتاب د قضاوتونو، پرېکړو، وعدو او وعيدونو په اړه به په هيڅ صورت کي شك نه کوي، که ته ډېر ضعيف يې او دښمن درته زيات قوي او ځواکمن برېښي، مورچل ئې قوي او مستحکمه او په نظامي لحاظ توازن د هغه په ګټه، خو ته به په دې باور وې چې نه ستا ضعف او کمزوري د الله تعالى د وعدو تحقق ځنډوي او نه د دښمن ځواکمن ظاهر د الله تعالى د وعيد مخه نيولى شي، که څه هم ته ضعيف او ناتوانه يې، خو الله تعالى په خپل کتاب کي له تا سره وعده کړې چې آخري فتح به ستا وي، د دې وعدې د حتمي تحقق په اړه به هيڅکله شك نه کوې، دا چې کتاب وايي د ظالمانو انجام وخيم دئ، الله به ئې مؤاخذه کوي، خو په ظاهر کي داسي برېښي چې د دوى اقتدار به دوام کوي، دا

مجلل قصرونه، مضبوطي كلاګاني، مستحكم سنګرونه، مجهز فوځونه او پراخ امكانات به د دې مخه نيسي چې اقتدار ئې پای ته ورسېږي او واكمني ئې نسكوره شي، كه څه هم ستا او د دښمن ظاهري وضعيت داسي برېښي او تا ته خپله بريا او د دښمن ماته ګرانه او حتى مستحيل برېښي، خو كه ته پر كتاب ايمان لرې او هغه يقيناً د الله تعالى له لوري ګڼې، نو نه به د خپلي وروستۍ بريا په باب شك كوې او نه د دښمن د حتمي ماتي او زوال په اړه. هيڅ حالت بايد ستا په زړه كي د الهي كتاب د پرېكړو او قضاوتونو په اړه شك راولاړ نه كړى شي، پر كتاب د ايمان لومړې غوښتنه همدا ده چې انسان به د هغه د قضاوتونو، احكامو، وعدو او وعيدونو په اړه شك نه كوي، لكه چې قرآن فرمايي:

ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ٢ البقره:2

دا هغه كتاب دئ چې شك په كي نشته، متقيانو ته لارښود

يعني هيڅوك نشي كولى په دې سپېڅلي كتاب كي د شك ځاى او مورد په ګوته كړي، دا بېله خبره ده چې ناپوه او جاهل كسان به د هغه په نسبت شك كوي، خو هيڅ څوك په دې كتاب كي داسي څه نشي موندلى چې هغه د شك وړ وي او يو عاقل او باانصافه انسان د هغه په اړه شك وكړي، (لاريب فيه) په هغه كي هيڅ شك نشته.

همدا راز په سوره السجده كي فرمايي چې:

تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ لَا رَيۡبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢ السجده:2

په دې كي كوم شك نشته چې د دې كتاب لېږنه د رب العالمين له لوري ده، يعني دا كتاب هغه الله رالېږلى چې د ټول عالم رب، پيداكوونكى، ساتونكى او پالونكى دئ، هغه ذات چې د ټول عالم په اړه وسيع علم لري، دا ځكه چې ده پيدا كړي، د هر څه پالنه او روزنه كوي، همغه الله دا كتاب رالېږلى، نو ځكه به په هغه كي د هيڅ نوع شك او شبهې مجال او احتمال نه وي.

تدبر

په الهي كتاب د ايمان بله تقاضا دا ده چې په هغه كي به انسان تدبر كوي او په مفاهيمو به ئې ځان پوهوي، نه د كتاب يوازي لوستل او يوازي ذكر او

تلاوت کافي دئ او نه دا چي ته هغه يو مقدس او سپېڅلی کتاب وګڼي، د درناوي او احترام لپاره ئې په دسمالونو کي تاو کړې او بر ئې په تاخچه کي کېږدې او د دې خبري کلك مدعي وې چي په هغه ايمان لرې !! د کتاب تعليم، په هغه کي تدبر او تفکر، پر کتاب باندي د ايمان غوښتنه ده، لکه چي قرآن فرمايی:

يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِۖ قُلۡ فِيهِمَآ إِثۡمٞ كَبِيرٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثۡمُهُمَآ أَكۡبَرُ مِن نَّفۡعِهِمَاۗ وَيَسۡـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَۖ قُلِ ٱلۡعَفۡوَۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَتَفَكَّرُونَ ٢١٩ البقره: 219

الله همداسي آيتونه درته بيانوي تر څو تفکر وکړئ.

يعني دا آيتونه ئې رالېږلي تر څو په هغه کي غور او تفکر وکړئ.

انبياوو خپلو امتونو ته ويلي:

مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤۡتِيَهُ ٱللَّهُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحُكۡمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُواْ عِبَادٗا لِّي مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن كُونُواْ رَبَّٰنِيِّـۧنَ بِمَا كُنتُمۡ تُعَلِّمُونَ ٱلۡكِتَٰبَ وَبِمَا كُنتُمۡ تَدۡرُسُونَ ٧٩ آل عمران:79

هيڅ انسان ته نه بنايي چي الله تعالی ورته کتاب، حکم او نبوت ورکړي او بيا هغه (له دې الهي پېرزويني وروسته) خلکو ته ووايي: له الله تعالی علاوه زما بندګان شئ! بلکي (د دې برعکس هغه ته دا بنايي چي) ووايي: د دې لپاره بايد خدای پالونکي شئ چي تاسو خو نورو ته دا کتاب ورزده کوئ او په خپله ئې لولئ.

يعني هر پيغمبر خپل امت ته ويلي چي خدای پالونکي او رباني شئ، د الله تعالی بندګي وکړئ او د هغه ربوبيت ته غاړه کېږدئ، په دې سبب چي تاسي د کتاب ښودنه او زده کړه کوئ.

ګورئ چي په دې آيت کي د کتاب تعليم او تدريس يادونه شوې او هغه د يوه مؤمن قوم ځانګړتيا ګڼل شوې، که موږ پر کتاب د ايمان دعوی لرو نو بايد په کتاب ځان پوه کړو او نورو ته ئې ورسوو، د هغه تعليم او تدريس به کوو، دغه مطلب ته په بل ځای کي داسي اشاره شوې.

وَلَمَّا جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٞ لِّمَا مَعَهُمۡ نَبَذَ فَرِيقٞ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمۡ كَأَنَّهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ١٠١ البقره:151

همداسي لکه چې په تاسو کي مو ستاسو له منځه داسي پيغمبر درولېږو چې زما آيتونه درباندي لولي، ستاسو روزنه کوي، علم او حکمت درښيي او هغه څه درښيي چې نه وربانديې پوهېدئ.

دغه مطلب د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کي راغلی چې د پيغمبرانو عليهم السلام دعوت په څو اساسي خبرو کي خلاصه شوی: د کتاب تلاوت، د خلکو روزنه او تربيه او خلکو ته کتاب او حکمت ښودل.

پر کتاب باندي د ايمان يوه مهمه تقاضا دا ده چې انسان به نه يوازي دا کتاب حق ګڼي او باور به لري چې هره وينا ئې رښتينې ده، بلکي د کتاب په محتوی او د وينا په مقصد او مفهوم به ئې ځان پوهوي، دا کافي نه ده چې د ايمان دعوی وکړي او هيله من وي چې جنت ته به درومي، دوزخ ته به نه ځي مګر د څو ورځو لپاره، په حقه دئ او الله ئې مل دئ، د ده په اړه به ټولي هغه وعدې ترسره کېږي چې الله تعالی له خپلو مؤمنو بندګانو سره کړې دي، داسي هيلي او ګمانونه کفايت نه کوي، قرآن عظيم الشأن په همدې ارتباط د اهل کتابو د اميانو په اړه فرمايي:

وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لَا يَعْلَمُونَ ٱلْكِتَٰبَ إِلَّآ أَمَانِيَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ٧٨ البقره:78

او له دوی ځينې امي (نالوستي) دي، له څه هيلو پرته نور په کتاب نه پوهېږي او دوی نه دي مګر ګمان کوونکي.

يعني علماء او اهل کتاب ئې داسي دي چې د خپل لاس ليکنې او له خپل غرض او مرض راخوټېدلې فتواګاني الله تعالی او د هغه دين ته منسوبوي، هدف ئې دا وي چې په دې سره څه متاع، يو ټوک ډوډۍ او کومه چپنه او پګړۍ ترلاسه کړي، خو عوام ئې داسي چې په کتاب او د هغه په لاربښوونو خبر نه دي، پر کتاب د ايمان دعوی فقط دومره کړي چې په دوی کي ئې څه دروغجني هيلي او اميدونه راولاړ کړي او څه ګمانونه ورسره راپيدا شوي، هيلي ئې دا دي چې جنت ته به درومي او ګمان ئې دا چې د کتاب او الهي لاربښوونو په اړه دوی کوم تصور لري او خپلو منحرفو مذهبي مشرانو ورته څه ويلي، همدا حقيقت دئ او د الهي حقيقي دين اصلي غوښتنه، دا دواړه ډلي (ټګمار او دين پلورونکي علماء او له دين بې خبره عوام) د تأسف وړ دي خو اصلي مجرمان او د ډېر تأسف وړ هغه علماء دي چې دين تحريفوي او د دنيا

په متاع ئې پلوري!!

گورئ چې د اهل کتابو بې سواده طبقه له هغه وروسته چې بې لارې شول او الهي کتاب ته ئې شا کړه نو له دوی سره لدې پرته بل څه پاته نه شو چې څه هیلي او تمنیات ورسره وي او څه هم ګمانونه او تصورات، له کتاب د دوی ټول علم همدومره وو چې څه هیلي ئې په زړه کې راپیدا شوې او څه ګمانونه او تصورات ئې په دماغ کې، خو نه هیلي کافي دي او نه ګمانونه، دلته داسې علم په کار دئ چې په یقین او ایمان بدل شي، د کتاب د محتوی په نسبت علم پر هغه د ایمان لپاره مقدمه ده، دا علم دئ چې په ایمان منتج کیږي.

تاسو پوهیږئ چې زمونږ پر پیغمبر علیه السلام لومړی وحي او لومړی الهي لارښوونه څه وه؟ قرائت، علم او قلم.

ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ٣ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ٥ العلق: 1- 5

ولوله په نوم د خپل رب، هغه چې پیدا ئې کړ. انسان ئې له ځوړندو پیدا کړ، ولوله چې رب دي ډېر کریم دئ. هغه چې په قلم ئې پوهه ورکړه. انسان ته ئې ورزده کړل څه چې نه پرې پوهېدو.

په دې مبارکو آیتونو کې څو مهمي خبري زمونږ پام ځان ته جلبوي:

الف: د الله تعالی له لوري وحي د اقرأ (ولوله) په امر پیل شوې او دا ښیي چې د اسلام له نظره د (لوست) مقام او منزلت څومره لوړ دئ او څومره اهمیت لري، دا د الله تعالی لومړی امر دئ، په دغه امر سره ئې د وحي لیږل پیل کړي.

ب: لوستل د خپل رب په نامه او د هغه په مرسته پیل کړه، هغه رب چې هر څه ئې پیدا کړي، ته او دا هر څه یوازي یو رب لرئ، چې هم ستا رب دئ او هم د نورو ټولو مخلوقاتو رب.

ج: په (قرائت)، (علم) او (قلم) سره هم انسان ته پر نورو مخلوقاتو فضیلت ورکړی شوی او هم په خپله د انسانانو تر منځ یوه ته پر بل فضیلت.

د: (قلم) د زده کړي او پوهي ډېره اغیزمنه وسیله ده، په دې سره انسان د دې مجال ترلاسه کوي چې په ډېرو هغو حقائقو پوه شي چې له بلي لارې پرې پوهېدل ورته ممکن نه وو.

هـ: لکه څنګه چې دلته د (علم بالقلم) الفاظ په دې معنی دي چې انسان ته له قلم د استفادې استعداد ورکړی شوی، الله تعالی د هغه په فطرت کې دا ملَکَه اېښې چې قلم جوړ کړي، خپل ما في الضمير وليکي او نورو ته ئې انتقال کړي او له دې د زده کړي او تعليم او تعلم وسيله جوړه کړي، همدا راز په نورو آيتونو کې دې ته ورته راغلي الفاظ لکه (علمه البيان) او (علم آدم الاسماء کلها) هم هغو استعدادونو ته اشاره کوي چې انسان ته ورکړی شوي، انسان ته د (بيان) مَلَکه ورکړی شوې، کولی شي خپل (مافالضمير) اظهار کړي او له کلماتو او الفاظو په استفادې سره خپل قصد، هدف، نظر او پيغام تشريح او توضيح کړي، هغه ته د هر څه د پېژندو او په هر څه د يوه مناسب نوم اېښودو استعداد ورکړی شوی، هغه کولی شي خپله پوهه د نومونو په قالب کې ترتيب، تنظيم او حفظ کړي او نورو ته ئې انتقال کړي. دا د انسان يوه ځانګړتيا ده، دا صفت په نورو مخلوقاتو کې نشته، په دې سره الله تعالی انسان ته پر ټولو مخلوقاتو فضيلت او شرف ورکړی.

ګورئ چې لومړۍ وحي د (ولوله) په امر سره شروع شوې او له علم او قلم بحث کوي، له دې په څرګنده توګه معلومېږي چې علم د ايمان پېل او مقدمه ده. همدا راز فرمايي:

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ٨٢
النساء:82

نو آيا په قرآن کې تدبر نه کوي، که هغه د ماسوی الله له لوري وی نو حتماً به ئې ډېر اختلاف په کې موندلی وو.

قرآن په درويشتو کلونو کې بشپړ شو، په دې اوږدې مودې کې پر پيغمبر عليه السلام رنګارنګ حالات راغلل، هر حالت په انسان کې خاص مشاعر او عواطف راولاړوي، افکار او نظريات ئې تر خپل اغېز لاندې نيسي، د ضعف د حالت احساسات او خبري ئې بېلي وي او د قوت د حالت جذبات او افکار ئې بېل، د غضب په حالت کې ئې وينا او پرېکړي له قهر او غصې ډکي، خو چې قهر ئې سوړ شي او غصه ئې کښېني نو په خپلو خبرو پښېمانه وي او د ترميم هڅه ئې کوي، خو پيغمبر عليه السلام په داسي حال کې چې په سر کې يوازي وو، د ګوتو په شمېر کسانو وربانديي ايمان راوړ، خپل قوم ورسره مخالفت

وکړ، د مخالفینو سرخپل ئې یو تره وو، خپلو زامنو ته ئې وویل چې د محمد (علیه السلام) لونې طلاقي کړئ، هغوی دا کار وکړ، یاران ئې تر تعذیبونو لاندې، هجرت ته مجبور شو، سختي ورځي ورباندې راغلې، دا حالت ورو ورو بدل شو، پلویان ئې زیات شول، د بریاوو او فتوحاتو مرحله ئې پیل شوه، دښمن ته ئې په وار وار ماته ورکړه او تر رحلت مخکې نږدې ټول حجاز د ده تر واکمنۍ لاندې راغی، دغه قرآن په ټولې دغې مودې کې، له خپلو ټولو لوړو ژورو، ستونزو، کړاوونو، ماتو او بریاوو سره، ورو ورو بشپړ شو، خو نه ئې په الفاظو او کلماتو کې اختلاف رامنځ ته شو او نه ئې په مطالبو کې د حقیقت خلاف یوه وینا او یو لفظ تر سترګو شو، دا خبره د انسان تر وس ډېره ډېره اوچته او ورته محال او ناممکنه ده چې د درویشتو کلونو ټولې خبرې ئې ربښتیا ثابتې شي او یوه ئې هم د حقیقت خلاف او د ده د خپلو وینا ګانو خلاف ترسترګو نه شي، که دا قرآن له الله پرته د بل چا له لورې وی نو هرو مرو به ئې په متن کې هم او په محتوی او مفهوم کې هم ډېر اختلافات موندل شوي وو، خو دا دئ څوارلس پېړۍ پرې تېرې شوې او هیڅوك ونه توانېدو په قرآن کې د تعارض او اختلاف یوه بېلګه په ګوته کړي!! آیا دا کافي نه ده چې ومنئ پیغمبر علیه السلام د الله استازی او قرآن د الله کتاب دئ؟

که څه هم د آیت ادعاء عامه ده خو دلته خطاب منافقینو ته متوجه دئ او دوی ته ویل شوي چې ستاسو د منافقت اصلي وجه دا ده چې نه پر پیغمبر د الله د استازي په حیث ایمان لرئ او نه پر قرآن د الله د کتاب په توګه.

چې یو کتاب په درویشتو کلونو کې بشپړ شي، د ټول کتاب بېل بېل اجزاء او د هر جزء بېلي بېلي برخي د دې اوږدې مودې په مختلفو مراحلو کې نازلي شي او یوه د بلې څنګ ته ترتیب او تنظیم شي او په دې توګه ورو ورو د مکمل کتاب بڼه غوره کړي، خو نه په ادبي لحاظ د هر جزء په بېلو بېلو برخو کې څه توپیر راشي او نه ئې په متن او محتوی کې څه اختلاف او بدلون راشي، له سره تر پایه پوري، د دې کتاب په هیڅ برخي کې، هیڅوك کوم اختلاف، توپیر او تناقض ونشي موندلی، دا په خپله دا حقیقت په ډاګه کوي چې د دې کتاب لېږونکی هغه علیم او خبیر ذات دئ چې د زمانې په بدلېدو رابدلېدو سره نه په ده کې تبدیلي راځي او نه ئې په علم کې.

مونږ په انساني ټولنې کې ستر ستر ليکوالان ګورو چې د ځوانۍ او زوړوالي ليکنې ئې، د سختو شپو ورځو او د آرامو حالاتو ليکنې ئې، د تېرکال او راتلونکې کال ليکنې ئې، له يوه بله هومره توپير لري چې مقايسه کېدی نشي، په مسلسل ډول په خپلو ليکنو، څېړنو او نظرياتو کې تجديد نظر کوي، خپل آراء تصحيح کوي، په خپلو اشتباهاتو اعتراف کوي، چې د هر عالم او مفکر ليکنې او کتابونه وګورئ خامخا به د هغه د نن او څو کاله د مخه نظرياتو کې ژور توپير او اختلاف ومومئ، خو د الله تعالی په کتاب کې څوك اختلاف او توپير نشي په ګوته کولی.

وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا: که چېرې (دا قرآن) له الله تعالی پرته د بل چا له خوا وی نو حتماً به ئې په هغه کې ډېر اختلاف موندلی وو.

د ص په سورې کې دا مطلب په دې الفاظو راغلی:

كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلْأَلْبَٰبِ ٢٩ ص:29

دا هغه مبارك کتاب دئ چې ستا لوري ته مو نازل کړ تر څو د هغه په آيتونو کې تدبر وکړي او د عقل خاوندان تر ې پند واخلي.

ګورئ چې دا کتاب د عقلمنو لپاره راغلی، تر څو په هغه کې تدبر وکړي او پند تر ې واخلي، دا کتاب د دې لپاره نه دئ نازل شوی چې ته ئې په جامو کې ونغاړې، په تاخچه کې ئې کېږدې اوکله کله ئې د دې لپاره راکوز کړې چې په هغه باندې قسم ياد کړې او يا د رخصتولو په وخت کې د هغه له لاندې خپل زوی او ورور تپر کړې او ورته ووايې دا قرآن دي حافظ او ناصر شه، دا قرآن دي وساته، برعکس دا کتاب د دې لپاره راغلی چې په هغه کې تدبر و کړې او د عقل خاوندان له هغه پند و اخلي، د تفکر، تدبر او پند اخيستلو لپاره راغلی.

د حکميت او قضاوت لپاره کتاب ته رجوع

په دې کتاب د ايمان بله مهمه غوښتنه او تقاضا دا ده چې د حکميت او پرېکړې لپاره به دې کتاب ته رجوع کېږي، شخړې به په هغه حل و فصل کېږي، نزاع او اختلاف به هغه ته راجع کېږي، د کتاب فيصله به وروستۍ

فيصله ګڼل کېږي، دا کتاب به د اختلافاتو د حل و فصل يوازينۍ او ورستنۍ مرجع ګڼې، که دا اختلاف فکري وي، که اعتقادي وي، که حقوقي وي او که سياسي او اجتماعي، د فرد او فرد ترمنځ وي، که د فرد او اجتماع ترمنځ او که د دولت او ولس تر منځ وي. دا لاربښود کتاب د دې لپاره لېږل شوی چې د خلکو ټول منازعات او اختلافات هغه ته راجع او د هغه په رڼا کې حل و فصل شي، دا کتاب د اختلافاتو د ختمولو او د ژوند په ټولو برخو او قضاياوو کې د خلکو د يووالي او وحدت ضامن دئ، خو متأسفانه دا د وحدت کتاب، دا د اختلافاتو د رفع کولو او د نزاع او د لانجو د حل و فصل وروستۍ مرجع، نن ناپوهو او غرضي خلکو په خپله د اختلاف وسيله ګرځولی، څوک چې د وحدت ضامن او د اختلافاتو او لانجو د حل و فصل ضامن کتاب د اختلاف وسيله جوړوي له دې کتاب سره ستره جفا کوي، په داسي حال کې چې الله تعالی فرمايي: په څه کې چې تاسو اختلاف وکړ بايد دې کتاب ته ئې راجع کړئ، الله او د هغه رسول ته ئې راجع کړئ، تر څو ستاسي اختلاف ختم کړي او وروستۍ فيصله درکړي، تاسي د جهل او ناپوهۍ له کبله په خپلو منځونو کې اختلاف کوئ، الله جل جلاله دا کتاب رالېږلی تر څو تاسي ته حقائق څرګند او ستاسو اختلافات رفع کړي، ولې همدغه د اختلافاتو د حل و فصل وروستۍ مرجع ځينو د اختلاف وسيله ګرځولې.

همدا راز قرآن فرمايي:

إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِتَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُۚ وَلَا تَكُن لِّلۡخَآئِنِينَ خَصِيمٗا ١٠٥ النساء: 105

بې شکه چې تا ته مو دا په حقيقت ولاړ کتاب رانازل کړی، تر څو د خلکو ترمنځ د هغه څه مطابق حکم وکړې چې الله درښودلي او د خائنانو لپاره شخړه کوونکی مه شه.

د دې آيتونو لپاره چې کوم شأن نزول بيان شوی هغه د آيت په معنی ښه پوهېدو کې ډېره مرسته کوي: د يوه صحابي له کوره غلا وشوه، غل د مسلمانانو د يوې قبيلې غړی وو، د غلا مال ئې د خپل کور په ځای د يوه يهودي ملګري کور ته ورساوو او هغه ته ئې د خپل مال په نامه د ساتلو لپاره ورکړ، سبا د مال خاوند په همدغه کس د غلا شک وکړ، قضيه تر پيغمبر عليه

السلام ورسېده، له پوښتنو ګروپږنو وروسته معلومه شوه چې غلا شوی مال د يهودي په کور کې دئ، هغه وويل چې دا خو همغه غله ده ته په دغه شپه امانت پرېښود، غله انکار وکړ، خپلوانو، ملګرو او قبيلې ئې له ده دفاع پيل کړه، پيغمبر عليه السلام ته راتلل او د ده په برائت به ئې تأکيد کاوو، مال د يهودي له کوره وتلی وو، غله انکار کاوو او ډېرو مسلمانانو له ده دفاع کوله او هغه ئې برئ ګانړو، ځينو له دې کبله له ده دفاع کوله چې خپله قبيله له بدنامۍ وژغوري، ځينو له دې کبله دی برئ ګڼلو چې دی مسلمان دئ او هغه يهودي، خو له تحقيق پرته ئې له ده دفاع کوله، يوه او بل ته به ورتلل، دلته، هلته به مجلسونه او مشورې کېدې چې قضيه د غله په ګټه حل و فصل شي، نږدې وه د يهودي په خلاف فيصله وشي، چې دا آيتونه نازل شول، په دې مبارکو آيتونو کې د داسي قضاياوو په اړه پيغمبر عليه السلام او د ده له لارې مسلمانانو ته لاندې مهمې لارښوونې وشوې:

- دا په حقيقت ولاړ کتاب دئ، حق او حقيقت په دې کتاب کې راخلاصه شوی، حق به له دې کتاب پرته په بل څه او بل ځای کې نه لټوئ.
- الله تعالی دا کتاب د دې لپاره نازل کړی چې د خلکو ترمنځ ټول منازعات د دې په رڼا کې او همغسې حل و فصل شي چې الله تعالی تاسو ته درښودلي.
- له خائن به دفاع نه کوئ.
- که داسي غلطي درنه وشوه له الله ژر بخښنه وغواړئ.
- د هغه چا په ګټه مجادله مه کوئ چې له ځان سره خيانت کوي، الله ګنهګار او خائن نه خوښوي، تاسو به هم تري کرکه لرئ.
- په کار دا ده چې د ګناه په هر کار کې تر خلکو د مخه له الله تعالی شرم او حياء وکړئ، د دې په ځای چې له خلکو ئې پټوئ له الله ئې په نه کولو سره پټ کړئ.
- د ناروا کارونو لپاره جرګې او مرکې مه کوئ او له داسي ويناوو ډډه وکړئ چې الله ئې نه خوښوي.
- نه مو وينا له الله تعالی پټه پاتې کېږي او نه مو عمل، هم مو وينا اوري او هم مو د عمل څارنه کوي.
- ستاسو دا ناحقه دفاع دوی ته هيڅ ګټه نه شي رسولی، که په دنيا کې څوك

دفاع ترې وکړي، د قيامت په ورځ به ئې مدافع او وکيل څوك وي؟

- دا کتاب پيغمبر عليه السلام ته راغلی تر څو د خلکو ترمنځ د دې کتاب له مخي حکم وکړي، د هغوی شخړي او منازعات حل و فصل کړي، يعني دا کتاب د تحاکم لپاره او د دې لپاره راغلی چي د حکميت، قضاوت او د هري پريکړي او فيصلې لپاره وروستی مرجع وي.

قرآن فرمايي: چا چي په دې کتاب حکم ونه کړ کافر دئ:

إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلۡأَحۡبَارُ بِمَا ٱسۡتُحۡفِظُواْ مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ عَلَيۡهِ شُهَدَآءَۚ فَلَا تَخۡشَوُاْ ٱلنَّاسَ وَٱخۡشَوۡنِ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗاۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ٤٤ المائده:44

يقيناً چي دا تورات مو نازل کړ چي په هغه کي لارښوونه او رنا ده، په دې سره هم هغو پيغمبرانو يهودانو ته پريکړي اورولې چي مسلمانان ول او هم خدای پالونکو او علماوو په هغه څه چي د الله له کتابه ئې په حفاظت ګمارل شوي وو او پرې شاهدان ول، نو له خلکو مه وېرېږئ او له ما ووېرېږئ او زما پر آيتونو ناڅيزه بيع مه پيرئ او چا چي په ماانزل الله حکم ونکړ نو همدا دوی کافران دي.

په دې مبارکو آيتونو کي لاندي لارښووني مورد ته شوې:

- تورات يو لارښود الهي کتاب وو چي خلك ئې له تيارو ايستل او د نجات او سعادت روښانه لار ئې ورښوده.
- خدای او د ده دين ته منقاد انبياوو د يهودو تر منځ د دغه کتاب مطابق پريکړي کولې. د يهودو خدای پالو علماوو او مذهبي شخصيتونو هم د دوی ترمنځ د دغه کتاب احکام پلي کول، په خپله هم د دې کتاب ساتونکي او د پلي کولو ئې عملي بېلګي ول، عملاً ورته منقاد ول او د دوی په عملي ژوند باندي دي کتاب داسي سيوری غوړولی وو چي د هر چا تر سترګو کېدو.
- تاسو هم بايد د مخکنيو انبياوو او خدای پالو علماوو په څېر عمل وکړئ، د خلکو له وېري او د دنيايي ګټې په طمع الهي احکام شا ته مه غورځوئ.
- څوك چي د الله تعالی له لوري د لېږل شوي کتاب مطابق حکم ونه کړي کافر دئ، د الله تعالی په نزد ئې د ايمان ادعاء هيڅ اعتبار او وزن نه لري.

په بل آيت کي په دې اړه داسي ويل شوي:

وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفْسَ بِٱلنَّفْسِ وَٱلْعَيْنَ بِٱلْعَيْنِ وَٱلْأَنفَ بِٱلْأَنفِ وَٱلْأُذُنَ بِٱلْأُذُنِ وَٱلسِّنَّ بِٱلسِّنِّ وَٱلْجُرُوحَ قِصَاصٌ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِۦ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهُۥ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٤٥ المائده: 45

... او چا چې په ماانزل الله حکم ونکړ همدا دوی ظالمان دي.

او همدغه مطلب په بل آيت کې په دغو الفاظو راغلی:

...وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ٤٧ المائده: 47

... او څوک چې په ما انزل الله حکم ونکړي نو همدا دوی فاسقان دي.

په مخکني آيت کي ويل شوي چې څوک د الله تعالی له لوري د لېږل شوي کتاب مطابق حکم ونه کړي کافر دئ، ورپسې ويل شوي چې ظالم دئ او دلته ويل شوي چې فاسق دئ، د دې معنی څه ده؟ کوم يوه ته ئې کافر ويلی شو او چا ته ئې ظالم او فاسق؟ ځيني مفسرين دا دې حکمه کفارو ته راجع ګڼي، ځيني ئې د شخص په عقيدې پوري مربوط بولي او وايي چې که په ما انزل الله باور ونه لري کافر دئ، که باور ولري او حکم پرې نه کوي نو ظالم او فاسق دئ، خو که لږ غور وکړو دا راته څرګندېږي چې حکم او قضاوت يا په اعتقادي مسائلو پوري مربوط وي، يا په حقوقي او يا په اخلاقي مسائلو پوري، که څوک په اعتقادي مسائلو کي په ما أنزل الله حکم ونکړي کافر کېږي، پر حقيقت به پرده اچوي او د هغه خلاف به حکم کوي، که په حقوقي قضاياوو کي په ما أنزل الله حکم ونکړي خامخا به ظلم وکړي او د چا حق به تلف کړي او که په اخلاقي مسائلو کي په ما أنزل الله حکم ونکړي خامخا به اخلاقي حدود ترپښو لاندي کړي او فاسق به شي. دې ته مو بايد پام وي چې قرآن د هغه چا ايمان هم د اعتبار وړ نه ګڼي چې د حکميت لپاره طاغوتي محکمې ته رجوع کوي، فرمايي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓاْ أَن يَكْفُرُواْ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ٦٠ النساء: 60

آيا هغه دي ونه ليدل چې ګمان کوي هم پر هغه څه ايمان لري چې پر تا نازل شوي او هم پر هغه څه چې له تا مخکې نازل شوي، خو غواړي چې د تحاکم

لپاره طاغوت ته ورشي، حال دا چي ورته امر شوی چي له هغه به انکار کوي او شیطان غواړي چي په ژوري تېروتني سره ئې تېرباسي.

د دې آیت له مخي د هغه چا د ایمان دعوی د منلو نه ده چي طاغوت ته خپلي شخړي راجع کوي، څوك چي د طاغوت واکمنۍ ته غاړه ږدي او د خپلو مشاجراتو په اړه د هغه پرېکړي مني، هغه سخت تېروتی، شیطان غولولي، د ایمان دعوی ئې د اعتبار وړ نه ده، حتی که په ځان ئې دا ګمان هم وي چي هم پر قرآن ایمان لري او هم پر مخکنیو کتابونو. تر څو چي ته له طاغوت انکار ونکړې الله تعالی ستا ایمان نه قبلوي.

همداراز قرآن په ډېر تأکید سره وایي چي د هغه چا ایمان هیڅ ارزښت نه لري چي پیغمبر علیه السلام او د ده په لاس لېږل شوی دین د حکمیت یوازینۍ مرجع نه ګڼي، فرمایي:

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا ٦٥ النساء: 65

نو نه؛ ستا په رب قسم چي تر هغه ئې ایمان نه دئ راوړی چي تا په خپلمنځیو شخړو کي حکم ونه ګرځوي، بیا ستا د پرېکړي په اړه په خپلو زړونو کي تنګوالی ونه مومي او په بشپړه توګه تسلیم نه شي.

په دې آیت کي پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي: ترڅو چي د ایمان مدعیان تا په خپلو شخړو کي حکم ونه نیسي او بیا ستا په پرېکړي راضي نه شي او په خپلو زړونو کي هیڅ حرج احساس نه کړي او عملاً انقیاد ونکړي، مؤمنان نه شي بلل کېدی او د ایمان ادعاء ئې نه شي قبلېدی. له دې آیت په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي د ایمان د قبلېدو لاندي شرائط دي:

- شخړي او منازعات شریعت ته محول کول.
- د اسلام په هري پرېکړي رضایت.
- او هر حکم ته ئې عملاً غاړه ایښودل.

د دې آیتونو په رڼا کي قضاوت کولی شو چي د قرآن پرېکړه به د هغه چا په اړه څه وي چي په طاغوتي محکمي کي ناست دئ او د ما أنزل الله خلاف حکم کوي؟ دا په هر صورت کي هم کافر دئ، هم ظالم دئ او هم فاسق.

ټول کتاب د ټول ژوند لارښود

پر کتاب د ایمان بله تقاضا دا ده چې ټول کتاب به زمونږ د ژوند په ټولو ابعادو او اړخونو حکومت کوي، تجزیه به نه راولو، کتاب به په څو برخو نه وېشو، داسي نه چې یا خپل ژوند یا خپل ماحول او محیط او اجتماع په داسي بېلو بېلو برخو ووېشو چې په ځینو برخو ئې د الله دین حاکم وي او په ځینو نورو ئې له الهي کتابه پرته بل دین، قانون، ضابطه او نظام او یا دا چې د خپل ذهن، خیال، تشخیص او هوس په اساس عمل وکړو، که په ربښتیا د الله تعالی پر کتاب ایمان لرو نو باید زمونږ د ژوند په ټولو ابعادو کي دین حاکم وي. قرآن په دې ارتباط فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱدۡخُلُواْ فِي ٱلسِّلۡمِ كَآفَّةٗ وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ٢٠٨ فَإِن زَلَلۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡكُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ٢٠٩ البقره: 208-209

اې مؤمنانو! په اسلام کي په مکمله توګه ننوځئ او د شیطان په پلونو پسي مه ځئ، هغه خو له شکه پرته ستاسو څرګند دښمن دئ. خو که له هغه وروسته چې څرګندي نښي درته راغلې وښوېدئ، نو پوه شئ چې الله باحکمته عزتمن دئ.

یعني په اسلام کي به په کامله توګه داخلېږئ، د ژوند هیڅ برخه مو باید له اسلام بهر پاته نه شي، یو ګام به هم د شیطان پر پله نه ږدئ، په هیڅ څه کي به د ده متابعت نه کوئ، هغه به د ځان دښمن ګڼئ او که وښوېدئ نو پوه شئ چې الله هم د عزت او غلبې خاوند دئ او هم حکیم دئ، کولی شي او پوهېږي چې څنګه له خپل دین دفاع وکړي، ستاسو ښوېدل ده او د ده دین ته تاوان نه شي رسولی.

چا چې دین ته په کامله توګه رجوع ونه کړه او په بشپړه توګه په کي داخل نشو، په ځینو قضایاوو کي ئې دین ته رجوع کوله او په ځینو نورو کي ئې هغه ته شا کوله، نو نه یوازي دا چې د ده ایمان څه ارزښت او اعتبار نه لري بلکي قرآن د هغه په اړه فرمایي چې په دنیا کي به له رسوایۍ سره مخامخ کېږي او په آخرت کي به د شدید عذاب په لوري درومي، فرمایي:

... أَفَتُؤۡمِنُونَ بِبَعۡضِ ٱلۡكِتَٰبِ وَتَكۡفُرُونَ بِبَعۡضٖۚ فَمَا جَزَآءُ مَن يَفۡعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ إِلَّا خِزۡيٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلۡعَذَابِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا

تَعۡمَلُونَ ٨٥ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا بِٱلۡأٓخِرَةِۖ فَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ٨٦ البقره:85-86

... آيا د كتاب په يوې برخي ايمان راوړئ او په بلي برخي ئې كافران كېږئ؟! او له تاسو چې هرځوك دا كار وكړي نو سزا ئې په دنيا كي له سپكاوي پرته بل څه نه ده او د قيامت په ورځ به د شديد عذاب په لور گرځول كېږي او الله له هغه څه چې تاسو ئې كوئ غافل نه دئ. دا همغه خلك دي چې دنيايي ژوند ئې د آخرت په بيع وپېرو، نو نه به عذاب تري سپك كړی شي او نه به ئې مرسته وشي.

دا مبارك آيتونه له الهي كتاب سره د مخكنيو اهل كتابو چلن زموږ مخي ته ږدي او وايي چې دوی د كتاب په ځينو برخو عمل كولو او په ځينو نه، يوه بېلگه ئې دا چې د خپل قوم پر بې وسه او بې وزلو به ئې ظلمونه كول، له خپل كور كلي به ئې ايستل، د دوی د وينو له تويولو ئې هم ډده نه كوله، خو چې كله به د بل په لاس كي اسير پرېوتل نو د هغوی د ژغورني لپاره به ئې بسپني راټولولې، دا كار به ئې د خپل قومي تعصب په اساس كولو خو هغه ته به ئې ديني او مذهبي رنگ وركاوو، نو ځكه الله تعالى هغوی ته فرمايي: آيا د كتاب په يوې برخي ايمان راوړئ او په بلي برخي ئې كافران كېږئ؟!

دلته دا خبره هم د زيات دقت وړ ده چې په كتاب عمل او نه عمل ئې پر كتاب له ايمان او كفر سره مترادف ګڼلی، د دې معنى دا ده چې پر كتاب د ايمان لومړنۍ او اساسي غوښتنه پر هغه عمل كول دي، پر كتاب د هغه چا د ايمان ادعاء دروغجنه ده چې عمل پرې نه كوي.

دا آيت مونږ ته دا هم راښيي چې د يوه ديندار ولس د ذلت او سپكاوي ستر عامل دا وي چې د كتاب پر يوې برخي عمل كوي او بله ئې شا ته غورځوي. همدا راز مونږ ته راښيي چې د الله كتاب وېشل، په يوې برخي ئې عمل او بله ئې شا ته غورځول د هغه چا كار دئ چې دين په دنيا پلوري، دوی به په دنيا او آخرت كي له الهي عذاب سره مخامخ وي، هيڅ څه به ئې له دې عذابه ونه ژغوري، هيڅوك او هيڅ څه به ئې مرسته ونشي كړی.

دا آيت مونږ ته ښيي چې كه نن مسلمانان له ذلت، سپكاوي، رسوايي او محكوميت سره مخامخ دي، وجه ئې دا ده چې دوی د الله كتاب تجزيه كړی، په

ځينو برخو ايمان لري او په هغه عمل کوي او ځينو نورو برخو ته ئې شا کړې، دين ئې يوازي په جومات کي بند کړی، دين به له جوماته بهر د دوی په سياست، اقتصاد او اجتماعي مناسباتو، په داخلي او خارجي سياست کي، په سوله او په جنګ کي مداخله نه کوي، صرف د جومات څو شېبې به د دين په رڼا کي تېروي، د دوی لپاره دين يعني روژه، لمونځ، زکات، حج او دا چي نکاح به ئې د دين مطابق ترسره کېږي او مړي به ئې د دين مطابق دفن کېږي، د ژوند له نورو چارو سره به غرض نه کوي، د همدې لپاره الله تعالی له سپکاوي او ذلت سره مخامخ کړي. د قرآن دا لارښوونه مونږ ته وايي: که چېرې تاسو د مسلمانانو يوه ټولنه په ذلت، محکوميت او رسوايۍ کي وګورئ، په داسي حال کي چي الله تعالی له دوی سره د عزت، برلاسي، بريا او سرلوړي ژوند وعده کړې، نو وجه ئې د خدای د کتاب تجزيه، په ځينو برخو عمل او نورو برخو ته شا کول دي.

الله تعالی د اهل کتابو د ذلت او رسوايۍ د عواملو د توضيح په ترڅ کي د دوی د علماوو حالت ته اشاره کوي او فرمايي:

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبٗا مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ يُدۡعَوۡنَ إِلَىٰ كِتَٰبِ ٱللَّهِ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ وَهُم مُّعۡرِضُونَ ٢٣ آل عمران:23

آيا هغو ته دي پام نه دئ چي د کتاب څه برخه ورکړی شوې، د کتاب په لوري بلل کېږي ترڅو د دوی ترمنځ پرېکړه وکړي، خو يوه ډله ئې ډډه کوي، په داسي حال کي چي عمداً اعراض کوونکي وي.

دلته د دوی د علماوو په اړه بحث شوی، هغه چي د کتاب په څه برخي پوه شوي، د کتاب څه محدود او لږ علم ئې په برخه شوی، خو کله چي د الله کتاب ته د خپلو شخړو او منازعاتو د حل و فصل لپاره بلنه ورکړی شي او کله چي ورته وويل شي چي د الله په کتاب عمل وکړئ، له دې اعراض کوي او مخ اړوي.

د کوم ولس د علماوو حالت چي داسي وي، د عوامو به ئې څه حال وي؟ له دې کبله الله تعالی له هغه ذلت سره مخامخ کړل، له دوی ئې د امامت منصب واخيست او هغه ئې بل قوم ته وسپارلو.

د الحديد په سوره کي دې مطلب ته داسي اشاره شوې:

لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلۡنَا مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمِيزَانَ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَأَنزَلۡنَا ٱلۡحَدِيدَ فِيهِ بَأۡسٞ شَدِيدٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥ وَرُسُلَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٞ ٢٥ الحديد:25

يقيناً چي موږ خپل پيغمبر ان له ښکاره سره ولېږلي او له دوی سره مو کتاب او ميزان ولېږلی تر څو خلك په قسط قائم شي (عدل او قسط قائم او حاکم کړي) او اوسپنه مو ولېږله چي په هغې کي شديد جنګ دئ او خلکو ته ځيني ګټي او تر څو الله هغه څوك معلوم کړي چي په غياب کي د ده او د ده د پيغمبرانو مرسته کوي، يقيناً چي الله قوي او عزيز دئ.

دا دئ ګورئ چي الله تعالی پيغمبران عليهم السلام او د دوی په لاس خپل کتابونه د دې لپاره لېږي چي خلك عدل او قسط قائم کړي، دا د حکميت لپاره او د قسط او عدل قائمولو لپاره نازل شوي، نه د تبرك لپاره چي په جامو کي ئې ونغاړې او په تاخچو کي ئې کېږدئ او هغه د تبرك يوه وسيله وګڼې او د قسم يوه ذريعه.

قرآن اهل کتابو ته فرمايي: تر څو چي تاسو په تورات او انجيل عمل ونه کړئ او د تورات او انجيل احکام په خپلمنځيو شخړو، منازعاتو او معاملاتو کي حاکم او قائم نه کړئ، تاسو نه دين لرئ او نه په کوم کتاب ايمان، د ايمان دعوی مو دروغجنه ده، د الله تعالی په وړاندي ستاسو د ايمان دعوی هيڅ ارزښت او قيمت نه لري.

قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَسۡتُمۡ عَلَىٰ شَيۡءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡۗ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ طُغۡيَٰنٗا وَكُفۡرٗاۖ فَلَا تَأۡسَ عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٦٨ المائده:68

ورته ووايه: اې اهل کتابو! تر څو تورات، انجيل او هغه څه چي د خپل رب له لوري درته نازل شوي پلي نکړئ، په هيڅ څه نه ياست او هغه څه به حتماً د دوی د ډېرو طغيان او کفر ورزيات کړي چي ستا د رب له لوري درته نازل شوی، نو د کافرانو پر دې قوم هيڅ تأسف مه کوه.

دا مبارك آيت په پرېکنده او قاطع الفاظو فيصله کوي چي د اهل کتابو د ايمان دعوی يوازي په هغه صورت کي ارزښت لري چي د تورات او انجيل احکام پلي کړي، له دې پرته ئې نه پر الله تعالی د ايمان دعوی د منلو وړ ده او نه په

الهي کتابونو د ایمان دعوی، په الهي احکامو د نه عمل کولو په صورت کي دوی اصلاً هیڅ دین او مذهب نلري او د دې قاطع الهي حکم معنی دا ده چې په الهي کتاب له تمسك او عمل کولو پرته د دیانت، مذهب او پر الله تعالی او پیغمبر ئې د باور دعوی پوچه او بې ارزښته ده.

همداراز دا آیت ښیي چې دا بې دینه او بې مذهبه ټولی به داسي وموميې چې له دعوتګرانو سره ئې د مخالفت لویه وجه دا وي چې هغوی د ماأنزل الله لوري ته بلنه ورکوي، ګورې به چې دا دعوت د دوی کفر او طغیان لا زیات کړي. مه د دغو کافرانو په بد حالت تأسف کوه او مه ئې له مخالفتونو څخه مأیوسه کیږه، د دوی له مخالفت سره سره خپل دعوت ته ادامه ورکړه.

د کتاب تبلیغ

پر کتاب د ایمان بله تقاضا دا ده چې د ایمان خاوندان به نور هم په دې کتاب ایمان راوړو ته رابلي، د کتاب د تبلیغ لپاره به ملا تړي، نوروته به ئې رسوي او له پټولو به ئې ځان ساتي. څوك چې په کومي عقیدې باور لري، هغه ورته حق برېښي، نو حتماً هڅه کوي چې نور هم خپلي عقیدې ته راوبلي، څوك چې کوم کتاب او عقیدې ته بلبنه نه ورکوي په حقیقت کي نه عقیده لري او نه په کوم کتاب ایمان. قرآن په دې اړه فرمایي:

وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهُۥ لِلنَّاسِ وَلَا تَكۡتُمُونَهُۥ فَنَبَذُوهُ وَرَآءَ ظُهُورِهِمۡ وَٱشۡتَرَوۡاْ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلٗاۖ فَبِئۡسَ مَا يَشۡتَرُونَ ۱۸۷ آل عمران: 187

او کله چې الله له اهل کتابو دا ژمنه ترلاسه کړه چې هرومرو به ئې خلکو ته بیانوئ او نه به ئې پټوئ، خو خپلي شا ته ئې وغورځاوو او ناڅیزه بدله ئې پرې وپېرله، څومره بد دئ هغه څه چې دوی ئې پېري.

دا مبارك آیت مورِ ته وایي: چا ته چې الله کتاب او د کتاب علم ورکړی دا ژمنه ئې ترې اخیستې ده چې دا کتاب به خلکو ته رسوئ، لاربښووني به ئې خلکو ته بیانوئ او هیڅ څه به ئې نه پټوئ، خو د اهل کتابو دین پلورونکو مذهبي مشرانو هم د الله کتاب شا ته وغورځاوو او هم ئې خپله ژمنه هېره کړه، دین ئې په دنیا خرڅ کړ، هغه هم ډېر ارزان، په ډېره ناڅیزه بیع، د ظالمانو په ګټه ئې فتواګاني ورکړې او خلك ئې له دین بې خبره پرېښودل.

همدا راز فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَشۡتَرُونَ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ مَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ إِلَّا ٱلنَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ١٧٤ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡعَذَابَ بِٱلۡمَغۡفِرَةِۚ فَمَآ أَصۡبَرَهُمۡ عَلَى ٱلنَّارِ ١٧٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ نَزَّلَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِي ٱلۡكِتَٰبِ لَفِي شِقَاقِۭ بَعِيدٖ ١٧٦ البقره: 174-176

يقيناً هغه کسان چې د الله کوم نازل کړی کتاب پټوي او لږ بدله پرې پېرۍ، نو دا ډله له اور پرته بل څه په خپلو ګېډو کې نه خوري (نه اچوي) او الله به نه د قیامت په ورځ ورسره خبرې کوي او نه به ئې پاکوي او دوی ته به دردناك عذاب وي. دا هماغه دي چې بې لاریتوب ئې په هدایت او عذاب ئې په مغفرت وپېرلو، نو څه شي په اور باندي صابر کړل؟! دا له دې کبله چې الله دا کتاب په حقه نازل کړی او چا چې په دې کتاب کې اختلاف وکړ نو دوی په ژور اختلاف کې دي.

یعني چا چې د الله د کتاب له بیانولو ډډه وکړه، د کومې دنیایي ګټې لپاره ئې د الله د کتاب کوم څه پټ کړل، د ظلم او فساد په خلاف ئې غږ اوچت نه کړ، له جهل او شرك د خلکو د ژغورنې لپاره ئې جهاد ونکړ، یا د دې لپاره چې ژوند او مال متاع ئې په خطر کې ونه لوېږي او یا د دې لپاره چې په دې کتمان سره له ظالمو واکمنانو څه ترلاسه کړي، نو د قیامت په ورځ به الله تعالی له ده سره تکلم نه کوي، همغسې لکه چې ده د الله په کتاب تکلم نه وو کړی، له ګناه به ئې پاك نه کړي، همغسې لکه چې ده له فساد سره مقابله نه وه کړې او ټولنه ئې له ظلم او شرك نه وه پاکه کړې، ده ته به دردناك عذاب وي، همغسې لکه چې ده مظلومان په دردناکو عذابونو کې یوازې پرېښي وو، څه چې په دې سکوت او مداهنت ترلاسه کوي په اصل کې د دوزخ اور دئ چې په خپلې ګېډې کې ئې اچوي، دوی د هدایت په ځای ضلالت غوره کړی او د مغفرت په ځای الهي عذاب، د الله له کتاب څخه د دوی هر اختلاف له حق او حقیقت ځني اختلاف دئ.

همدا راز فرمايي:

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَلۡبِسُونَ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٧١

آل عمران:71
اې اهل کتابو! ولي حق له باطل سره خلطوئ، (باطل ته د حق جامه وراغوندئ) او حق پټوئ، په داسي حال کي چې پوهيږئ.

دوی به کله په خپلو غلطو توجيهاتو سره حق ته د باطل جامه وراغوندي او کله به باطل ته د حق او که په خپلو غلطو او دروغجنو توجيهاتو، تأويلاتو په دې موفق نه شول چې باطل حق او حق باطل ثابت کړي، نو حق به پټوي، دا کار په داسي حال کي کوي چې پوهيږي حق کوم دئ او باطل کوم، په ناپوهۍ سره دا کار نه کوي، د غرض او مرض له کبله ئې کوي، اخيستل شوي او استخدام شوي، د خپل مزد او اجورې په مقابل کي دا کار کوي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

پر ملائکو ایمان
معنی،
دلائل او
غوښتنې ئې

بسم الله الرحمن الرحيم

پر ملائکو ایمان

الله تعالی په داسي حال کي چي په هر کار قادر او د بل له مرستي بې نیاز دئ، په ټول عالم کي د ده حکم نافذ او د دې عالم په اداره او تنظیم کي له شریك او مرستندوی مستغني دئ، خو د دې عالم د چارو د سمبالولو لپاره د ملائکو په نامه داسي لښکري لري چي له ځنډ پرته، طوعاً او کرهاً، د الله تعالی احکام او اوامر پلي کوي، تل د ده په عبادت بوختي دي او له الهي احکامو سرغړونه ورته ممکنه نه ده.

هر څه چي په دې عالم کي تر سره کیږي، د الله په اراده او له ثابتو الهي سننو سره سم او د هغو ځواکونو او ذواتو په ذریعه ترسره کیږي چي د سرته رسولو لپاره ئې مأمور شوي، په دې عالم کي هیڅ پیښه، هیڅ حرکت او خوځښت؛ نه تصادفي دئ او نه په خپل سر، هر څه د ملائکو په ذریعه او د الله تعالی له اوامرو سره سم ترسره کیږي.

دا فرشتې لکه څنګه چي ځیني ګمان کوي مجرد، بې هویته او بې هیکله ځواکونه نه دي چي خارجي وجود ونه لري؛ بلکي وجود لري، له نوره پیدا شوې، هري ډلي ته ئې خاصي دندي سپارل شوې، په خپله خوځیږي، د آسمان او زمکي ترمنځ تګ راتګ کوي، هر هغه څه خوځوي چي دوی وربانديي مأمور شوي.

که شیطان د انسان د بې لاري کولو لوړه کړې او د انسان د بې لاریتوب او سقوط په لټه کي دئ او هغه ته د الله په لار کي ښې او کین لوري ته په کمین کي ناست، فساد او انحراف ته ئې بلي، ده ته د یأس او ناهیلی تلقین کوي،

غواړي د ده نشاط، تحرك، شور او شوق ختم کړي، په ده کي وېره، حزن او اضطراب راپيدا کړي او په دې ترتيب غواړي د ده ټول استعدادونه او ځواکونه راکد پاتي شي، له کاره ولوېږي او د الله په لوري د تلو عزم او توان له لاسه ورکړي، خو ملائکي د شيطان برعکس، انسان ته زېرى ورکوي، هغه په سمه لار تلو ته هڅوي، ښېګڼو ته ئې بلي، هغه ته د خوف، وېرې، اندېښنې او اضطراب په ځاى د ډاډ او اطمئنان تلقين کوي، لکه چې قرآن فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ٣٠ نَحۡنُ أَوۡلِيَآؤُكُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَشۡتَهِيٓ أَنفُسُكُمۡ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ٣١ فصلت: 30-31

يقيناً هغه چې وئې ويل: زمونږ رب الله دئ؛ بيا ئې استقامت وکړ، فرشتې به پرې نازليږي (له دې وينا سره) چې مه وېره کوئ او مه غمجن کېږئ او د هغه جنت په زېري سره خوښ اوسئ چې وعده ئې درکول کېږي، مونږ هم د دنيا په ژوند کي ستاسو دوستان يو او هم په آخرت کي، او تاسو ته په دې کي هر هغه څه شته چې ستاسو زړه ئې غواړي او هر هغه څه چې تاسو ئې غوښتنه وکړئ، يوه ميلمستيا د ډېر مهربان بخښونکي له لوري.

د هغو په مقابل کي چې ملګري او مشاورين ئې جني او انسي شيطانان دي او بد کارونه ئې ورته ښايسته کوي؛ مؤمنان او هغه چې وايي: زمونږ رب الله دئ او په همدې باور او اعتقاد او غوښتنو ئې ثابت او ټينګ پاته کېږي؛ داسي معرفي شوي چې فرشتې به پرې نازليږي او دوى ته به وايي: مه وېره کوئ او مه غمجن کېږئ او د هغه جنت په زېري سره خوښ اوسئ چې وعده ئې درکول کېږي، مونږ هم دلته په دنيا کي ستاسو دوستان يو او هم په آخرت کي، که په دنيا کي له آزمويښو،کړاوونو او محروميتونو سره مخامخ شوئ پروا ئې مه کوئ، الله تعالى به ئې په بدل کي هغه جنت درکړي چې په هغه کي به تاسو ته هر هغه څه وي چې ستاسو زړه ئې غواړي او هر هغه څه چې تاسو ئې غوښتنه وکړئ، يوه داسي ميلمستيا چې د ډېر مهربان بخښونکي رب له لوري به وي!!

دلته پوښتنه راولاړېږي چې دا فرشتې څنګه او په کومي بڼې کي پر مؤمنانو نازليږي؟ ځواب ئې دا دئ: همغسي لکه چې شيطانان بدو انسانانو ته ورځي او

هغوی وسوسه کوي، فرشتې مؤمنانو ته ورځي او دغه ویناوي ورته تلقینوي چې په مخکنیو آیتونو کې راغلې.

قرآن فرمایي چې د انسان روح د فرشتو په لاس قبض کیږي او د هغه مرګ تصادفي او په خپل سر نه دئ.

وَقَالُوٓاْ أَءِذَا ضَلَلۡنَا فِي ٱلۡأَرۡضِ أَءِنَّا لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدِۭۚ بَلۡ هُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ كَٰفِرُونَ ١٠ قُلۡ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلۡمَوۡتِ ٱلَّذِي وُكِّلَ بِكُمۡ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُونَ ١١

السجده: 10-11

او وئې ویل: آیا کله چې په زمکي کې ورک (او خاوري) شو بیا به په نوي پیدایښت کې وو؟! بلکي دوی د خپل رب د ملاقات په اړه کافران دي، ورته ووایه: د مرګ هغه فرشته تاسو وفات کوي (ستاسو روح قبض کوي) چې پر تاسو ګمارل شوې، بیا د خپل رب په لوري ګرځول کیږئ.

په دې مبارکو آیتونو کې دا لاربښووني ګورو:

- **د آخرت منکرین وایي:** آیا دا ممکنه ده چې مور ومرو، جسدونه مو خاوري او په زمکي کې متلاشي او ورک شي؛ بیا به په نوي پیدایښت کې پیدا کیږو؟! **د دوی په اړه ویل شوي: دوی په اصل کې** له خپل رب سره په مخامخېدو باور نه لري، له بیا ژوندون ئې انکار له دې کبله نه دئ چې دا کار ورته مستحیل او ناممکن برېښي، د انکار اصلي وجه ئې دا ده چې له خپل رب سره د ملاقات او د خپلو جرمونو له سزا سره د مخامخېدا منل ورته ګران کار دئ، په دې اړه د دوی کفر د دې باعث شوی چې له بیاژوندون انکار کوي.
- د دوی په ځواب کې ویل شوي: ستاسو مرګ کومه تصادفي او خپل سري پېښه نه ده، دا ځکه چې الله تعالی ستاسو د حفاظت او ساتنې بند و بست کړی او له خپلې خوا ئې ستاسي لپاره ساتونکي موظف کړي، دا ساتونکي د مرګ تر ثابتې نېټې ستاسو ساتنه کوي او د دې نېټې په رارسېدو سره ټاکلي فرشتې ستاسو روح قبض کوي. نو ستاسو د روح وتل د یوې دقیقې منصوبې له مخې ترسره کیږي، بدن مو متلاشي کیږي خو روح مو ساتل کیږي. الله تعالی به هغه ورځ چې ستاسو د بېرته ستنېدو لپاره ئې ټاکلې ده؛ دغې روح ته بیا بل کالبوت ورکړي.

د مرګ په کار ګمارل شوې فرشتې به د روح د قبضولو په دوران کې د نېک

او بد انسان ترمنځ تفکیك کوي او له هر یوه سره به د دوی معامله ښله وي. چا چي په خپل ژوند کي د منافقت لار غوره کړې، ظاهر ئې یو رنګ او باطن ئې بل رنګ، د مسلمانانو په وړاندي په یوه څېره او د دوی شا ته په خفاء کي په بله څېره، د کافرانو په ډله کي کافر او د مسلمانانو په ډله کي مسلمان وي، فرشتي به د دوی د روح اخیستلو په وخت کي دوی په شا او مخ وهي.

فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَٰرَهُمْ ٢٧ محمد:27

نوځنګه به وي چي فرشتې د دوی روح قبضوي په داسي حال کي چي پر مخ او شا ئې وهي.

هغه کسان چي په قدیر خدای د ایمان له دعوی سره سره د ضعف او ناتوانۍ احساس کوي، ذلت او اسارت ته غاړه ږدي او د دې په ځای چي د خپلې آزادۍ لپاره هجرت وکړي او په بل ځای کي د سرلوړي او آزاد ژوند د تر لاسه کولو هڅه وکړي، د سپکاوي او ذلت ژوند غوره کوي او دښمن ته د اسارت سرټیټوي، کله چي ملائکي د داسي کسانو روح قبضوي، د دوی د دې استدلال په ځواب کي چي د ضعف او ناتوانۍ له کبله ئې هجرت ونکړ، داسي وایي: آیا د الله زمکه پراخه نه وه چي هجرت مو کړی وی؟

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِىٓ أَنفُسِهِمْ قَالُوا۟ فِيمَ كُنتُمْ ۖ قَالُوا۟ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ قَالُوٓا۟ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةً فَتُهَاجِرُوا۟ فِيهَا ۚ فَأُو۟لَٰٓئِكَ مَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ٩٧ النساء:97

بې شکه هغه کسان چي ملائکي ئې روح قبضوي، په داسي حال کي چي دوی پر خپلو ځانونو ظلم کوونکي وي، ورته وایي به: تاسي په څه حالت کي وئ؟ وایي: مونږ په زمکه کي کمزوري او مستضعف وو، ورته وبه وایي: آیا د الله زمکه پراخه نه وه چي هجرت مو په کي کړی وی؟ نو دوی همغه دي چي مېشت ځای ئې دوزخ دئ او د ورګرځېدو څومره بد ځای.

دلته د هغو کسانو په اړه بحث شوی چي د هجرت له فرض کېدو وروسته ئې له هجرت ډډه کړې، په دارالحرب کي پاته شوي، څه عذر ئې نه وو، هسي د الله لپاره له خپل کور، کلي وتل او له خپل مال، دولت لاس اخیستل ورته ګران وو، د دوی په اړه لاندي وضاحتونه شوي:

- دوی پر خپل ځان ظلم کوي او خپله دنیا او آخرت تباه کوي.

- د مرګ په وخت کي به ئې ملائکي دا بهانه د منلو وړ نه ګڼي چي وايي: مجبور او ناتوانه وو.
- ملائکي به ورته وايي: آيا د الله دا پراخه زمکه دومره درباندي تنګه شوې وه چي د هجرت لپاره مو کوم ځای نه شو موندلی تر څو له خپل دين او ايمان سره هلته تللي وی او د کفر له سلطې مو ځان آزاد کړی وی؟!
- د دوی مېشت ځای دوزخ دئ.

د فرشتو ېپل ېپل ټولګي او اصناف دي، هر ټولګي ته ېپله ېپله دنده سپارل شوې او د خپلي مشخصي وظيفې او دندي پوره علم او پوهه ورکړی شوې. د انسان په نسبت د دوی پوهه محدوده ده، دوی ته د انسان په څېر د داسي جامع پوهي د تر لاسه کولو استعداد نه دئ ورکړی شوی چي هر څه پېژندی او په هر څه پوهېدی شي؛ بلکي د خپلي مشخصي دندي محدود علم ورکړی شوی، قرآن عظيم الشأن په دې اړه فرمايي:

وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلْأَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِى بِأَسْمَآءِ هَٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ٣١ قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ٣٢

البقره: 31-32

او آدم ته ئې نومونه ورزده کړل، ټول ئې، بيا ئې ملائکو ته وړاندي کړل، نو وئې ويل: د دغو پر نومونو مي خبر کړئ؛ که رښتيني ياست. وئې ويل: پاکي ده تا لره، مونږ له هغه پرته چي تا راښودلي هيڅ علم نه لرو، ته خو بې شکه چي ښه پوه او ښه د حکمت خاوند يې.

له دې آيت څو مهم مطالب تر لاسه کولی شو:

- الله تعالی آدم عليه السلام او د ده نسل ته پر ملائکو باندي دا فضيلت ورکړی چي علم ئې تر فرشتو جامع دئ، د هرڅه د پېژندلو او هغه ته د خاص نوم ورکولو استعداد په کي اېښودل شوی، خو ملائکي داسي دي چي هر صنف ئې د خپل خاص کار په اړه علم لري او د نورو شيانو په اړه نه پوهېږي، هر څه پېژندل او بيا هغه ته خاص نوم ورکول د انسان ځانګړتيا ده، دا خصوصيت په بل هيڅ مخلوق کي نشته، د زمکي د خلافت لپاره همداسي يوه مخلوق ته ضرورت وو، ملائکو دا کار نه شو کولی. متأسفانه ځيني داسي ګمان کوي چي ملائکو غوښتل د زمکي خلافت د دوی په واك کي وي او بل چا ته ورنکړی

شي، الله غوښتل دوی په دې ملامت کړي او ورته ثابته کړي چې تر تاسو آدم علیه السلام د دې مقام لپاره وړ دئ، نو آدم علیه السلام ته په غوږ کي وویل شو چې د دې او هغه شیانو نومونه څه دي، بیا د همدغو شیانو د نومونو په اړه له ده او ملائکو امتحان واخیستل شو، ملائکي ناکامه او دی بریالی شو. حال دا چې نه دا کار د امتحان اخیستو لپاره ترسره شوی، نه ملائکي داسي دي چې د الله له حکم مخالفت وکړي او د ځان لپاره کومه دنده وغواړي او نه په داسي امتحان سره د آدم علیه السلام وړتیا ثابتېدی شي. دا له اسرائیلي روایاتو اخیستل شوي آراء دي، په دې کي هم الله تعالی ته د عدل او عقل خلاف کارونه منسوب شوي او هم ملائکو ته د ګناه کارونه! الله تعالی خو نه د عدل خلاف کار کوي او نه د عقل، دا تأویل هم د عدل منافي دئ هم د مشاهدې، داسي امتحان چې په هغه کي یوه ته نقل ورکړی شي د عدالت منافي امتحان دئ او مونږ په مشاهدې سره ګورو چې آدم علیه السلام او اولاد ته ئې د ټولو شیانو نومونه نه دي ښودل شوي، په څو دلائلو:

- که ده ته نومونه ورښودل شوي وی نو باید ترقیامته د ده په ټول اولاد کي همدا نومونه پاته وی، د ده عرب او عجم زامنو باید ورته نومونه کارولی او د ټولو ژبه یوه وی، خو عملاً ګورو چې نه ژبه یوه ده او نه نومونه. دا دوی ولي د قرآن د آیتونو داسي تعبیرونه کوي چې د مشاهدې خلاف دي، آدم علیه السلام ته به نومونه همغسي ښودل شوي وي لکه د ده اولاد ته چې ئې ښیي، د آدم علیه السلام قصه خو ئې د دې لپاره راوړې چې د ده اولاد ته وښیي چې پر تاسو مي دا او دا نعمتونه پېرزو کړي، تاسو ته مي پر ټولو مخلوقاتو فضیلت درکړ، پر ملائکو هم، د هر څه پېژندل او خاص نوم ورته وضع کول ستاسو هغه ځانګړتیا ده چې هیڅ مخلوق ته نه ده ورکړی شوې، په کوم ترتیب چې الله تعالی د آدم علیه السلام اولاد ته نومونه ښیي همداسي ئې آدم علیه السلام ته ښودلي، د آدم علیه السلام هر لمسی چې پیدا شي نو هر څه ته لاس اچوي، یوه خوا بله خوا ئې ګوري، نوم ورته ږدي، مور، پلار، ډوډۍ او اوبو ته له خپلي خوا نومونه ږدي، په سر کي خوراك او څښاك په ژړا غواړي، چې لږ لوی شي خپلو ضروري شیانو ته داسي وړوکي وړوکي نومونه کېږدي چې خپله مور وربانديي پوهولی شي، که ئې مور پلار خپله ژبه وربانديي تحمیل نه کړي نو ځان ته به نوې ژبه او نومونه غوره کړي، آدم علیه السلام ته د نومونو د

ښودلو معنی دا ده، نه هغه چې په اسرائیلي روایاتو کې راغلې.

- د ټولو شیانو علم له الله پرته هیچا ته ممکن نه دئ، آدم علیه السلام او اولاد ئې دا توان نه لري چې د ټولو شیانو نومونه زده او حفظ کړی شي، حافظه ئې دومره ظرفیت نه لري.
- دا خبره مو باید تل په پام کې وي چې قرآن د حق او باطل د پېژندو لپاره وروستی معیار او ملاك دئ، هره اختلافي خبره باید قرآن ته محول شي او یوازې هغه خبره حق وګڼو چې له قرآن سره موافق وي، روایت به د قرآن په تله تلو، نه دا چې د قرآن آیت د روایت لپاره تأویل کړو! دا خو هغه کار دئ چې اهل کتابو وکړ او په نتیجه کې ئې د الله کتاب شا ته وغورځاوو، په روایاتو پسې ولاړل او په اختلافاتو اخته شول، حاشا و کلا چې صحابه دي هغه خبره وکړي چې قرآن نه وي کړې، صحابه خو د قرآن لومړي زده کوونکي او حاملان وو، تر هرچا ښه وربانديي پوه شوي وو، له هغه چا ئې مخامخ اورېدلی وو چې دا قرآن وربانديي نازل شوی وو، څنګه به هغوی د قرآن خلاف خبره کوي؟ که کله له داسي روایت سره مخامخ کېږو چې له قرآن سره اړخ نه لګوي نو د دې په ځای چې د قرآن آیتونه د روایت لپاره تأویل کړو باید ووایو چې یا راوي اشتباه کړې او یا مروي عنه د اهل کتابو خبره کوله او اورېدونکي ګمان کړی چې دا د ده خپله خبره او رأیه ده او نورو ته ئې د ده د خبري په توګه انتقال کړې. په روایاتو کې بې شمېره داسي روایات شته چې په اصل کې د اهل کتابو روایات دي خو صحابه وو ته منسوب شوي.
- د (علم آدم الاسماء کلها) تفسیر باید تر هر څه د مخه په خپله په قرآن کې ولټوو او وګورو چې (علّم) په کومه معنی راغلی؟ قرآن مونږ ته د دې وضاحت کړی، د قرآن په رڼا کې په دې پوهېدل آسان دي چې آدم علیه السلام ته د اسماوو تعلیم او ښوونه داسي ده لکه چې د ده اولاد ته د بیان د تعلیم په اړه ئې فرمایلی: (علمه البیان: خبري کول ئې وروښودل). الله تعالی انسان ته د وینا استعداد ورکړی، دا ښوونه داسي نه ده چې د پیدایښت له لومړۍ ورځې خبري کولی شي، بلکې ورو ورو ئې زده کړي، همدا راز ئې د ټولو شیانو د پېژندو او هر یوه ته د خاص نوم ورکولو استعداد ورکړی.
- آدم علیه السلام له دې کبله په زمکه کې د خلافت لپاره تر فرشتو غوره دئ چې ده ته تر فرشتو د جامع علم او پوهې استعداد ورکړی شوی، چې له هر څه

سره مخامخ شي نو د تفحص او تجسس حس ئې وهڅوي، د هغه پلټنه کوي، د هغه د پېژندلو هڅه کوي او په خصوصياتو ئې له پوهېدو وروسته هغه ته مناسب نوم غوره کوي.

- د انسان ټوله پوهه او علم د نومونو او اسماوو مجموعه ده، خو ګورو چې د نومونو غوره کول د انسان کار دئ، هغه په خپله د يوه شي له پېژندلو او جوړولو وروسته هغه ته مناسب نوم غوره کوي، همدا وجه ده چې په مختلفو قومونو کې د اشياوو نومونه بېل بېل دي. که دا نومونه الهامي وی بايد د آدم عليه السلام په اولاد کې ثابت پاته شوي او له يوې پېړۍ بلې ته انتقال شوي وی.
- له بلې خوا د انسان د حافظې ظرفيت محدود دئ، يو معين شمېر الفاظ حفظ کولی شي، د ټول عالم د ټولو شيانو نومونه د ده په محدودي حافظې کې نه ځايېږي، داسي جامع او کلي علم يوازي له عليم الله سره دئ، نو آدم عليه السلام ته د هر څه د نوم ښودلو معنی دا ده چې آدم عليه السلام ته ئې د هر څه د پېژندلو او په مناسب نوم د هغه د نومولو استعداد ورکړ، په زمکه کې د خلافت لپاره همدا استعداد ضروري دئ، فرشتو ته دا استعداد نه دئ ورکړی شوی، د هغوی علم محدود دئ، هره ډله ئې يوازي د خپلې مشخصې دندې په اړه علم او پوهه لري.
- د فرشتو په نسبت دا غوره والی يوازي آدم عليه السلام ته مختص نه دئ بلکې د ده د ټول نسل لپاره دئ؛ دا ځکه چې د زمکې خلافت ده او د ده اولاد ته ورکړی شوی، بايد دا استعداد د ده په ټول نسل کې هم موجود وي.
- فرشتو ته امر شوی چې آدم عليه السلام ته سجده وکړي، په دې اړه د مفسرينو ترمنځ پوره اختلاف شته چې آيا دا سجده د تعظيم سجده وه که د شکر، آدم عليه السلام ته وه او که د آدم عليه السلام په لوري او الله تعالی ته. غوره رأيه دا ده چې فرشتې د آدم عليه السلام په وړاندې په انقياد او مننې مکلف شوې، کېدی شي د دې انقياد د اظهار لپاره ئې کوم خاص حرکت هم ترسره کړی وي، لکه د لمر، ستورو او ونو له سجدې چې مراد کامل انقياد او مننه ده، نه د انسان په شان تندی پر زمکه اېښودل، دا ځکه چې دوی د انسان په شان نه دي چې ملا او زنګون ولري، کوپ شي او تندی پر زمکه کېږدي. د آدم عليه السلام په وړاندې د فرشتو له انقياد سره، د زمکې او آسمانونو هر څه انسان ته

مسخر شول، دا ځکه چې ملائکي د دې عالم د چارو سمبالوونکي دي، د دوی له انقیاد سره به هر څه د انسان په وړاندي منقاد او مسخر وي، لکه چې قرآن فرمایي:

وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مِّنۡهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ١٣ الجاثیه:13

او تاسو ته مو ټول هغه څه چې په آسمانونو کي دي او هغه څه چې په زمکه کي دي مسخر کړل، یقیناً په دې کي هغه قوم ته نښي دي چې فکر کوي.

دا آیت په ډېر صراحت سره وایي چې فرشتې هم د عالم د نورو شیانو په څېر انسان ته مسخر دي، د زمکي او آسمانونو هر څه به په هغه صورت کي انسان ته مسخر وي چې سمبالوونکې فرشتې ئې انسان ته منقادي وي، له دې معلومېږي چې دا د آدم علیه السلام په وړاندي د فرشتو انقیاد یوازي د ده لپاره نه وو بلکي د ده د اولاد لپاره هم وو. موږ عملاً ګورو چې د کوم کار اراده کوو، که له زمکي ډبره را پورته کوو، له وني مېوه را شکوو، له ډبرو اوسپنه راوباسو او موټري او جهازونه تري جوړوو، زموږ په ټولو کړو وړو کي فرشتې زموږ له ارادې سره سم خوځېږي او په دې ترتیب موږ ته د هغه کار د تر سره کولو توفیق را په برخه کېږي چې د کولو اراده ئې کوو، که داسي نه وی نو انسان به د جماداتو په څېر وو او په خپله خوښه به ئې د کوم کار د کولو توان او قدرت نه درلود.

انسان ته داسي فرشتې ټاکل شوي چې د ده څارنه کوي، هره خبره او هر عمل ئې لیکي، دا فرشتې هره دوشنبه او پنجشنبه لیکل شوې عمل پاڼې پورته وړي او ځای ئې نوري فرشتي نیسي. فرشتې د الله په عبادت کي لګیا وي، د الله اوامر ترسره کوي، د ده ستاینه کوي او مؤمنانو ته له الله بخښنه او مغفرت غواړي، لکه چې قرآن فرمایي:

ٱلَّذِينَ يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ وَمَنۡ حَوۡلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُونَ بِهِۦ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا فَٱغۡفِرۡ لِلَّذِينَ تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ٧ رَبَّنَا وَأَدۡخِلۡهُمۡ جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدتَّهُمۡ وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٨ وَقِهِمُ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ وَمَن تَقِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ يَوۡمَئِذٖ فَقَدۡ رَحِمۡتَهُۥۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٩ المؤمن:7-9

هغه چې عرش پر اوږو وړي او هغه چې شاوخوا ئې دي د خپل رب له ستاینې سره تسبیح وایي، پر ده ایمان لري او هغو ته بخښنه غواړي چې ایمان ئې راوړی؛ (وایي) اې زمونږ ربه! د رحمت او علم له پلوه هر څه ته په پراخه پیمانه رسېدلی یې، نو هغو ته بخښنه وکړه چې توبه ئې کړې او ستا د لارې متابعت ئې کړی او د دوزخ له عذاب ئې وساته، اې زمونږ ربه! هغه تلپاتې جنت ته ئې ننباسه چې تا ئې ژمنه ورسره کړې او د دوی له پلرونو، د دوی له میرمنو او د دوی له اولاد هغه هم چې صالح وي، یقیناً چې ته باحکمت عزتمن یې، له بدیو ئې وساته، څوك چې ته په دې ورځ له بدیو وساتې نو پېرزوینه دي پرې کړې، او دا همغه ستره بریا ده.

د دې مبارکو آیتونو لاربښووني دا دي:

- مؤمنانو ته هغه فرشتې دعاء کوي چې الله تعالی ته ډېرې نږدې او مقربې دي، عرش پر اوږو وړي او د عرش شاوخوا کې د خپل رب په ستاینې او تسبیح لګیا دي، هغه چې د مؤمنانو په څېر دي او پر الله تعالی ایمان لري، دوی هغو ته بخښنه غواړي چې ایمان ئې راوړی، په خپلو دعاګانو کې وایي: اې زمونږ ربه! ستا رحمت او علم پراخ دئ، هر څه ئې احتوی کړي، د خپل رحمت او علم له پلوه هر څه ته په پراخه پیمانه رسېدلی یې، یعني ستا رحمت پر هر څه وزر غوړولی او هیڅ څه ستا د پراخ علم له دائرې بهر نه دئ پاته. هغو ته بخښنه وکړه چې توبه ئې کړې او ستا د لارې متابعت ئې کړی او د دوزخ له عذاب ئې وساته، ته د خپل رحمت له مخې د هغوی توبه قبوله کړه، ته ښه پوهېږې چې څوك په رښتینې توګه توبه کوي او څوك ستا د لارې متابعت کوي، اې زمونږ ربه! هغه تلپاتې جنت ته ئې ننباسه چې تا ئې ژمنه ورسره کړې او د دوی له پلرونو، د دوی له میرمنو او د دوی له اولاد هغه هم چې صالح وي، یقیناً چې ته باحکمت عزتمن یې. د مؤمنانو په اړه د فرشتو وروستۍ دعاء دا ده: اې زمونږ ربه! له بدیو ئې وساته، څوك چې ته په دې ورځ له بدیو وساتې نو پېرزوینه دي پرې کړې، او دا همغه ستره بریا ده. د دې دعاء په تعبیر کې د مفسرینو تر منځ د اختلاف شاهد یو، ځینې (یومئذ) د قیامت ورځ ګڼي او ځینې ئې د دنیا ننني ورځ، ځینې (السیئات) د ګناهونو سزا بولي او ځینې ئې په اصلي معنی نیسي او د بدیو او ګناهونو په معنی ئې تعبیروي، غوره او دقیق تعبیر د دوهمې ډلې تعبیر دئ، په څو دلائلو: 1- د دوزخ له اوره

د مؤمنانو د ژغورني دعاء تر دې وړاندې تېره شوې (وقهم عذاب الجحيم) تکرار ته ئې ضرورت نشته، 2- د (السيئات) اصلي معنی ګناه او بدي ده نه سزا ئې، صحيح نه ده چې اصلي معنی ئې له کومې اړتيا پرته پرېږدو او د سزا په معنی ئې ونيسو. 3- د فرشتو دا دعاء د قيامت د ورځې دعاء نه ده چې يومئذ د قيامت ورځ وګڼو، نن او دغه مهال چې مؤمنان په دنيا کې ژوند کوي فرشتې هغوی ته دعاء کوي.

پر فرشتو د ايمان غوښتنې

څوك چې په دې حقيقت ايمان لري چې په دې عالم كې هر څه د الله په اراده او د الهي سننو سره سم او د هغو فرشتو په لاس ترسره كيږي چې د الله له لوري وربانديږي ګمارل شوې هغه به نه يوازي دا چې په هيڅ حالت كې د يوازيتوب احساس نه كوي؛ بلكې د الله په معيت به ډاډه وي او باور به لري چې الله به ئې په خپلو نامرئي لښكرو تأييد كوي، لكه چې قرآن د بدر د جګړې په ارتباط فرمايي:

وَلَقَدۡ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدۡرٖ وَأَنتُمۡ أَذِلَّةٞۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ١٢٣ إِذۡ تَقُولُ لِلۡمُؤۡمِنِينَ أَلَن يَكۡفِيَكُمۡ أَن يُمِدَّكُمۡ رَبُّكُم بِثَلَٰثَةِ ءَالَٰفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُنزَلِينَ ١٢٤ بَلَىٰٓۚ إِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ وَيَأۡتُوكُم مِّن فَوۡرِهِمۡ هَٰذَا يُمۡدِدۡكُمۡ رَبُّكُم بِخَمۡسَةِ ءَالَٰفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ ١٢٥ آل عمران:123-125

او يقيناً چې الله په بدر كې تاسو ته نصرت او بريا دركړه په داسي حال كې چې تاسو كمزوري وئ، نو له الله ووپرېږئ تر څو مو شكر كړى وي. كله چې تا مؤمنانو ته ويل: آيا دا درته كافي نه ده چې ستاسو رب مو په دريو زرو رالېږل شويو ملائكو مرسته وكړي؟ هو! كه صبر او تقوى وكړئ او دوى په همدې شور ځوږ درباندې راشي، نو ستاسو رب به مو په پنځو زرو نښانمنو ملائكو مرسته وكړي.

يعني د صبر او تقوى په نتيجه كې به الله تعالى د دښمن له شمېر سره برابرې فرشتې ستاسو مرستې ته رالېږي، كه د دښمن فوځ درې زره وي نو الله به ستاسو مرستې ته درې زره ملائكې راولېږي، كه پنځه زره شو پنځه زره به راولېږي، كه هغوى له شور ځوږ او مستۍ سره او ناڅاپي پر تاسو برېد وكړي الله تعالى به هم ځانګړې ملائكې له خپلو خاصو نښانونو سره راولېږي، مه د دوى له شمېر وېره ولرئ او مه ئې له ظاهري شان شوكت.

همدا را ز فرمايي:
﴿إِذۡ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ أَنِّي مَعَكُمۡ فَثَبِّتُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ سَأُلۡقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعۡبَ فَٱضۡرِبُواْ فَوۡقَ ٱلۡأَعۡنَاقِ وَٱضۡرِبُواْ مِنۡهُمۡ كُلَّ بَنَانٖ ١٢ الانفال:12
هغه وخت چي ستا رب فرشتو ته وحي کوله چي زه درسره يم، نو هغه کسان ثابت قدمه کړئ چي ايمان ئې راوړی، ژر به د هغو خلکو په زړه کي ويره واچوم چي کافران شوي، نو سرونه ئې ووهئ او هر هر بند ئې تري ووهئ. دا د دې لپاره چي له الله او د ده له رسول سره ئې مخالفت وکړ او څوك چي له الله او رسول سره ئې مخالفت وکړي نو يقيناً چي الله سخت عذاب ورکوونکی دئ. همدا دئ نو وئې څکئ او دا چي کافرانو لره د اور عذاب دئ.

د دې مبارکو آيتونو اساسي لارښووني دا دي:

- الله تعالی د بدر په جګړي کي ملائکو ته امر وکړ چي زه درسره يم، درومئ د مؤمنانو قدمونه ټينګ او عزم ئې مضبوط کړئ او په دوی کي صبر او استقامت راپيدا کړئ.
- مؤمنان دي ډاډه وي چي الله تعالی به حتماً د کافرانو په زړونو کي ويره او خوف اچوي، د هري نښتي پايله د جنګياليو په وېري او زړه ورتيا پوري تړلې ده، هغه لوری به بريا ترلاسه کوي چي په ډاډه او مطمئن زړه سره د دښمن مقابله کوي او هغه لوری به له ماتي سره مخامخ کيږي چي ويره ئې په زړه کي راولاړه شوې.
- مؤمنانو ته ويل شوي چي د جګړي په مهال خپله ټوله توجه دې خوا ته واړوئ چي د دښمنانو سرونه قلم کړئ او بندونه ئې قطع کړئ.
- دا د دوی د هغه مخالفت سزا ده چي له خپل رب او د ده له پيغمبر سره ئې کړی، شديد العقاب رب به دوی ته ستاسو په لاس همدا سزا ورکوي.
- دا په دنيا کي د دوی پايله ده او په آخرت کي ئې ځای د دوزخ اور دئ.

ځينو مفسرينو هغو رواياتو ته اعتبار ورکړی چي وايي: فرشتو د بدر په جګړي کي مخامخ او عملاً برخه اخيستې ده او د کافرانو د سرونو او بندونو په وهلو کي ئې ونډه درلوده، ځينو نورو ويلي چي دوی دا کار د مجاهدينو په لاس کړی، خو ځينو نورو دا روايات د اعتناء وړ نه دي ګڼلي، ځکه چي نه د آيت الفاظ دا مفهوم افاده کوي او نه دا د الله تعالی سنت دئ چي د فرشتو په ذريعه د

کافرانو مقابله وکړي، د قرآن د وينا له مخي فرشتې د عذاب نازلولو لپاره ګمارل کېږي، نه د دې لپاره چې د مجاهدينو په څنګ کې له کافرانو سره وجنګېږي، که داسې وی نو يوه فرشته د ټولې نړۍ د کافرانو د مقابلې لپاره کفايت کوي.

آيت په صراحت سره وايي چې د فرشتو دنده يوازې دا وه چې د مؤمنانو زړونه مضبوط او قدمونه ټينګ کړي. د الله تعالی سنت دا دئ چې کافرانو ته د مجاهدينو په لاس سزا ورکوي.

همدا راز فرمايي:

ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ ٢٦ التوبه:26

بيا الله خپله ډاډېينه پر خپل رسول او پر مؤمنانو نازله کړه او هغه فوځونه ئې راولېږل چې تاسو نه ليدل او هغه کسان ئې تعذيب کړل چې کافران شوي وو او همدا د کافرانو سزا ده.

د احزابو د جګړې په ارتباط فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ٩ الاحزاب:9

اې هغو چې ايمان ئې راوړی! پر تاسو د هغه مهال الهي پېرزوينه دريادکړئ چې لښکري درته راغلې نو موږ سيلۍ پرې ولېږله او داسې لښکري چې تاسو ونه ليدلې، او الله د هغه څه ښه ليدونکی وو چې تاسو کول،

دا آيت د احزابو هغې سختې نښتې ته ګوته نيسي چې د مسلمانانو په ضد ټول مخالفين يو ځای شوي وو، د قريشو تر مشرۍ لاندې پر مدينې د پرېکنده برېد لپاره خوځېدلي وو، غوښتل ئې له مسلمانانو سره خپله ستونزه د تل لپاره حل کړي، مدينه دا د اسلام ستر او يوازينی مرکز ونيسي، مسلمانان تر ځپ وشړي او داسې څوک پرې مسلط کړي چې د دوی خوښ او د اسلام په ضد د دوی ملګري وي، يهودانو او منافقينو هم دوی ته په جنګ کې د ملګرتيا ډاډ ورکړی وو، د عربو په تاريخ کې تر ټولو ستر فوځ د برېد لپاره چمتو شوی وو، مسلمانانو د مخامخ مقابلې توان په ځان کې نه لېدو، د يوه خندق په کيندلو سره ئې غوښتل د دوی مخه ونيسي، محاصره نړدې يوه مياشت اوږده شوه، د

اضطراب او پريشانۍ حالت ئې داسي وو چې د ځينو زړونه پوړېدل، ځيني د الله تعالى د وعدو په اړه شکمن شول، ځينو تمنا کوله چې کاش په مدينه کې نه وى، ځينو د نفاق لاره غوره کړه او دښمن ته ئې د دوستۍ پيغامونه لېږل، الله تعالى دغه ستر فوځ په خپلو غيبي لښکرو مات کړ، سخته سيلۍ ئې پر دښمن مسلطه کړه، داسي چې آسونه او اوښان ئې تښتېدل، خيمې ئې ړنګې شوې، دېګونه ئې نسکور شول، له تېښتې پرته ئې بله چاره نه موندله، هغه ستر لښکر په څو شېبو کې خور وور شو، کله چې رڼا شوه او مسلمانانو د دښمن لورې ته وکتل هيڅوك ئې تر سترګو نشو، ډاګ ئې تش او سپېره وموند.

څوك چې په فرشتو ايمان لري او په دې باور وي چې الله تعالى د ده ځارنه کوي او فرشتې د ده هره خبره او هر کار ليکي، هغه به په خپلو خبرو او په خپلو کړو وړوکي محتاط وي، د داسي څه له ويلو او کولو به ځان ساتي چې فرشتې ئې د ګناه په توګه د ده په عمل پانه کې ثبتوي.

ډېره عجيبه ده چې انسان دي هم په دې باور ولري چې د ده ښي او چپ اړخ ته داسي حساس او دقيق ځارونکي ګمارل شوي چې هره شېبه، په هر حالت او په هر ځاى کې د ده هره خبره اوري او د ده هر څه ګوري او هغه ليکي، تر څو ئې په ليکلې توګه خبير او بصير خداى ته وړاندې کړي، خو سره له دې اعتقاد هغه د ګناه جرأت هم کوي!

همدا راز څوك چې له زړه په دې حقيقت باور ولري چې پدې عالم کې هر څه د الله تعالى په اراده او د الهي سننو سره سم، د هغو ملائکو په لاس ترسره کېږي چې د ټولو کارونو سمبالول ورته سپارل شوي، هغه به هيڅکله له پېښو او حوادثو مأيوس نشي، که څه هم په ظاهر کې خطرناکي او هيبت ناکي وي او د ده په ضرر، دا ځکه چې هغه په دې ايمان لري چې د دې عالم پېښې نه تصادفي دي او نه په خپل سر، هره پېښه د الله تعالى په اراده تر سره کېږي او خامخا د هغه تر شا کوم مصلحت او حکمت مضمر دئ.

پر قضاء او قدر ایمان
معنی
دلائل
او غوښتنې ئې

پر قضاء او قدر ایمان

د قضاء او قدر موضوع یوه له هغو مهمو اعتقادي موضوعاتو ده چې ډېر بحثونه پرې شوي، د علماوو تر منځ ډېر اختلاف پرې راولاړ شوی، دښمنانو ډېر اعتراضات پرې کړي، ډېرو ته تر ټولو پېچلې موضوع برېښېدلې، ځینو په دې اړه داسي څه ویلي چې موضوع ئې د توضیح په ځای مزید پېچلې کړې او خلکو ته ئې سؤالونه او شبهات راپیدا کړي، ځینو په دې اړه له بحث کولو ممانعت کړی او ویلي ئې دي چې باید په مجمله توګه ئې ومنو، له ژور او تفصیلي بحث ډډه وکړو. مخکې له دې چې تفصیلي بحث ته ننوځو باید ووایو چې په مختصره توګه په قضاء او قدر د ایمان معنی دا ده:

- الله تعالی د هر انسان او هر مخلوق برخلیك له مخکې ټاکلی، دا برخلیك نه بدلېدونکی دئ، هیڅوك او هیڅ څه نشي کولی په دې کې بدلون راولي.
- انسان یوازې هغه څه کولی شي چې الله تعالی ورته مقدر کړي، الله تعالی ئې وغواړي او ده ته ئې د کولو توفیق ورکړي.
- د عالم له پیدایښت تر قیامت پورې چې کومې پېښې رامنځته کېږي په لوح محفوظ کې لیکل شوې، هره پېښه به په خپل ټاکلي وخت او خپل ثابت ځای کې واقع کېږي.

کم علمه او د سطحي نظر خاوندانو ته په دې خبرو کې اشکال په نظر ورځي، ګمان کوي چې د دې عقیدې له مخې باید انسان داسي بې واکه، محکوم او مجبور مخلوق وګڼو چې په خپله خوښه او اختیار نه ښه کار کولی شي او نه بد، د خپلې دغې غلطي انګېرنې په اساس اعتراض کوي چې که د انسان برخلیك او مقدرات له مخکې ټاکل شوي وي او په دې مقدراتو کې هیڅ ډول تغییر نشي راتلی، نو ولې به انسان د ښه یا بد عمل په سبب مکافات او مجازات

کېږي؟!!

په مسلمانانو کي هم ځيني داسي دي چې د (تقدير) تر څنګ د (اختيار) منل ورته ګران برېښي او کله کله په دې اړه د داسي مغالطې مرتکب شي چې له هغې وتل او سمه لار موندل ورته محال شي. ځيني په هغو نصوصو استناد او استدلال کوي چې وايي: انسان خپله لار په خپله خوښه غوره کوي، د ده نېك او بد عمل د ده خپل انتخاب دئ، خوښه ئې د کفر لار او د شيطان ملګرتيا غوره کوي او که د ايمان لار او د الله تعالى بندګي، يوه ئې دوزخ ته بيايي او بله جنت ته، جنت د ده د نېکو عملونو بدله او دوزخ د ده د بدو عملونو سزا ده. او ځيني په هغو نصوصو تکيه کوي چې انسان د مقدراتو په وړاندي خاضع او تسليم ګڼي او مقدرات ثابت او تغيير نه منونکي. د قضاء او قدر په اړه چې کوم آيتونه او روايات راغلي، په تعبير کي ئې مسلمانان په دريو ډلو وېشل شوي:

1. هغه چې انسان د مقدراتو په وړاندي داسي بې واکه، مجبور او محکوم مخلوق ګڼي چې برخليك ئې له مخکي ټاکل شوی، دی ئې د بدلولو توان نه لري، د ده افعال او کړه وړه نه د ده د خپلې ارادې زېږنده دي او نه ئې د خپل ذاتي توان او ځواك محصول، اراده ئې د الله تعالى د ارادې تابع او ځواك ئې الهي توفيق دئ، دا ډله د جبريه په نامه نومول شوې. د دوی د عقيدې او باور خلاصه دا ده:

- انسان په خپلو افعالو کي خپلواك نه دئ.
- ځيني انسانان سعيد او بختور او ځيني شقي او بد بخت پيدا شوي.
- ځيني انسانان د جنت لپاره پيدا شوي او ځيني د دوزخ لپاره،
- جنتي به خامخا د جنت کارونه کوي او دوزخي د دوزخ، نه دا خپل برخليك بدلوی شي او نه هغه!
- که الله تعالى څوك جنت يا دوزخ ته لېږي دا پوښتنه نه شي ترې کېدی چې ولي؟ که ټول انسانان دوزخ ته ولېږي نو ظلم ئې نه دئ کړی او که ټول جنت ته ولېږي بې عدالتي ئې نه ده کړې. دا ځکه چې ظلم هغه څه ته وايي چې څوك د بل په مال او حق تېری وکړي، انسانان ټول د ده مخلوق او دی ئې ټولواك دئ، د دوی په اړه هره پرېکړه د ده حق دئ.

2- هغه چې د پورتنۍ ډلې په مقابل کي ده، انسان په خپلو افعالو کي مستقل او

خپلواك ګڼي، د ده ټول افعال د ده د خپلې ارادې زېږنده بولي، د دوی له نظره جنت د مؤمن حق دئ چې خامخا ئې باید ترلاسه کړي او دوزخ د کافر د بدو عملونو سزا ده چې باید ورسره مخامخ شي، دوی د مخکښ ډلې عقیده او مجبوروونکی تقدیر او برخلیك د الهي عدل خلاف ګڼي، دوی د قدریه په نامه یاد شوي، چې د باور خلاصه ئې دا ده:

- د انسان هر عمل په خپله د ده له لوري دئ، هم بد عمل په خپله خوښه کوي او هم نېك عمل، مخکښ ډله د انسان ټول افعال الله تعالی ته منسوبوي او دوی ټول انسان ته منسوبوي.
- جنت ته به هغه څوك درومي چې د جنتیانو عمل ئې کړی وي او دوزخ به د هغه چا ځای وي چې د دوزخیانو عملونه ئې کړي.

دا دواړه ډلې د خپلې عقیدې په ملاتړ کې په خاصو او ځانګړو نصوصو استناد کوي او د مقابل طرف د استناد وړ آیات تأویلوي او روایات ئې یا نه مني او یا ئې د آیتونو په څېر تأویلوي.

3- د دغو دواړو ډلو په مقابل کې درېیمي ډلې منځنۍ لار غوره کړې، د انسان په نسبي اختیار او نسبي محکومیت باور لري. دوی د اهل سنت و جماعت په نامه یادېږي او د امت اکثریت جوړوي.

اهل سنت و جماعت په دې عقیده دي چې انسان نه مجبور مطلق دئ او نه مختار مطلق، بلکې په یوې محدودې کې د اختیار خاوند دئ، د دوی له نظره د انسان په اړه دا عقیده درلودل چې هغه په مطلقه توګه محکوم او مجبور دئ هم د واقع خلاف خبره ده، هم له څرګندو نصوصو سره متصادم او هم د الهي عدالت خلاف، عملاً ګورو چې انسان نه د جماداتو په څېر بې واکه او محکوم دئ او نه داسي فعال مایشاء چې هر څه ئې زړه وغواړي وئې کړی شي، خبره داسي نه ده بلکې د ځینو کارونو د کولو واك او اختیار لري او د ځینو له کولو عاجز او ناتوانه، د همدغه واك او اختیار له کبله له هغه سره محاسبه کېږي، ده ته چې د کومو کارونو کول ممکن دي د هغوی له منځه د یوه انتخاب کولی شي، خو د ده په دې انتخاب چې کوم نتائج مرتب کېږي، دی ئې په خپله نه بلکې الله تعالی ئې پرې مرتب کوي، په دې لار کې چې دی له کومو لوړو ژورو سره مخامخ کېږي دا ټول د ده له واکه بهر شیان دي، که هغه مجبور او

بې اختيار وی نو نه محاسبه ورسره صحيح وه او نه ئې مجازات، دا ځکه چې د هغه چا مجازات او تعذيبول د عدالت خلاف کار دئ چې د اختيار او واك خاوند نه وي او د هر کار په کولو اړ شوی وي، الله تعالی په خپلو بندګانو ظلم نه کوي، ځنګه به هغه څوك تعذيبوي چې بل ګناه ته اړ کړی وي، الله تعالی خو د مجبوريت او اضطرار په وخت کي حرام کار هم انسان ته روا کړی.

جبريه د خپلي عقيدې د اثبات لپاره په دې آيت تر هر څه زيات استناد کوي:

وَٱللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ٩٦ الصافات:96

چې ترجمه ئې داسي کوي: او الله هم تاسو پيدا کړي يئ او هم ستاسو عملونه!

يعني دا تاسو نه يئ چې خپل عملونه ترسره کوئ بلکي ستاسو عملونه هم د الله تعالی له لوري پيدا کيږي!! د خپلو عملونو پرېکړه تاسو نه کوئ الله تعالی ئې کوي!!

د دغې ژباړي او استدلال په اړه بايد ووايو:

- دا ژباړه ناسمه او د آيت د مراد او مقصد خلاف ده. راشئ د دې آيت الفاظو ته لږ ځير شو او وګورو چې د آيت دقيقه او سمه ترجمه کومه ده؟ دا په اصل کي د ابراهيم عليه السلام د هغې جامع وينا يوه برخه ده چې خپل مشرك قوم ته ئې کړې، په صحيح ترجمې او معنی ئې په هغه صورت کي سم پوهيدی شو چې دا آيت او تر دې مخکنی يو ځای په پام کي ونيسو، د دواړو آيتونو ترتيب داسي دئ:

قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ ٩٥ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ٩٦ الصافات: 95-96

وئې ويل: آيا د هغه څه عبادت کوئ چې تاسو ئې (په خپله) تراشئ؟ حال دا چې الله تعالی هم تاسو پيدا کړي يئ او هم هغه څه چې تاسو ئې جوړوئ.

په مخکني آيت کي د دوی بُتان د ماتنحتون په نامه ياد شوي او په وروستني آيت کي همدا (ماتنحتون) د (ماتعملون) په صيغه راغلي، يعني الله تعالی هم تاسو پيدا کړي يئ او هم هغه بتان چې تاسو په خپل لاس جوړ کړي.

دلته (ما تعملون) داسي دئ لکه په لاندنيو آيتونو کي چې راغلي:

أَوَ لَمْ يَرَوْاْ أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَآ أَنْعَٰمًا فَهُمْ لَهَا مَٰلِكُونَ ٧١ يس: 71

آيا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې موږ هغه څاروي ورته پيدا کړل چې زموږ لاسونو جوړ کړي او اوس ئې دوی خاوندان دي.

او يا دا آيت:
لِيَأۡكُلُواْ مِن ثَمَرِهِۦ وَمَا عَمِلَتۡهُ أَيۡدِيهِمۡۖ أَفَلَا يَشۡكُرُونَ ٣٥ يس: 35
ترڅو ئې مېوه او هغه څه وخوري چې دوی په خپلو لاسونو جوړ کړي، نو آیا شکر نه کوي؟!

نو د دې آیت (وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ) دا الفاظ (وَمَا تَعْمَلُونَ) داسي تعبیرول چې الله تعالی د انسان عملونه پیدا کوي، غلط تعبیر دئ، له دې آیت دا انتباه اخیستل چې انسان په خپل عمل کې هیڅ راز استقلال نه لري ډېره ښې بنسټه انتباه ده.

همدا راز دا ډله په دې روایت ډېر استناد کوي:
عن عبدِ اللهِ قال: «حدثنا رسولُ الله صلى الله عليه و سلم قال: إنِ أحدَكم يُجمَعُ في بطنِ أمّه أربعينَ يوماً، ثم يكون عَلَقةً مِثلَ ذلك، ثم يكون مُضغةً مثلَ ذلك، ثمَّ يَبعثُ اللهُ مَلَكاً فيُؤْمرُ بأربع: برِزقِهِ وأجَلِه، وشقيٌّ أو سعيد. ثم ينفخ فيه الرُّوح. فوَالله إنَّ أحدَكم ليَعملُ بِعملِ أهلِ النار، حتى ما يكونُ بينه وبينَها غيرُ باعٍ أو ذِراع، فيَسبِقُ عليه الكتابُ، فيعمَلُ بعمل أهل الجنَّة فيدخُلها. وإن الرجل لَيعملُ بعملِ أهلِ الجنَّةِ حتى ما يكونُ بينَه وبينها غيرُ ذراعٍ أو ذراعين، فيَسبِق عليه الكتاب، فَيعمل بعملِ أهلِ النار فيدخلها». رواه البخاري
له عبد الله رضی الله عنه روایت دئ چې رسولُ الله صلی الله علیه و سلم مونږ ته دا خبره وکړه: یقیناً چې ستاسو هر یو د مور په رحم کې څلوېښت ورځې رایوځای کېږي، بیا همدومره موده ځوړند توکی وي، بیا همدومره موده ژوول شوې غوښې ته ورته وي، بیا الله تعالی یوه فرشته راولېږي او د څلورو شیانو (د لیکلو) امر ورته وشي: د ده رزق، اجل او دا چې شقي (بد بخت) به وي که سعید(بختور)، بیا روح په کې پو شي، نو په الله قسم چې ستاسو یو کس به د دوزخیانو عملونه کوي تر هغه چې د ده او دوزخ تر منځ به یوازي دوه یا یو لاس (نیم ګز) واټن پاته وي، خو (د مقدراتو) لیك پانه به ئې پرې وړاندي شي، نو د جنتیانو عمل به وکړي نو ورداخل به شي او یقیناً چې یو کس به د جنتیانو عمل کوي تر هغه چې د ده او جنت تر منځ به یوازي یو لاس (نیم ګز) واټن پاته وي، خو (د مقدراتو) لیك پانه به ئې پرې وړاندي شي نو د دوزخیانو عمل به وکړي نو ورداخل به شي.

د دې روايت په اړه لاندې ټکي د پام وړ دي:

- قدريه دا او دې ته ورته روايات د حديث په توګه نه مني، نه ئې متن مني او نه ئې اسناد.
- دا د جبريه وو لپاره نه يوازې مستمسك او د استناد وړ دليل نه شي کېدی بلکې د دوی د عقيدې په بطلان دلالت کوي، دا ځکه چې دلته جنت او دوزخ ته تګ د انسان په عمل پورې تړل شوی او په کې ويل شوي: فيعمَلُ بعمل أهل الجنَّة فيدخُلها: نو د جنتيانو عمل به وکړي او د همدې عمل له کبله به جنت ته داخل شي، فيعمل بعملِ أهلِ النار فيدخلها: نو د دوزخيانو عمل به وکړي او د همدې په سبب به دوزخ ته داخل شي.
- د فرشتو دا کتابت؛ کتابت بالحکم نه دئ بلکې کتابت بالوصف دئ، ليکنه ئې داسي نه ده چې دا دي سعيد يا شقي وي، بلکې داسي ده چې دا به سعيد يا شقي وي، دا ځکه چې کتابت ئې له خلقته مخکې نه بلکې له خلقت وروسته دئ، او دا داسي ده لکه په يوې فابرېکې کې چې کومه دوا يا خوراکي توکی توليد شي او د فابرېکې مربوط هيئت د هغه له پاسه د دې خبرو د ليکلو هدايت ورکړي چې: د دې خصوصيات، ګټه او تاوان به څه وي، عمر ئې څومره او ترکومې نېټې وروسته خپل اصالت او خصوصيات له لاسه ورکوي او د استفادې وړ نه پاتې کېږي.
- له دې روايته يوازې دا خبره ثابتېږي چې د هر انسان په اړه به د فرشتو ليکنه رښتيا وخېژي او لکه چې دوی ليکلي همداسي به يا د خپل عمل له کبله دوزخ ته ځي يا جنت ته. د دې روايت له هيڅ لفظ دا نه معلومېږي چې انسان بې اختيار او مجبور پيدا شوی.

جبريه په دې روايت هم ډېر استناد کوي:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « احْتَجَّ آدَمُ وَمُوسَى ، فَقَالَ مُوسَى أَنْتَ آدَمُ الَّذِى أَخْرَجْتَ ذُرِّيَّتَكَ مِنَ الْجَنَّةِ . قَالَ آدَمُ أَنْتَ مُوسَى الَّذِى اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِرِسَالاَتِهِ وَكَلاَمِهِ ، ثُمَّ تَلُومُنِى عَلَى أَمْرٍ قَدْ قُدِّرَ عَلَىَّ قَبْلَ أَنْ أُخْلَقَ . فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى » رواه البخاري

له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: آدم او موسى عليهما السلام په خپلو کې مناظره وکړه، نو موسى عليه

السلام وويل: ته خو هغه آدم يې چې خپل اولاد دي له جنته وايستل او آدم عليه السلام ورته وويل: ته هغه موسى يې چې الله تعالى په خپل رسالت او كلام سره تا ته غوره والى دركړ، خو بيا ما په هغه كار ملامتوې چې زما له پيدايښت مخكې زما لپاره مقدر شوى وو! نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل چې آدم عليه السلام؛ موسى عليه السلام پر كړ.

د دې روايت په اړه لاندې خبرې په پام كې ولرئ:

دا روايت په بخاري كې پنځه ځلي راغلى، د سند له پلوه غريب دئ او په صحابه وو كې يوازي يو راوي لري، د متن له پلوه داسي دي چې تر منځ ئې دا ژور توپيرونه ترسترگو كيږي: په يوه كې أَنْتَ آدَمُ الَّذِى أَخْرَجَتْكَ خَطِيئَتُكَ مِنَ الْجَنَّةِ په بل كې أَنْتَ الَّذِى أَشْقَيْتَ النَّاسَ وَأَخْرَجْتَهُمْ مِنَ الْجَنَّةِ په بل كې أَنْتَ الَّذِى أَخْرَجْتَ النَّاسَ مِنَ الْجَنَّةِ بِذَنْبِكَ وَأَشْقَيْتَهُمْ په بل كې أَنْتَ أَبُونَا خَيَّبْتَنَا وَ أَخْرَجْتَنَا مِنَ الْجَنَّةِ په بل كې أَنْتَ آدَمُ الَّذِى أَخْرَجْتَ ذُرِّيَّتَكَ مِنَ الْجَنَّةِ راغلي، په يوه كې فَقَالَ لَهُ آدَمُ أَنْتَ مُوسَى الَّذِى اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِرِسَالاَتِهِ وَبِكَلاَمِهِ ، ثُمَّ تَلُومُنِى عَلَى أَمْرٍ قُدِّرَ عَلَىَّ قَبْلَ أَنْ أُخْلَقَ » په بل كې قَالَ لَهُ آدَمُ أَنْتَ الَّذِى اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِرِسَالَتِهِ ، وَاصْطَفَاكَ لِنَفْسِهِ وَأَنْزَلَ عَلَيْكَ التَّوْرَاةَ قَالَ نَعَمْ . قَالَ فَوَجَدْتَهَا كُتِبَ عَلَىَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِى قَالَ نَعَمْ . فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى » په بل كې قَالَ آدَمُ يَا مُوسَى أَنْتَ الَّذِى اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِرِسَالَتِهِ وَبِكَلاَمِهِ أَتَلُومُنِى عَلَى أَمْرٍ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَىَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِى أَوْ قَدَّرَهُ عَلَىَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِى » . قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه و سلم- « فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى په بل كې قَالَ لَهُ آدَمُ يَا مُوسَى اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِكَلاَمِهِ ، وَخَطَّ لَكَ بِيَدِهِ ، أَتَلُومُنِى عَلَى أَمْرٍ قَدَّرَ اللَّهُ عَلَىَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِى بِأَرْبَعِينَ سَنَةً . فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى په بل كې قَالَ آدَمُ أَنْتَ مُوسَى الَّذِى اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِرِسَالاَتِهِ وَكَلاَمِهِ ، ثُمَّ تَلُومُنِى عَلَى أَمْرٍ قَدْ قُدِّرَ عَلَىَّ قَبْلَ أَنْ أُخْلَقَ . فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى

- جبريه وايي چې آدم عليه السلام د هغې مېوې په خوړلو اړ شوى، له مخكې د ده په تقدير او برخليك كې ليكل شوي وو چې دى دي حتماً دا مېوه وخوري، نو ځكه دى ملامت نه وو او موسى عليه السلام د اعتراض حق نه درلود.
- قدريه نه دا روايت مني او نه ئې اسناد صحيح ګڼي. وايي: آدم او موسى عليهما السلام چېرې له يوه بل سره ليدلي او دا مناظره كله او چېرې واقع

شوې؟ د دې ذکر نه په قرآن کې راغلی او نه په تورات کې.

- اهل سنت و جماعت د دې روایت په اړه د جبریه له تعبیر سره موافق نه دي او په دې تعبیر دا اعتراضات لري:

1- په قرآن کې په ډېرو صریح الفاظو او په مکرره توګه آدم علیه السلام په دې کار ملامت کړی شوی، په خپله آدم علیه السلام او بي بي ئې هم دا کار ګناه ګڼي او له الله تعالی د معافي او مغفرت غوښتنه کوي.

2- څنګه به الله تعالی له یوې خوا آدم علیه السلام ته د هغې مېوې د نه خوړلو امر کوي او له بلې خوا به ئې د همدې مېوې خوړلو ته اړ کوي؟ له داسي کاره خو یو شریف انسان هم ډډه کوي، څنګه الله تعالی ته د دې نسبت کوئ؟!!

3- د آدم علیه السلام له ځوابه دا معنی نه شو اخیستی چې هغه خپل ځان له ملامتیا بریئ ګڼلی، دا ځکه چې په قرآن کې د ده اعتراف زمونږ مخې ته پروت دئ، له یوه روایت داسي تعبیر راایستل چې د قرآن له ګڼ شمېر آیتونو سره تصادم کوي، له قرآن او حدیث سره جفا او بې باکي ده، له دې روایت له دې پرته بل تعبیر نه شو کولی چې آدم علیه السلام موسی علیه السلام ته وویل: له جنته ستاسو ایستل خو زما کار نه وو، دا پرېکړه خو الله تعالی کړې، الله تعالی به ولې زما د غلطۍ سزا تاسو ته درکوي؟! او د هغه چا له شأنه خو داسي اعتراض کول ډېر لري دئ چې الله تعالی ورته د رسالت مقام او د کلام افتخار ورکړی وي!!

جبریه د قرآن په دغه آیت استناد کوي چې فرمایي:

وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٩ التکویر: 29

او نه غواړئ تاسو (کوم څه) مګر دا چې الله د عالمونو رب ئې وغواړي.

په دې آیت کې یوې ډېرې مهمې اعتقادي موضوع ته اشاره شوې، داسي موضوع چې د مفسرینو ترمنځ د ډېرو ژورو او پراخو بحثونو باعث شوې او هغو خلکو ته ئې ډېرې ډېرې پوښتنې راولاړې کړې چې له قرآني مفاهیمو سره آشنا نه دي، دوی وایي: که زمونږ مشیت د الله د مشیت تابع وي او تر څو د عالمونو رب نه وي غوښتي زمونږ اراده او غوښتنه بې تأثیره ده! تر څو الله نه وي غوښتي زمونږ په زړه کې نه کومه تلوسه او تمنا راولاړېږي او نه د کوم کار د کولو عزم او اراده، که خبره داسي وي چې مونږ څه غواړو او د

کولو اراده او عزم ئې کوو، الله ئې زمونږ په زړه کې راولاړوي او مونږ د هغه کار کولو ته هڅوي، نو مونږ ولې باید د داسې کار په اړه وپوښتل شو او د مکافات او مجازات مستحق وګڼل شو؟! تر څو ئې الله ونه غواړي مونږ ئې نه شو غوښتی، تر څو الله د کوم کار د کېدو اراده نه وي کړې مونږ ئې نه شو ترسره کولی، د هر څه غوښتنه او د هر کار د کولو اراده الله تعالی زمونږ په زړه کې اچوي، نو مونږ به ولې او په کوم دلیل په کومې ګناه نیول کېږو؟!! دا موضوع د (قضاء او قدر) په بحث پورې تړلې یوه اعتقادي موضوع ده او دې پوښتنې ته ځواب وایي چې آیا انسان (آزاد) او (مختار) پیدا شوی که (مجبور) او (محکوم)؟ آیا په خپلو کړو وړو کې له استقلال او خپلواکۍ برخمن دئ که د هغو مقدراتو په وړاندې محکوم دئ چې دی ئې په خپلو منګولو کې نیولی او د هر راز مخالفت او سرغړاوي امکان ئې تر سلب کړی؟! او که د دې دواړو ترمنځ درپېمګړی حالت، نسبي آزادي او اختیار او نسبي محکومیت او مجبوریت؟ په دې مطلب د بنه پوهېدو لپاره په کار ده چې لومړی په دې موضوع پورې د تړلو مفاهیمو په معنی ځان پوه کړو او بیا د دوی ترمنځ ارتباط او تړاو درک کړو او په پای کې د موضوع په حقیقت پوه شو. په موضوع پورې تړلې مفاهیم دغه دي:

قدر

د قدر لغوي معنی اندازه، حد او توان دئ او د قضاء او قدر په مبحث کې په دې معنی راغلی چې الله تعالی هر څه په خاصه او معینه اندازه پیدا کړي، د مقدار لپاره ئې یو حد ورته ټاکلی، د ټولو شیانو د مقادیرو تر منځ ئې دقیق تناسب او تعادل رامنځ ته کړی، نه پرېږدي دا تعادل او توازن له منځه ولاړ شي، د توکیو ضروري مقدار کم یا زیات شي، د هر څه د پیدایښت، دوام او فنا لپاره ئې خاص اجل او نېټه ټاکلې، د هر څه د حرکت لپاره ئې د پیل او پای مسیر ټاکلی او هره پېښه په خپل ثابت وخت کې رامنځ ته کېږي.

نن ساینس همدغه خبره کوي چې د دې عالم د هر څه مقدار او اندازه ثابته او معینه ده، له ټولو هغو پرله پسې او مسلسل تحولاتو سره سره چې هره شېبه ئې هري خوا ته ګورو، یو د تجزیې په حالت کې، بل د راټوکېدو په حالت کې، د یوه موجود شکل بدل شي او بل څه ترې جوړ شي، جامد په مایع او مایع په ګاز

بدل شي، خو له دې ټولو سره سره نه دا ثابت مقادير بدلېږي او نه ئې ترمنځ تعادل او توازن، په عالم کي شته (تقدير) نه بدلېدونکی دئ او په عالم کي ترسترګو کېدونکي تغييرات ئې نه شي بدلولی. که په دې (تقدير) کي ډېر لږ بدلون او تغيير راشي او دا شته توازن او تعادل له منځه ولاړ شي، نه به د زمکي پر سر ژوند ممکن وي او نه به د دې عالم دوام، هر څه به متلاشي کېږي او دا ټول کائنات به له منځه ځي!! ساينس نن په جګ غږ اعتراف کوي چي د عالم هر توکی له پيدايښت تر زړښت او مرګ پوري ثابت او معين مسير پلی کوي..

په لاندنيو آيتونو کي قدر په دغه معنی راغلی:

وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِيَ مِن فَوۡقِهَا وَبَٰرَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَآ أَقۡوَٰتَهَا فِيٓ أَرۡبَعَةِ أَيَّامٖ سَوَآءٗ لِّلسَّآئِلِينَ ١٠ فصلت:10

او په هغې(زمکي) کي ئې غرونه ورباندي راپيدا کړل او برکت ئې پکي واچاوو او په څلورو ورځو کي ئې په هغې کي د رزق غوښتونکو له غوښتني او اړتيا سره سم د رزق اندازه وټاکله.

يعني ټول هغه څه ئې پکي راپيدا کړل چي د زمکي ټول رزق غوښتونکي ورته ضرورت لري.

او يا فرمايي:

سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ١ ٱلَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ٢ وَٱلَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ٣ الاعلى: 1-3

د خپل اعلی رب نوم په پاکۍ سره ياد کړه، هغه چي (هرڅه) ئې پيدا کړل او برابر ئې کړل او هغه چي اندازه او هدايت ئې کړل.

لومړی آيت دوو مطالبو ته اشاره کوي:

الف: ستا پالونکی رب (لوړ) دئ، لوړ تر هر هغه څه چي په دې عالم کي ستا تر سترګو کېږي، لوړ تر دې چي ستا په خيال، وهم او ګمان کي وګرځي، په دې پراخ عالم کي هيڅ څه هغه ته ورته نه شي موندلی.

ب: د خپل لوړ رب نوم په پاکۍ يادکړه، په څو معنی:

اولاً: پام چي د الله تعالی په اړه د بحث په دوران کي کوم عيب او نقص ورته منسوب نه کړې، الله تعالی تر دې لوړ دئ چي په ذات او صفاتو کي ئې څه

کمی او عیب وي.
ثانیاً: الله تعالی په داسي نامه مه یادوه چې د ده له عظمت او شأن سره نه ښایي، الله تعالی غوره نومونه لري، په دغو غوره نومونو سره ئې یادوه، باید پوره محتاط وې چې د الله د یادولو او ذکر په وخت کي داسي نوم ونه کاروې چې د الله تعالی په شأن کي بې ادبي ګڼل کېږي، د الله ذکر خاص ادب او ځانګړی فرهنګ او قاموس لري، د ځان پاکوالی، د زړه حضور او د روح خشوع، د دې مقدس مقام آداب دي، ځوك چې له دې پرته بل حالت ولري، بې ادبي ئې کړې، همداراز د ذکر په دوران کي هغه نومونه کارول چې له دې خاص او ځانګړي قاموس څخه نه وي اخیستل شوي، الحاد او له اصلي لاري کږېدل دي، ځوك چې د مستۍ او بې خودۍ په حالت کي، له جذبې او ساز او سرود سره الله یادوي بې ادبي کوي، ځوك چې الله د ساقي، صنم، دلبر، معشوق، پیرمغان او ... په نامه یادوي بې فرهنګه دئ، د الهي ذکر له قاموسه بې خبره او د الله تعالی د ذکر له آدابو بې برخي.
2ـ ستا پالونکی رب همغه دئ چې دا ټول پیدا شوي ئې پیدا کړي، نه یوازي دا چې هغه ئې پیدا کړي بلکي (سم) ئې پیدا کړي، د دې عالم هر څه ښه، ښایسته، موزون او دقیق پیدا شوي، له یوې خوا د دوی (وجود او شته والی) په دې دلالت کوي چې حتماً یو (پیدا کوونکی) لري، له بلي خوا د دوی سم، دقیق او موزون خلقت په دې شهادت ورکوي چې (پیدا کوونکی) ئې (اعلی) او (لوړ) دئ. د هر څه پیدایښت له نشت پیل کړي، ورو ورو ئې کمال او د سموالي وروستي پړاو ته ورسوي، له (پیدایښت) او (تسویې) علاوه دوې نوري ځانګړتیاوي هم د ده په مخلوقاتو کي ګورو:
الف: هغه ثابته او معینه اندازه چې د دوی په (مقدار) کي مراعات شوې.
ب: هغه لاربښووني چې د هر څه په فطرت او خپله کي اېښودل شوې.
د دې عالم خالق او پالونکي رب هر څه د ضرورت په اندازه پیدا کړي، نه تر ضرورت کم او نه زیات، هیڅوك نه شي کولی د دې پراخ عالم په غېږ کي کوم داسي (اضافي) او (غیرضروري) شی ومومي چې هسي او بې له کومي ګټې ئې دلته کوم (ځای) اشغال کړی وي!! همداراز نه شي کولی د داسي کوم څه نوم واخلي چې په دې عالم کي ئې ځای تش او خالي وي، د دې عالم د

توکیو په (مقدار) او د دوی ترمنځ (تناسب) کي چې کومه (اندازه) مراعات شوې دومره دقیقه ده چې په هغه کي ډېر لږ تغییر او تعدیل د ټول عالم د متلاشي کېدو باعث کېږي!! هر شئ په خپل ځای او مقدار کي داسي دقیق پیدا شوی چې که له منځه ولاړ شي او یا ئې اندازه او مقدار کم او زیات شي، د ټول عالم بقاء له ګواښ سره مخامخ کوي.

پالونکي رب چې هر څه پیدا کړي هغه ته ئې لارښوونه او (تلقین) کړی چې دنده ئې څه ده او دلته به د خپل شتون په دوران کي کوم کوم کارونه ترسره کوي، کوم خالي ځای به ډکوي، په کوم مسیر کي به خوځي، کوم نتائج به وړاندي کوي. مګر نه ګورئ چې لمر په خاص وخت کي له خاص ځایه راخېژي، په معین مسیر کي درومي، د یوې معیني مسافې له پلي کولو وروسته په خاص وخت کي، په داسي ځای کي پرېږدي چې له مخکي ورته ټاکل شوی، خپل مأموریت ترسره کوي، تاسو ته رڼا او تودوخه درکوي، ستاسو، حیواناتو او نباتاتو اړتیاوو ته ځواب وایي، ستاسو په خدمت کي دئ، د دانې او مېوې په پیدایښت کي ممد او د رزق او روزي په درکولو کي درسره مرسته کوي، سپوږمۍ د شپې رابره کېږي، ستاسو تیاره شپې روښانه کوي او ستاسو لپاره په تیارو شپو کي روښانه او څرګند تقویم، چې د شپو ورځو حساب پرې معلومولی شئ.

وني ګورئ چې شپه ورځ په کار بوختي وي، زیار باسي، مضر ګازونه جذبوي او ستاسو د اړتیا وړ اکسیجن تولیدوي، د زمکي له خاورو په خپلو نازکو جړوړو سره هغه حیاتي مواد جذبوي چې ته ورته ضرورت لرې او د لمر د وړانګو په مرسته له دغو موادو تا ته ښایسته او خوندوري مېوې جوړوي.

د شاتو موچۍ ګورئ چې له دې وړوکتوب او نازکتوب سره سره څومره منظم او ښایسته کور ځان ته جوړوي، داسي منظم کور چې د نړۍ ستر مهندسین ئې په ډېرو مجهزو وسائلو هم له جوړولو عاجز دي، له داسي توکیو ئې جوړوي چې د شاتو په څېر شی په کي تر اوږدې مودې خوندي او روغ رمټ ساتلی شي، په دې پوهیږي چې څنګه د خپلې خوښي (ملکه) او (واکمن) ځان ته غوره کړي، د زور پاچایي نه مني، په ډېر ښه شان خپل وظائف په

خپلو کي وښي او دا استعداد لري چي په خپل ملك کي دقيق نظم پلی کړي، په کوم کي چي هم د دندو وښ عادلانه وي، هم د نظافت او صفايي خيال ساتل شوی وي او هم د پردیو او د هغو موچيو له ننوتو مخنيوی وشي چي له ناپاکو وزرونو او پښو سره د دوی پاك او صفا کور ته ننوتل وغواړي، د کور په دروازه کي حساس او هوښيار پهره داران ودروي او هر ننوتونکی څاري او يوازي په هغه صورت کي د ننوتو اجازه ورکوي چي (خپل) وي او (پاك ستره) وي، په دې پوهيږي چي څنګه د ګلانو عصاره وزبښي او شات تري جوړ کړي، داسي شات تري جوړ کړي چي د کلونو کلونو په تېرېدو هم نه ګنده کيږي، د انسان د ډېرو بيماريو لپاره درمل دئ او انسان تر اوسه له خپل ټول مخکي تګ او مجهزو لابراتوارونو سره سره د هغه له توليده عاجز دئ، خو همدا وړه حشره ئې هم پيدا کولی شي او هم ئې تر اوږدې مودې صفا، ستره او روغ رمټ ساتلی شي!! چا به حتماً دې ته په غوږ کي ويلي وي چي څنګه والوزي، څنګه له هغه وروسته خپل کور ته بېرته راستنه شي او لار ورکه نکړي چي د ګلانو په لټه کي، په پراخي فضاء کي څو څو کيلومتره لري ځي، بېرته راګرځي او له کومي اشتباه او غلطۍ پرته د خپل کور دروازه پيدا کوي!!

مونږ داسي مرغان هم مومو چي بچونې ئې هيڅکله خپله مور نه ګوري، مور ئې د زړښت په وخت کي په يوه خوندي ځای کي څو پوړيزه ځاله جوړه کړي، داسي چي کافي نور او حرارت ورورسېدی شي، په هري برخي کي يوه هګۍ واچوي او خوا ته ئې د خپل بچونې اړتيا وړ کافي مقدار خوراك کيږدي، بيا د هري ځالي خوله وربنده کړي، دا د خپلو بچونو له راوتو مخکي ومري، بچونې ئې له هګيو راووځي، په هماغه خوراك تر هغو ګوزاره کوي چي ستر شي او د الوتو جوګه، نو د ځالي خوله پرانيزي، بهر راووځي او د خپلي مور په څېر ئې ژوند او خوی او عادت وي او د ژوند په پای کي د خپلي مور په څېر ځاله جوړه کړي، هګۍ په کي واچوي، خولې ئې وربندي کړي او ومري.
ووايئ: څوك دغو مرغانو ته چي خپله مور ئې نه ده ليدلې، معلم او استاد هم نه لري، لاربښوونه کوي او ورته وايي چي ستا د پلار نيکه د ژوند طريقه دا وه؟! يقيناً چي الله تعالی هر څه پيدا کړي او هر يوه ته ئې د خپل فطرت او طبيعت مطابق لاربښوونه کړې.

د عالم په ټولو مخلوقاتو کي يوازي انسان داسي مومو چي د هغو فطري لارښوونو تر څنګ چي د ده په ضمير کي اېښودل شوې هم مور ته شديداً اړ وي او هم مرشد او لارښود ته. له دې پرته نه سم ژوند کولی شي او نه کمال ته رسېدی شي.

د غرځه بچی په دې پوهېږي چي څه وخت د وابنو خوړل پيل کړي او د غرونو په پراخو لمنو او لويو دښتو کي، چي له راز راز بوټو ډکي وي، کوم بوټی وخوري او د کوم يوه له خوراکه ځان وساتي. خو د انسان (بچی) تر اوږدې مودې نه شي کولی چي په خپل وړوکي کور کي ښه او بد وپېژني او مفيد له مضره بېل کړي، هم اور ته لاس غځوي او هم ډبره، لوټه او حتی زهر په خوله منډي. نه اور ته له ځان اچولو ډډه کوي او نه اوبو ته، (لارښود) او مرشد ته اړتيا د ده د فطرت مقتضا ده.

ستا رب هماغه ذات دئ چي بوټي راشنه کوي، هماغه ذات چي په اراده ئې د زمکي له کلك او سخت پوټکي نازك او ښايسته بوټي راټوکېږي او هيڅوك د دغو رنګ رنګ بوټو په پيدا کولو کي د ده د فعل شريك نه دئ، همدا ستا رب دئ. ته زمکه وسپړې، مړه دانه په کي وکرې او ستا رب ئې د داسي شنه او ښايسته بوټي په څېر راوباسي چي ژوندی دئ، احساس لري، وده کوي، د خپل نسل د دوام بند وبست کوي او څو دانې په عوض کي درکوي.

په بل ځای کي فرمايي:

وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ٣٨ وَٱلۡقَمَرَ قَدَّرۡنَٰهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَٱلۡعُرۡجُونِ ٱلۡقَدِيمِ ٣٩ يس:38-39

او لمر خپل تم ځای ته درومي، دا د پوه عزتمن ذات ټاکلې اندازه ده او سپوږمۍ ته مو منازل ټاکلي، تر هغه چي د خرما د وني د زړې څانګې په څېر شي.

هم لمر ته د تلو راتلو مستقر او تم ځای ټاکل شوی چي په همدې معين او ثابت مسير کي درومي او هم سپوږمۍ ته له مختلفو مراحلو او منازلو د تېرېدو مدار وضع شوی چي په همدې مسير کي د حرکت له کبله ورو ورو وړېږي، ان تر دې چي د ووړوالي له کبله زړې څانګي ته ورته شي او بيا له نظره پټه شي. دا هغه مقدرات او ټاکلې اندازې دي چي د پوه عزتمن او ځواکمن الله له

لوري وضع شوي، همغه چي لمر سپوږمۍ د ده په اراده خوځي او شپه ورځ د ده په اراده ځي راځي.

او په دې اړه چي هر څه ئې د يوې ثابتي او ټاکلې اندازې سره سم پيدا کړي، فرمايي:

ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖ فَقَدَّرَهُۥ تَقۡدِيرٗا ٢ الفرقان:2

هغه ذات چې د آسمانونو او زمکې پاچايي د ده ده، نه ئې زوی نيولی (چې د ده ځای ناستی شي) او نه ئې په واکمنۍ کې کوم شريك شته (داسي څوك هم نشته چې د زمکې او آسمانونو په اداره کې له هغه سره شريك وي) او هر څه ئې پيدا کړل او ځانګړې اندازه ئې ورته وټاکله.

په بل ځای کې فرمايي:

وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسۡبُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَٰلِغُ أَمۡرِهِۦۚ قَدۡ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَيۡءٖ قَدۡرٗا ٣ الطلاق: 3

او چا چې پر الله توکل وکړ نو هغه ورته کافي دئ يقيناً چې الله خپل کار ته رسېدونکی دئ (څه چې وغواړي ترسره کوي ئې) يقيناً چې الله هر څه ته يوه اندازه ټاکلې (د پيدايښت لپاره ئې، د پای لپاره ئې او د مقدار لپاره ئې).

همدا راز فرمايي:

أَلَمۡ نَخۡلُقكُّم مِّن مَّآءٖ مَّهِينٖ ٢٠ فَجَعَلۡنَٰهُ فِي قَرَارٖ مَّكِينٍ ٢١ إِلَىٰ قَدَرٖ مَّعۡلُومٖ ٢٢ فَقَدَرۡنَا فَنِعۡمَ ٱلۡقَٰدِرُونَ ٢٣ المرسلات: 20-23

آيا له سپکو کرکجنو اوبو مو پيدا نه کړئ او آيا هغه مو په مضبوط تمځي کې ځای په ځای نه کړ؟ تر يوې معلومي نېټې؟ نو وتوانېدو او همدا راز ښه توانېدونکي يو.

په دې آيتونو کې د بياژوندون د اثبات لپاره يو بل مضبوط دليل وړاندې شوی، د انسان د پيدايښت په څرنګوالي باندې استناد سره د بياژوندون امکان ثابتوي، په دې شرح:

الف: مګر تاسو مو د اوبو له يوه کرکجن څاڅکي پيدا نه کړئ؟ ولي مجدد خلقت درته ګران او مستحيل برېښي؟

ب: آيا د (رحم) په تياره دنيا کي ستاسو استقرار او په هغه کي تر معيني نېټې او مودې ستاسو توقف او بيا مو له هغي تنګي او تيارې نړۍ د زمکي د سر پراخي او روښانه نړۍ ته راتګ، دا نه ثابتوي چې له يوې دنيا بلي ته انتقال مو يو ځل آزمويلی بيا به ئې هم آزمويئ؟ د زمکي په (رحم) او تنګي محدودي غېر کي له توقف وروسته به د آخرت پراخي نړۍ ته درومئ.

ج: هغه ذات چې په دې وتوانېدو تاسو له يوه ځاځکي اوبو پيدا کړي، د مور په رحم کي مو ځای په ځای کړي او له هغي تنګي دنيا مو بلي ته راولي، آيا هغه به په دې لا ښه قادر او توانا نه وي چې بيا مو راژوندي کړي؟ څنګه او په کوم دليل دا مجدد بعثت نه منئ او ترې انکار کوئ؟

له دغو آيتونو په ډاګه معلوميږي چې الله تعالی هر څه په يوه معينه اندازه پيدا کړي، د هر څه د مقدار او اندازې لپاره ئې ثابت حد ټاکلی، د ټولو مخلوقاتو د اندازې او مقدار ترمنځ ئې دقيق تناسب او تعادل رامنځته کړی، نه پرېږدي دا تعادل او تناسب ختم شي او د اشياوو مقدار کم يا زيات شي، هر څه ته ئې د خوځېدو لپاره ثابت مسير ټاکلی، د پيدايښت، دوام او فنا لپاره ئې معينه نېټه او اجل ټاکلی، هر څه به په خپل معين وخت کي ترسره کېږي.

نن ساينس په دې حقيقت چې قرآن څوارلس پېړۍ مخکي ويلی اعتراف کوي چې د کائناتو هر څه معين او ثابت مقدار لري، په دې عالم کي د ټولو تحولاتو بدلونونو او د يوې مادې په بلي د بدلېدو سره سره دا ثابت مقدار او د اشياوو ترمنځ تناسب او تعادل په خپل حال پاته کېږي او په هغه کي هيڅ تغيير نه راځي. که په دې تناسب کي ډېر کم تغيير راشي، د دنيا په سر به د ژوند امکانات ختمېږی او د عالم دا موجوده نظم به متلاشي کېږي.

همدا راز ساينس په دې خبري اعتراف کوي چې هر څه له پيدايښت تر کهولت او زړښت او بيا تجزيې پوري ثابت مدار پلی کوي او معين عمر لري.

قضاء

له قضاء هغه سنن او ضوابط مراد دي چې په ټول عالم او د کائنات په هري برخي حکومت کوي، همغه چې مونږ ئې مظاهر په خپلو سترګو ګورو، ګورو چې هر څه د دغو سننو او ضوابطو په وړاندي محکوم او مقهور دي، هيڅ څه

او هيڅوك له دې ضوابطو د سرغړاوي مجال نه شي ترلاسه كولى، په دې عالم كي هركار د دغو سننو او ضوابطو مطابق ترسره كيږي، نه كوم ستر كار او نه كوم وړ كار، نه كوم عادي خوځښت او نه پراخ او ستر حركت، هيڅ څه دغو ضوابطو ته له كامل انقياد پرته نه شي ترسره كېدى، د عالم د هر ستر او وړ توكي پيدايښت، ارتقا، د كمال اوج ته رسېدا، له هغه ځايه ئې د ضعف او ناتوانى په لوري د خوځښت پيل، په مرگ محكومېدا او خپل ځاى بل ته پرېښودل، دا ټول د هغو سننو او ضوابطو مطابق ترسره كيږي چي دا عالم ئې په خپلو منگولو كي نيولى، د قرآن په قاموس كي دغه سنن او ضوابط د (قضاء) په نامه يادېږي.

انسان نن په دې حقيقت پوه شوى چي د دې پراخ او ستر عالم هر څه د خاصو قوانينو او ضوابطو په وړاندي منقاد دي او هر څه د دغو قوانينو مطابق ترسره كيږي، كه دا د توكو پيدايښت دئ، په خپلو كي د عناصرو تركيب دئ، د ژوو زېږېدا، وده، زړښت، مرگ او تجزيه كېدل دي، د شيانو حركت، سرعت، راپرېوتل او ويشتل دي او كه هر بل كار او هر حركت، دا ټول د هغو ضوابطو مطابق ترسره كيږي چي ساينس ئې د (فارمول) په نامه يادوي او قرآن ئې د قضاء په نامه.

په قرآن عظيم الشأن كي قضاء اكثراً د فيصله كولو، امر صادرولو او پاى ته رسولو په معنى راغلى لكه چي راځي:

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ فَٱخۡتُلِفَ فِيهِۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ وَإِنَّهُمۡ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ ١١٠ هود:110

او بې شكه چي موسى ته مو كتاب وركړ، خو په هغه كي اختلاف وكړى شو او كه چېري ستا د رب هغه كلمه (پرېكړه، سنت او قضاء) نه وى چي مخكي (صادره) شوې نو حتماً به د دوى ترمنځ پرېكړه شوې وه او يقيناً چي دوى د هغه په اړه په حيرانوونكي شك كي دي.

يعني كه د الله هغه سنت او حكم نه وى چي تر يوې معيني نېټې يا د قيامت تر ورځې له دوى انتقام او د دوى تعذيب ځنډوي، نو د اختلاف كولو سره متصل به د دوى ترمنځ وروستى فيصله شوې وه او ظالمان به فوري تعذيب شوي وو.

له دې آيت معلومېږى چي الله تعالى له بنده سره په خپلي معاملې كي ثابت

سنن لري، چې د هغه مطابق د ده کړو وړو ته سزا او جزاء ورکوي، که څه هم هغه د الله په کتاب کې اختلاف کړی وي او د ده د استازي او پیغمبر مخالفت ته ئې ملا تړلې وي، داسې نه ده چې له مخالفت سره سم له کومې قاعدې او ضابطې پرته دوی مؤاخذه کړي او الهي عذاب پرې نازل شي.

همدا راز فرمايي:

وَٱللَّهُ يَقۡضِي بِٱلۡحَقِّۖ وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَقۡضُونَ بِشَيۡءٍۗ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ٢٠ غافر:20

او الله په حقه سره فيصله کوي او هغه چې له الله پرته ئې (مرستي ته) وربلي په هيڅ شي قضاوت او فيصله نه کوي، يقيناً چې الله اورېدونکی ليدونکی ذات دئ.

يعني د الله تعالى قضاوت او فيصله په حق مبتني ده، هغه ته ټول حقائق څرګند دي، د خلکو ترمنځ چې څه تېرېږي هغه اوري او ويني، خو له الله پرته چې خلك كوم څه يا كوم څوك مرستي ته وربلي او په الوهيت او ربوبيت كي ئې له الله سره شريكوي، نه د پرېکړو او فيصلو صادرولو واګي او اختيارات دوی ته سپارل شوي او نه په کوم حق او واقعيت مبتني قضاوت کولی شي. د پرېکړو او فيصلو صادرولو اختيارات او واګي ټولي له الله تعالى سره دي او په دې کي هيڅوك له الله تعالى سره شريك نه دئ.

په بل ځای کي راځي:

هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن طِينٖ ثُمَّ قَضَىٰٓ أَجَلٗاۖ وَأَجَلٞ مُّسَمًّى عِندَهُۥ ثُمَّ أَنتُمۡ تَمۡتَرُونَ ٢
الانعام: 2

دی هغه ذات دئ چې تاسو ئې له خټي راپيدا کړئ، بيا ئې د ثابتي نېټې پرېکړه وکړه (د مرګ لپاره ئې معينه نېټه وټاکله) او (د قيامت د ورځي) ثابته نېټه له ده سره ده (دا نېټه ئې له ځان سره ساتلې او چا ته ئې د هغې علم نه دئ ورکړی)، بيا تاسو (سره له دې د بعثت په اړه) شك كوئ.

له دې آيت معلومېږي چې د پېښو او کارونو ترسره کېدو لپاره ثابتي نېټې وضع شوې، الله تعالى د دې پرېکړه کړې چې کوم کار کله ترسره شي؟ همدا راز له دې آيت معلومېږي چې کېدی شي ځينې پېښې داسې وي چې انسان د هغه د وقوع د نېټې په اړه نسبي علم تر لاسه کړي، خو د قيامت د قيام نېټه

يوازي الله ته معلومه ده.

هُوَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ فَإِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٦٨ غافر: 68

دی همغه ذات دئ چې ژوند ورکوي او مړول کوي (وژني)، او کله چې د کوم کار پربکړه وکړي نو فقط ورته وايي: وشه، نو کيږي.

يعني د کوم چا په اراده چې تاسو پيدا شوي يئ او د ژوند دا ټبل ټبل پراوونه پلي کوئ، د مرګ ژوند پربکړي همدغه ذات کوي. يوازي د يوه حکم په صادرولو سره د هر هغه کار د ترسره کېدو لړئ پيل کيږي چې ده ئې د ترسره کېدو پربکړه کړې.

د قضاء اقسام

قضاء دوه اړخه لري: تکويني قضاء او تشريعي قضاء.

تکويني قضاء: کوم سنن او ضوابط چې په دې کون او عالم کې وضع شوي، ټوله هستي د هغو مطابق عياره شوې او هر څه د هغو مطابق ترسره کيږي، دې ته تکويني قضاء وايي، دا ثابت سنن دي چې نه بدليږي او الله تعالى د هغوى د بدلون او تغيير واك او توان هيڅا ته نه دئ ورکړى.

لکه چې قرآن فرمايي:

وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗا ٢٣ الفتح: 23

او د الله سنت ته بدلون نه شې موندلى

قرآن د دې تکويني قضاءپه اړه فرمايي:

فَقَضَىٰهُنَّ سَبۡعَ سَمَٰوَاتٖ فِي يَوۡمَيۡنِ وَأَوۡحَىٰ فِي كُلِّ سَمَآءٍ أَمۡرَهَاۚ وَزَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِمَصَٰبِيحَ وَحِفۡظٗاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ١٢ فصلت:12

نو وئې ګرځول اوه آسمانونه، په دوو ورځو کي او په هر آسمان کي ئې د هغه د کار (د څرنګوالي او تدبير په اړه) وحي وکړه او د دنيا آسمان مو په څراغونو (رڼو ستورو) سره ښايسته کړ او د هغه خاص حفاظت او ساتنه مو وکړه، دا د پوه عزتمن ذات ټاکنه او تقدير دئ.

له دې لحاظه د زمکي او آسمانونو هر څه د دې الهي قضاء په وړاندي منقاد او تسليم دي او له همدغو ثابتو سننو طوعاً او کرهاً اطاعت کوي، لکه چې قرآن

فرمايي:
أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ٨٣ آل عمران:83
نو آيا د الله له دين پرته بل (دين) لټوي، حال دا چي ده ته د آسمانونو او زمكي هر څه طوعاً او كرهاً (كه غواړي كه نه غواړي) تسليم او منقاد دي او د ده لوري ته ګرځول كېږي.

يعني په داسي حال كي چي د زمكي او آسمانونو هر څه د الله تعالى د تكويني سننو چار او ناچار اطاعت كوي او هيڅ څه له دغو سننو او ضوابطو سرغړونه او مخالفت نشي كولاى، په ټول عالم كي د الله تكويني احكام په مطلق ډول حاكم او نافذ دي، خو كافران غواړي د الله له دين پرته بل دين ځان ته غوره كړي او د خپل ژوند په هغو برخو كي چي الله دوى ته هلته د څه كولو او نه كولو اختيار وركړى، غواړي د الله له خوا د رالېږل شوي دين او تشريعي احكامو مخالفت وكړي او ځانته بل دين غوره كوي؟!!

د زمكي او آسمان هر څه الله ته تسليم دي، د ټولو دين اسلام دئ، هغه څه كوي چي الله پرې ګمارلي، په همغه لار دروميچي الله ورته ټاكلې، لمر، سپوږمى، ستوري په خپل خپل مدار كي خوځي، په خپل خپل وخت او له خپل خپل ځاى راخېژي او پرېږدي، وني، بوټي او حيوانات د خپل فطرت مطابق په خپل كار لګيا دي، په ټولو مخلوقاتو كي يوازي كافر او عاصي انسان دئ چي د الله له دين پرته د بل څه په لټه كي شي، هم د الله د دين په نسبت كافر شي او هم د خپل فطرت په نسبت، دى ستر باغي دئ، له هغه دين ځې بغاوت كړى چي د زمكي او د آسمان د هر څه دين دئ.

ساينس ته اوس دا خبره جوته شوې چي په دې عالم كي هر څه د معينو ضوابطو او قواعدو سره سم ترسره كېږي، حركت، سرعت، شتاب، ويشتل، سقوط، د عناصرو ترمنځ تركيب، د موادو او مركباتو پيدايښت، زړښت او ببرته تجزيه، ټول د ثابتو او تغيير نه منونكو قواعدو سره سم، سرته رسي، نن ساينس دا ثابت سنن د فورمولونو په شكل كي توضيح كوي.

تشريعي قضاء: هغه احكام چي د انسان لپاره وضع شوي او انسان وربانديمكلف شوى چي هغه مراعات كړي او خپل ژوند د هغه مطابق عيار كړي، دې ته تشريعي قضاء وايى:

لكه چي قرآن فرمايي:

وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمۡرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ مِنۡ أَمۡرِهِمۡۗ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلٗا مُّبِينٗا ٣٦ الاحزاب:36

او نه با ايمانه نارينه او نه مؤمني ښځي ته ښايي چي کله الله او د ده رسول د کوم کار فيصله وکړي، بيا دي دوی ته په خپل دې کار کي څه اختيار او واك وي (بيا له دوی اختيار سلب کيږي او مکلف دي چي خامخا به د پرېکړي په وړاندي انقياد کوي) او چا چي د الله او د ده له رسول عصيان او سرغړونه وکړه نو يقيناً چي په څرګنده ضلالت سره بې لاري شو.

د تشريعي قضاء سنن او احکام د انسان د ژوند د هغو برخو د تنظيم لپاره وضع شوي چي هلته انسان ته د تصرف نسبي آزادي او اختيار ورکړی شوی، هلته انسان کولی شي له دوو لارو يوه په خپله خوښه انتخاب کړي.

اراده

اراده د هوډ، عزم او قصد په معنی ده او په دې مبحث کي دا مفهوم افاده کوي چي د دې عالم هر څه د (قضاء او قدر) مطابق او د الله تعالی په اراده ترسره کيږي، خبره يوازي دا نه ده چي د کائنات له پيدايښت وروسته او په هغه کي د سننو او مقدراتو له وضع کولو وروسته، د دې عالم هر کار په خپله او له دغو سننو سره سم، د الله له تصرف او پرېکړي پرته سر ته رسي، داسي نه ده چي دا عالم خپلي مخي ته پرېښودل شوی وي او پېښي په خپل سر او د دغو ضوابطو او فورمولونو مطابق او د طبيعي بهير په څېر رامنځ ته کيږي، برعکس خبره داسي ده چي که څه هم هر کار، هر خوځښت او هر بدلون او تحول د خاصو سننو او ضوابطو مطابق ترسره کيږي خو پيل او پای ئې د الله په اراده او إذن وي، دا الله دئ چي لحظه په لحظه او هره شېبه ئې اداره کوي، جهت او مسير ورته ټاکي او خاص نتائج پرې مرتب کوي. خو بايد دې پوښتنې ته ځواب پيدا کړو چي په داسي حالت کي د انسان د نسبي استقلال او آزادۍ او له دوو لارو او دوو بديلونو څخه د يوه په انتخاب کي د ده د اختيار معنی څه کېدی شي؟ چي دلته د هر څه او هر کار لپاره له مخکي مقادير او مقدرات ټاکل شوي، ثابت او تغيير نه منونکي سنن او ضوابط په ټول عالم حکومت کوي او هر کار د الله په اراده ترسره کيږي، دا باور خو د هر ډول خپلواکۍ او استقلال

مجال ختموي او له انسان او د عالم له هر څه مجبور او مقهور مخلوق جوړوي!!

د ارادې معنی قصد او د يوه کار د سرته رسولو عزم او تصميم دئ لکه چې قرآن فرمايي:

إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٨٢ يس:82

يقيناً چې د ده کار داسي دئ چې کله د کوم څه اراده وکړي نو ورته وايي: شه! نو (هغه له ځنډ پرته) کيږي.

د دې عالم هر کار، د قضاء او قدر سره سم او د الله تعالی په اراده ترسره کيږي، داسي نه ده چې الله تعالی د عالم له پيدايښت وروسته او په هغه کي د هر څه د مقدار له ټاکلو او د سننو او ضوابطو له وضع کولو وروسته دا عالم او کارونه ئې خپلي مخي ته پرېښی وي او پېښي ئې په خپل سر، له دغو ضوابطو سره سم د يوه طبيعي بهير، جريان او تسلسل په شکل تر سره شي، بلکي د هر کار سرته رسېدل که څه هم د الهي ثابتو سننو سره سم وي، خو د الله په اراده شروع کيږي، د هغه په اراده پای ته رسي او هغه وروسته وروسته نتائج مرتب کوي. لکه چې قرآن عظيم الشأن په دې ارتباط د انسان د مرګ په اړه فرمايي:

وَمَا كَانَ لِنَفۡسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِ كِتَٰبٗا مُّؤَجَّلٗاۗ وَمَن يُرِدۡ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَا وَمَن يُرِدۡ ثَوَابَ ٱلۡأٓخِرَةِ نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَاۚ وَسَنَجۡزِي ٱلشَّٰكِرِينَ ١٤٥ آل عمران:145

او هيڅ نفس ته نه ښايي چې ومري، مګر د الله په اذن او ارادې سره، په ليکل شوې او ټاکلې نېټې.

يعني د انسان د مرګ لپاره ثابته نېټه ټاکل شوې، د اجل دا ثابته نېټه مخکي له مخکي ليکل شوې او د انسان مرګ په همدې ليکلې او ټاکلې نېټې د الله په اذن او اراده واقع کيږي.

همدا راز فرمايي:

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ أَن نَّبۡرَأَهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٢٢ الحديد: 22

هيڅ مصيبت په زمکه او په خپله تاسو کي نه پرېوځي مګر دا چې په کتاب کي (ليکل شوی)، مخکي له دې چې پيدا ئې کړو، بېشکه چې دا (کار) الله ته آسان

دئ.

خو په بل ځای کي د مصيبت د نزول په ارتباط دا برخه هم راځي چي هر مصيبت د الله په اراده او اذن نازليږي لکه چي فرمايي:

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَمَن يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ يَهۡدِ قَلۡبَهُۥۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ١١ التغابن:11

هيڅ مصيبت نه نازليږي مګر د الله په اذن او اراده او څوك چي په الله ايمان راوړي هغه ئې زړه هدايت کړي او الله په هر څه پوه دئ.

له دې آيتونو په څرګنده معلومږي چي د هري پېښي وقوع او د هر مصيبت نزول د الله له سننو سره سم، د مخکي ليکل شوې پرېکړي مطابق او د الله تعالی په اراده او اذن ترسره کيږي.

لوح محفوظ

الله تعالی چي په دې عالم کي کوم سنن او مقدرات وضع کړي او د دې سننو او مقدراتو مطابق چي د عالم له پيدايښت تر قيامته پوري کومي پېښي تر سره کيږي، ټول ئې په کامل او مفصل طور په لوح محفوظ کي ثبت کړي، که د تکويني قضاء مطابق په دې عالم کي څه تحول او بدلون راځي او که انسان د خپلو اختياراتو په محدوده کي څه کوي، ټول مخکي له مخکي هغه الله په لوح محفوظ کي ثبت کړي چي عالم بالغيب دئ، حاضر او غائب، ماضي او مستقبل، نږدې او لري، هغه ته برابر او يو شان دي، په خپل غيبي او کامل علم سره پوهيږي چي هر انسان به ېپل ېپل له خپلو اختياراتو په استفادې سره څه کوي؟ دا په لوح محفوظ کي د راتلونکو پېښو او د انسان د کړو وړو په اړه ليکنه د انسان اختيارات نه سلبوي او هغه په يوه مجبور، محکوم او بې واکه موجود نه بدلوي. انسان ته چي کوم اختيارات ورکړی شوي او د ده په اړه کوم سنن او ضوابط وضع شوي او د هغه مطابق الله تعالی ورسره معامله کوي، دا هم په لوح محفوظ کي ثبت شوي. له دغو سننو يو هم دا دئ چي انسان ته نسبي آزادي او واك ورکړی شوی، کولی شي په خپله خوښه د ښېګڼي او بدۍ له دوو لارو يوه غوره کړي، د ده د آزادۍ او د انتخاب قدرت، د هماغه مقدراتو او ضوابطو مطابق دئ چي الله تعالی مخکي له مخکي وضع کړي او په لوح

محفوظ کي ثبت دي.

کوم ښه يا بد عمل چي انسان د الله تعالى په توفيق، له الهي سننو او ضوابطو سره سم او له هغه نسبي آزادۍ او واك په استفادې سره چي الله ورکړى؛ کوي او الله تعالى کوم نتائج د ده په کړو وړو مرتب کوي، ټول الله تعالى ته د غيبي علم په رڼا کي څرګند دي او په کتاب کي ئې مخکي له مخکي ليکلي، د مثال په توګه: دوا د انسان په معالجې او تداوي کي اثر لري، لکه چي په حديث کي راځي: الله تعالى هري بيمارۍ ته دوا پيدا کړې. الله تعالى چي د هري بيمارۍ لپاره کومه دوا پيدا کړې، طبعاً له هغې په استفادې سره انسان نوموړې بيماري معالجه کولى شي، دا د يوې بيمارۍ معالجه په يوې خاصي دوا سره له الهي مقدراتو سره سم ترسره کېږي او د دوا د عدم استعمال په نتيجه کي د بيمارۍ تشديد هم د الهي مقدراتو مطابق رامنځته کېږي، خو الله تعالى چي د کوم بيمار کس د انجام په اړه څه ليکلي ټول هغه عوامل ئې په پام کي نيولي چي د دې بيمار د انجام په ټاکلو کي اثر لري، لکه دا چي: کوم امکانات به ئې په واك کي وي؟ په کومه مرحله کي به ژوند کوي؟ آيا د دې بيمارۍ ضد دوا تر لاسه کولى شي که نه؟ او په دې ترتيب به د ده پاى او عاقبت څه وي؟ الله تعالى ته دا ټول عوامل د خپل غيبي علم په اساس روښانه دي، د دغو ټولو په رڼا کي ئې د ده د عاقبت په اړه څه ليکلي.

د دغو نصوصو څو بېلګي دا دي:

- پيغمبر عليه السلام فرمايي: دعاء د مصيبتونو په ردولو کي اثر لري. يعني الله تعالى چي کوم فرد يا قوم ته د هغه د کړو وړو له کبله کوم مصيبت مقدر کړى، که هغه توبه وکړي، خداى ته رجوع وکړي، الله ته دعاء وکړي او له هغه مرسته وغواړي، الله تعالى دا مقدر شوى مصيبت مسترد کوي.

لکه چي قرآن فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلۡهُدَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِي ٱلۡكِتَٰبِ أُوْلَٰٓئِكَ يَلۡعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلۡعَنُهُمُ ٱللَّٰعِنُونَ ١٥٩ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَبَيَّنُواْ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَتُوبُ عَلَيۡهِمۡ وَأَنَا ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١٦٠ البقره: 159-160

له څرګندو آيتونو چي مونږ کوم څه نازل کړي، څوك چي دا پټوي، وروسته له هغه چي مونږ خلکو ته په کتاب کي بيان کړي، نو يقيناً چي په دغو کسانو هم

الله لعنت وايي او هم هر لعنت ويونکی پرې لعنت وايي، مګر هغه چې توبه او رجوع ئې وکړه او خپل کړه ئې اصلاح کړل او بيان ئې کړل، نو د دوی توبه به قبوله کړم او زه خو يقيناً چې ډېر مهربان توبه منونکی يم.

دلته هغو دين په دنيا خرڅوونکو ته اشاره شوې چې حق پټوي او په دې سره د فساد او فتنو خورولو باعث ګرځي، د دوی دا حق پټول د الله په دين کي دومره ستره ګناه ګڼل شوې چې د الله، ملائکو او ټولو خلکو د لعنت وړ ئې ګڼي، خو که دوی له دې جرم توبه وکړي، هغه فتنې او فسادونه چې په همدې پټولو سره ئې راولاړ کړي هغه اصلاح کړي او پټ کړي حقائق بيان کړي، يوازي په دې صورت کي الله تعالی د دوی توبه مني، له دې پرته که په خپل مخکني حالت کي ومري نو همداسي به د تل لپاره په لعنت کي پاته وي. دلته ګورئ چې د توبې قبلېدو لپاره درې شرطونه اېښودل شوي:

- له خپلي ګناه بېرته راګرځېدل او الله ته مخه کول،
- د حق په پټولو سره چې کوم فساد رامنځته شوی د هغه اصلاح او جبران،
- او پټ کړي حقائق بيانول.

ګورئ هغه کسان چې د حق پټولو له کبله د الله تعالی له خوا رټل شوي او د لعنت وړ ګرځېدلي، د توبې، اصلاح او د حق څرګندولو له کبله له دې عذاب ژغورل شوي د دوی سابقه تقدير او انجام بدل شوی.

د احد په جنګ کي چې الله تعالی د پيغمبر عليه السلام له يارانو سره د مرستي وعده کړې وه، ملائکي ئې د دوی مرستي ته راولېږلې، الله تعالی دوی ته د صبر او تقوی له کبله پر کفارو غلبه او فتح ورکړه؛ خو وروسته چې ځينو له هغو اصولو او ضوابطو عدول وکړ چې د فتحي او بري لپاره مقدر شوي او د ماتي او ناکامۍ عوامل د دوی په ډله کي راپيدا شول، الله جل شانه د دوی فتح او بری په ماتي او ناکامۍ بدل کړ.

لکه چې قرآن فرمايي:

وَلَقَدۡ صَدَقَكُمُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥٓ إِذۡ تَحُسُّونَهُم بِإِذۡنِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلۡتُمۡ وَتَنَٰزَعۡتُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ وَعَصَيۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنۡيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۚ ثُمَّ صَرَفَكُمۡ عَنۡهُمۡ لِيَبۡتَلِيَكُمۡۖ وَلَقَدۡ عَفَا عَنكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٥٢ آل عمران:152

او يقيناً چې الله خپله وعده درسره رښتينې کړه، هغه وخت چې د الله په حکم مو دوی نيول او وژل، تر هغه چې بې زړه شوئ او په هغه کار کې مو په خپلو کې نزاع وکړه او له هغه وروسته مو نافرماني وکړه چې تاسو ته ئې ستاسو محبوب شيان دروښودل، له تاسو ځينو دنيا غوښته او ځينو مو آخرت غوښتو، بيا ئې له دوی راوګرځولئ، تر څو مو وآزمويي او يقيناً چې تاسو ته ئې عفو وکړه او الله خو پر مؤمنانو د فضل څښتن دئ.

يعني الله تعالى له تاسو سره خپله وعده ترسره کړه، تاسو ته ئې بری درکړ، دښمن مو پسې اخيستی وو، يو په بل پسې مو نيول او وژل، دا لړۍ تر هغه روانه وه چې تاسو بې زړه توب وښود، په خپلو کې مو اختلاف وکړ، له هغه وروسته چې غنائم مو تر سترګو شول د پيغمبر هدايات او اوامر مو له پامه وغورځول او بالآخره د هغو په څنګ کې چې آخرت لټوي داسې کسان هم راپيدا شول چې د غنيمت په لټه کې وو، نو خود به ستاسو فتح په ماتي بدلېده او الله تعالى به خپله مرسته متوقف کوله او د دښمن له تعقيب به پاته کېدئ، خو دا هم د الله يوه آزموينه وه، الله دا غلطي معاف کړه، که دا الهي عفو ستاسو په حال نه وی شامله شوې معلومه نه ده چې له کوم بد عاقبت سره به مخامخ شوي وئ، الله پر مؤمنانو باندې د فضل خاوند دئ.

د آدم عليه السلام د پيدايښت او په جنت کې د ځای په ځای کېدو او بيا له هغه د وتلو په قصې کې هم قرآن عظيم الشأن دا حقائق ښه څرګند کړي، داسې چې:

1- آدم عليه السلام په زمکه کې د خليفه په توګه پيدا کړی شو، د خلافت د دندې د ترسره کولو لپاره د دې عالم هغه ځواکونه ده ته منقاد کړی شول چې د عالم د امورو د سمبالولو دنده په غاړه لري، ملائکي ده ته په سجده شوې، يعني ده ته به منقادي وي او د ده مرسته به کوي.

2- خو شيطان د ده مخالف او د ده د بې لاري کولو په لټه کې.

3- د آدم عليه السلام د اوسېدو اصلي ځای جنت دئ خو د ده مخالف ځواکونه هڅه کوي دی له جنت محروم کړي.

4- په جنت کې آدم عليه السلام ته له يوې خوا څه استقلال او د انتخاب واك او اختيار ورکړی شوی او له بلې خوا څه محدوديتونه ورته وضع شوي، د جنت هر راز مېوې، په هر ځای کې او هرڅومره خوړی شي، خو د ونو يوې

خاصي نوعي ته بايد نږدې نه شي، چې دې ته نږدېوالی او د مېوې خوراك ئې ظلم او تېری ګڼل کېږي او له جنت د محرومېدا سبب ګرځي.

5- شیطان آدم او بي بي حوا علیهما السلام د دې مېوې خوړلو ته وهڅول، د دوی قدمونه ئې وښویول او له جنت ئې وایستل.

6- شیطان سرغړونه او لویي وکړه، الله تعالی له خپلي خوا ورتلو او د لعنت وړ وګرځېدو.

7- آدم علیه السلام د شیطان په لمسونه د هغي ممنوعه وني مېوه وخوړه؛ خو توبه ئې وکړه، الله تعالی د ده توبه ومنله او خپل رحمت او پېرزوینه ئې د ده په حال شامله کړه.

د سرکشۍ او تکبر له کبله د شیطان رټل او د توبې او انابت له کبله په آدم علیه السلام پېروزینه او رحمت، دواړه د الهي سنتو او مقدراتو مطابق وو.

یوه بله قصه دا مطلب مزید توضیح کوی: د یوه سفر په دوران کي، د اصحابو لښکر ته چي عمر رضی الله عنه هم پکي وو اطلاع ورسېده چي په مخکنۍ کلي کي وبا خوره شوې، په خپلو منځونو کي مشورې ته کښېناستل چي آیا نوموړي کلي ته داخل شو که نه، ځینو په دې ټینګار کولو چي باید له څه تشویش پرته کلي ته داخل شو. په قضاء او قدر زموږ ایمان د دې غوښتنه کوي چي له پېښو ونه وېرېږو، که زموږ د مرګ نېټه نه وي را رسېدلی نه مرو او وبا په موږ اثر نشي کولی، له مناقشې وروسته دا پرېکړه وشوه چي نوموړي کلي ته له ننوتو ډډه کوو. د غونډې په پای کي یوه کس له عمر رضی الله عنه پوښتنه وکړه چی آیا له قدر په څنګ شو، عمر رضی الله عنه په ځواب کی ورته وویل: له یوه قدر بل ته درومو.

آیا انسان د اختیار خاوند دئ؟

دا پوښتنه راولاړېږي چي آیا انسان د اختیار خاوند دئ که مجبور او بې اختیاره؟ آیا انسان ته د خپلي لاري د انتخاب آزادي ورکړی شوې؟ راشئ د دې پوښتني ځواب په قرآن کي ولټوو، قرآن په ټول صراحت او وضاحت سره دا مطلب څرګندوي چي انسان ته د یوې معیني دائرې په انګړ کي د خپلي لاري او له بنه او بد د یوه د انتخاب واك او آزادي ورکړی شوې، د همدغه واك او

اختيار له کبله هغه د خپلو عملونو بدله ګوري. د ده دغه اختيار او استقلال ته په پام سره هغه د خپلو عملونو مسئوليت په غاړه لري او سزا به ئې ګوري: دا مطلب په ګڼ شمېر آيتونو کي راغلی چې مونږ دلته په دوو بېلګو اکتفاء کوو. د کهف په مبارکي سورې کي راغلي:

﴿وَقُلِ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَن شَآءَ فَلۡيُؤۡمِن وَمَن شَآءَ فَلۡيَكۡفُرۡۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَاۚ وَإِن يَسۡتَغِيثُواْ يُغَاثُواْ بِمَآءٖ كَٱلۡمُهۡلِ يَشۡوِي ٱلۡوُجُوهَۚ بِئۡسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقًا ٢٩ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ مَنۡ أَحۡسَنَ عَمَلًا ٣٠ الكهف: 29 - 30

و ووايه: دا ستاسو د رب له لوري يو حقيقت دئ، نو څوك چې غواړي ايمان دي راوړي او د چا چې خوښه وي کافر دي شي، بې شکه چې مونږ د ظالمانو لپاره داسي اور تيار کړی چې دېوالونه به ئې پرې راتاو وي او چې کله د مرستي لپاره غږ کړي نو په داسي اوبو به ئې غږ ته ځواب ويلی شي چې خوټېدونکې، توري او بويناکي دي او مخونه وريتوي، څومره بد څښاك او څومره بد ټاټوبی، او بې شکه هغو چې ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، مونږ د هغه چا اجر نه ضايع کوو چې د عمل له مخي ښه وي.

د دې مبارکو آيتونو مهمي مهمي لارښووني دا دي:

- دلته د (الحق من ربكم) مراد يا هغه ويناوي دي چې تر دې د مخه راغلې او يا ټول قرآن، مطلب ئې دا دئ چې دا ستاسو د رب له لوري او حقيقت دئ، نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم ذاتي افکار او ويناوي دي او نه په هغه کي د حق او حقيقت خلاف څه نښه موندی شئ.
- د هر چا خپله خوښه ده چې ايمان راوړي او که کافر کېږي، دا واك او اختيار انسان ته ورکړی شوی چې د ايمان او کفر ترمنځ يو ئې غوره کړي، الله تعالى ئې نه ايمان راوړو ته اړ باسي او نه ئې کفر او انکار ته.
- څوك چې له دې اختيار او آزادۍ غلطه استفاده وکړي، د ظلم او تېري لار غوره کړي نو الله تعالى دغو ظالمانو ته داسي اور تيار کړی چې دېوالونه به ئې پرې راتاو وي او کله چې له ډېري تندي چيغې کړي او په چيغو چيغو سره مرسته وغواړي نو په داسي اوبو به ئې غوښتنه ځوابېږي چې خوټېدونکي، توري او بويناکي دي او مخونه وريتوي، څومره بد څښاك او څومره بد ټاټوبی!

• او چا چې ایمان راوړی او صالح عملونه ئې کړي، نو الله تعالی د هغه چا اجر نه ضایع کوي چې عمل ئې صالح وي. نه په دنیا کي او نه په آخرت کي، هم به د خپل ایمان او صالح عمل غوره نتائج په دنیا کي ترلاسه کوي او هم په آخرت کي.

له دې مبارکو آیتونو په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومېږي چې انسان ته دا اختیار او واك ورکړ شوی چې په خپله خوښه یا د ایمان او صالح عمل لار غوره کړي او یا د کفر او ظلم لار، د همدغه واك او اختیار په وجه او د خپل انتخاب د څرنګوالي له مخي به سزا ګوري.

همداراز د النبأ په سوره کي لولو.

ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمُ ٱلۡحَقُّۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا ٣٩ النباء: 39

دا رښتینې ورځ ده، نو څوك چې غواړي د خپل رب په لوري دي د ورتګ لار غوره کړي.

یعني دا هم د انسان په انتخاب پورې اړه لري چې د خپل رب لوري ته د ورتلو لار اختیار کړي او د صالح عمل په نتیجه کي د الله خوا ته غوره مقام ترلاسه کړي.

او دا چې د دې آیتونو تر څنګ قرآن دا هم ویلي چې: و ماتشاءون الا ان یشاء الله: تاسو غوښتی نه شئ تر څو د عالمونو رب الله نه وي غوښتي، دا مطلب به څنګه د انسان له نسبي آزادۍ او اختیار سره متصادم نه ګڼو او څنګه به دا آیتونه سره همغږي ثابتوو، ځواب ئې دا دئ:

که دا آیت او دې ته ورته؛ مستقل او له نورو بېل نه بلکي د ټولو هغو آیتونو ترڅنګ وڅېړو او ټول هغه آیتونه په پام کي ولرو چې د قضاء، قدر، اراده، مشیت او اختیار مفاهیم په کي راغلي، نو په مطلب ئې پوهېدل آسانه او له خبط او خطأ خوندي پاته کېدی شو، متأسفانه بادي الرأی کسان او د لنډ نظر خاوندان دا آیت یوازي او نورو ته له پامه پرته څېړي، له همدې کبله په مطلب پوهېدل ورته ګران شي او ګمان کوي چې دا آیت د انسان په بې وسۍ، مجبوریت او عدم اختیار دلالت کوي، دوی دې ته نه دي متوجه چې په دې آیتونو کي د دې موضوع یوه څنډه څېړل شوې او نوري برخي ئې په نورو آیتونو کي، په کار ده په موضوع د ښه پوهېدو لپاره ټول اړوند آیتونه په پام کي ونیسو، د دغي

غلطۍ له کبله ځینو کسانو د قضاء او قدر په اړه داسي څه ویلي چې په موضوع د پوهېدو په ځای ئې هغه مزید ګرانه او پېچلې کړې، خلکو ته ئې شکوك او شبهات راپیدا کړي او دښمنانو ته ئې د دې خبرې کولو موقع ورکړې چې ووایي: قرآن هم انسان بې اختیاره او مجبور مخلوق ګڼي او هم ئې کړه وړه د محاسبې وړ، په داسي حال کي چې مجبور مخلوق د خپلو کړو وړو په اړه هیڅ مسئولیت نه لري، د مجبور مخلوق د ټولو کړنو مسئولیت د هغه چا په غاړه وي چې دی ئې ورته مجبور کړی!! ځینې نور بیا په دې اړه له څه ویلو ممانعت کوي او په دې ئې ټینګار وي چې د قضاء او قدر موضوع باید مجمل ومنو او تفصیل ته ئې له ننوتو ډډه وکړو!! په داسي حال کي چې دا یوه مهمه اعتقادي موضوع ده او ایمان پرې ضروري، ایمان له علم او پوهې پرته نه شي کېدی، ایمان په حقیقت کي د پوهې انتهاء او پایله ده، قرآن د ګڼ شمېر آیتونو په ترڅ کي او په ډېر تفصیل سره دا موضوع څېړلې. که په قضاء او قدر پورې مربوط ټول آیتونه د یوه بل څنګ ته کېږدو، د یوه لپاره بل له پامه ونه غورځوو او د ټولو په رڼا کي نتیجه راوباسو، نو نه به په اصل مطلب پوهېدل راته ګران وي او نه به له کوم مشکل او ابهام سره مخامخ کېږو.

د دغې موضوع په ارتباط مو باید دې ته هم پام وي چې قرآن که له یوې خوا دا ویلي چې دلته تغییر نه منونکې قضاء او قدر شته، هر کار د قضاء او قدر مطابق او د هغو سننو او ضوابطو په مراعات سره چې الله تعالی د دې عالم لپاره وضع کړي، د الهي مقدراتو په محدوده کي او د الله تعالی په اراده او إذن ترسره کېږي، له بلې خوا ئې دا هم ویلي چې انسان ته نسبي واك او اختیار ورکړی شوی، هغه کولی شي له دوو لارو یوه غوره کړي، کولی شي له دوو کارونو د یوه د کولو اراده وکړي، پر قرآن د ایمان غوښتنه دا ده چې مونږ به په دواړو خبرو ایمان لرو، نه دا چې یوه ئې ومنو او پر هغې ټینګار وکړو او له بلې سترګې پټې کړو او له پامه ئې وغورځوو. هغه چا ته چې په قرآن کي لږ غور وکړي، د دې دواړو خبرو تلفیق ګران کار نه دئ او په ډېره آسانۍ سره دې نتیجې ته رسېږي چې انسان ته د نسبي اختیار او واك ورکول او له دوو بدیلونو د یوه د انتخاب قدرت او صلاحیت ورکول، د همدې الهي (قضاء) او (قدر) یوه برخه ده، الله تعالی دا سنت وضع کړی چې انسان کولی شي په ځینو مواردو کي او د یوې خاصې محدودې په انګړ کي د خپل مشیت او

غوښتني مطابق اقدام وکړي، که دا الهي سنت نه وی او د ده دا اختيار د قضاء او قدر جزء نه وی نو انسان به د جماداتو په څېر په کامله توګه محکوم او بې اختياره وو، هيڅ څه به ئې په خپله خوښه نه شو ترسره کولی!! خو د الله تعالی مشيت داسي تللی، الله تعالی داسي اراده کړې، الله تعالی داسي غوښتي چې انسان دي نسبي واك او اختيار ولري، د همدې لپاره وايو چې انسان هر څه کوي د الله په اراده، إذن او اجازه ئې کوي، الله تعالی ورته د يوې پرېکړي عزم او د يوه کار د کولو توفيق ورکوي. د (قضاء) او (قدر) معنی دا نه ده چې انسان بې اختياره او بې ارادې مخلوق دئ، چې نه د انتخاب اختيار لري او نه په خپل تقدير او برخليك کي د ده اراده او عزم څه اغېز لري. دا د قضاء او قدر ډېر غلط او ناسم تعبير دئ، (قدر) يعني دا چې دلته د هر څه لپاره خاصه او تغيير نه منونکي اندازه ټاکل شوې او (قضاء) يعني دا چې دلته هرڅه د ثابتو سننو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي، انسان ته د همدغو سننو او مقدراتو په محدودې کي د انتخاب واك او اختيار ورکړی شوی، په سم انتخاب ئې سم نتائج مرتب کېږي او خراب انتخاب ئې خراب نتائج ورکوي.

دې ته مو هم بايد پام وي چې که انسان له داسي څه سره مخامخ کېږي چې د ده له اختيار او واکه بهر دي؛ لکه د ده عمر، د پيدايښت او مرګ نېټه ئې، پېښي او حوادث او که داسي څه چې په خپل انتخاب او اراده ئې کوي، دا ټول له مخکي په لوح محفوظ کي ليکل شوي، ځيني کسان په لوح محفوظ کي دا ليکنه د انسان د نسبي واك او اختيار منافي ګڼي، چې دا يوه مغالطه ده، وجه ئې يا ناپوهي ده او يا له اسلام سره دښمني!! دوی دې ته نه ګوري چې په لوح محفوظ کي دا هم ليکل شوي چې انسان نسبي واك او اختيار لري، کولی شي له دوو لارو يوه د تلو لپاره غوره کړي.

خو په دې ارتباط يوه مهم مطلب ته جدي پاملرنه په کار ده او هغه دا چې د انسان اراده، عزم او د يو کار د سرته رسولو پرېکړه، غوښتنه او تصميم د الله تعالی د ارادې او مشيت تابع دي، صرف هغه څه کولی شي چې الله تعالی ئې د کولو توفيق ورکړي، لکه چې قرآن فرمايي:

إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذۡكِرَةٞۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلٗا ٢٩ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ٣٠ الانسان: 29- 30

بې شکه چې دا يو تذکر او پند دئ، نو څوك چې غواړي خپل رب ته د رسېدو غوره لار دي غوره کړي. او نه شئ غوښتی مګر هله چې الله ئې وغواړي، بې شکه چې الله باحکمته پوه دئ.

دا آيت چې په وار وار د قرآن د مواعظو او لارښوونو په پای کي تکرار شوی، دا مهم مطالب افاده کوي:

الف: دا يو تذکر او پند دئ د هغه چا لپاره چې غواړي الله تعالی ته د رسېدو غوره لار ومومي او د ده په لوري د تلو لپاره ئې غوره کړي.

ب: انتخاب ستاسو په لاس کي دئ، پند تري اخلئ او الله تعالی ته د رسېدو لار غوره کوئ او که مخ تري اړوئ او په کږو لارو سر کېږئ.

ج: د الله تعالی لار د هغه ذات لار ده چې په ټولو اسرارو پوه دئ، په هر حکم او لارښوونه کي ئې ژور حکمتونه مضمر دي.

د: دا لار فقط د الله تعالی په توفيق سره وهلی شئ، د الله تعالی مشيت په دې تللی چې انسان د خپلي لاري انتخاب ته آزاد پرېږدي، که څوك د الله تعالی لار غوره کړي هغه ته د تلو توفيق ورکوي او د ځان په لوري ئې هدايت کوي او که څوك د شيطان په لارو تلو ته ملا وتړي په همدې کږو لارو د تلو فرصت او توفيق ورکوي، ده په خپل انتخاب سره د الله تعالی د مشيت خلاف نه؛ بلکي عيناً د ده د سننو مطابق کار کړی، دا ځکه چې الله تعالی غوښتي چې انسان په خپل انتخاب کي آزاد وي او وکولی شي له دوه بديلو يو ئې غوره کړي، له دوو لارو يوه د تلو لپاره انتخاب کړي، د هر کار توفيق د ده له لوري دئ، دا د ده په إذن او ارادې سره ده چې تاسو يوه لار غوره کولی شئ او د تلو توفيق ترلاسه کوئ، دا سنن د باحکمته پوه رب له لوري وضع شوي، الهي سنن دقيق دي او په کامل او بشپړ علم ولاړ او په هر يوه کي ئې حکمت او مصلحت مضمر دئ.

همدا راز فرمايي:

إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ٢٧ لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن يَسۡتَقِيمَ ٢٨ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٩ التكوير:27-29

دا عالميانو ته يوازي يو پند او يادونه دئ، ستاسو هغه چا ته چې غواړي مستقيم (او په سمه لار برابر) شي او نه غواړئ تاسو (کوم څه) مګر دا چې الله د عالمونو رب ئې وغواړي.

په دې آيتونو کي دا دوه مطلبه يو په بل پسي راغلي:
الف: انسان کولی شي له ايمان او کفر او له سمي او کږې لاري يو په خپله خوښه غوره کړي.
ب: خو د ده خوښه، غوښتنه او اراده، د الله تعالی د ارادې او مشيت تابع ده.

بادی الرأی کسانو او د سطحي نظر خاوندانو ته په دې دواړو خبرو کي څه تضاد او تباين په نظر ورځي، د دواړو تلفيق ورته ګران برېښي او کله کله په دې اړه د داسي مغالطې مرتکب شي چي له هغې وتل او سمه لار موندل ورته محال شي. خو که څوك د قضاء او قدر او د الله تعالی د ارادې او د انسان د نسبي واك او اختيار په اړه مخکنيو مطالبو ته لږ ځير شي، له دې مغالطې او معضلې په آسانۍ وتلی او په حقيقت پوهېدلی شي.

الله تعالی د دې عالم د هر څه لپاره اندازه ټاکلې، په دې عالم کي ئې ثابت او نه بدلېدونکي سنن وضع کړي، هر څه له همدغه تقدير او قضاء سره سم د الله په اراده ترسره کېږي، انسان ته نسبي واك او اختيار هم د همدې سننو او مقدراتو جزء او يوه برخه ده، الله تعالی دا سنت په دې عالم کي وضع کړی چي انسان کولی شي د خپل ژوند په ځينو برخو کي په خپله خوښه تصرف وکړي. که الله تعالی دا سنت نه وی وضع کړی او انسان ته ئې دا توفيق او واك نه ورکولی، نو هغه به هم د جماداتو په څېر کاملاً محکوم وو او په خپله خوښه به ئې د څه کولو توان نه درلود، د انسان د اختيار او آزادۍ په اړه د الله اراده د ده په ارادې مقدمه ده، ځکه وايو چي انسان هر څه کوي د الله په اراده ئې کوي، هغه ورته دا اجازه ورکړې، هغه ورته د پرېکړې، عزم او بيا د اقدام او عمل توفيق ورکوي.

بنايي لاندي مثال له هغه چا سره مرسته وکړی شي چي د انسان نسبي اختيار او له مخکي ټاکل شوي مقدرات؛ يو د بل منافي ګڼي او دا ورته ګرانه برېښي چي څنګه په لوح محفوظ کي ليکل شوي تغيير نه منونکي مقدرات له انسانه اختيار او واك نه سلبوي:
مثال: تاسو د يوه داسي باغ خاوند يئ چي جګ جګ دېوالونه او دنګه مضبوطه دروازه لري، بنه ساتنه او حفاظت ئې کېږي، هيڅوك نه شي کولی ستاسو له اجازې پرته دې باغ ته ننوځي، خپل يوه دوست ته اجازه ورکوئ چي باغ ته

ننوځي او مېوه ئې وخوري، د دروازې کيلي ورکوئ او ورته وايئ: دې باغ ته له دې کيلي په استفادې سره ننوتی او هره مېوه ئې خوړلی شې، له دې وروسته د دې باغ اختيار ستا په لاس کي دئ، خو دې ته دي پام وي چې د باغ کين لوري ته داسي وني ولاړي دي چې د مېوو رنګ ئې ښايسته او جالب، خوند ئې ښه، خو خوړل ئې د ګټې په ځای تاوان درته لري، ستا صحت او سلامتيا ته تاوان رسوي، که دغو ونو ته ورنږدې نه شې او مېوه ئې ونه خورې نو دا به ستا په ګټه او زما د رضايت باعث شي، زما خوښه دا ده او دا مي پرتا پېرزو کړې چې دا نوري هغه مېوې وخورې چې هم تا ته ګټوري دي او هم ئې زه درته خوښوم او پرې راضي کړم او په دې سره به روغ رمټ له باغه ووځي.
ستا دا دوست ستا په اجازه باغ ته ننوځي، هر څه چې په دې باغ کي کوي او هره مېوه چې خوري نو ستا په اجازه او له هغه اختياره په استفادې سره ئې خوري چې تا ورکړی، په حقيقت کي هغه ستا په اراده، إذن او اجازه او له هغه اختيار او صلاحيت په استفادې سره عمل کوي چې تا ورکړی، که مضر او د ده روغتيا او سلامتيا ته تاواني او ستا د خوښي خلاف مېوه خوري او ستا د رضايت خلاف کار کوي او يا ګټوره مېوه خوري او هغه څه کوي چې ستا د رضايت باعث کېږي، دواړه کاره ئې ستا په إذن، اجازه، اراده او توفيق کړي، تا دا موقع، توان، توفيق او اجازه ورکړه چې باغ ته ننوځي او د خپلي خوښي مېوه وخوري، که تا دا اجازه نه وی ورکړې نه باغ ته ننوتی شو، نه ئې سم او بد کار کولی شو او نه ئې تاواني او ګټوره مېوه خوړلی شوه، غلطي ئې ستا په اجازه کړې خو مسئوليت ئې پر خپله غاړه دئ، له دې کبله چې په خپل انتخاب کي ئې اشتباه کړې، له اختيار او صلاحيت ئې غلطه استفاده کړې، هغو ونو ته نږدې شوی او مېوه ئې خوړلې چې د ده لپاره تاواني او د باغ د خاوند د خفګان باعث. باغ ته له ننوتو وروسته چې نوموړی کس هرڅه کوي مسئوليت ئې د ده په خپله غاړه دئ، هم مفيده مېوه خوړی شي او هم مضره، دا ځکه چې د انتخاب واك ورکړی شوی، د خپل انتخاب نتائج به ګالي، ښه انتخاب ئې ښه نتائج لري او بد انتخاب ئې بد. د زمکي په سر د انسان خلافت او د قضاء او قدر په وړاندي د هغه محکوميت او ده ته د (اختيار) او (انتخاب) صلاحيت او واك ورکولو معنی هم داسي ده.

په دې مثال کي د باغ دېوالونه، دروازه او کيلي ئې، د خاوند اجازه، خپل

دوست ته د انتخاب اختيار ورکول، د ممنوعه وني د مېوې تاوان، د باغ د خاوند خوښي او ناخوښي له مفيد او مضر مېوو د استفادې په صورت کي، هم (قضاء)، (قدر)، (د الله اراده)، له خپل بنده د الله تعالى رضايت او عدم رضايت ښه توضيح کوي او هم (د قضاء او قدر په محدوده کي د انسان اختيار او واک) ښه انځوروي، خو د دې قضيې د يوې خاصې څنډې له بيانولو عاجز دئ او هغه دا چې: کله ستا دوست د باغ د دروازې کيلي ترلاسه کړي او باغ ته ننوځي، نو ستا له واک او اداري ووځي، له دې وروسته ته ورباندې هيڅ ډول سلطه او واک نه لرې، په داسي حال کي چې له بنده سره د الله تعالى معامله داسي نه ده، هيڅ شېبه د هغه له ساتنې، څارنې او اداري نه شي وتى، هر ګام چې مخکې ږدي د الله په توفيق او مرسته ئې ږدي، د ښه او بد کار توان هم هغه ورکوي. د الله تعالى د مشيت، ارادې، قضاء او قدر په وړاندي د انسان مشيت، اراده او انتخاب پورتني مثال ته ورته دئ، هغه ښه او بد کار د الله تعالى د مشيت او ارادې مطابق کوي خو په خپله خوښه او له هغه اختيار په استفادې سره چې الله تعالى ورکړى.

او په لوح محفوظ کي د انسان د مقدراتو ليکنه داسي ده لکه په پورتني مثال کي چې ته د هغه دوست وضعيت ته په پام سره ده ته د کيلي ورکولو په وخت کي له ځان سره وليکې: دى به په دې باغ کي څه څه وکړي او کومي کومي مېوې به وخوري، ستا دا ليکنه ستا د پوهې او علم څرګندونه کوي، هر څومره چې ستا علم او پوهه دقيق وي همدومره به د ده کړه وړه ستا د ليکني موافق خېژي، ستا ليکنه نه د ده خپلواکي سلبوي او نه ئې په کوم کار اړ کوي، دا ځکه چې تا په خپله د باغ کونجي ورکړې او د هري مېوې خوړلو اختيار دي ورکړى، په لوح محفوظ کي ليکنه دې ته ورته ده، دا ليکنه د انسان د هغو عملونو په اړه چې په خپل اختيار او خپلي خوښي ئې ترسره کوي، تقدير بالوصف دئ، نه تقدير بالحکم، دى پرې اړ شوى نه دئ بلکي د ده حالت په کي بيان شوى، دا د الله تعالى د بشپړ علم غيب ښودنه کوي، نه د هغه څه چې د انسان اختيار ترې سلب کړي او يو محکوم او مجبور مخلوق ترې جوړ کړي.

پر قضاءاو قدر د ايمان غوښتنې

د قضاء او قدر په ارتباط لومړی مهمه خبره دا ده چې بايد د دې موضوع په معنی، مفهوم او مطلب پوه شو، په قضاء او قدر باندې ايمان دا غوښتنه کوي چې د دغو مفاهيمو په حقيقت پوه شو، دا ځکه چې موږ د دغو الفاظو په معنی او مفهوم باندې په ايمان او باور درلودلو مکلف شوي يو، که د دغو الفاظو په مفهوم او معنی پوه نشو او حقيقت ئې موږ ته واضح نه وي، داسې چې د هر راز شك او شبهې احتمال ختم کړي، نو يوازې په الفاظو به دايمان معنی څه وي؟

قرآن چې موږ په کوم څه مکلف کوي چې ايمان پرې راوړو نو لومړی موږ د هغه په حقيقت پوه کوي، هيڅکله موږ په مجهول او غيرقابل فهم مطلب باندې په ايمان راوړلو نه ګماري. که موږ ته د قضاء او قدر مفهوم واضح نه وي نو د ټولو هغو آيتونو په مطلب نشو پوهېدی چې دا الفاظ په کې راغلي.

د مصائبو په وړاندې صبر

څوك چې په قضاءاو قدر ايمان لري د کړاوونو او ستونزو په وخت کې به صابر وي، له بل د شکوې او شکايت په ځای به صبر کوي او عقيده به ئې دا وي چې دا کړاوونه تصادفي پېښې نه دي، بلکې د الله تعالی له ثابتو سننو او مقدراتو سره سم واقع شوي، حتماً له ده داسې خطاء او اشتباه شوې چې په نتيجه کې ئې له دې کړاو او ستونزې سره مخامخ شوی. هغه د مصيبتونو په وخت کې د بې صبرۍ او شکوې په ځای په خپلې تګلارې او کړو وړو کې تجديد نظر کوي، له کړاو سره د مخامخ کېدو عوامل لټوي او د خپل عمل د اصلاح هڅه کوي، مصيبتونه هغه د غفلت له خوبه راويښوي، لکه چې قرآن فرمايي:

وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٖ فَبِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٖ ٣٠ الشورى:30

او په کوم مصيبت چې تاسو اخته کېږئ نو دا ستاسو د خپلو لاسته راوړنو له کبله ده او له ډېرو ئې (الله) تېرېږي.

دا آيت په ډېر صراحت او قاطعيت سره وايي چې مصيبتونه ستاسو د کړو

وړو په سبب راځي او دا چې دا ستاسو د ګناهونو یوازې د یوې برخې سزا ده، که الله تعالی عفو ونکړي او له تاسو سره د فضل او عفوې په ځای د عدل له مخې معامله وکړي نو تر دې به ئې ستر ستر مصیبتونه درباندې نازل کړي وو.

قرآن د هغو مجاهدینو او خدای پالونکو په اړه چې د پیغمبرانو په څنګ کې جنګېدلي او له مصیبتونو سره مخامخ شوي خو صبر ئې کړی او مصیبتونه ئې د خپلو اشتباهاتو نتیجه ګڼلې، فرمایي:

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَٰتَلَ مَعَهُۥ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُواْ لِمَآ أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا ٱسْتَكَانُواْ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٤٦ وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّآ أَن قَالُواْ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِيٓ أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ١٤٧ فَـَٔاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ ٱلْءَاخِرَةِ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ١٤٨
آل عمران: 146-148

او ډېر پیغمبران داسې وو چې ډېر خدای پالونکي ئې په څنګ کې جنګېدلي، خو د الله په لار کې د رسېدلو مصیبتونو له کبله نه سست شول، نه ئې د ضعف احساس وکړ او نه ئې (د دښمن په وړاندې) ذلت ومنلو او داسې صبر کوونکي په الله ګران وي. او خبره به ئې له دې پرته بل څه نه وه چې ویل به ئې: ای زمونږ ربه! زمونږ ګناهونه او په خپلو چارو کې زمونږ تېری او اسراف راته وبخښه او زمونږ قدمونه استوار کړه او په دې کافر ټولګي مونږ ته بری راکړه. نو الله دنیایي بدله هم ورکړه او د آخرت غوره بدله هم او الله داسې محسنین خوښوي.

په دغو مبارکو آیتونو کې څو اساسي لارښوونې ګورو:

- تر محمد علیه السلام مخکې ډېر پیغمبران راغلي او تللي، د هر یوه په څنګ کې ډېر خدای پالونکي راغونډ شوي او د الله په لار کې جنګېدلي.
- د دغو پیغمبرانو خدای منونکي ملګري داسې وو چې د الله په لار کې له مصیبتونو سره د مخامخ کېدو له کبله نه سست شوي، نه ئې د ضعف او ناتوانی احساس کړی او نه د دښمن په وړاندې ذلت او سپکاوي ته تسلیم شوي. مبادا تاسو د الله په لار کې له مصیبتونو سره د مخامخ کېدو له کبله سست شئ، شور شوق او جذبه مو له لاسه ورکړئ، د دښمن قوت تاسو ووېروي او د هغه په

وړاندي د ضعف او ناتوانۍ احساس وکړئ، د دښمن شرائطو ته تسليم شئ او د هغه لوبي ومنئ.

- دوی له ماتو وروسته هم نه دي مأيوس شوي، ماتي او هزيمتونه ئې د خپلو اشتباهاتو او اسراف نتيجه ګڼلي، له الله تعالى ئې د خپلو ګناهونو او تېريو معافي غوښتي، سنګر ئې نه دئ پرېښى او له مبارزې ئې لاس نه دئ اخيستى، تل ئې خپل الله ته د دښمن په ضد په خپلي مبارزې کي د بريا دعاء کړې. بايد متوجه وئ چې د ايمان تقاضا همدا ده.
- دوی هم دنيايي بريادي ترلاسه کړې او هم ئې د آخرت فلاح او سعادت په برخه شوی.
- دا محسنين دي، د احسان لار همدا ده، دوی د خپلو همدې غوره صفاتو له کبله د الله د دوستۍ مستحق شوي، داسي محسنان په الله ګران وي.
- له دې مخکي هم ډېر پيغمبران تېر شوي او د دوی په څنګ کي ډېر خدای پالونکي جنګېدلي، د پيغمبرانو او د خدای پالونکو لار همدا ده؛ له حق د دفاع په خاطر د کفر، شر، فساد او ظلم په خلاف جنګېدل.
- نورو خدای پالونکو ته هم د الله په لار کي مصيبتونه رسېدلي، خو د دغو مصيبتونو په وجه نه سست شوي، نه ئې کمزوري ښودلې، نه ئې د دښمن په وړاندي د ذلت سر ټيټ کړی او نه ئې بې صبري کړې. د وهن معنى سستي ده خو دلته ترې مراد هغه حالت دئ چې د مصيبتونو او ماتي له کبله څوك ورسره مخامخ کېږي، مخکنى شور او شوق ئې ختم شي، جذبات ئې سړه شي، ناهيله او نااميده شي. له ضعف هغه حالت مراد دئ چې انسان د کمزورۍ او ناتوانۍ احساس وکړي او تر دښمن ځان ضعيف وګڼي. او له استکانت ذلت منل او د دښمن شرائطو ته غاړه ايښودل مراد دئ. څوك چې له دغو دريو کمزوريو ځان وساتي هغه صابر دئ او پر الله ګران. الله دغسي صابران خوښوي.
- دغو خدای پالونکو نه يوازي صبر کړی بلکي ويل به ئې: اې زمونږ ربه! زمونږ ګناهونه او په خپلو چارو کي زمونږ تېری او اسراف راته وبخښې، دا ماتي او مصيبتونه زمونږ د ګناهونو او تېري او اسراف نتيجه ده او زمونږ قدمونه استوار کړې او په دې کافر ټولګي مونږ ته بری راکړې، دوی د ماتي له کبله له مقاومت لاس نه دئ اخيستى، سنګر ئې نه دئ پرېښى، د فتح او بريا طمع ئې نه ده ختمه شوې، ثابت قدمه او د حق بريا ته منتظر پاتي شوي.

- دوی ته الله تعالی هم خپله دنیایي بدله ورکړي او هم د آخرت غوره بدله، په دنیا کي ئې فتح په برخه شوې او په آخرت کي د الله رضاء او جنت.

گورئ چي د الله د لاري مؤمن مجاهدین له مصیبتونو او ستونزو سره د مخامخ کېدو او د موقتي ماتي او ناکامۍ په وخت کي صابر وي، ستونزي او کړاوونه د دوی تحرك او نشاط نشي ختمولی، په دوی کي یأس او نا امیدي نشي راپیدا کولی، ځان بې وزله نه ګڼي، د ضعف اوناتوانۍ احساس نکوي او سپکاوي او ذلت ته نه تسلیمېږي، خپل فوځي کمښت او د دښمن د وسائلو او امکاناتو ډېرښت د خپلي ماتي عامل نه ګڼي، بلکي خپل اشتباهات او ګناهونه د ماتي باعث شمېري، په همدې خاطر له الله د خپلو ګناهونو بخښنه او مغفرت غواړي او دعاء کوي چي الله تعالی د دوی ګامونه د دښمن په خلاف په مورچلو کي ټینګ کړي او په دښمن دوی ته فتح او بری ور په برخه کړي.

همدا راز فرمایي:

قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ٥١
التوبه:51

ورته ووایه: موږ ته هیڅکله کوم مصیبت نه رسېږي مګر هغه څه چي الله راته لیکلي، هغه مو مولا دئ او مؤمنان خو باید پر الله توکل وکړي.

دا مطلب په یوه مبارك حدیث کي داسي راغلی:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ كُنْتُ رَدِيفَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ « يَا غُلاَمُ أَلاَ أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ يَنْفَعُكَ اللَّهُ بِهِنَّ». فَقُلْتُ بَلَى. فَقَالَ « احْفَظِ اللَّهَ يَحْفَظْكَ احْفَظِ اللَّهَ تَجِدْهُ أَمَامَكَ تَعَرَّفْ إِلَيْهِ فِى الرَّخَاءِ يَعْرِفْكَ فِى الشِّدَّةِ وَإِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللَّهَ وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ قَدْ جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا هُوَ كَائِنٌ فَلَوْ أَنَّ الْخَلْقَ كُلَّهُمْ جَمِيعاً أَرَادُوا أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَىْءٍ لَمْ يَكْتُبْهُ اللَّهُ عَلَيْكَ لَمْ يَقْدِرُوا عَلَيْهِ وَإِنْ أَرَادُوا أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَىْءٍ لَمْ يَكْتُبْهُ اللَّهُ عَلَيْكَ لَمْ يَقْدِرُوا عَلَيْهِ وَاعْلَمْ أَنَّ فِى الصَّبْرِ عَلَى مَا تَكْرَهُ خَيْراً كَثِيراً وَأَنَّ النَّصْرَ مَعَ الصَّبْرِ وَأَنَّ الْفَرَجَ مَعَ الْكَرْبِ وَأَنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْراً » رواه احمد

له عبد الله بن عباس رضی الله عنه روایت دئ یوه ورځ د رسول الله صلی الله علیه و سلم ترشا په سورلۍ سپور وم، نو ما ته ئې وویل: اې ځوانه! آیا داسي څو کلمې در وښیم چي په هغوی سره به الله تا ته ګټه ورسوي؟ ومي ویل: هو،

وئې فرمايل: د الله د حقوقو ساتنه وکړه چې هغه دي وساتي، د الله د حقوقو ساتنه وکړه چې په هغه صورت کې به ئې (مرسته او پاملرنه) خپلې مخې ته ومومي. په سوکالۍ کې الله ته (په عبادت او بندګۍ سره ځان) معرفي کړه، چې د شدت او کړاو په وخت کې دي وپېژني (او مرسته دي وکړي)، که دي غوښتنه کوله نو له الله ئې غواړه او که دي مرسته غوښتله نو له الله مرسته غواړه، د هغه څه په لیکلو سره قلم وچ شوی چې کېدونکي دي (مقدرات ثبت شوي او په هغه کې تبدیلي نه راځي)، که د دنیا ټول خلك د دې هڅه وکړي چې تا ته داسې ګټه درورسوي چې الله نه ده درته لیکلي نو نشي توانېدلی، او که ټول خلك هڅه وکړي چې تا ته داسې تاوان درورسوي چې الله نه دئ درته لیکلي نو نشي توانېدلی، او په دې پوه شه چې په هغه څه صبر کولو کې ډېر خیر مضمر دئ چې نه دي خوښېږي او دا چې بری له صبر سره ملګری دئ او خلاصون له کړاو سره او یقیناً چې په هري سختۍ پسې آساني ده.

په قضاء او قدر باور او اعتقاد د دې باعث شي چې انسان د مصیبتونو په وخت کې ووایي: (إنالله و إنا إليه راجعون: بې شکه چې موږ د الله یو (هغه پیدا کړي یو او هر څه مو د ده دي) او یقیناً چې موږ د ده طرف ته ګرځېدونکي یو)، خو هغه څوك چې په قضاء او قدر باور نه لري او بنې او بدي پېښي تصادفي ګڼي، د سترو او غیر متوقع پېښو په دوران کې ځان وبایلي، فتح او بری ئې مغرور کړي او ناکامي او ماتي ئې مأیوس او ناامیده کړي.

لکه چې قرآن فرمایي:

وَلَئِنۡ أَذَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِنَّا رَحۡمَةٗ ثُمَّ نَزَعۡنَٰهَا مِنۡهُ إِنَّهُۥ لَيَـُٔوسٞ كَفُورٞ ٩ وَلَئِنۡ أَذَقۡنَٰهُ نَعۡمَآءَ بَعۡدَ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ ٱلسَّيِّـَٔاتُ عَنِّيٓۚ إِنَّهُۥ لَفَرِحٞ فَخُورٌ ١٠

هود: 9-10

او که انسان ته له خپلې خوا د کومې پېرزوینې خوند وروځکو بیا ئې تر ې لري کړو، یقیناً چې (په دې صورت کې) دی حتماً ډېر مأیوس او ناشکره وي او که له هغه وروسته چې کړاو وررسېدلی؛ ده ته د نعمتونو خوند وروځکو، حتماً وایي چې له ما ستونزي ولاړې، بې شکه چې هغه ډېر خوښي کوونکی او ډېر فخر کوونکی دئ.

همدا راز فرمایي:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعۡبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرۡفٖۖ فَإِنۡ أَصَابَهُۥ خَيۡرٌ ٱطۡمَأَنَّ بِهِۦۖ وَإِنۡ أَصَابَتۡهُ فِتۡنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ خَسِرَ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةَۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡخُسۡرَانُ ٱلۡمُبِينُ ١١ يَدۡعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُ وَمَا لَا يَنفَعُهُۥۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلۡبَعِيدُ ١٢ الحج:11-12

او له خلکو ځيني داسي دي چې په يوې ژبې کي د الله عبادت کوي، نو که کومه ښېګڼه وروررسېږي په هغې ډاډه شي او که د آزموينې (کومه ستونزه) وروررسېږي خپل مخ اړوي، دنيا او آخرت ئې تاواني شو او دا څرګنده تباهي ده. له الله پرته هغه چا ته دعاء کوي چې نه ضرر ورررسولی شي او نه ګټه ورررسولی شي، همدا ژوره لارورکتيا ده، هغه چا ته دعاء کوي چې تاوان ئې تر ګټې ډېر نږدې دئ، څومره بد مولا او څومره بد ملګری.

په دې مبارکو آيتونو کي د هغه چا حالت انځور شوی چې مسلمانېدا ئې مشروطه ده، که اسلام د دوی غرضونه ترسره کړي نو پر اسلام او خپلې مسلمانۍ راضي وي، خو که اسلام د دوی د اغراضو په وړاندې خنډ شي، د مسلمانانو په څنګ کي خپل غرضونه ترلاسه نکړی شي، له ګوابنونو او خطرونو سره مخامخ شي، دين او ايمان د قربانۍ غوښتنه تريې وکړي، نو خپل دين او ايمان ته لته ورکړي، په شا ولاړ شي او له مسلمانانو سره خپلې اړيکي وشلوي!! هغه له داسي چا سره تشبيه شوی چې د اسلام د دائرې له مرکزه ډېر لري؛ په هغې کربنې چې اسلام او کفر سره بېلوي، ولاړ دئ او هملته د خدای عبادت کوي، د کفر له دائرې يو ګام دې لوري ته رااوښتی، له مخکې تلو ئې ډډه کړې، هملته ودرېدلی او په همدومره څه ئې اکتفاء کړې، که دلته کومه ګټه او منفعت ترلاسه کړي، نو په خپلې ګټې او دغه يو قدم رااوښتو خوښ وي، خو که له کومې ستونزې او خطر سره مخامخ شي، بېرته يو ګام په شا ولاړ شي او خپل مخکنې حالت ته وروګرځي. دا د خپل هوس بنده دئ، له الله تعالی سره ئې معامله د يوه بازاري سوداګر ده، ايمان او عقيده هم د مادي ګټې په تله تلي، هغه عقيده ورته د منلو وړ ده چې مادي اغراضو ته په رسېدو کي د ده مرسته وکړي، له هرې هغې عقيدې کرکه لري چې د سپېځلو اهدافو په لار کي د قربانۍ مطالبه تريې وکړي. د مادي ګټې په طمع د داسي چا خوا ته درومي او له هغه مرسته غواړي چې له معنوي او اخلاقي پلوه ئې تباه کوي او دومره تاوان ورررسوي چې په دنيا کي سپك شي او په آخرت کي د دوزخ وړ!! په دې نه پوهېږي چې د ګټې او تاوان پربکړه د الله تعالی له لوري کېږي، له الله تعالی

پرته نه څوك د ګټي رسولو توان لري او نه د تاوان رسولو، د الله تعالى پر ځاى داسي چا ته مخه کړي چي تاوان وررسولى شي خو ګټه نه، څومره بد مولى او څومره بد ملګرى.

د النساء د مبارکي سورې په 77-79 آيتونو کي د جهاد او له جهاد د راولاړو شوو ستونزو په اړه د منافقينو انګېرني او دريځ او د دوى منافقانه نظريات په ډېر دقيق ډول بنودل شوي، په دې آيتونو کي به وګورئ چي قرآن هغه کسان څنګه معرفي کوي چي يا د قضاء او قدر په مفهوم نه پوهېدل او يا ئې په هغه ايمان نه درلود؛ وګورئ چي قرآن د دوى قضاوتونه د بري او ماتي په وخت کي او د بنېګڼې او مصيبت په صورت کي څنګه رابنيي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوٓاْ أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ ٱلنَّاسَ كَخَشْيَةِ ٱللَّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا ٱلْقِتَالَ لَوْلَآ أَخَّرْتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ ۗ قُلْ مَتَٰعُ ٱلدُّنْيَا قَلِيلٌ وَٱلْأٓخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا ٧٧ أَيْنَمَا تَكُونُواْ يُدْرِككُّمُ ٱلْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ۗ وَإِن تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِكَ ۚ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ فَمَالِ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا ٧٨ مَّآ أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ ٱللَّهِ ۖ وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ ۚ وَأَرْسَلْنَٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ٧٩ النساء:77-79

هغو ته دي ونه کتل چي ورته وويل شو: لاسونه مو راتم کړئ، لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ، خو کله چي پر دوى جهاد فرض کړى شو نو يوه ډله ئې له خلکو داسي وېرېده لکه له الله او يا تر دې هم سخته وېره او ويل ئې: اې زمور ربه! ولي دي پر مور جنګېدل فرض کړل؟ ولي دي تر يوې نږدې نېټې ونه ځنډولو؟ ورته ووايه: د دنيا متاع خو وړوکى شى دئ او آخرت غوره دئ، د هغه لپاره چي تقوى ئې غوره کړه او د بڅرکي په اندازه به پر تاسو تېرى ونشي. چي هرځاى وئ مرګ به مو بيا مومي، که څه هم په دنګو کلکو مانيو کي وئ او چي کومه بنېګڼه ئې په برخه شي نو وايي: دا خو د الله له لوري ده، خو که کړاو ئې په برخه شي نو وايي: دا خو له تا څخه دئ، ورته ووايه: ټول د الله له لوري دي، په دې خلکو څه شوي چي په هيڅ خبري نه پوهېږي. له بنېګڼې چي څه ستا په برخه شي نو د الله له لوري ده او چي کړاو او ستونزه درورسېږي نو هغه پخپله ستا لخوا ده، ته خو مو خلکو ته يو استازى لېږلى يې

او الله د شاهد په توګه کافي دئ.

په دې مبارکو آیتونو کي لاندي لارښوونې زمونږ مخي ته اېښودل شوې:

- ځینې خلك داسې وي چې له دښمن سره د جګړو د وخت له رارسېدو مخکې په جګړې ټینګار کوي، او وایي: باید له دښمن سره د یوې پرېکندې نښتې له لارې خبره پای ته ورسوو او ستونزه د تل لپاره حل کړو، خو دا ټینګار ئې له قوي ایمان او د الله په لار کې د قربانۍ له جذبې څخه نه وي راولاړ شوی، بلکې له بیمار زړه راخوټېدلی وي، په دې بې وخته ټینګار سره غواړي چې ځان مخلص او انقلابي وښیي او په خپلو غلطو عملونو او غلطلو ویناوو پرده واچوي او خلکو ته وښیي چې که اوس او د سختي ورځې له رارسېدو مخکې هغوی څه قصور لري او په عمل کي تر نورو شاته پاتې دي او د خپلو دیني او مذهبي دندو په اداء کولو کي لټې کوي، کله چې په دې اړه ورباندې اعتراض وشي نو وایي: که له دښمن سره د نښتې او له دین د دفاع وخت راورسېدو نو مونږ به ترټولو مخلص ومومئ، زمونږ په اخلاص او صداقت به هلته پوه شئ چې په لومړي خط کي مو توره په لاس او مټې بروهلي وګورئ!! وبه ګورئ چې تر هر چا مخکې یو او په لومړي خط کي د دښمن مقابله کوو!! خو کله چې د جګړې اصلي وخت راورسېږي او په دې اړه صریح او واضح فیصله وشي او د قرآن صریح او واضح حکم د هغه غوښتنه وکړي نو دا کسان به داسې ومومئ چې سخته وېره به ئې په څېرو کي څرګنده وي، خړې سترګې؛ د هغه چا په څېر چې د مرګ له وېرې او هیبته بې سده شوی، له خلکو به داسې وېرېږي لکه له الله او حتی له خلکو به ئې وېره هومره وي چې له الله به دومره نه وېرېږي!!
- بیا به وایي: اوس خو د جګړې مناسب وخت نه دئ، ضروري وسائل نه دي برابر شوي، څه نور وخت ته ضرورت لرو، باید جګړه وځنډېږي!!
- دوی جګړه او له دښمن سره مخامخ کېدل داسې ګڼي لکه د مرګ په لوري چې خوځول کېږي، لکه مرګ چې تیار دوی ته خپل کومی پرانیستی وي او د مرګ نېټه ئې رارسېدلې وي!! وایي به: خدای ولي مونږ ته د څه نوري مودې لپاره د ژوندي پاتي کېدو موقع رانکړه او داسې ژر ئې له جګړو سره مخامخ کړو!!

- دې خلکو ته فقط یو ځواب په کار دئ او هغه دا چې: له دنیا سره افراطي مینه مو له مرګه وېروي، آخرت مو هېر کړی، دنیا ته په آخرت ترجیح ورکوئ، د همدې لپاره له مرګه وېرېږئ او له جنګه ډډه کوئ. د الله په عدالت باور نلرئ، ګمان کوئ چې الله به د مسلمانانو هلي ځلي او قربانۍ ضایع کړي، حال دا چې الله د وړې ذرې په اندازه هم په خپلو بندګانو ظلم نه کوي.
- په دې پوه شئ چې په کور کې ناستي سره او کلکو مورچلو او دنګو کلاګانو ته په پناه وړلو سره هم له مرګه نه شئ خلاصېدی، په هر صورت به د مرګ داعي ته لبیك وایئ.
- دا کسان داسي دي چې که ستاسو په څنګ کې ځئ څه ښېګڼه په برخه شوه نو دا ستاسو د ملګرتیا نتیجه نه بلکي په خپل ځان د الله پېرزوینه ګڼي، خو که له کومي ستونزي سره مخامخ شول نو دا ستاسو له لوري ګڼي، دوی ته ووایئ چې ښه او بد ټول د الله له لوري دي، دوی په دې نه پوهېږي چې د ښه او بد، خیر او شر، ګټې او تاوان پرېکړه د الله له لوري کېږي.
- هره ښېګڼه د الله پېرزوینه ده، مبادا هغه د خپل عمل نتیجه وګڼئ، دا ځکه چې د نېك عمل توفیق هم د الله پېرزوینه ده.
- هر کړاو او ستونزه ستا د بد عمل او ګناه نتیجه ده، له ځان نه پرته بل څوك مه ملامتوه.
- د الله پیغمبر هم د خیر او شر واکدار نه بلکي د استازي په توګه لېږل شوی. الله په دې شهادت ورکوي چې خیر، شر د ده له لوري دئ او ستا په عمل پوري تړلی دئ، د ده پیغمبر فقط د یوه امین استازي دنده تر سره کوي، د خیر او شر واك او پرېکړه د ده په اختیار کې نه ده.

قرآن په ډېره حیرانتیا سره د دغو خلکو په اړه فرمایي: په دې خلکو څه شوي چې په خبره نه پوهېږي؟!! ولي داسي دي چې که له فتحي، بري او کومي بلي ښېګڼي سره مخامخ شي، نو د دې لپاره چې په دې بري او فتحي کې ځي د پیغمبر علیه السلام له وندې او اغېز انکار کړی وي وایي: دا خو د الله له لوري وه؛ خو که له ماتي او تلفاتو سره مواجه شي وایي: دا د قیادت او مشرتابه غلطي وه، د ماتي او مصیبتونو باعث او موجب پیغمبر علیه السلام او د ده قیادت او مشري ګڼي؛ حال دا چې هر څه د الله له لوري دي، خیر او شر ټول د ده په اختیار کې دي، د خیر او شر تقدیر او ټاکنه د ده له خوا ده. الله تعالی چې

هره فيصله کوي، چې هره لارښوونه کوي، د هر چا په هر عمل چې کومه نتيجه مرتب کوي، خير په هماغه کي دئ، که کوم مجرم مؤاخذه کوي، که کوم ظالم د تېري، ظلم او طغيان له کبله تعذيبوي، که کوم مسلمان په کوم مصيبت او کړاو سره آزمويي، په هر يوه کي مصلحت او حکمت مضمر دئ، لکه پلار چې خپل زوی د غلطۍ له کبله تنبيه کوي او يا استاد چې خپل شاګرد ته سزا ورکوي، خو احمق شاګرد او بې عقله زوی په دې نه پوهېږي چې په دې تنبيه کي ده ته کوم خير او ښېګڼه مضمر ده.

مصيبتونه او پېښي د قضاء او قدر په رڼا کي

د حوادثو، مصيبتونو او پېښو په اړه دوه نظريې وړاندي کېږي:

- ټولي پېښي تصادفي حوادث دي، که دا ستر ستر طوفانونه دي، که سېلابونه، که زلزلې او وچ کالي او که وړې وړې پېښي، د يوه انسان له عادي بيماريۍ نيولې تر هغو لويو لويو پېښو چې په ميلونونو خلك ترې متأثره شي، دا ټول طبيعي اسباب او عوامل لري، د خلکو له کړو وړو او ګناهونو سره ئې هيڅ تعلق نشته، هم ګنهګار نيسي او هم بې ګناه، نه ئې د انسان بد عمل په راتلو کي څه ونډه لري او نه ښه عملونه په مخنيوي کي.
- د هري پېښي پرېکړه د الله له لوري کېږي، هره حادثه د هغه په اراده رامنځته کېږي، الله نه په چا ظلم کوي او نه د عدالت خلاف پرېکړه، له هر فرد او ټولني سره همغه څه کوي چې د عدالت له مخې ئې مستحق وي، نه ستر ستر حوادث تصادفي پېښي دي او نه واړه واړه مصيبتونه، د انسان بد عملونه ئې د راتلو لامل دئ او نېك عملونو ئې د تم کېدو باعث.

راشئ وګورو چې قرآن په دې اړه څه وايي او له دغو دواړو نظريو کومه يوه تأييدوي؟ راشئ وګورو چې د يوه مؤمن په حيث به د دغو پېښو په اړه زمونږ نظر څه او عقيده مو څنګه وي؟ او د هغه چا په ځواب کي به څه وايو چې په دې اړه د قرآن په وينا اعتراض لري؟ تر هر څه مخکي بايد هغه آيتونه تر نظر تېر کړو چې د مصيبتونو او پېښو په اړه په قرآن کي راغلي:

د الشورى د سورې په دېرشم آيت کي داسي لولو:

وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٖ فَبِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٖ ٣٠ الشورى:30

او په کوم مصيبت چې تاسو اخته کېږئ نو دا ستاسو د خپلو لاس ته راوړنو له کبله دئ او له ډېرو ئې (الله) تېرېږي.
(30)- دا مبارك آيت په ډېر صراحت او قاطعيت سره وايي چې مصيبتونه ستاسو د کړو وړو په سبب راځي او دا چې دا ستاسو د ګناهونو يوازي د يوې برخي سزا ده، که الله عفو ونه کړي او له تاسو سره د فضل او عفوي پر ځای د عدل له مخي معامله وکړي نو تر دې به ئې ستر ستر مصيبتونه درباندي نازل کړي وو.
دلته يوه جدي پوښتنه راولاړېږي او هغه دا چې آيا انسان له ګناه پرته هم په مصيبت اخته کېدی شي که نه؟ هغه مصيبتونه به څنګه تعبيروو چې د الله تعالی نېك بندګان ورسره مخامخ شوي؟ پر پيغمبرانو عليهم السلام هم مصيبتونه راغلي دا به د دې آيت له مخي څنګه توجيه کوو؟ بې ګناه ماشومان هم مصيبتونه ګالي!! په دې اړه بايد لاندي خبري په پام کي ولرو:

- د حوادثو، مصيبتونو او پېښو په اړه څلور نظريې وړاندي کېږي:

1. يوه د بايبل هغه نظريه ده چې وايي: په انسان باندي چې کوم مصيبتونه راځي؛ دا د شيطان کار دئ، خدای شيطان ته دا اجازه ورکوي چې انسان له کړاوونو او مصيبتونو سره مخامخ کړي.
2. بله دا چې انسان د خپلو ګناهونو په سبب له مصيبتونو سره مخامخ کېږي، هر په مصيبت اخته انسان په حقيقت کي يو ګناهګار انسان دئ!! دا ځکه چې مصيبتونه يوازي يو لامل لري او هغه د انسان ګناه ده او بس.
3. درېيمه نظريه هغه ده چې وايي: ټولي پېښي تصادفي حوادث دي، که دا ستر ستر طوفانونه دي، که سېلابونه، که زلزلې او وچ کالي او که وړې وړې پېښي، د يوه انسان له عادي بيماری نيولې تر هغو لويو لويو پېښو چې په ميلونونو خلك تړې متأثره شي، دا ټول طبيعي اسباب او عوامل لري، د خلکو له کړو وړو او ګناهونو سره ئې هيڅ تعلق نشته، هم ګناهګار نيسي او هم بې ګناه، نه ئې د انسان بد عمل په راتلو کي څه ونډه لري او نه ئې ښه عملونه په مخنيوي کي.
4. خو قرآن فرمايي چې د ښه او بد، راحت او مصيبت، نعمت او نقمت پربکړه د الله تعالی له لوري کېږي، نه شيطان په دې کي څه تصرف او مداخله کولی شي او نه په زمکي او آسمان کي له الله تعالی پرته بل څوك. د هري پېښي

پرېکړه د الله له لوري کېږي، هره حادثه د هغه په اراده رامنځته کېږي، الله نه په چا ظلم کوي او نه د عدالت خلاف پرېکړه، له هر فرد او ټولني سره همغه څه کوي چې د عدالت له مخې ئې مستحق وي، نه ستر ستر حوادث تصادفي پېښي دي او نه واړه واړه مصيبتونه، کله د انسان بد عملونه د دې مصيبتونو د راتلو لامل وي او نېك عملونه ئې د تم کېدو باعث او کله الله تعالى غواړي د مصيبتونو په ترڅ کي انسان وروزي، کمال ته ئې ورسوي او هغه استعدادونه په کي راويښ او ځلانده کړي چې يوازي له کړاوونو سره د مخامخ کېدو په صورت کي په انسان کي وده کوي، لکه هغه ماشوم چې د لومړي ځل لپاره په خپلو پښو تګ زده کوي نو په وار وار لوېږي او لټېږي او په همدغو لوېدلو او لټېدلو کي د ده روزنه کېږي، ډېر څه ورښودل کېږي، هډوکي ئې مضبوطېږي او په لوړو ژورو کي د تلو هنر زده کوي.

قرآن فرمايي:

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَمَن يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ يَهۡدِ قَلۡبَهُۥۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ

١١ التغابن: 11

هيڅ مصيبت نه راځي مګر د الله په إذن سره او څوك چې پر خداى ايمان لري زړه ئې ورهدايت کړي او الله په هر څه ښه پوه دئ.

- دا آيت هم په ډېر تأکيد او قاطعيت سره وايي چې هيڅ مصيبت په خپل سر او تصادفي نه راځي، د الله په حکم او إذن راځي، د ايمان خاوندان ئې په وجه او حقيقت پوهېږي او په دې اړه ئې الله زړونه روښانه کوي او له شك او اعتراض ئې خوندي ساتي.
- د قرآن ګڼ شمېر آيتونه په پرېکنده ډول وايي چې هيڅکله کوم داسي مصيبت نه دررسېږي چې الله تعالى له مخکي نه وي درته ليکلى، که دا مرګ ژوبله وي، په جګړې کي ماته وي، يا کوم بل مصيبت، مؤمنان به په خداى توکل کوي، د مصيبتونو په اړه به هيڅکله دا شك نه کوي چې دا په خپل سر او د الله تعالى له عادلانه **پرېکړې** پرته نازل شوي.
- کله مصيبت د ګناه دنيايي سزا وي، له داسي مصيبت سره کله يو انسان د خپلې ګناه له کبله مخامخ کېږي او کله يوه ټولنه د اکثريت د ګناه له کبله، کله فردي بڼه لري او کله اجتماعي، کله يوه الهي آزموينه وي او په ترڅ کي ئې انسانان روزل کېږي او لوړو لوړو درجو ته د رسېدو لپاره جوګه کېږي. د دې

تفصيل د الانبياء سورې د (83-84) آيتونو په تفسير کي وګورئ.

- په دې اړه دا روايت هم مخي ته راځي چې وايي:

عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ « لاَ يُصِيبُ عَبْدًا نَكْبَةٌ فَمَا فَوْقَهَا أَوْ دُونَهَا إِلاَّ بِذَنْبٍ وَمَا يَعْفُو اللَّهُ عَنْهُ أَكْثَرُ ». قَالَ وَقَرَأَ (وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ رواه الترمذي

له ابو موسى رضى الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: هيڅ بنده ته کوم ستر يا وړ مصيبت نه رسيږي مګر د کومې ګناه له کبله، او له هغه څه چې الله تېرېږي هغه ډېر دي، بيا ئې دغه آيت تلاوت کړ: (وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ).

که څه هم ځينو دا روايت د سند له پلوه ضعيف ګڼلى خو متن ئې د قرآن له آيت سره په بشپړه توګه مطابقت لري. متأسفانه موږ له دې ستونزې سره مخامخ يو، کله به داسې روايت ته صحيح ويل کېږي چې له قرآن سره په بشپړه توګه تعارض لري او کله به پورتنې روايت ته ورته روايت ضعيف ګڼل کېږي؛ په داسې حال کې چې هغه به د قرآن له څرګند آيت سره مطابقت لري. دا ستونزه له دې راولاړه شوې چې ځينو سند ته پر متن ترجيح ورکړې، سند ئې په لومړۍ درجې کې معتبر ګڼلى او متن په دوهمې درجې کې.

د التوبه د مبارکې سورې په يو پنځوسم او دوه پنځوسم آيتونو کې مسلمانانو ته په دې اړه داسې لارښوونه شوې:

قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوۡلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٥١
التوبة:51

(ورته)ووايه: هيڅکله له هغه پرته څه نه رارسيږي چې الله راته ليکلي، هغه مو مولا دئ او مؤمنان خو بايد پر الله توکل وکړي.

قرآن مؤمنانو ته لارښوونه کوي چې مخالفينو ته په بشپړ ډاډ او اطمئنان سره ووايي: هيڅکله کوم داسې مصيبت نه رارسيږي چې الله تعالى له مخکې نه وي راته ليکلى، که دا مرګ ژوبله وي يا په جګړې کې ماته او يا کوم بل مصيبت، مؤمنان به پر خداى توکل کوي، د مصيبتونو په اړه به هيڅکله دا شک نه کوي چې دا په خپل سر او د الله تعالى له عادلانه پريکړې پرته نازل شوي.

- همداراز دا مبارک آيت مؤمنانو ته وايي چې د کافرانو د ګواښونو په

وړاندي به ستاسو ځواب دا وي:

- **لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا:** له هغه څه پرته چې الله تعالى راته ليکلي او مخکې له مخکې ئې راته مقدر کړي، بل هيڅ مصيبت نه رارسېږي، دا د هر مؤمن بنده د عقيدې او ايمان يوه برخه ده چې باور وکړي هيڅ مصيبت نه وررسېږي؛ مګر هغه چې الله تعالى لادمخه ده ته مقدر کړى.
- دوى به پدې خبرې باور لري چې الله مو مولا دئ، هغه به موږ يوازې نه پرېږدي، هغه به زموږ هلي ځلي نه ضائع کوي، موږ به د دښمن په وړاندي يوازې نه پرېږدي.
- دوى به پر الله توکل کوي. دښمن ته به وايي: زموږ ويسا او اعتماد پر الله دئ، دا ځکه چې موږ ايمان لرو او د ايمان تقاضاء دا ده چې انسان به پر الله تعالى توکل کوي.

د دې مبارك آيت مهمي لارښووني دا دي:

- د الله تعالى له اذن پرته هيڅا ته کوم مصيبت نه رسېږي.
- انسان ته يوازې هغه مصيبت وررسېږي چې له وړاندي هغه ته مقدر او د ده په تقدير پاڼي کي ليکل شوى وي.
- دا مقدرات نه بدلېږي.
- او دا چې الله زموږ مولا او چاره ګر دئ، موږ به يوازې نه پرېږدي، په هره پرېکړه او فيصله کي ئې زموږ لپاره خير مضمر دئ، دا ځکه چې الله زموږ مولا دئ او هر څه د هغه په اراده کېږي، که په موقتي توګه له ماتي سره مخامخ کېږو، زموږ خير په همدې کي مضمر دئ او که فتح او غلبه را په برخه کړي خير په همدې کي دئ، دا ځکه چې الله زموږ مولا دئ.
- او دا چې د ايمان خاوندان بايد پر الله تعالى باندي توکل وکړي، له نتائجو به مطمئن وي، کار به الله ته حواله کوي او له دې به ډاډه وي چې الله جل شأنه به په هغه باندي نېك نتائج مرتب کوي.

ورپسې فرمايي:

قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَآ إِلَّآ إِحْدَى ٱلْحُسْنَيَيْنِ ۖ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ أَن يُصِيبَكُمُ ٱللَّهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِندِهِۦٓ أَوْ بِأَيْدِينَا ۖ فَتَرَبَّصُوٓاْ إِنَّا مَعَكُم مُّتَرَبِّصُونَ ٥٢ التوبه: 52

(ورته) ووايه: آيا مونږ ته له دوو نه د يوې ښېګڼې پرته د بل څه انتظار لرئ

او مونږ خو ستاسو لپاره يا دې ته سترګي په لار يو چې الله مو له خپل لوري په کوم عذاب اخته کړي او يا زمونږ په لاس، نو انتظار وکړئ چې مونږ هم درسره انتظار کوونکي يو.

د داسي کسانو په ځواب کي بايد ووايئ:

- مونږ ته له دې پرته د بل څه انتظار نه لرئ چې له دوو ښېګڼو به مو يوه په برخه شي: يا برى يا د الله په لار کي شهادت، هر يو ئې زمونږ لپاره ښېګڼه.
- خو مونږ ستاسو په اړه دوو حالاتو ته منتظر يو: **يا دا** چې الله تعالى به تاسو له خپل لوري په کوم عذاب اخته کړي او يا زمونږ په لاس.
- د الله تعالى پربکړي ته تاسو هم انتظار وکړئ او مونږ هم انتظار کوو.

د آل عمران د مبارکي سورې په 145آيت کي لولو:

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ كِتَٰبًا مُّؤَجَّلًا ... آل عمران:145

هيڅ ژوى نه مري مګر د الله په حکم او په ليکل شوې نېټې...

همداراز د الحديد د مبارکي سورې په 22-23 آيتونو کي داسي راغلي:

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي ٱلْأَرْضِ وَلَا فِيٓ أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَآ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ٢٢ لِّكَيْلَا تَأْسَوْاْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُواْ بِمَآ ءَاتَىٰكُمْ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ٢٣ الحديد: 22-23

نه په زمکي کى کوم مصيبت واقع کيږي او نه په خپله تاسو کي، مګر دا چې په کتاب کي ليکل شوى؛ مخکي له دې چې پيدا ئې کړو. دا خو يقيناً الله ته آسان کار دئ، تر څو په هغه څه مأيوس نشئ چې له لاسه ئې ورکوئ او په هغه څه چې درکوي ئې بې ځايه خوشحالي ونکړئ او خداى هيڅ کبرجن او فخرکوونکى نه خوښوي.

د مصيبتونو په اړه د الله تعالى يو سنت دا هم دئ چې کله ئې مصيبت يوازي ظالمان نه نيسي بلکي عام وي او د ظالمانو تر څنګ نور هم نيسي، د الانفال په مبارکي سورې کي دا قضيه داسي توضيح شوې ده:

☎وَٱتَّقُواْ فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمْ خَآصَّةً وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ٢٥ الانفال: 25

و له هغې فتنې او مصيبت ځان وساتئ چې يوازي ستاسي ظالمان نه پرې اخته کيږي او په دې پوه شئ چې الله سخت عذاب ورکوونکى دئ.

دا هغه مصيبتونه دي چې مختص د ظالمانو په سر نه راپرېوځي، بلکې عام وي او نور خلك هم پرې اخته کېږي، خو بايد په دې پوه شو چې دا نور خلك ځوك دي چې د ظالمانو ترڅنګ دوی هم په دې الهي مصيبتونو اخته کېږي. د قرآن د وينا له مخي دا يا هغه خلك دي چې د ظالمانو ملګرتيا ئې کړې، د دوی په ځنګ کې درېدلي، دوی ته تسليم شوي، د دوی واکمني ئې منلې، د عسکر، پوليس، مأمور او مستخدم په حيث ئې د دغو ظالمانو خدمت کړی، ماليه ئې ورکړې او يا پر ظلم راضي شوي او د ظالمانو په مقابل کې ساکت پاته شوي او يا ئې د منکراتو د مخنيوي په اړه خپل مسئوليت نه دئ اداء کړی. له عام مصيبت مقصد دا نه دئ چې ګناهګار او بې ګناه دواړه نيسي، دا ځکه چې قرآن د لوط عليه السلام د قوم د هلاکت په اړه په ډېر صراحت سره فرمايي چې هلته له يوې مسلماني کورنۍ پرته بل داسي ځوك نه وو چې د ژغورلو مستحق وو او الله تعالى همدغي يوې کورنۍ ته نجات ورکړ او نور ټول ئې هلاك کړل، فرمايي:

فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ٣٦ الذاريات: 36

نو موږ په هغه (کلي) کې د مسلمانانو له يوې کورنۍ پرته (بله) ونه موندله.

دا آيت همدغه مطلب په ډېر قاطعيت سره داسي بيانوي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَقَالُواْ لِإِخْوَٰنِهِمْ إِذَا ضَرَبُواْ فِي ٱلْأَرْضِ أَوْ كَانُواْ غُزًّى لَّوْ كَانُواْ عِندَنَا مَا مَاتُواْ وَمَا قُتِلُواْ لِيَجْعَلَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ حَسْرَةً فِي قُلُوبِهِمْ ۗ وَٱللَّهُ يُحْيِۦ وَيُمِيتُ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ١٥٦ آل عمران: 156

اې مؤمنانو! د هغو په څېر مه کېږئ چې کافران شول او د خپلو وروڼو په اړه ئې چې په سفر تللي وو او يا ئې غزا کوله (او هلته يا مړه يا وژل شوي وو) وويل: که زمونږ په خوا کي وی، نه به مړه شوي وو او نه به وژل شوي وو!! تر څو الله دا خبره د دوی په زړونو کي د حسرت لامل وګرځوي، حال دا چې د ژوند، مرګ پرېکړه الله کوي او الله د هغه څه ښه ليدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ.

د دې آيت اساسي مطالب دا دي:

- مسلمانان د مرګ او ژوند په اړه له کافرانه تصور منع شوي.
- که چا مړينه او وژنه سفر يا غزا ته منسوب کړه او د وژل شوي او مړ

شوي خپلوان په اړه ئې وويل: که زمونږ په څنګ کي وی، په غزا کي ئې برخه نه وی اخیستې او په سفر نه وی تللی له مړیني او وژني به خوندي پاته شوی وو، د ده دا تصور او اعتقاد کافرانه دئ.

- د ژوند مرګ پرېکړه یوازي الله تعالی کوي.
- دا کافرانه تصور له دې پرته بل څه نه دئ چې په زړونو کي د حسرت باعث شي، په دې حسرت سره الله تعالی کافران تعذیبوي.
- د انسان کوم کړه وړه چې له همدې کافرانه اعتقاد څرګوبږي، که هغه له مرګ وېره وي، په جهاد کي برخه نه اخیستل وي او سنګر ته د خپلوانو له لېږلو ډډه کول وي، الله په ټولو خبر دئ او ستاسو د ټولو عملونو شاهد او ناظر دئ.

قرآن ټول هغه مصیبتونه چې د فرعون د اقتدار په وخت کي په مصریانو راغلي دا د فرعون او فرعونیانو د کفر، ظلم، طغیان او فساد له کبله ګڼي، د نوح علیه السلام په قوم طوفان د دوی د عملونو سزا بولي، همداراز نور ټول هغه عذابونه چې په ښلو ښلو قومونو راغلي.

د عالم هره پېښه خاص طبیعي عوامل لري، باران او واوره له ورېځو ورېږي، زلزلې د زمکي د ډبرین قشر له ماتېدو راولاړېږي، ښماري له ویروسونو او مکروبونو راپیدا کېږي، د طوفانونو لامل تونديِ سیلی دي چې د سیمو د هوا او موسم له سریع او دراماتیك تغییر سره ئې خوځښت تونډ او تېز شي او ستر ستر طوفانونه راولاړ کړي، خو د پېښو دا عوامل د هغه ذات په واك کي دي او د هغه په اراده او اذن خوځېږي چې د عالم هر څه اداره کوي، هیڅ څه د ده له إذن او حکم پرته نه ترسره کېږي. قرآن د بادونو په اړه فرمایي چې دوی ورېځي په سر واخلي، په خاص استقامت ئې وخوځوي، په ښلو ښلو برخو ئې ووېشي، په لوړو غرونو واوري ووروي، په اوارو سیمو بارانونه، په چا لږ او په چا ډېر، خو نه ئې دا خوځول په خپل سر دي او نه ئې وېش، هر چا او هر ځای ته هومره برخه ورکوي چې الله تعالی ورته ټاکلې، نه ئې خوځښت د ړندو په څېر دئ او نه ئې وېش د پټو سترګو او له معیار او میزان پرته، قرآن بادونه د (فارقات) په نامه یادوي چې معنی ئې فرق کوونکي ده، یعني دا بادونه د مستحق او غیر مستحق ترمنځ د تفکیك او تمییز استعداد لري، پوهېږي چې کومي سیمي ته څومره ورېځي انتقال کړي، چېري واوره ووروي او

چېرې باران، په چا لږ او پر چا ډېر، لکه څنګه چې د لمر راختل او لوېدل، هره ورځ په خپل وخت او له خپل ځایه وي او په راختو او پرېوتو کې د خاصو الهي سننو او ضوابطو تابع، په همغه مسیر کې خوځي چې الله ورته ټاکلی او همغه څه کوي چې پرې ګمارل شوی، همداراز د دې عالم هرڅه د خاصو ضوابطو تابع او هر یو په پوره دقت سره همغه کارونه ترسره کوي چې الله تعالی ورته ښودلي، د زمکې او آسمانونو هرڅه د الله په وړاندې د هغو منقاد او مطیع فوځیانو په څېر دي چې هر څه ئې د خپل آمر او قومندان په امر او لارښوونه وي، قرآن د زمکې او آسمان هرڅه د الله لښکري ګڼي او فرمایي:

وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ٧ الفتح: 7

د آسمانونو او زمکې ټولې لښکري د الله دي او الله باحکمته عزتمن دئ.

أَفَغَيۡرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبۡغُونَ وَلَهُۥٓ أَسۡلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ طَوۡعًا وَكَرۡهًا وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُونَ ٨٣ آل عمران: 83

آیا د الله له دین پرته (بل دین) لټوي، حال دا چې د آسمانونو او زمکې هرڅه، طوعاً اوکرهاً، (په خوښه او ناخوښه) ده ته غاړه ایښې او د ده لوري ته ورګرځول کېږي.

خو دې ته مو باید پام وي چې د رزق په اړه د الله سنت دا نه دئ چې د خلکو د عملونو له مخې ئې پربکړه کوي او یوازې صالحو بندګانو ته ئې ورکوي او بدکاران تري محروموي، برعکس د رزق په اړه د الله سنت دا دئ چې هم ئې مؤمن ته ورکوي او هم کافر ته، هرڅه چې الله تعالی پیدا کړي او رزق روزي ته ضرورت لري الله تعالی د هغوی رزق په خپله ذمه اخیستی، د خاصو اسبابو او عواملو له کبله او د خاصو مصلحتونو له مخې ئې کله زیات او کله کم کړي، کله د زمکې او آسمان د برکت دراوزې پرانیزي او کله ئې وتړي، کله دواړه په پراخ لاس او ورین تندي خپل نعمتونه د خلکو پښو کې غورځوي او کله ئې سخاوت نه پېرزو کېږي او خپل غوره او ښایسته نعمتونه تري سپموي. قرآن فرمایي:

وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَرَكَٰتٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذۡنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٩٦ الاعراف:96

که کلیوالو ایمان راوړی وی او تقوی ئې درلودی نو موږ به حتماً د آسمانونو

او د زمکي د برکاتو (دروازې د دوی پر مخ) پرانیستې وې، خو دوی دروغ وګڼلو، نو په هغه څه مو ونیول چې دوی کول.

دا هم یو بل ثابت او نه بدلېدونکی الهي سنت دئ چې: که خلك ایمان راوړي، د تقوی لار غوره کړي نو الله تعالی به د آسمانونو او زمکي د برکاتو دروازې د دوی پر مخ پرانیزي، دواړه به په سخاوت او پراخ لاس سره خپل برکات د دوی مخي ته ږدي، آسمان به له برکته ډك وربښتونه پرې وروي او زمکه به له برکت ډکي میوې او دانې ورته راټوکوي. خو که دوی د الهي دین د تکذیب لار اختیار کړي، د ایمان پر ځای د کفر او د تقوی پر ځای د ظلم، فسق او فساد لار، نو د خپلو کړنو له کبله دي الهي عذاب ته منتظر وي.

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ ءَامِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلْجُوعِ وَٱلْخَوْفِ بِمَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ١١٢ النحل: 112

او الله د یوه داسي کلي مثال بیانوي چې خوندي او ډاډ من وو، له هري سیمي تازه او پربمانه رزق ورته راتلو، نو دوی د الله د نعمتونو کفران وکړ، نو الله هم د لوړي او وپري د لباس خوند وروځاکو، د هغه څه په سبب چې دوی کول.

فَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَٰهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَقَصْرٍ مَّشِيدٍ ٤٥ الحج:45

او څومره کلي چې ظالمان وو او تباه مو کړل، نو دا دي په خپلو چتونو راپرېوتي او وزګار پاته څاګان او ټینګي مانۍ.

وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَمْلَيْتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ أَخَذْتُهَا وَإِلَيَّ ٱلْمَصِيرُ ٤٨ الحج: 48

او څومره کلی چې فرصت مو ورکړ سره له دې چې ظالم ول، بیا مو ونیول او بېرته ګرځېدل خو زما په لوري دي.

په لاندي مبارك آیت کي الله تعالی د هغو مغرورو ځواکونو په اړه چې خپل زور ځواك مغرور کړي او په نورو ئې تېرى کړى او ملکونه ئې ترې نیولي خو الله تعالی هلاك کړي، داسي فرمایي:

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَشَدُّ مِنْهُم بَطْشًا فَنَقَّبُوا۟ فِي ٱلْبِلَٰدِ هَلْ مِن مَّحِيصٍ ٣٦ ق:36

او تر دوی وړاندي مو څومره داسي نسلونه هلاك کړل چې تر دوی ځواکمن

او (د خلکو په نیولو او تعذیبولوکي) شدید ول، نو ښارونو ته (د اشغال لپاره) ننوتل، خو آیا کوم پناه ځی ئې وو؟

خلك دا واوري چي په فلاني ملك كي زلزله وشوه، طوفان راغی، وچ كالي ده او وبا خوره شوې او په زرګونو او لكونو خلك په كي مړه شوي، طبيعي ده چي عواطف ئې تحريك شي، د زړه له تل خواخوږي وښيي او دا پوښتنه ورسره راولاړه شي چي دا ولي، د څه لپاره او د كومي ګناه له كبله دومره خلك په يو ځای مري؟ دلته به خامخا ډېر بې ګناه خلك هم وو، ولي الله تعالى د دومره بي ګناه خلكو په مرګ راضي كېږي؟!! د دغو كسانو قضاوت يو اړخيز او پر عاطفې ولاړ قضاوت وي، د قضيې له ټولو ابعادو او اړخونو خبر نه وي، په دې نه پوهېږي چي په هغه ځای كي څه تېرېدل، د خلكو عملونه څنګه وو، كه په قرآن كي د هغو ولسونو چي ستر ستر عام عذابونه ورباندي راغلي، يوازي د عذاب څرنګوالى راغلى وى او عوامل او د خلكو ګناهونو ته ګوته نه وى نيول شوې نو خلكو به همدا ويل چي دا دومره خلك ولي په يو ځای او يو وخت كي وژل شوي، د خلكو ګناه څه وه؟!! خو الله تعالى د دغو عذابونو لاملونه هم په ګوته كړي، د همدې لپاره نن مونږ قانع يو چي په عاد، ثمود، د نوح، لوط او شعيب عليهم السلام په قومونو او په فرعونيانو مسلط شوي عذابونه د الله تعالى له لوري د عادلانه پرېكړي او د خلكو د عملونو له كبله وو، كه همداسي هره هغه سيمه وڅېړو چي داسي الهي عذابونه پرې مسلط شوي نو عوامل به ئې هرومرو ترلاسه كړو او په دې به پوه شو چي دا عذابونه نه خو د رندو او پټو سترګو پرېكړو نتيجه ده او نه غيرعادلانه، كه دا پېښي په دقت سره وڅېړو نو حتماً به په ټولو كي هغه عوامل بيامومو چي د هغه له كبله مخكني قومونه په الهي عذابونو اخته شوي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

فـهـرست

عنـو ان

صفـحه

د ناشر مقدمه ---------- 3
سريزه ---------- 5
پر الله تعالى ايمان ---------- 9
الله تعالى به چېرې لټوو؟ ---------- 10
او د دې عقيدې لپاره څه دلائل لرو؟ ---------- 10
الله تعالى د رحمت په آثارو کې ---------- 22
د اوبو د تصفيې الهي نظام: ---------- 28
طبيعي لارښوونې: ---------- 30
د شپې او ورځې الهي نظام، ستره الهي پېرزوينه ---------- 32
د پيغمبرانو بعثت د رحمن رب بله پېرزوينه ---------- 36
د ظالمانو مؤاخذه د الله د پېرزويني بله نښه: ---------- 37
الله د دې ملك مالك دئ ---------- 39
ستا د مرګ پرېکړه څوك کوي؟ ---------- 42
دا هر څه د چا ارادې ته تسليم دي؟ ---------- 43
عملونو ته بدله څوك وركوي؟ ---------- 49
پر الله تعالى د ايمان مقتضيات او غوښتنې ---------- 54
يوازې له الله استعانت: ---------- 57
له الله تعالى سره كلكه مينه ---------- 72
يوازې له الله وېره ---------- 77
ولې به يوازې له الله تعالى وېرېږو؟ ---------- 89

په خپل رزق یوازي له الله وپره: ----------94
عزت او ذلت د الله په اختیار کي دئ: ----------99
پر الله توکل ---------- 103
ډاډه او مطمئن زړه---------- 107
اطاعت ---------- 119
دوستي او دښمني د الله لپاره---------- 124
پر آخرت ایمان---------- 133
پر آخرت د ایمان معنی: ---------- 136
د آخرت د اثبات دلائل---------- 138
هر څه پیل او پای لري: ---------- 147
د عملونو مکافات او مجازات:---------- 152
په عالم کي نظم او هدفمني: ---------- 163
پر آخرت د ایمان غوښتنې ---------- 179
آخرت ته پر دنیا ترجیح ورکول ---------- 179
دنیا وسیله او آخرت هدف ګڼل ---------- 183
له مرګه نه وپرېدل ---------- 186
ډاډ او اطمئنان: ---------- 192
جنت د چا لپاره؟ ---------- 192
د عمل او اجر ورته والی: ---------- 193
څوك به قیامت نه مني؟---------- 197
پر پیغمبرانو ایمان ---------- 203
پر پیغمبرانو د ایمان معنی ---------- 204
پر پیغمبرانو د ایمان غوښتنې---------- 229
توقیر او تعظیم:---------- 229
ژوره مینه: ---------- 231
کامل اطاعت: ---------- 232
د استهداء لپاره پیغمبر ته رجوع:---------- 234
حکمیت: ---------- 236
هدف او ټګلاره د پیغمبر په متابعت کي ټاکل: ---------- 236

پر کتابونو ایمان ---------- 241
پر کتاب د ایمان معنی ---------- 242
الهي لارښوونو ته د انسان اړتیا: ---------- 245
قرآن د پیغمبر د حقانیت ستره نښه ده ---------- 264
پر کتاب د ایمان غوښتني ---------- 284
د کتاب په باب شك او شبهه نه کول ---------- 284
تدبر ---------- 285
د حکمیت او قضاوت لپاره کتاب ته رجوع---------- 291
ټول کتاب د ټول ژوند لارښود ---------- 297
د کتاب تبلیغ ---------- 301
پر ملائکو ایمان ---------- 304
پر فرشتو د ایمان غوښتني ---------- 317
پر قضاء او قدر ایمان ---------- 322
قدر---------- 332
قضاء---------- 339
د قضاء اقسام---------- 342
تکویني قضاء: ---------- 342
تشریعي قضاء: ---------- 343
اراده ---------- 344
لوح محفوظ---------- 346
آیا انسان د اختیار خاوند دئ؟---------- 350
په قضاءاو قدر د ایمان غوښتني ---------- 359
د مصائبو په وړاندي صبر ---------- 359
مصیبتونه او پېښي د قضاء او قدر په رڼا کي ---------- 368